# د اسلام د پیل

# اتلې مېرمنې

ژباړه او ترتیب : عبدالحق ثاقب ( هزارناوی )

Ketabton.com

کال :۲۰۱۴ اګست ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم : د محمد صلی الله علیه وسلم د وخت ښځې

ژباړن : عبدالحق ثاقب ( هزارناوی )

کمپوز : رحمت الله ماموند

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالـــۍ**

**ګران پلار ته !**

**ګرانې مور ته !**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وكفى ، والصلاة والسلام على من لا نبی بعده ،

وبعد :

صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راوروسته د اسلام د سپیڅلي دین اعیان او ساتونکي دي . عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي : ( اختارهم الله لصحبة نبيه ) الله جل جلاله صحابه کرام د خپل پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت او ملګرتیا لپاره خوښ کړي وو . د خير القرون لومړني او ممتاز شخصيات همدغه صحابه کرام دي . او الله جل جلاله د هغوی د عدالت او د خپل پیغمبرمحمد صلی الله علیه وسلم سره د صحبت او نصرت یادونه په قرآن کریم کې کړې ده . نو دداسې سترو اشخاصو عاداتو ، اخلاقو او لوړو کارنامو نه ځان خبرول ځکه ضروري دي ، چې الله جل جلاله په خپل کتاب قرآن کریم کې دهغوی د اتباع حکم کړی دی . الله جل جلاله فرمايي : ( واتبع سبیل من اناب الي ) . او دا یقیني خبره ده چې په صحابه کرامو کې ځینې بښځینه صحابیاتې هم شته . چې دهغوی سیرت او تاریخ له غیرت او انساني کړنې نه ډک دی . سره له دې چې د صحابه کرامو په پیژندنه او تاریخ باندې علماءکرامو ډېر زیات تصانیف او لیکنې کړي دي ، لکه دوکتور محمد زازی حاج عثمان تقریبا د اتیا کتابونو نومونه یاد کړي دي . چې هغه د صحابه کرامو متعلق لیکل شوي دي . خو زموږ محترم وررو عبدالحق ثاقب (حفظه الله ورعاه )چې کومه لیکنه کړې ده ، دا د اوسني عصر ، په ځانګړې توګه د مسلمانو خویندو لپاره یوه ښه نمونه ده . په اسانه پښتو ژبه کې لیکل شوې ده . باید چې هرڅوک یې مطالعه کړي او ګټه ترې پورته کړي . الله رب العزت دې دغه لیکنه په خپل عالي دربار کې قبوله او منظوره کړي او زموږ د ټولو لپاره دې د نجات ذریعه وګرځوي . آمین

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم

شیخ القرآن میر سمیع الحق

01-12-2014

پېښور ، پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمد لله حمد الشاکرين ، والصلاة والسلام على رسوله محمد وآله وصحبه اجمعين ، وعلى من تبعهم باحسان الى يوم الدين .**

**وبعد :**

**( د محمد صلى الله عليه وسلم د وخت ښځې ) دا کتاب چې عبدالحق ثاقب ( هزارناوي ) ژباړلی او ترتيب کړی ، له ليدلو او لوستلو سره سم مې ورته د زړه له کومې د خير او عافيت او روغتيا هيله څرګنده کړه ، او له الله جل جلاله مې ورته دعاء وغوښته چې په عمر او علم کې يې برکت واچوي .**

**هغه کړنه ، ليکنه ، منډه تړه ، خبره او بيان چې د صحابه کرامو رضوان الله عليهم د سيرت ، تاريخ ، اخلاقو او نېکو کارنامو په اړه وي ، د مسلمان انسان احساس راژوندی کوي او اروا ته يې تازه ګي وربخښي ، دا يو مالوم حقيقت دی چې عربي ژبه په دې برخه کې غني او شتمنه پانګه لري ، د اسلام د پيل اتلې ، مبارزې او عالمې مېرمنې چې ډېری اسلامي احکام دهمدوی په واسطه نسلونو نسلونو ته لېږدول شوي ، اړينه ده چې ، زموږ مېرمنې په ځانګړې توګه او هر مسلمان په ټوليزه توګه د غوره پيړۍ د اتلو او مبارزو مېرمنو په اړه خپله علمي پانګه غني او له کارنامو او اخلاقو يې په ورځني ژوند کې عبرت او زده کړه وکړي .ددې لپاره چې د مؤمنانو د ميندو ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بېبيانو ، لوڼو ا و د صحابه کرامو رضوان الله عليهم د لوڼو ، ميندو او مېرمنو له تاريخ او سيرت څخه خبر شو ، په پښتو ژبه کې ددې کتاب ارزښت ښکاره او د لکه دلمر په څېر روښانه ګورم .**

**په پښتو ژبه کې لا تراوسه داسې جامع ، مانع او مدلل کتاب په دې حساسه موضوع کې چې د ځينو صحابياتو په ژوند رڼا اچول دي ، زما په نظر نه دی راغلی .**

**الله رب العالمين دې مسلمانانو ورونو او خويندو ته توفيق ورکړي ترڅو له دې کتاب څخه ګټه پورته کړي . په دې هيله يم چې د کتاب په ليدو او لوستو به د هغو کسانو ذهنونه روښانه شي چې د صحابه کرامو او په ځانګړې توګه يې د صحابياتو رضوان الله عليهن په اړه ذهنونه مسموم شوي دي . په دې کتاب کې د صحابياتو د ژوند هغه تکليفونه نغښتل شوي او څېړل شوي چې دالله جل جلاله او د اسلام د پيل په سختو پړاوونو کې يې تېر کړي او قرباني يې ورکړي .**

**په پای کې دا دعاء غواړم چې رب العزت دې د مولانا عبدالحق ثاقب ( هزارناوی ) په قلم او علم کې برکت واچوي او دا خدمت دې الله تعالى ورته د آخرت د نجات ذريعه وګرځوي . آمين ، ثم آمين .**

**ابوثاقب سيد احمد شاه ( قريشي )**

**۱۴۳۵/شوال ۱۴ مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

الحمدلله ، والصلاة والسلام علی رسول الله .

اما بعد :

د انسان د پوهې او بریالیتوب لپاره الله جل جلاله په دنیا کې د انبیاء علیهم السلام لړۍ پیل کړه ، چې دهغوی په واسطه یې انسان د کفر او ناپوهۍ له تیارو څخه راوویستل . الله جل جلاله د پیغمبرانو دا لړۍ د وروستي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په راتګ سره پای ته ورسوله. د محمد صلی الله علیه وسلم په اتباع باندې الله جل جلاله ټول امت مکلف کړی. لکه څنګه چې وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم پر ټولو پیغمبرانو غوره والی لري ، همدا راز، امت یې هم تر نورو امتونو غوره دي ، او وروستي خلکو ته یې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم ایمان معیاري ګرځولی .الله جل جلاله فرمایې : ( فان آمنوا بمثل ما آمنتم به فقد اهتدوا )که چېرې خلک د صحابه کرامو په څېر ایمان راوړي ، نو یقینا دوی به په هدایت شي او سمه لاره به یې موندلي وي . د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د نارینه وو ترڅنګ د غښتلي ایمان لرونکې ، مبارزې ، وتلې او معیاري ښځې هم ولاړې وې، د اسلام د بریا او تبلیغ لپاره یې د صحابه کرامو سره څنګ په څنګ مبارزه کوله، دا پاکې مېرمنې ( صحابیاتې رضوان الله علیهن ) د وروستنیو ښځو او نارینه وو لپاره یو نېکه قدوه ګڼل کیږي او د اسلام په تاریخ کې یې د غوره مثال او بې سارې نمونې په توګه خپل نومونه ثبت کړي دي ، تاسو ته مالومه ده چې د اوسني وخت ځینو ښځو د اسلام بنسټیزه لاره پرېښې ، غربي او لویدیځوال دود پرې اغیزه کړې او دهغوی پر پل یې پل ایښی ، دا په دې دلالت کوي چې ډېری داسې ښځې له خپل دین څخه ناخبره دي .خو دا ډول کتابونه او لیکنې د هغو ښځو لپاره یوه غوره لاره پرانیزي تر څو له دین څخه ناخبره او له اصلي لارې څخه اوښتې ښځې د اسلام د پیل له مبارزو مېرمنو صحابیاتو رضوان الله علیهن سره اشنا کړي . او د معیاري ښځو په پیروۍ سره دوی د راتلونکو نسلونو لپاره معیار وګرځي . د ګران ورور عبدالحق ثاقب (هزارناوي ) دا کتاب په دې ډګر کې هرې کورنۍ ته یوه ارزښتناکه او تلپاتې ډالۍ ګڼلی شو . د کورنیو د اصلاح په موخه زما غوښتنه له هر لوستونکي داده ، چې په خپلو کورنیو کې ورته وخت ورکړي او ددرس او زده کړې په توګه کورنیو کې ولوستل شي . هیله لرم چې دا غوره کتاب د ښاغلي عبدالحق ثاقب ( هزارناوي ) صدقه جاریه شي ، او د هرې کورنۍ د مثبت بدلون پر لور یو ګټور او اغېزمن ګام شي . وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعین .

ابومحمد عزیزالرحمن( هزارناوی )

25-12-2014

کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ســـــــریـــزه

د اسلام له پیله اوآن تر دې دمه د تاریخ په اوږدو کې د اسلام دښمنانو ، او په ځانګړې توګه یهودو او نصاراوو ، تل هڅه کړې چې داسلام پر ضد عملیات ترسره او د اسلام د مبارک دین د له منځه وړلو لپاره بېلا بېل پلانونه او دسیسې جوړې کړي،چې په دې برخه کې یې په اسلامي نړۍ کې ګڼ فعالیتونه ترسره کړي هم دي.کله چې دوی د پوځي لارې له ناکامۍ سره مخامخ شول، نو فکري جګړې ته یې مخه کړه. په فکري جګړه کې د اسلام دښمنانو له مختلفو لارو کار واخیست، او بېلا بېل نظریات او افکار یې رامنځته کړل.او ددې فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره یې مؤسسې او ټولنې جوړې کړې ، بې کچې مالونه یې ولګول او په دې برخه کې یې د سوداګرۍ په څېر پانګونې وکړې ،په اسلامي ټولنو کې ډېر داسې کسان چې د خپل دین اسلام په اړه یې کافي مالومات نه لرل ، ددوی نظریاتو ته یې هر کلی ووایه او ملاتړ یې وکړ . په دې کار سره د اسلام دښمنانو ځانونو ته په اسلامي ټولنو کې د پرمختګ زمینه برابره کړه . ددوی ملاتړي او پلویان خو یا نه پوهېدل او یا یې د مادي ګټو په خاطر ځانونو په ناپوهو کې وشمېرل او له لویدیځي ګمراه کاروان سره مله شول .

د ښځو آزادي ، د ښځو حقونه ، د ماشومانو حقونه ، بشري حقونه ، مساوات ، جنډر هغه موضوعګانې دي چې لویدیځوال یې په سیوري کې خپلو شومو اهدافو ته ځانونه رسوي او د اسلام مخالفو بنسټونو ته په اسلامي ټولنه کې ځای پیدا کوي . لومړی یې دا نظریه پیل کړه چې ګواکې ښځه په مزد کې له سړي سره باید مساوي وي، یوازې په دې یې هم بسنه ونه کړه، بلکې په ټولیزه توګه یې ښځې د ژوند په ټولو برخو کې له نارینه وو سره مساوي وګڼلې . په اسلامي ټولنه کې د مساوات د کلمې د مفهوم په راتګ سره ، د مصر په څېر په یو شمېر نورو اسلامي هېوادونو کې نجونې راووتلې او خپلو حجابونو ته یې اور واچاوه . د مسلمانو ښځو د فساد په موخه لویدیځوالو خپلو پروژو ته ادامه ورکړه، او د ښځو د حقونو ، آزادۍ او مساوات په پرده کې یې د جنډر کلمې ته زور ورکړ چې اوس یې په افغانستان کې هم زور اخیستی.

لویدیځوال د ښځو حقونو ،آزادۍ ، مساوات او جنډر نظریو په پرده کې غواړي اختلاط (ګډوالي )، فحشاء ، او د ښځو او نارینه وو ترمنځ مشابهت ته لاره هواره کړي ، دا په داسې حال کې ده چې د اسلام سپېڅلي دین د ښځو لپاره ځانګړي او د نارینه وو لپاره جلا احکام ټاکلي. نو کله چې د اسلام سپېڅلی دین د ښځو لپاره د حجاب ، استئذان ( اجازې غوښتل ) خلوت،د نا محرمو نارینه وو سره سفر کول ، ګواهي ورکول ( شهادت ) ، اختلاط ، د نارینه وو قوامت او د میراث حق او داسې نورو برخو کې ځانګړي احکام ایښي دي، خو د جنډر فاسده فلسفه دا ډول احکام ټول تر پښو لاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي ځينې ملګري فکر وکړي چې د کتاب سریزه بل لور ته تللې ، خو ددې لپاره چې اوسنۍ ښځې ، او ددوی په خلاف د يهودو او نصاراوو دسيسې د اسلامي او نبوت د زماني له ښځو سره پرتله کړو ، نو اړينه مې وبلله چې سريزه يوازې او يوازې د لويديځوالو د دسيسو د افشاء کولو او د صحابياتو په څېر د مسلمانو ، مبارزو، صابرو او مجاهدو مېرمنو د ځانګړنو او بېلګو په توګه وړاندې کړم . هيله لرم چې دا کتاب به زموږ د خويندو پر ژوندانه اغېز وکړي، د لويديځوالو له دسيسو به خوندي پاتې شي او هغه تګلاره به غوره کړي چې د نبوت د وخت ښځو پلې کړې وه .

په پښتو ژبه کې د داډول يو کتاب نشتوالي يا کموالي دېته اړ ايستلم چې د ( نساء عصر النبوه ) له يو عربي سريال څخه چې پښتو ته مې ترجمه او د ۲۰۱۴ کال د جولای په مياشت کې له شمشاد تلويزون څخه خپور شو، د کتاب په بڼه ترتيب کړ، سره له دې چې ياد سريال د تلويزون لپاره انځوريزې ګڼې صحنې لرلې، خو بيا مې هم له ډېر کار او سمونو وروسته دا کتاب تيار کړ .

د (محمد صلی الله عليه وسلم د وخت ښځې) په نوم ديني مالوماتي کتاب به له هغو ليکوالانو سره د يوې سرچينې په حيث مرسته وکړي چې غواړي د صحابياتو د ژوند په اړه ليکنې او څېړنې وکړي .

د کتاب له ژباړې او ترتيب وروسته ،د ادبي او ترکيبي سمونو په برخو کې د هيواد له تکړه ليکوال او پياوړي عالم ښاغلي مولوي محمد اياز ترنک څخه مننه کوم چې کتاب يې ولوست او د جملو دترکيب او محتوا له پلوه يې ورکې سمونې وکړې . همدا راز له ښاغلي مولوي محمد صديق ( مصدق ) ښاغلي واحدالله (مزل )، ښاغلي احسان الله شيرزاد ، ښاغلي ډاکتر شفيق الله شريفي او له ښاغلي روح الله مومند څخه نړۍ مننه چې د تل په څېر يې راسره د ليکنو په سمونه او بيا کتنه کې مرسته کړې او زه يې دېته وهڅولم ترڅو دا ژباړه ترتيب او د کتاب په بڼه يې د هيوادالو خدمت ته وړاندې کړم. دا کتاب هر لوستونکي ته ډالۍ کوم او هيله ترې کوم چې ، تر لوستلو وروسته يې خپل ملګري ته ډالۍ کړي .

عبدالحق ثاقب ( هزارناوی )

۲۰۱۴ نومبر ۰۱

کابل ــ افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام معـــبد رضی الله عنها

مدینې منورې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت لاره ، له خطرونو، ننګونو او تکلیفونو ډکه وه ، د قریشو مشرکینو هغه له کوره وشاړه ، او دهجرت په دې لاره کې یې تر تعقیب لاندې ونیوه . . په دې لاره کې کېږدئ ( خېمه ) د محمد صلی الله علیه وسلم تر ټولو مهم تمځای ګڼل کیږي ، چې له خپل ملګري سره یوځای دې کیږدئ ته ننوتی وو . په دې خیمه کې دهغوی تود هرکلی او ښه میلمستیا شوې وه . . تاریخ د خیمې د خاوندې هغه وصف تر ټولو دقیق ، غوره او ښکلی وصف ګڼلی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه یې بیان کړی دی . . نورو نارینه وو چې درسول الله صلی الله علیه وسلم کوم وصف کړی ، دهغوی په پرتله د خیمې د خاوندې وصف ډېر ورته ، دقیق او نږدې ښودل شوی .

دا ښځه ( **ام معبد البدویة** ) نومېږی ، چې وصف یې تر بل هر وصف کره ، ژور او ورته ګڼل کیږي ، دا هغه ښځه ده چې ددې ویاړ یې ترلاسه کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په خیمه کې تم شوی ، او دا ځای د هجرت له سترو او تاریخي نښو څخه شمېرل کیږي.

نوموړې مېرمن ( **عاتکه بنت خالد بن خلیف بن کعب بن خزاعه** ) نومېده .. او خاوند یې خپل د تره ځوی وو ، نوموړی ( **تمیم بن عبدالعزی الخزاعي** ) نومېده . دواړه په خپلو کنیو باندې مشهور شوي دي ، عاتکه د ( ام معبد ) او خاوند یې په ( ابو معبد ) په کنیو باندې شهرت لري .

ام معبد د ( قدید ) په سیمه کې اوسېده ، دا سیمه د مدینې له لورې مکې ته نږدې پرته ده . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د مکې جنوب ته څېرمه له غار ثور څخه راووتل او په دې ډاډمن شول چې د قریشو له تعقیب څخه راخلاص شول ، دربیع الاول د میاشتې په څلورمه نېټه د دوشنبې ورځ سهار مهال دلته راورسېدل ، او له لیرې یې په دښته کې په جلا او په شګو پټه د ( ام معبد ) په خېمه سترګې ولګېدې. دوی دا خیمه په دې خاطر دلته ایښې وه چې ، په دې لاره د تېرېدونکو مسافرو لپاره میلمستیاوې وکړي او په مقابل کې دهغوی لخوا په ورکړل شویو مالونو خپل ژوند پرمخ بوځي .. رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل ملګري ابوبکر الصدیق رضی الله عنه او عامر بن فهیره سره یوځای د ام معبد رضی الله عنها خیمې ه راغی او د عبدالله به اریقط په نامه ورته یو کس لاره ښودله .

ام معبد یوه تکړه ، غښتلې ، او د ډېر عمر ښځه وه ، نوموړې به د خیمې مخې ته کښېناسته ، او هغه کسان به چې په دې لاره تېرېدل خواړه به یې ورکول . . . محمد صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه :

(( آیا تاسو سره غوښه یا شیدې شته چې ویې پلورئ ؟ ))

دوی له یادې مېرمنې سره هیڅ پیدا نکړل ،

هغې ورته وویل :

قسم په الله که موږ سره څه وای ، نو ستاسو له میلمستیا به مو نه وی سپمولی ، او د میلمستیا حق به مو پوره کړی وی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياته يې کړه چې، موږ له سختۍ وچکالۍ سره مخامخ شوي وو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وکتل، د خیمې څنډې ته یوه اوزه ولاړه وه ؟ پوښتنه یې وکړه :

ای ام معبد دا اوزه دلته څه کوي ؟

ويې ويل : دا اوزه له ناروغتیا له کبله له رمې پاتې شوې ده، نه یې شو کولی چې ورسره لاړه شي ..

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

آيا شيدې ورکوي ؟

ويې ويل :

دا ډېره کمزورې ده ..

ويې ويل :

اجازه راکوې چې راويې لوشم ؟

ام معبد ورته وويل :

هو، زما پلار او مور دې درنه ځار شي ... که شيدې ورکې ګورې، نو راويې لوشه !!!

رسول الله صلی الله علیه وسلم اوزه راوغوښته او لاس يې پرې راښکه، دالله نوم يې پرې ياد کړ او تی يې ورته مسحه کړ . بيا يې دومره يو لوښی راوغوښت چې نږدې لس کسان يې مړول ، ترهغې يې اوزه راولوشله چې لوښی يې ترې ډک کړ . ام معبد هم شيدې وڅښلې، او ورسره صحابه کرامو رضوان الله علیهم هم وڅښلې . کله چې دوی ټول ماړه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو وروسته وڅښلې . بيا يې ددويم ځل لپاره په دې لوی لوښي کې اوزه راولوشله، او له ام معبد سره يې ډک پرېښود . او په بل روايت کې راځي چې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل :

کله چې ابومعبد راغی، دا لوښی هغه ته ورکړه .

له دې وروسته، نبوي کاروان خپل هجرت ته د مدينې پر لور دوام ورکړ .

کله چې ماښام ابومعبد خپلې کمزورې او وږې رمې له څرځای څخه راوستلې، او له ام معبد سره يې ډک لوښی شيدې وليدلې چې آن د څو کسانو لپاره يې بسنه کوله، په حيرانتيا يې پوښتنه وکړه :

ام معبد دا دومره شيدې دې له کومه کړې ؟ اوزه هم کمزورې ده او په کور کې بل لنګ مال هم نشته ؟

ام معبد ورته په ځواب کې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه قسم په الله ، پرموړ يو مبارک سړی تېر شو ، هغه داسې داسې خبرې کولې ،

ورته يې وويل :

ای ام معبد راته يې وصف کړه ؟

هغې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وصف باندې پيل وکړ ، او ويې ويل :

ما داسې يو سړی وليده چې ، ښکاره رڼا يې درلوده ، غوره اخلاق ، خوشاله مخ او د ډېر ښکلي اندام خاوند وو ، سر يې هم کوچنی نه وو ، ښکلی او زړه راښکونکی وو ، غټې او تورې سترګې يې لرلې ، او د وريځو ويښتان يې ګڼ وو ، زيړ غږ يې درلود ، سترګې يې تکې سپينې او منځ کې يې تک تور ګاټې وو ، د وريځو دواړه خواوې يې ډېرې دقيقې او نرمې وې ، وريځې يې ډېرې راغبرګ شوې وې ، لوړه مرۍ او ګڼه ږيره يې درلوده ، چې غلی به شو د عزت په جامه به وپوښل شو ، او کله به يې چې خبرې کولې ښکلې او د اورېدو وړ خبرې به يې کولې . خوږې خبرې يې کولې ، خبرې يې غوڅې وې ، بې ګټې او بې ارزښته خبرې به يې نه کولې .. خبرې يې داسې وې لکه د غاړکۍ موشکنې به راوتلې ،. له ليرې به هم ښکلی مالومېده ، او له نږدې به هم ښکلې مالومېده .. متوسطه ونه يې لرله ، نه يې په اوږدوالي د چا سترګې سترې کولې ، او نه يې د ونې په لنډوالي د چا سترګه خپه يا سترې کوله ، ددوه څانګو ترمنځ څانګه وه ، په درې واړو کې ډېر ښکلی مالومېده ، او کله به يې چې امر وکړ ، ژر به يې د امر اطاعت او منته کوله ، ټولو ملګرو به يې خدمت کاوه ، بې ځايه خبرې به يې نه کولې او دخپل ملګري خبر ه به يې نه ردوله .

کله چې د ابومعبد مېړمن ( ام معبد ) د پيغمبر صلی الله عليه وسلم وصف بيا ن کړ ، خاوند يې وويل :

قسم په الله دا د قريشو هغه سړی دی چې په لټه پسې يې ګرځي .. او که ورسره مخ شوم ، نو ملګر تيا به يې کوم . او په بل روايت کې راځي چې ابو معبد ورته وويل : زه به يې پيروي وکړم . بيا يې زياته کړه چې :

قسم په الله ، هڅه به وکړم چې دې کار ته ځان ورسوم ..

د سيرت ځينې کتابونه دا شعرونه هم راخلي ، ويل کيږي چې ددې بيتونو انګازې د مکې مکرمې په څنډو کې خپرې شوې . هغه داسې وو :

جزى الله رب الناس خير جزائه .......رفيقين حلا خيمتي أم معبد

هما نزلا بالبر وارتحلا به ........فأفلح من أمسى رفيق محمد

فيا لقصي ما زوى الله عنكمو...... به من فخار . لا يحاذى وسؤدد

وقد غادرت وهنا لديها بحالب .......يرد بها في مصدر ثم مورد

سلوا أختكم عن شاتها وإنائها .......فإنكموا إن تسألوا الشاة تشهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعاها بشاة حائل فتحلبت....... له بصريح ضرة الشاة مزيد

لقد خاب قوم زال عنهم نبيهم .......وقدس من يسري إليه ويغتدي

ترحل عن قوم . فزالت عقولهم...... وحل على قوم بنور مجدد

هداهم به – بعد الضلالة – ربهم ......وأرشدهم من يتبع الحق يرشد

وقد نزلت منه على أهل يثرب .......ركاب هدى ، حلت عليهم بأسعد

نبي يرى ما لا يرى الناس حوله ......ويتلو كتاب الله في كل مشهد

وإن قال في يوم مقالة غائب .......فتصديقها في ضحوة اليوم أو غد

ليهن أبا بكر سعادة جده .......بصحبته من يسعد الله يسعد

ويهن بني كعب مكان فتاتهم .......ويقعدها للمؤمنين بمرصد

او کله چې د بنو کعب په قبیله کې د ام معبد کورنۍ او خپلوانو دا خبر واورېده ، او له دې خبر شول چې محمد صلی الله علیه وسلم په دې لاره تېر شوی ، او ام معبد ته یې خیر رسیدلی او برکتونه یې پرېښي دي ، دا لیوالتیا ورسره پیدا شوه چې کاش پیغمبر پر دوی تېر شوی وای ، آن هغوی به دا ورځ د نېټې په توګه ټاکله چې په دې وچه دښته ورباندې داسې ستره پیرزوینه شوې وه . قریشو هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم لوری مالوم کړی وو ، او ام معبد ته یې خلک راولیږل چې پوښتنه ترې وکړي.

آیا محمد درباندې تېر شوی دی ؟

هغې ورته په پوره بلاغت سره ځواب ورکړ :

ستاسو په خبره نه پوهېږم ، بلکې د اوزې یو لوشونکي راته مېلمستیا راکړه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل ملګري ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره روغ رمټ مدینې منورې ته ورسېده . هلته یې خلکو تود هرکلی وکړ ، او په مدینه منوره کې رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی اسلامي دولت جوړ کړ .

ام معبد هم له خپل خاوند ابومعبد سره یوځای هوډ وکړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملاقات ته ورشي ، له خپل خاوند سره مسلمانه شوه ، او مدینې منورې ته یې هجرت وکړ .

د هجرت په ۲۳ مه نېټه ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مړینې وروسته ، خلیفه د مؤمنانو میندو ته د لومړي ځل لپاره اجازه ورکړه چې حج اداء کړي .د حاجیانو کاروان د ( قدید ) په سیمه تېر شو ، دا هغه ځآی وو چې ام معبد رضی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنها ورکې اوسېدله . عثمان بن عفان ، او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهما ددې کاروان مشري کوله . ام معبد دا کاروان داسې بیان کړ :

عثمان او عبدالرحمن مې د عمر په خلافت کې ولیدل ، هغوی د پیغمبر علیه السلام په مېرمنو باندې حج وکړ . دهغوی په ډولیو باندې شنه څادرونه راخپاره وو ، هغوی یوه ډله خلک وو ، وړاندې یې ابن عفان په خپله سپرلۍ باندې ناست وو ، کله به چې میندو ته څوک ورنږدې کیده چیغه به یې وهله او ویل به یې : لیرې شه ، لیرې شه !! ابن عوف له میندو وروسته روان وو ، هغه به هم همداسې کول . هغوی زما کور ته نږدې په قدید سیمه کې واړول ، له خلکو جلا شول ، او له هر لورې یې د ونو ترشاه پرده ونیوه . زه ورته ورغلم ، شمېر یې اته مېرمنو ته رسېده ، کله چې زه ورنږدې شوم ، ومې ژړل ، پوښتنه یې وکړه چې :

ولې ژاړې ؟

ځواب مې ورکړل چې ،

رسول الله صلی الله علیه وسلم رایاد شو ، بیا هغوی هم وژړل .

ومې ویل چې ، دلته زما کور ته راغلی وو . ددې خبرې سره سم یې زه وپیژندم او ماته یې تود هرکلی ووایه .

بیا مې ورته ورته ګازرې او شیدې ورکړې ، او هغوی هم راڅخه قبولې کړې .

ام معبد رضی الله عنها د عثمان بن عفان رضی الله عنه تر وخته ژوندۍ وه . هغه به له دې لارې د کالیو سوداګري او د یمن د غلو او حبوباتو سوداګري او مالونه تېرول . د پیغمبر علیه السلام په اړه دهغې وصف او د ځآنګړنو بیان ، دهغې له مړینې تر ډېرو پیړیو د تاریخ او سیرت کتابونو کې لا ژوندی پاتې دی .

یوه ورځ ام معبد ته وویل شول چې :

ددې راز څه دی چې د نورو ټولو نارینه د وصف په پرتله ، د محمد صلی الله علیه وسلم په اړوند ستا وصف ډېر دقیق او کره دی ؟

هغې ځواب ورکړ :

خبر نه یاست چې د ښځې لیدل ، سړي ته د سړي له لیدو څخه ډېر دقیق وي؟

او ویل کیږي چې د بلاغت او بیان امام ، علی بن ابو طالب رضی الله عنه یوه ورځ وپوښتل شو :

د پیغمبر علیه السلام په اړه تراوسه کوم وصف دقیق او کره ویل شوی دی ؟

ځواب یې ورکړ چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه وصف چې ام معبد الخزاعیة بیان کړی دی .**

دا کومه د حیرانتیا خبره نه ده ، ام معبد داسې یوه مېرمن وه چې د محمد صلی الله علیه وسلم د وصف په اړه یې له نارینه شخه ورتیا ډېره زیاته او دقیقه وه . هغې یې اخلاق او جوړښت لیدلی وو ، او وصف یې هغو شریفو او ااصیلو ټکو ته نغوته کړې وه چې ، په بل هیڅ وصف کې یې نمونه نه ده تر سترګو شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام رومـــــان رضی الله عنها

دا میرمن ، مکې مکرمې ته د عربو له جزیرې ( جزیرة العرب ) څخه راغلې وه ، د اسلام مبارک دین چې لا تازه په غوړېدا او خپرېدا وو ، همدلته ورته الله جل جلاله دا ویاړ ورپه برخه کې چې داسلام سپیڅلي دین ومني. دا هغه مېرمن وه چې خاوند یې تر نورو نارینه و لومړی مسلمان شوی او د مسلمانانو لومړی خلیفه وو .او د مؤمنانو د میندو ( امهات المؤمنین ) له ډلې ، یانې د محمد صلی الله علیه وسلم د یوې مېرمنې مور وه . دا ښځه ( ام رومان ) نومیږي . د صحابه کرامو په ډله کې راځي ، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه مېرمن ، او د عایشې رضی الله عنها مور وه .

ام رومان ، زینب نومېده ، او ویل کیږي چې ( دعد بنت عامر بن عویمر بن عبدشمس بن عتاب بن کنانة ) نومېده . نوموړې په خپله کنیه ( ام رومان ) باندې مشهوره وه . او یاده صحابی د عربو جزیرې د ( سداد ) په سیمه کې ستره شوې ده . هغې د ( الحارث بن سخیرة الازدي ) سره واده وکړ ، نوموړی هم په خپل قوم کې یو مخور او د لوړ ځای خاوند وو . د حارث بن سخیرة څخه د ام رومان یوازې یو ځوی پیدا شوی وو چې د ( الطفیل بن الحارث ) په نوم یادېده .

او کله یې چې خاوند وغوښتل چې په مکه مکرمه کې ژوند وکړي ، د خپلې مېرمن او ځوی سره یوځای ( ام القری ) ته لاړل ، او هلته ، نوموړی اړ وو چې د یو مخور سړي سره په ایتلاف کې برخه واخلي ، ترڅو خپل ژوند او امنیت تضمین کړي . یاد دود په قریشو کې ډېر عام وو . هلته یې د مکې له یو مخور ، باوري او عزتمند سړي سره ایتلاف وکړ ، نوموړی ( عبدالله بن ابی قحافه ) نومېده ، خلکو په ( ابوبکر ) پیژانده ، او د ډیرې ربښتونولۍ او صداقت له مخې ، بیا په ( صدیق ) باندې مشهور شو .

څه موده وروسته ( الحارث بن سخیرة ) وفات شو . او میرمن ( ام رومان ) ترې کونډه پاتې شوه . دا چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډېر عزتمند او مخور انسان وو ، هغه هم د عربانو له دود او دستور سره سم ، ملګري سره دهغه له مړینې وروسته د وفادارۍ او اکرام په نیت د ( ام رومان ) غوښتنه وکړه ... ام رومان هم د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا غوښتنه ومنله . ځکه نوموړې په ابوبکر صدیق رضی الله عنه کې دا وړتیا او ځانګړتیا لیدله چې هم به دهغې او هم به یې د ځوی ساتنه او روزنه وکړي . نو دابوبکر رضی الله عنه د غوښتنې سره سم یې له هغه سره واده وکړ . له هغه یې ( عبدالرحمن ) او ( عایشه ) وزیږېدل . عایشه هغه میرمن وه چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان لپاره وغوښته او ، واده یې ورسره وکړ او د مؤمنانو دمیندو په کتار کې راغله .

کله چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم وحیه رانازله شوه ، او هغه مهال چې نوموړی د حراء په غار کې په عبادت بوخت وو ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه لومړی کس وو چې د محمد صلی الله علیه وسلم په دعوت او رسالت ایمان راوړ .نوموړي ژر دا رسالت خپلې میرمنې ته بیان کړ ، او سمدلاسه یې په الله جل جلاله او د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت او نوي دین ایمان راوړ ..

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ، یو له هغو کمو کورونو څخه وو چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته ډېر راتللو ، ددې کور غړو په پراخه سینه اسلام ته غاړه کېښوده ، او د پیغمبر علیه السلام به یې ښه میلمستیا کوله ، د صدیق او ام

(c) ketabton.com: The Digital Library

رومان کور ، د محمد صلی الله علیه وسلم له کور وروسته لومړی اسلامي کور وو چې ، دالله تعالی کلمه ورکې پورته شوه او اسلامي دعوت ته یې په خپل انګړ کې ځای ورکړی وو..

په دې وخت کې ستر زیری هغه وو چې ، کله ( خولة بنت الحکیم رضی الله عنها ) په مکه مکرمه کې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته راغله او د محمد صلی الله علیه وسلم لپاره یې د عایشې غوښتنه وکړه .

دا کار ام رومان رضی الله عنها د ځان لپاره ویاړ وګاڼه ، او د هغه کور لپاره یې د عزت ځای وباله چې ، له محمد صلی الله علیه وسلم سره د رښتونې عقیدې ، جهاد او مبارزې له ادرسه یوځای شوی دی ..

ام رومان رضی الله عنها له خپل خاوند ابوبکر رضی الله عنه سره یوځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په مال او ځان سره دفاع کوله . نوموړې به ابوبکر رضی الله عنه لیده چې خپل مالونه به یې د کمزورو مسلمانانو غلامانو د خلاصولو په لاره کې لګول ، هیڅکله یې پر ابوبکر رضی الله عنه نیوکه ونه کړه ، او نه یې په دې تندی تریو کړ چې ګواکې مالونه یې په دې لاره کې لګول کېدل . ... نوموړې په همدې حالت ترهغې پاتې وه چې ، خاوند یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای په هجرت ووت ، ابوبکر چې څه مال درلود ، ټول یې له ځان سره واخیست ، او ام رومان یې په مکه مکرمه کې له خپلو دوه لوڼو ( اسماء او عایشه ) سره پرېښوده . ام رومان په مکه مکرمه کې د قریشو د مشرکانو سخت ظلمونه وزغمل ، دوی تر هغې هلته ول ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو کس ورولیږه او د خپلې او د ابوبکر رضی الله عنه د کورنۍ غړي یې له ځآن سره له مکې څخه مدینې منورې ته یوړل .

کله چې ام رومان رضی الله عنها مدینې منورې ته ورسیده ، هلته ورته دا ویاړ ورپه برخه شو چې ، لور یې ( عایشه رضی الله عنها ) د محمد صلی الله علیه وسلم کور ته داخله شوه .. په دې خوشالیږي چې لور یې د مؤمنانو د میندو په کتار کې راځي .. خو ددې سره په څنګ کې ، د هجرت په شپږم کال پر عایشې رضی الله عنها باندې د بهتان او تور سخته لمبه هم پر ځان تیروي .. دا هغه مهال وو چې د ام رومان لور عایشه رضی الله عنها د یوې اړتیا لپاره د ( بنو المصطلق ) له غزا څخه د راستنېدا پرمهال یو څه ځنډنۍ شوه او تور پرې ولګېد . هغه ډولۍ چې عایشه رضی الله عنها به یې ورکې سپرېده ، مدینې منورې ته تشه راورسېده ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ډولۍ تشه ولیده ډېر حیران او خپه شو .. له صحابه کرامو سره کېنېناست او د عایشې رضی الله عنها نشتوالی یې څاره . وروسته عایشه رضی الله عنها راښکاره شوه او د ( صفوان بن معطل السلمي ) پر اوښه راسپره وه .. .. په مدینه کې یهودو او منافقانو دې پېښې ته خپراوی ورکړ ، او په دې کار سره یې غوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ، عایشه رضی الله عنها او د هغه پر پاکه کورنۍ او پاکو لمنو داغ ولګوي او بدنام یې کړي . عایشه رضی الله عنها دداسې یوې پېښې په دام کې راګېره شوه چې هیڅ یې په اړه مالومات هم نه لرل .. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې پېښې ډېر خپه کړی وو ..

ام رومان رضی الله عنها په خپل ژوند کې د جهاد ، مبارزې ، سخاوت او دفاع په لارو کې سختې تجربې ولیدې ... او هڅه یې وکړه چې دا خبره له خپلې لور څخه پټه وساتي چې دامهال د هغې په کور کې ناروغه پرته وه .. .... کله چې د بهتان دا کیسه عایشې رضی الله عنها ته ورسیده ، ام رومان پیل وکړ او هغې ته یې په دې خبرو تسلي ورکوله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ای لورې .... پر ځان بوج مه راوله .. یوه ښکلې ښځه چې کله له خپل خاوند سره وي او ډېره مینه ورکوي ، نو خامخا ورسره خلک کینه کوي او په زړه یې نه ځاییږي ..**

**الله تعالی هم ددې ستونزې د پای ته رسیدو لپاره د تسلی آیتونه راولیږل .... او د عایشې رضی الله عنها د پاکوالي په اړه یې له اووه اسمانونو پورته دا آیتونه رانازل کړل : الله تعالی په خپل کتاب د النور سورت کې فرمایي :**

إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١١﴾

**ام رومان رضی الله عنها ترهغې ژوندۍ وه چې په خپلو سترګو یې ددې ستونزې پای ولیده ... نوموړې له دې پېښې وروسته ډېره ژوندۍ پاتې نه شوه ... ام رومان د سختې ناروغۍ ښکار شوه ، او بیا یې له دې دنیا سترګې پټې کړې ... نوموړې د حنین په ورځ ، د هجرت په اتم کال ، وفات شوه .**

**د ام رومان د جهاد ، صبر او مبارزې د تسلیت تر ټولو غوره او درندې خبرې هغه وې چې ، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې قبر ته ورغی او بخښنه یې ورته وغوښته ، او داسې وفرمایل :**

**ای الله ! ته پوهیږې چې ام رومان ستا او ستا د رسول په لاره کې څومره قربانۍ ورکړې دي !!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسماء بنت عميس رضی الله عنها

الله تعالی ورته د اسلام د راوړلو وياړ ورپه برخه کړ ، په ځوانۍ کې يې يو ځل دالله په لاره کې حبشې ته هجرت وکړ او بل هجرت يې مدينې منورې ته وکړ . همدا راز الله جل جلاله وربانديې احسان وکړ او د مکې له يو غوره ځوان سره يې واده وکړ، کله يې چې خاوند د ( مؤته ) په غزا کې شهيد شو ، الله تعالی وربانديې نعمت وکړ او د مسلمانانو لومړي خليفه سره يې واده وکړ ، او وروسته د مسلمانانو د څلورم خليفه د ژوند ملګرې شوه .

دا ميرمن ددوه هجرتونو خاونده وه ، او د نبوت له وخت راوروسته ددوه خليفه ګانو ميرمن پاتې شوې ده . دا ميرمن :

( اسماء بنت عميس رضي الله عنها ) نوميږي .

اسماء رضی الله عنها د هغو څلورو مؤمنو خويندو څخه ده چې ، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په ايمان باندې ګواهي ور کړې وه .

نوموړې ( اسماء بنت عميس بن معد بن الحارث بن تيم بن کعب بن مالک ) نوميږي ، مور يې ( هند بنت عوف ) نوميږي . دا هغه ميرمن وه چې خپلو لوڼو ته يې څلورتر ټولو غوره انسانان د خاوندانو په توګه غوره کړي وو ، له همدې ځايه يې په دې شهرت پيدا کړ چې هند تر بل هر چا غوره زومان لري ..

د اسماء بنت عميس يوه خور ، ( ميمونه ) نوميده ، هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ميرمنو له ډلې څخه وه ، بله خور يې ( لبابة ) نومېده ، چې د محمد صلی الله عليه وسلم د تره عباس مېرمن وه ، بله خور يې ( سلمی ) نومېده . هغه هم د شهيدانو د سردار ( سيد الشهداء ) حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه مېرمن وه .

دا په داسې حال کې ده چې ، اسماء بنت عميس ، د محمد صلی الله عليه وسلم د تره له ځوی ( جعفر بن ابی طالب ) سره واده کړی وو ، دا هغه کس وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې په اړه ويل :

په اخلاقو او خلقت ( بدني جوړښت ) کې ماته ورته يې ... !!

اسماء بنت عميس رضی الله عنها په ځوانۍ کې له خپل خاوند جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه سره يوځای اسلام راوړی ، دوی هم د نورو مسلمانانو په څېر د قريشو د مشر کينو لخوا له سختو کړاوونو او تکليفونو سره مخامخ شوي دي .

همدا لامل وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته حبشې ته د هجرت امر وکړ ، ( اسماء ) له خپل خاوند سره يوځای د مهاجرينو د ليکو په سر کې ووته .. هلته يې څو کلونه تېر کړل ، او له جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه څخه يې درې بچيان وزيږول . دوی :

محمد ، عبدالله او عون نومېدل ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې اسماء بنت عمیس په حبشه کې وه ، د قریشو مشرکینو هڅه کوله چې د نورو مسلمانو مهاجرو سره یوځای یې بیر ته مکې ته راوګرځوي ، د قریشو مشرکینو ( عمرو بن العاص او عتبة بن ابی ربیعة ) له ګڼو ډالیو سره د حبشې پاچا ته ولیږل ، هغوی په دې هیله وو چې مهاجر به له حبشې راوشړي او مکې ته به یې راوګرځوي . . . .

کله چې د اسماء بنت عمیس خاوند د نجاشي په دربار کې له اسلام څخه دفاع کوله ، هغې د خپل خاوند د بلاغت او قوي دلایلو ستاینه کړې . د اسماء خاوند د مریم سورت یو څه آیتونه ولوستل ، او ددې آیتونو په لوستلو یې نجاشي وژړاوه . سمدلاسه نجاشي د قریشو د استازو د ویستلو او شړلو امر وکړ ، او په حبشه کې مسلمانان په امن کې شول او دالله تعالی عبادت یې په آرامه فضاء کې ترسره کاوه .

اسماء بنت عمیس په حبشه کې له خپل خاوند ، ځامنو او یو شمېر مسلمانانو سره تر ډېره وخته اوسېدل . دا په داسې حال کې ده چې په مکه مکرمه کې اسلامي دعوت ډېر ګرم روان وو او له سترو پېښو سره مخامخ کېده ، ترڅولو ستره پېښه یې مدینې منورې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت وو . له همدې ځایه اسلام یو نوی یون پیل کړ . له دې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابه کرامو په مټ د کفارو وړاندې غزاګانې وکړې . د هجرت په اووم کال ، الله تعالی مسلمانانو ته د خیبر کلاګانې په لاس ورکړې او هغه یې فتحه کړې . دا مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم فکر وکړ چې باید نور د حبشې د مهاجرو یون پای ته ورسوي . سمدلاسه یې ( عمرو بن امیة الضمري ) نجاشي ته ورولیږه ترڅو هلته مهاجر مدینې منورې ته راولیږي .

اسماء بنت عمیس له خپل خاوند او زامنو سره یوځای په کښتۍ کې راکښېناستل ، او ټول مهاجر په دوه کښتیو کې خپلو ځمکو ته راستانه شوه . دا ځل دوی د عربو له جزیرې څخه راتېرل او له دولس کلن هجرت وروسته د مدینې منورې پر لور روان شول .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل د تره ځوی جعفر بن ابی طالب له اوږد سفر څخه په راستنېدو ډېر خوشال شو ، هغه یې پر تندي ښکل کړ او ویې ویل :

نه پوهیږم چې په څه ډېر خوشال یم ، د جعفر په راتللو او که د خیبر په فتحه کولو ؟ ! ! !

عمر بن الخطاب رضی الله عنه له اسماء بنت عمیس سره ټوکه وکړه او ورته یې وویل :

ای حبشیې ! ! موږ درڅخه هجرت کې مخکې شو ! !

اسماء وویل :

قسم په الله ته سم وایې ،

تاسو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای وئ ، وګي ته به یې خواړه ورکول ، او ناپوه ته به یې ښودنه کوله ! !

او موږ لیرې شوي شړلي شوي وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې وویل :

زه به خامخا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورځم ،

او دا کیسه به ورته کوم ....

سمدلاسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لور روانه شوه او ویې ویل :

ای دالله رسوله !!

ځینې خلک پر موږ ځان ویاړمن بولي او ګومان کوي چې تاسو له لومړنیو مهاجرو څخه نه یاست ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

بلکې تاسو ددوه هجرتونو خاوندان یاست ... ... هم مو نجاشي ته هجرت کړی ، او هم ماته ..

او د حاکم په روایت کې راځي چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

زه له تاسو ډېر حق لرونکی نه یم ... . زه او زما ملګرو یوازې یو هجرت کړی .. او ستاسو یانې د کښتۍ خاوندان دوه هجرتونه کړي دي ...

د خیبر د کلاګانو له فتحې وروسته ، اسماء بنت عمیس رضی الله عنها له خپل خاوند جعفر بن ابي طالب رضی الله عنه سره یوځای خپلو خپلوانو ته د بیرته راستنېدو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو سره د لیدو له نعمته ډېر خوند وانه خیست .. . نږدې یو کال وروسته ، رسول الله صلی الله علیه وسلم درې زره صحابه کرام په شام کې روم سره د غزا لپاره ورولېږل ... د لښکر مشري یې ،

زید بن حارثة رضی الله عنه ته ور کړه .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله د لښکر د مشرۍ لپاره نور بدیلونه ټاکل نو ویې ویل :

له زید وروسته به ، جعفر بن ابی طالب د لښکر مشر وي ..

او که جعفر شهید شو ، نو عبدالله بن رواحة به مشر وي ..

مسلمانان د ( مؤتة ) په سیمه کې له روم سره مخامخ شول ، او ډېره سخته جګړه پېښ شوه .. په دې غزا کې زید بن حارثة رضی الله عنه شهید شو ، وروسته جعفربن ابی طالب رضی الله عنه هم شهید شو ، بیا عبدالله بن رواحة رضی الله عنه هم شهید شو .. دامهال خالد بن الولید رضی الله عنه د لښکر چارې په لاس کې نیسي او اسلامي لښکر له ماتې راباسي ...

اسماء بنت عمیس رضی الله عنها د خپل ځوان درې دېرش کلن خاوند جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه شهادت زغمي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل جومات کې پر هغه غائبانه جنازه وکړه .. او ویې ویل :

خپل ورور جعفر ته بخښنه وغواړئ ، ځکه هغه شهید دی ، او جنت ته داخل شو .. او هغه به په جنت کې له ملایکو سره یوځای له یاقوتو څخه په جوړو شویو وزرو باندې الوتنې کوي ....

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اسماء ته ځواب ولیږه چې ، د جعفر زامن ورته ورولیږي ... هغوی یې ورته راوستل او ویې فرمایل :

ای الله جعفر ستا خواته د غوره ثوابونو لپاره درغلی ... دده اولاده هم د نیکو بنده ګانو غوندې نیکان او غوره کړې ..

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اسماء بنت عمیس او دهغې زامنو ته د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه د مړینې تسلیت ورکاوه ، دهغه ځوی عبدالله بن جعفر رضی الله عنه فرمایې چې ،

کله رسول الله صلی الله علیه وسلم زما مور ته راغی او زما د پلار د مړینې تسلیت یې ورکاوه ، هغه حالت ماته رایاد دی ، وایې چې ما ورته کتل چې زما پر سر یې لاس راښکه ...سترګو یې اوښکې وکړې او په مبارکه ږیره یې د اوښکو څاڅکي راوڅڅېدې .... .. بیا یې وفرمایل :

ای اسماء .. آیا خوشاله دې نه کړم !

مور مې وویل :

ای د الله رسوله ، زما پلار او مور دې درنه قربان شي !!

رسول الله وفرمایل :

الله تعالی جعفر ته دوه وزرې ورکړي او په جنت کې به پرې الوتنې کوي ...

مور مې وویل :

زما پلار او مور دې له تا قربان شي دالله رسوله !!!

خلک هم له دې خبر کړه !!

رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅېده ، زما لاس یې ونیوه او منبر ته وخوت ... او زه یې لاندني کښېنولم او ویې فرمایل :

د یو کس مټ دهغه پر ورور او د تره پر ځوی غښتلی کیږي ... خو جعفر رضی الله عنه شهید شو ... الله تعالی ورته دوه وزرې ورکړي او په جنت کې به پرې الوزي ...

اسماء بنت عمیس څخه روایت دی ، فرمایې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چیغې وهلې نو ښځې راباندې راټولې شوې .. رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا داسې وویل :

ای اسماء مه بې ځایه خبرې کوه ، او مه سینه په څپیړو وهه ..

اسماء رضی الله عنها فرمایې :

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې لور فاطمې رضی الله عنها ته ورغی ، هغې هم داسې ویل :

ای کاکا !!!!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

د جعفر غوندې انسان پسې دې ، ژړونکې وژاړي !! بیا یې وفرمایل :

د جعفر کورنۍ ته خواړه ورکړئ ، ځکه هغوی نن په غم کې ډوب دي ...

کله چې د اسماء بنت عمیس رضی الله عنها د ( عدت ) ورځې پای ته رسیږي ، ابوبکر الصدیق رضی الله عنه پرې مرکه کوي او د ځان لپاره یې غواړي .. دا مهال ابوبکر صدیق رضی الله عنه د شپېتو کلونو په درشل کې وو ... د هغه مېرمن ( ام رومان رضی الله عنها ) هم وفات شوې وه ... له دې وروروسته اسماء بنت عمیس د ابوبکر الصدیق مېرمن شوه .. هغې له زامنو سره یوځای د ابوبکر رضی الله عنه تر سیوري لاندې د مینې ، پیرزوینې او نرمۍ ژوند وکړ ..

د هجرت په لسم کال ، د اسماء بنت عمیس د حمل وروستۍ میاشت وه چې ، نوموړې له ابوبکر الصدیق رضی الله عنه سره یوځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا حج ته لاړل .. دوی چې څنګه له مدینې منورې څخه ووتل ، په لاره کې پرې د ولادت دردونه راغلل ، او( محمد بن ابي بکر رضی الله عنهما ) دنیا ته سترګې راوغړولې ..

خاوند ابوبکر رضی الله عنه یې وغوښتل چې خپله مېرمن بیرته مدینې ته راولیږي ، په دې اړه یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم اجازه وغوښته ... هغه ورته وفرمایل :

ورته ووایه چې غسل وکړي ، بیا دې احرام وکړي ..

اسماء بنت عمیس رضی الله عنها د هجرت د یوولسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات او له هغه وروسته د ابوبکر رضی الله عنه د خلیفه کېدو پر مهال هم ژوندۍ وه .

د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د خلافت په لومړیو میاشتو کې ، اسماء بنت عمیس د فاطمې رضی الله عنها مړینه هم ویني ، دا مهال د فاطمة الزهراء رضی الله عنها د پلار د مړینې ایله څو میاشتې شوې وې ، چې لور فاطمة یې هم ورپسې له دې دنیا سترګې پټې کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماء بنت عميس رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ته تر ټولو نږدې ښځه وه ، کله چې د فاطمة الزهراء رضی الله عنها نېټه رانږدې شوه ، وصيت يې وکړ چې خپل خاوند علي بن ابي طالب رضی الله عنه او اسماء بنت عميس رضی الله عنها به ورته غسل ورکوي .

فاطمة الزهراء رضی الله عنها پخوا اسماء رضی الله عنها ته شکايت کړی وو چې ، نوموړې سره دا انديښنه ده چې د قبر ته د وړلو او کوزولو پرمهال يې بدن ونه ليدل شي ..... د بخاري او مسلم په روايتونو کې راغلي چې فاطمې رضی الله عنها ورته وويل :

ای اسماء .. ! له ښځو سره چې دا مهال څه کيږي ، نه مې خوښيږي ... پر ښځه جامې اچول کيږي خو بيا هم ښکاري ..

اسماء ورته وفرمايل :

ای د رسول الله صلی الله علیه وسلم لورې !! ما چې په حبشه کې څه ليدلي خوښه دې چې تاته يې هم وښايم ؟

د خرماوو لامده پڅونه يې راوغوښتل .. هغه يې خپاره کړل او بيا يې د جامو پرځای واچول ...

فاطمې رضی الله عنها ورته وويل :

دا څومره ښکلی لباس دی .. !!! د سړي ځوی له ښځې مالوميږي .. که زه مړه شوم ، ته او علي رضی الله عنه راته غسل راکړئ !!! او هيڅوک دې ماباندې نه داخليږي ...

او کله چې وفات شو ه ، اسماء رضی الله عنها د زهراء وصيت پرځای کړ ...

ابوبکر رضی الله عنه هم اسماء ته وويل چې ، د زهراء رضی الله عنها وصيت پرځای کړي ..

په دې طريقه ، اسماء بنت عميس له حبشې څخه دا دود را انتقال کړ چې د مړو په تکفينولو کې د خرماوو له پڅو څخه ګټه واخلي .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن زينب بنت جحش رضی الله عنها چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړۍ مېرمن وه چې له هغه وروسته وفات شوه ، اسماء ورته همداسې پڅونه جوړ کړي وو . عمر بن الخطاب رضی الله عنه هم دا دود خوښ کړ . په دې اړه يې خلکو ته امر وکړ .

مخکې ددې چې دا امر نه وو شوی چې د ښځينه مړو په انتقال کې دې يوازې دهغې خپلوان برخه واخلي ، هغوی به قبرونو ته د ښځو د انتقال په برخه کې د خرماوو له دې پڅونو څخه کار اخيست ترڅو يې څوک ونه ويني .

اسماء بنت عميس رضی الله عنها د خپل خاوند ابوبکر رضی الله عنه د خلافت په دوره کې هم دهغه سترې جګړې شاهده وه ، چې خاوند يې د عربو په جزيره کې د مرتدينو ( له دينه اوښتو خلکو ) خلاف وکړه . همدا راز ددې هم شاهده وه چې خاوند يې قرآن کريم راټول کړ ، او بيا يې لښکرې شام او فارس ته ولېږلې .. .. اسماء رضی الله عنها به د خاوند ملاتړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کارونو کې به يې ورسره مرسته کوله . . . نوموړې په هوښيار تيا ، ځير کتيا ، قوي ارادې او غښتلتيا مشهوره وه . . . خو له ابوبکر الصديق رضی الله عنه سره يې ژوند ډېره ادامه نه مومي . . . خاوند يې دوه کاله خلافت لا نه پوره کوي چې ، له دې دنيا کوچيږي . . . ابو بکر الصديق رضی الله عنه په دري شپېته کلنۍ کې له دې دنيا سترګې پټې کړې . . ..د ابوبکر رضی الله عنه د وصيت سره سم ، اسماء بنت عميس رضی الله عنها نوموړي ته غسل ورکړ ، لکه دهغه وړاندې يې چې فاطمة الزهراء رضی الله عنها ته غسل ورکړی وو .

عمر بن الخطاب رضی الله عنه د ابوبکر الصديق رضی الله عنه جنازه وکړه ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ترڅنګ يې دهغه په جومات کې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له مبارک منبر سره نږدې يې خاورو ته وسپاره . . اسماء بنت عميس رضی الله عنها ته يې يو ماشوم پرېښود ، چې لا ديارلس کلنۍ ته نه وو رسيدلی . .

او کله چې د اسماء بنت عميس رضی الله عنها د عدت ورځې پای ته ورسېدې ، علي کرم الله وجهه يې د واده غوښتنه وکړه . . هغه خپل د تره د ځوی زامن ، او د ابوبکر الصديق رضی الله عنه يو ځوی له خپلو هغو بچيانو سره رايوځای کړل چې له اسماء بنت عميس رضی الله عنها څخه يې وروسته پيدا شول ، چې يحيی او عون نومېدل . . . هغه يې غوره پلار شو او ديتيمانو په توګه يې دهغوی ښه روزنه او پاملرنه وکړه.

د سيرت په کتابونو کې راځي چې ، د علي بن ابی طالب کرم الله وجهه په کور کې د اسماء ددوه زامنو ترمنځ ښکلې خبرې اترې ترسره شوې وې . . . دا خبرې اترې د محمد بن جعفر او محمد بن ابی ابکر ترمنځ شوې وې . . .

هر يو يې دا خبره کوله :

زه له تا ښه يم ، او زما پلار ستا تر پلار غوره دی. .

علي کرم الله وجهه خپلې مېرمنې ته وويل :

اسماء ته ددوی ترمنځ پرېکړه وکړه . . !!

اسماء بنت عميس رضی الله عنها وويل :

ما د عربانو په ځوانانو کې له جعفر ښه ځوان نه دی ليدلی . . . او نه مې دعربو په بوډاګانو کې له ابوبکر غوره بوډا ليدلی . .

علي کرم الله وجهه د اسماء بنت عميس له دې بلاغت ، ځير کتيا او پوهې متاثر شو او ور ته يې وويل :

موږ ته دې هيڅ پرې نه ښودل . . او که بل څه دې ويلي وای ، نو درباندې به غوسه شوی وای . . .

کله چې علي کرم الله وجهه د هجرت په ۳۵ کال کې د عثمان بن عفان رضی الله عنه له شهادت وروسته د مسلمانانو خليفه شوه ، هم يې د خپلې مېرمنې زامنو ته په پاملرنه او روزنه کې کوم کمی نه رانغی . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له خپل پر کټي ( محمد بن ابی ابکر ) رضی الله عنه سره تر دې اندازې مينه کوله چې ، هغه يې په مصر باندې د امير په توګه وګوماره .

اسماء بنت عميس رضی الله عنها دا ټولې سترې پيښې په خپلو سترګو وليدې ... کله چې په مصر باندې د امويانو لخوا دواک د نيولو پر سر حملې کېدې ، د ( ابن الخديج ) په لاس د ځوی په وژل کېدو سخته خپه شوه . نوموړې دخپل د ځوی په شهادت باندې ډېر صبر وکړ ، بيا ډېر وخت لا تېر نه وو چې د خپل خاوند علي بن ابی طالب کرم الله وجهه د شهادت درد يې وليد... خاوند يې د هجرت په ۴۰ څلوېښتم کال د روژې په مياشت کې شهيد شو .

اسماء بنت عميس دخاوند او ځوی له شهادت وروسته ډېر صبر وکړ ، بيا لا ډېر وخت تېر نه وو چې د ډېرو کړاوونو ، تکليفونو او غمونو له زغم وروسته وربانديې ناروغيو حمله وکړه او له دې دنيا يې سترګې پټې کړې .

اسماء بنت عميس رضی الله عنها وکړی شول چې په حبشه کې د ډېر مهاجرت بديل او جبران د هجرت په اووم کال مدينې منورې ته په راتګ او د نبوي کورنۍ ته په ورننږدې کيدو سره راوړي . په نبوي کورنۍ کې يې زده کړه پيل کړه ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديثونه به يې په يادو زده کول... نوموړې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ګڼ حديثونه هم روايت کړي دي ... رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته يوه ورځ وويل :

آيا يو څو خبرې درته زده نه کړم چې د مصيبت په حالت کې يې ووايې ، او الله تعالی درنه غم راکم کړي ؟؟ :

الله ... الله زما رب دی او هيڅ شی ورسره نه شريکوم !!!

او له هغو حديثونو له ډلې چې اسماء بنت عميس رضی الله عنها روايت کړی ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وينا ده :

په دنيا کې د يو سړي دبدبختۍ لاملونه درې دي :

د کوربدوالی ، د سپرلۍ بدوالی ، او د ښځې بدوالی ...

ورته وويل شو چې ، د کور بدوالی څنګه وي ؟

ويې فرمايل : د مساحت کموالی او د ګاونډيانو بدوالی ..

ورته وويل شو چې ، د سپرلۍ بدوالی څنګه وي ؟

ويې فرمايل : هغه سپرلي چې شاه نه درکوي او نا آرامه وي..

ورته وويل شو چې ، دښځې بدوالی يانې څه ؟

ويې فرمايل : شنډوالی او دهغې بداخلاقي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسماء بنت عمیس او دهغې د خویندو په اړه د غوره ایمان ګواهي ورکړې ، له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی وایې چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

څلور مؤمنې خویندې ، میمونة ، او ام الفضل د الحارث لوڼې .. سلمی او اسماء د عمیس لوڼې دي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خنساء بنت عمرو رضی الله عنها

دا د ( مضر ) د قبيلې يوه مخوره مېرمن وه ، مضر هغه قبيله وه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کلا ګڼله .دا مېرمن د عربې له سترو شاعرانو څخه شمېرل کيږي ، هم د جاهليت په وختونو کې وه ، او هم يې د اسلام په لومړنيو وختونو کې ژوند کړی . د اسلام سپيڅلی دين يې ومانه ، او خپل ټول زامن يې ورته وقف کړل .. دا ښځه دا وياړ لري چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د شاعرۍ په اړه اعتراف وکړ ، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په اړه ويلي :

دا په ټولو خلکو کې تکړه شاعره ده .

په اړه يې تاريخ وايې چې ، دا داسې يوه شاعره وه چې په جاهليت کې يې تر بل هر چا د غم غښتلي او کره شعرونه ويلي ، او هم يې په اسلام کې د الله په لاره کې ډېر تکليفونه ليدلي او صبر يې پرې کړی . دا ښځه : (خنساء بنت عمرو ) نوميږي.

نوموړې په شعر کې نابغه او د صبر او ايستيانو (مرثياتو ) سرداره ګڼل کيږي .

نوموړې ( تماضر بنت عمرو بن الرشيد بن ثعلبة بن امرئ القيس ) نوميږي ، له بنو سالم له اولادې او د ( مضر ) له قبيلې څخه وه ، او په شبه الجزيرة ( د عربو په کوچنۍ جزيره ) کې د نجد پورې تړاو لري .

د يادې ښځې لقب ( الخنساء ) وه . نوموړې ځکه په دې لقب نومول شوې وه چې ، د پزې هډوکی يې ټيټ وو . او رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته ( خناس ) ويله ... خو نوموړې په خپل اصلي نوم دومره نه وه مشهوره څومره چې په دې لقب مشهوره وه . خنساءرضی الله عنها د شعر په نړۍ کې د لوی ځای خاونده وه ، او په عربي نړۍ کې تر بل هرې مېرمنې غوره شاعره او د نبوغ تر پړاوه رسېدلې وه .

خنساء ډېر عمر په جاهليت کې تېر کړی دی ، او له خپل تره ځوی ( رواحة بن العزيز السلمی ) سره يې واده کړی وو . له هغه يې څلور زامن پيدا شول .

په ۶۱۲ زيږديز کال کې د ( حرمله ) دوه زامنو هاشم او دريد د خنساء ورور معاويه وواژه ، خنساء خپل کشر ورور ( صخر ) غچ اخيستلو ته وهڅاوه . ده وکولی شو چې د خپل ورور په غچ کې ( دريد ) ووژني ، خو خپله هم ټپي او په ۶۱۵ زيږديز کال کې وفات شو . او ويل کيږي چې خنساء د خپل ورور په مړينه دومره وژړل چې په پايله کې يې ستر ګې ړندې شوې .

( صخر ) د خنساء ناسکه ورور وو ، او تر ټولو ورونو يې ورسره ډېره مينه کوله . ځکه دی ډېر نرم ، سخي او په خپل ټبر کې ډېر زړور او تکړه انسان وو . هغه به هم تل د خپلې خور په څنګ کې ولاړ او مرسته او ملاتړ به يې کاوه . او کله يې چې ( صخر ) ورور ووژل شو ، خور يې په مړينه ډېره غمجنه شوه او ډېرې ستاينې ( مرثي شعرونه ) يې وويل ، ددې دا ډول شعرونو په عربانو کې ډېر شهرت پيدا کړ ، دا ددې لامل شوه چې د خنساء مرثي شعرونه دومره مشهور شول چې له نورو شعرونو څخه يې څوک يادونه نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خنساء ته یوه ورځ وویل شول چې ، د خپلو ورونو صخر او معاویه په اړه راته یو څه ووایه ، هغې وویل :

قسم په الله صخر د ګرد جنې زمانې جنت وو ، او د هر زیانمن شي لپاره زهر وو ،

او قسم په الله معاویه به چې څه ویل ، هغسې به یې کول .

یوه ورځ ترې پوښتنه وشوه .. کوم یو ورور یې له ویاړونو ډک وو ؟

خنساء وویل چې ، صخر د ژمي ګرمي وه ... او معاویه د هواء یخني وه ...

ورته وویل شول چې ، په کوم یو یې ډېره دردمنه او خپه یې ؟

ویې ویل : صخر د ینې سکروټه وه .او معاویه ، د بدن ناروغي او کمزورتیا وه ...

بیا یې دا شعرونه وویل :

قمران فی النادی رفیقا محتد ......... فی المجد فرعا سؤدد متخیر

او د صخر د مړینې په اړه چې خنساء کومه مرثیه ویلې وه ، تر ټولو مشهوره مرثیه یې دا وه .

قذی بعینک ام بالعین عوار........ ام ذرفت ، اذ خلت من اهلها الدار

کأن عینی لذکراه اذا خطرت .... فیض یسیل علی الخدین مدرار

تبکی لصخر هی العبراء قد ولهت ......... و دونه من جدید الترب استار

تبکی خناس علی صخر وحق لها ........ اذ رابها الدهر ... ان الدهر ضرار

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله د حراء په غار کې عبادت او فکر کاوه ، پر هغه د وحي په رانازلیدو سره د اسلام شعلې وځلېدې .. بیا یې په مکه مکرمه کې اسلام ته خلک رابلل .. کله به یې چې د قریشو مشرکین اسلام ته رابلل ، دا مهال هغه له یو ګوابښمن پړاو څخه تېرېده . چې بیا دا ګوابښ مدینې منورې ته په هجرت سره پای ته ورسېد . خنساء رضی الله عنها مسلمانه شوه ، او د مدینې منورې پر لور روانه شوه . تر څو هلته له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړي . نوموړې له خپل قوم بنو سلیم سره په ډله کې تللې وه . محمد صلی الله علیه وسلم هم خنساء ته ډېر احترام وکړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته ویل چې شعرونه راته ووایه ، او دهغې له شعرونو به یې خوند اخیسته . او ویل به یې : هې خناس .. او په لاس به یې ورته اشاره کوله . نوموړې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو ښه شاعره ګڼلې وه .

کله چې عدي بن حاتم الطائی رسول الله صلی الله علیه وسلم وسلم ته راغی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل : ای دالله رسوله ! په موږ کې ترټولو ښه شاعر ، تر ټولو سخي ، او په آس سپریدونکی سړی شته . بیا یې وویل : چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ټولو تکړه شاعر راکې ، امرؤ القیس بن حجر دی . او تر ټولو سخي راکې ، حاتم بن سعد دی . او په اس سپریدلو کې تکړه سړی راکې ، عمرو بن معدیکرب دی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : داسې نه عدی ... تر ټولو تکړه شاعره خنساء بنت عمرو ... او تر ټولو سخي انسان ، محمد دی . او په اس سپریدو کې تر ټولو تکړه انسان ، علي بن ابی طالب دی .

عمر بن الخطاب رضی الله عنه خنساء ته وکتل ، دهغې په مخ د غم نښانې وې .. ورته یې وویل : ته ولې دومره غمجنه یې خنساء ؟

په ځواب کې یې ورته وویل :

په ورونو باندې له ډېرې ژړا لامله ..

عمر ورته وویل :

ورونه دې په اور کې دي ...

هغې وویل :

همدې مې خپګان زیات کړی دی .

زه پر هغوی له اوره ډېره ډاریدم .. او نن هم د اور له کبله پر هغوی ژاړم ...

د خنساء رضی الله عنها شعرونه د اسلام له لارښوونو رنګ اخیسته .

خنساء رضی الله عنها ولیده چې د اسلام دین په خپریدو دی ، او د عربو له جزیرې دباندې هم د اسلام رڼاوې ورسیدې .. د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په خلافت کې ، د هجرت په شوارلسم کال کې یې د اتلولۍ ډېر غښتلی دریځ ونیوه ، د تاریخ او ادب یادښتونه ورته خپ پاتې شول ، کم وخت یوه مور داسې غښتلی دریځ نیولی شي .

دقادسیې جګړه چې د فارس او مسلمانانو ترمنځ د عراق په ځمکه یوه غوڅه جګړه وه ، خنساء رضی الله عنها له خپلو څلور زامنو سره د قادسیې له لښکرو سره ووتله ، د جګړې په شپه له خپلو زامنو سره کښیناسته او هغوی یې د یو وصیت په ترڅ کې جنګ ته هڅول . دا وصیت د تاریخ او ادب په کتابونو کې تلپاتې دی . داسې یې ورته وویل :

ای زامنو ، تاسو منونکي مسلمان شوي یاست ، او په خوښه مو هجرت وکړ ، تاسو د یو پلار ، او یوې مور زامن یاست .. نه مې ستاسو پلار ته سپورې کړي ، او نه مې ستاسو ماما ګان شرمولي ... تاسو پوهیږئ چې الله جل جلاله د کافرانو خلاف جګړه کې مسلمانانو ته څومره اجرونه ورکوي ... په دې پوه شئ چې تلپاتې کور ، له تلونکې دنیا څخه غوره دی . الله جل جلاله فرمایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

**که دالله په امر سره سبا روغ لاړئ ، په فکر سره د دښمن مبارزې ته ورشئ ، او دالله په مرسته دهغه په دښمن بريالي شئ . که ومو ليده چې جګړه پيل شوه ، او د جګړې لمبې لا په ګرمېدو شوې ، او لمبو يې هرڅه سېځل .. تاسو منځ ته ورشئ ، او د سختۍ پر مهال يې ، مشر سره مبارزه وکړئ ، نو په دنيا او آخرت کې به د غنيمت او کرامت وياړونه له ځانونو سره ولرئ . . . .**

**د خنساء رضی الله عنها څلور واړه ځامن د جګړې ډګر ته لاړل ... ټولو د خپلې ستري مور ستر وصيت ، د ميړانې او زړورتيا مشورې او عقيده په زړونو کې له ځانونو سره ګرځوله .. ټولو سخته جګړه ، او ډېره قرباني ورکړه .. چې په پايله کې ټول له مخې شهيدان شول .... خنساء رضی الله عنها ته ددوی د شهادت خبر ورسيده ، هغې ډېر په صبر سره داسې خبرې وکړې چې په تاريخ کې د نمونې په توګه پاتې شوې :**

**دالله ډېر شکرونه چې ددوی د شهادت وياړ يې راپه برخه کړ .. او له الله جل جلاله تمه لرم چې په جنت کې مې ورسره يوځای کړي . . .**

**عمر بن الخطاب رضی الله عنه خنساء رضی الله عنها ته ډېر درناوی وکړ ، او هغې ته به يې د څلور شهيدانو زامنو روزي او په غنيمت کې دهغوی برخه ورکوله . دا برخه يې ترهغه مهاله ورکوله چې خپله عمر رضی الله عنه د هجرت په ۲۳ کال کې شهيد شو . او ډېر وخت لا تېر نه وو چې ، خنساء رضی الله عنها د عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت په لومړيو کې د هجرت په ۲۴ کال کې وفات شوه . . .**

**د اسلام سپيڅلي دين له هغې يو صبرناکه او زړوره مور جوړه کړې وه ، مرثيات او ويرونه يې پرېښودل ، او د خپلو څلور زامنو په شهادت يې الله جل جلاله ته ډېر صبر وکړ ، او په دې سره يې تاريخ کې خپل نوم پرېښود .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام ذر (ليلى الغفارية) رضى الله عنها

دا ښځه د بني غفار له قبيلې ځخه وه ، او د عربانو له سترو شاعرانو ځخه شمېرل کيږي .. او دداسې يو سړي مېرمن ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه فرمايلي :

د ځمکې پر سر ، له ابو ذر رضى الله عنه ځخه رښتونى انسان نشته .

دا ښځه (ام ذر) يا (ليلى الغفارية) نوميږي . د ابوذر الغفاري رضى الله عنه ميرمن وه . مهاجره او مجاهده ، او د يو ستر مجاهد سره د جهاد په لاره کې ملګرې وه .

دا صحابية ليلى الغفاريه د جندب بن جنادة رضى الله عنه ميرمن ده چې خاوند يې په ابوذر الغفاري باندې شهرت لري . له خپل خاوند سره د عربي جزيرې په جنوبي برخه کې د بنو غفار په استوګنځايونو کې اوسيده . او ډېر شعرونه به يې ويل .

کله يې چې خاوند په مکه مکرمه کې د پيغمبر عليه السلام له مبعوث کېدو خبر شو ، له خپل ورور سره يوځاى شو ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مکې مکرمې ته ورغلل ، هغه يې تود هر کلى وکړ . د شهادت کلمه يې وويله ، او اسلام يې قبول کړ . په دې کار سره ، نوموړى دهغو لسو مسلمانانو په کتار کې راځي چې لومړى يې اسلام راوړى دى . بيا وروسته (ام ذر رضى الله عنها) هم ايمان راوړ .

ام ذر په شعر او ښه روايت باندې شهرت لري .. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې هغه حالات بيان کړل چې له اسلام وړاندې به يې له خپل خاوند سره يوځاى د بتانو عبادت کاوه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله وغوښته چې موسکى شي ، وبه يې ويل :

اى ابوذره ! د اسلام د پيل کيسه دې راته وکړه !

ابوذر رضى الله عنه به ورته شروع وکړه او ويل به يې :

ما يو بت درلود ، او د (نهم) په نامه يادېده . زه ورته راغلم او مخې ته مې ورته شيدې کېښودې ، او نور ترې لاړم . زه لږ وروسته شوم ، چې ومې ليده يو سپى د شيدو په ځښکاک لګيا وو .. کله يې چې شيدې ټولې خلاصې کړې ، پښه يې پورته کړه او په بت يې متيازې وکړې .. بيا مې دا شعر وواية :

الا يا نهم انى قد بدا لى مدى شرف يبعد منک قربا

رايت الکلب سامک حظ سخف

فلم يمنع قفاک اليوم کلبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ما د بت د بدۍ په اړه دا بیتونه ویل ام ذر واورېدل ، هغې وویل :

لقد اتیت جرما ، و اصبت عظما .. حین هجوت نهما .

یانې کله چې تا د ( نهم ) بت وکنځلو ، نو دا دې یو ستر جرم وکړ ..

بیا مې ورته ټوله کیسه وکړه ، نو مېرمن مې سمدلاسه د بت پرستۍ بدي بیان کړه او نفرت یې ورسره وښود او سمدلاسه یې دا شعر ووایه :

الا فابغنا ربا کریما جواد فی الفضائل یا ابن وهب

فمامن سامه کلب حقیر ، فلم یمنع یداه لنا برب

فما عبد الحجارة غیر غاو ، رکیک العقل لیس بذی لب .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې کیسې په پای کې وفرمایل :

ام ذر رښتیا ویلي . رښتیا هم له سرکشه پر ته د تیږو عبادت بل څوک نه کوي ..

ام ذر له خپل خاوند سره مدینې منورې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هجرت وروسته هجرت وکړ ، دهغې خاوند ابوذر رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ټولو غزاګانو کې برخه اخیستې . ام ذر د ( ام القرد ) د غزا لامل وه چې د غابه په نوم یادیږي . په دې مانا چې دوی د مدینې په شاوخوا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښې څرولې ، کله چې دلته خواړه نه پیدا کېدل ، ابوذر رضی الله عنه د مدینې له پولو دباندې ووت ، او د ( عبید بن حصن ) څړځایونو ته یې ځان ورساوه . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر شو ، له دې کاره یې منعه کړ ، خو ابوذر رضی الله عنه په رسول الله صلی الله علیه وسلم ټینګار کاوه چې ، په دې ځای کې ورته د مالونو د څر اجازه ورکړي . بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

داسې انګیرم چې ځوی دې وژل کیږي ، میرمن به دې اخیستل کیږي ، او ته به دې په امسا تکیه وهې .

خو ابوذر رضی الله عنه منعه نه شو ، او څر ته یې ادامه ورکړه ، هماغه وو چې ( عیینه بن حصن ) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوښانو حمله وکړه ، او له ځان سره یې یوړل ، او د ابوذر رضی الله عنه ځوی یې وواژه ، او میرمن یې ترې بوتله ... دا خبر مدینې منورې ته راورسېده ، غږ یې وکړ :

وېره ... وېره !

بیا غږ وشو چې :د الله په آس سپاره شئ . !

رسول الله صلی الله علیه وسلم په سپرلۍ سپور شو چې بیا د ( ام القرد ) غزا پېښه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې اختطاف کوونکو دمه کوله ، ام ذر رضی الله عنها چې له اوښانو سره یوځای تښتول شوې وه ، وتوانېده چې ځان راخلاص او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښه له ځان سره راولي . او نذر یې وکړ که خوندي راووتله ، نو اوښه به حلالوي . یرغلګرو هڅه وکړه چې اوښه بیرته راونیسي ، خو ونه توانېدل . ام ذر رضی الله عنها مدینې منورې ته راغله ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې له نذر څخه خبر شو ویې ویل :

سبحان الله... ډېره بده سزا یې ولیده .

نذر یې کړی وو که الله ورته نجات ورکړ ، نو اوښه به حلالوي .

په ګناه کې د نذر وفاء نشته ،

او نه په هغه څه کې چې د انسان ملکیت نه وي .

له دې وروسته بیا ام ذر رضی الله عنها له خپل خاوند سره کله په مدینه منوره او کله په شام کې واوسېده . بیا د عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت په دوران کې د ( ربده ) په سیمه کې پاتې شول ، چې د مدینې منورې یوه لیرې پرته سیمه ده .

ام ذر رضی الله عنها د خپل خاوند د مړینې کیسه داسې کوي :

کله چې د ابوذر د مړینې وخت رانږدې شو ، ومې ژړل . ابوذر راته وویل :

ولې ژاړې ؟

ومې ویل :

ولې به نه ژاړم او ته په یوه دښته کې مړ کیږې !!! او زه دومره جامې هم نه لرم چې کفن درته ترې جوړ کړم .

ویې ویل :

مه ژاړه .. ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي ، یو څو کسانو ته یې ویل چې زه هم ور کې وم :

له تاسو به یو سړی په یوه دښته کې مړ کیږي ، بیا به د مسلمانانو یوه ډله ورته راځي . او په دې کسانو کې به داسې څوک نه وي ، مګر هغه به یا کلي او یا د ډلې په منځ کې وفات کیږي . او دادی زه په دښته کې مړ کیږم ... لاره وڅاره !

ومې ویل :

حاجیان تللي او په دې لاره څوک نه راځي ...

ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړه شه او خلک وګوره ...

ومې ویل :

یو تېپې ته راغلم او لیرې مې وکتل ... بیا بیر ته ورته راستنېدم چې خدمت یې وکړم ... زه په دې حالت وم چې یوه ډله خلک راروان وو . . . په خپلو جامو مې ورته اشاره وکړه ! ! زه یې ولیدم او زما پر لور راغلل او راته یې وویل :

څه شوې ؟

ومې ویل :

یو مسلمان سړی مړ کیږي ، آیا کفن ورته ورکوئ ؟

ویې ویل : څوک دی ؟

ومې ویل : ابوذر دی .

ویې ویل : د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي دی . ؟

ومې ویل چې ، هو .

هغوی لویه قرباني ورکړه ، ژر راغلل او ځان یې ورته ورساوه . تود هر کلی یې ورته وکړ او ویې ویل :

تاسو پوهیږئ ، که ماسره دومره جامې وی چې کفن مې ترې جوړېدای ، نو له هماغې به مې کفن جوړ کړی وی . .

تاسو په دې پوه شئ چې ، داسې کس به راته کفن نه راکوئ چې یو وخت امیر ، مشر ، او یا کاروباري پآتې شوی وي . .

خو په دې ډله کسانو کې داسې څوک نه وو چې د ابوذر له دې شرایطو سره برابر وو . خو د انصارو یو ځوان ورته وویل :

ای کاکا ! زه به کفن درکړم ... تا چې څه وویل زه داسې نه یم . . . په دې څادر به درته کفن درکړم ، یا به درته له خپلې چینې کفن برابر کړم . دا راته مور ګنډلي دي .

له دې ډلې کسانو څخه ورته بیا انصاري کفن جوړ کړ ...

په بل روایت کې راځي چې ام ذر رضی الله عنها ، هغه لارې ته راوویست ... عبدالله بن مسعود د نورو مؤمنانو سره یوځای په دوی تېر شو . ... کله یې چې وپیژانده ویې ژړل او داسې یې وویل :

رسول الله صلی الله علیه وسلم رښتیا ویلي وو :

یوازې به ګرځې ... یوازې په مرې ... او یوازې به راپاڅې.... بیا یې خاورو ته وسپاره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام ذر رضی الله عنها خپل خاوند له لاسه ورکړ ، هغه سره يې ټول ژوند په فقر او زهد کې تېر کړی وو . هغه يوه ز اهده ، تقواداره او پاک لمنه ښځه وه ! داسې ښځه وه چې په دين او دنيا يې دخاوند ملاتړ کړی ، او د جهاد په لارو کې ورسره دتل لپاره ملګرې وه !!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابیاتو څخه وه ، او د خزرج له قبیلې یوه مخوره میرمن وه . او همدا راز د انصارو مېرمنو یوه وتلې ښځه ګڼل کېده . دا ښځه په فصاحت ، بلاغت ، زغم او صبر باندې ډېره مشهوره وه . دې ښځې د خاوند په سخته رویه او چلند باندې صبر کاوه ، هماغه وو چې الله تعالی یې آواز له اووه اسمانونو پورته واورېده ، پر هغې یې مهرباني وکړه ، او کیسه یې په قرآن کریم کې رانازله شوه . دا آیتونه تر قیامته تلاوت کیږي . دا مېرمن ( خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها ) نومیږي . دسپیڅلي ،ښکلي او پاک سیرت ، او همداراز له عبرت ډکې کیسې خاونده .

دا مېرمن ( خولة بنت ثعلبة بن اصرم بن عمرو بن عوف ) نومیږي . په مدینه منوره کې د خزرج له وتلې قبیلې څخه وه . په جاهلیت کې یې له خپل تره ځوی اوس بن الصامت سره واده کړی وو ، نوموړی د ستر صحابي ( عبادة بن الصامت ) رضی الله عنه ورور وو . خولة رضی الله عنها او دهغې خاوند په مدینه منوره کې هغه کسان وو چې پخوا یې اسلام راوړی وو . په یثرب کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفیر ، مصعب بن عمیر رضی الله عنه په لاس دوی دواړه مسلمانان شول . او کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ ، خولة رضی الله عنها د هغو زړګونو انصارو په کتار کې وه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ تود هرکلي یې کړی وو . اسلام چې تل ښځو سره د ښه چلند لارښوونه او په دې ټینګار کوي ، دهغې خاوند که څه هم مسلمان شوی وو ، خو ( خولة بنت ثعلبة ) رضی الله عنها له هغې سره د ډېرو ناخوالو ژوند تېراوه .

لکه څنګه چې د سیرت په کتابونو کې راغلي ، اوس بن الصامت بوډا شو ، اخلاق یې تېز او رویه یې سخته وه . له خپلې مېرمنې سره یې رویه د تشدد تر بریده ورسیده ، دا هغه مېرمن وه چې تل یې دخپل خاوند خدمت کاوه ، او له دې پرته یې بل څوک د خدمت هم نه درلود . له همدې مېرمنې سره شخړې اوج ته ورسیدې ، خو خولة رضی الله عنها دې حالاتو ته په صبر ، زغم او تحمل غاړه ورکوله .

یوه ورځ اوس بن الصامت له خپلې مېرمنې خولة بن ثعلبة رضی الله عنها سره لانجه وکړه ، د غوسې په حالت کې یې له خولې دا خبره راووته چې :

ته پر ما ، لکه د مور د شا په څېر یې !!!

دا دجاهلیت یو کلتور وو چې ، چا به ښځې ته داسې خبره وکړه نو ، د تل لپاره به ورباندې حرامېده . خاوند یې په دې خبره ډېر زیات پښېمانه شو ، هغه ګومان وکړ چې مېرمن یې پرې له دې وروسته حرامه شوه . میرمن ته یې وویل :

زه ګومان کوم چې ته پر ما حرامه شوې !!!

د سیرت په کتابونو کې د خولة رضی الله عنها له خولې د ( ظهار ) په اړه ډېرې خبرې راغلي دي ، هغې فرمایلي :

خاوند مې یوه ورځ کور ته راغی ، ما ورسره خبره وژوله ، هغه غوسه شو او راته یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پر ما، لکه د مور د شا په څېر يې !!!

بيا ووت، او يوه شېبه د قوم د غونډ په ځاى کې کښېناست ، بيا بېرته کور ته راغى، او له ما يې غوښتنه وکړه .

ما ورته وويل :

هيڅکله نه ، قسم په الله چې ماته نه شې رانږدې کېداى، تا خو داسې خبره وکړه ! صبر چې الله او رسول يې زموږ په اړه پرېکړه وکړي .

هڅه يې وکړه، خو ما ترې ځان وساته ... دهغه د کمزورتيا او بوډاتوب لامله پرې زه وتوانېدم چې ځان ته يې پرې نږدم ...له ځانه مې ليرې کړ، بيا راووتم، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم. رسول الله صلى الله عليه وسلم د عايشې رضى الله عنها په کور کې وو. مخې ته ورته کښېناستم، او له خپل خاوند سره مې چې کيسه تېره شوې وه، ورته مې بيان کړه .... عايشه رضى الله عنها فرمايي :

ما او موږ کره چې څوک وو، ټولو وژړل، پر هغې مو زړه وسوځېده ...

د ابن سعد د روايت پر بنسټ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

ته خو پرهغه حرامه شوې يې .

خولة رضى الله عنها دا خبره له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په تکراري توګه وژوله، بيا يې وويل :

اى الله، زه درته د ډېر خپګان شکايت کوم، زه په دې بيلتون ډېره دردېږم !

اى الله، د خپل پيغمبر په ژبه دې، هغه څه رانازل کړه چې، له دې ستونزې څخه د خلاصون لاره راکړي !

الله تعالى د خولة بنت ثعلبة رضى الله عنها په اړه، له آسمانه حکم رانازل کړ. مجلس لا پاى ته نه وو رسيدلى چې، په رسول الله صلى الله عليه وسلم د وحيې د رانازليدو حالت راغى. کله چې راپاڅېده، موسکى شو. او دالله تعالى دا آيت يې ولوست :

قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِى تُجَـٰدِلُكَ فِى زَوْجِهَا وَتَشْتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَآ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ يُظَـٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَـٰتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَـٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّـٰٓـِٔى وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ ٱلْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِينَ يُظَـٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا۟ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ۚ ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٣ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ مِن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ
فَإِطۡعَامُ سِتِّينَ مِسۡكِينٗاۚ ذَٰلِكَ لِتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ
٤

په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ددې آیتونو د رانازلیدو سره سم ، خولة رضی الله عنها د آرامتیا احساس وکړ . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

ورته ووایه چې غلام آزاد کړي .

هغې وویل :

کوم غلام ؟ هغه سره نه غلام شته ، او نه له ما پرته بل خادم لري .

ورته یې وفرمایل :

امر ورته وکړه چې دوه میاشتې پرله پسې روژه ونیسي .

ځواب یې ورکړ چې ، ای دالله رسوله ، قسم په الله دا کار هم نه شي کولی . .. هغه خو د ورځې دومره دومره ځله اوبه څښکي !... د بدن له کمزورتیا سره یې سترګې هم کمزورې شوي دي .

ویې فرمایل :

ورته ووایه چې شپېته مسکینانو ته خواړه ورکړي .

خولة وویل :

دا کار کله کولی شي ؟ هغه ایله ځان ته دیو وخت خواړه پیدا کړي !

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې :

امر ورته وکړه چې ( ام المنذر بنت قیس ) ته لاړ شي ، له هغه دې یوڅه خرما واخلي ، او په شپېته مسکینانو دې هغه بیا وویشي .

خولة رضی الله عنه پاڅېده ، او خاوند ته ستنه شوه . خاوند یې د دروازې په خوله کې ناست او ورته منتظر وو ، ورته یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای خولة ! څه دې وکړه ؟

ویې ویل :

خیریت دی خو ته بدغونی یې . رسول الله صلی الله علیه وسلم درته امر کړی چې ( ام المنذر بنت قیس ) ته ورشه ، له هغې به خرما اخلې ، او بیا به یې پر شپېته مسکینانو باندې خیرات کوې .

خولة رضی الله عنها وویل : خاوند مې په منډه منډه لاړ ، خرما یې راپه شا کړې وې ، ما ته هغه مالوم وو چې پنځه پیمانې خرما یې هم نه شوې په شا کولی ... هر مسکین ته یې دوه ګیلنه خرما ورکړې .

خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها په مدینه منوره کې اوسیده ، ټول عمر یې په ډېر ویاړ او عزت سره تېر کړ ، په دې یې ویاړ کاوه چې الله تعالی یې په اړه آیتونه رانازل کړي وو او تر قیامته به لوستل کیږي .

د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په وخت کې نوموړې ډېره بوډۍ شوې وه ، یوه ورځ په لاره کې له امیرالمؤمنین سره مخامخ شوه ، او ویې دروله ، هغه سره یې کیسه پېښ شوه ، چې ابن حجر په خپل کتاب ( الاصابة فی تمییز الصحابه ) کې روایت کړې ، هغه فرمایې ؟

عمر رضی الله عنه له جوماته راووت ، او ( جارود العبدي ) هم ورسره وو ، په لاره کې یوې ښځې ته مخې ته ورغی ، عمر رضی الله عنه پرې سلام واچاوه ، هغې د سلام ځواب ووایه او زیاته یې کړه :

( هی عمره ، د عکاظ په بازار کې مې لیدلی وې چې خلکو به درته ( عمیر ) وایه . ماشومان به دې په خپله امسا ویرول . وخت لا تېر نه وو چې په عمر نوم باندې یاد شوې ، بیا لا دومره وخت تېر نه شو چې ، په امیرالمؤمنین باندې ونومول شوې . د ولس په اړه له الله وویرېږه ، او پوه شه چې څوک له الله ډارېږي ، کارونه یې آسانه کیږي . او څوک چې له مرګه ډارېږي ، له تاوان ډارېږي . او څوک چې په حساب باور لري ، له عذابه ډارېږي . )

جارود وویل :

ای ښځې امیرالمؤمنین دې په خبرو تکلیف کړ !

عمر وویل :

پرېږده یې ، آیا ته یې نه پیژنې ؟ !!

دا خولة بنت ثعلبة ده ، د اوس بن الصامت مېرمن ده . هغه مېرمن ده چې الله تعالی یې غږ په اووم اسمان کې اوریدلی وو . او ددې په اړه یې دا آیتونه نازل کړي چې فرمایې : ( قد سمع الله قول التی تجادلک فی زوجها )

دا په عمر هم حق لري چې ، غږ یې واوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضی الله عنه  خولة رضی الله عنها ته د احترام په خاطر ، دهغې ټولې خبرې واورېدې . دهغې نصيحت ته يې غوږ ونيوه ، او اړتيا يې ورته پوره کړه ... له دې خبرو وروسته خولة رضی الله عنها خپل کار پسې روانه شوه .

د خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها د مړيني د نېټې په اړه کره مالومات نشته . خو له دې روايت څخه مالوميږي چې نوموړې د عمر بن الخطاب رضی الله عنه تر خلافته ژوندۍ وه . هغه په داسې حال کې وفات شوه چې ، د قرآن کريم په ( المجادله ) سورت کې يې خپل ياد ژوندی پرېښود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام ورقة رضی الله عنها

دا هغه صحابي وه چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ډېره ستاینه کړې وه ، دا مېرمن په ( قارئه ) باندې نومول شوې وه ، او د قرآن کریم په لوستلو کې په خوږ غږ باندې مشهوره وه . رسول الله صلی الله علیه وسلم د ( شهیده ) په نوم نومولې وه . یاده مېرمن له رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته څو کلونه ژوندۍ وه ... رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د شهادت وړاندوینه کړې وه ، دا هغه مېرمن وه چې د بدر په غزا کې یې د شهادت غوښتنه کړې وه . . . . دا مېرمن د ( ام ورقة رضی الله عنها ) په نوم یادیږي چې ، یوه عجیبه او اغیزمنه کیسه لري او د سیرت مختلفو کتابونو راخیستې ده .

دا مېرمن ( ام ورقة بنت عبدالله الحارث بن عویمر الانصاري ) نومېده . مسلمانه شوه او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې بیعت وکړ . چې څنګه به قران کریم رانازلېده ، ام ورقه رضی الله عنها به راټولولو او په یادو به یې زده کاوه . هماغه وو چې د ( قارئه ) په نوم یاده شوه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هرې جمعې په ورځ د ام ورقه رضی الله عنها ملاقات ته ورتللو ، او صحابه کرامو ته به یې ویل :

(( راځئ چې د شهیدې ملاقات ته لاړ شو ...))

دا چې ولې نوموړې په شهیده نوم باندې ونومول شوه ، لامل یې دا وو چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې په لومړۍ عسکري نښته کې د مشرکانو مخې ته ورووځي ، ( ام ورقة ) رضی الله عنها لومړۍ مېرمن وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو سره یې د وتلو فکر وکړ .... نوموړې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغله او ورته یې وویل :

ای دالله رسوله !که اجازه راکړې ، زه به درسره غزا ته لاړه شم . ناروغانو ته به پاملرنه کوم ، او د ټپیانو درملنه به کوم ، کیدای شي الله تعالی راته شهادت راپه برخه کړي !

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې دا غوښتنه ونه منله ، او د وتلو اجازه یې ورنکړه . بلکې هغې ته یې هیله ورکړه چې په کور کې به ورته الله جل جلاله شهادت ورپه برخه کوي . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( په کور کې کښېنه ، الله جل جلاله به شهادت در په برخه کړي .))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته امر کړی وو چې په کور کې دې لمونځ اداء کړي . پخوا یې ترې اجازه غوښتې وه چې هغې ته دې ځانګړی مؤذن وټاکي . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته یو مؤذن وټاکه چې د لمونځ له وختونو به یې خبروله . ویل کیږي چې ، دا مؤذن یو بوډا سړی وو . همدا راز هغې ته یې اجازه ورکړه چې په کور کې ښځو ته امامتي وکړي . او د جماعت په لمانځه کې ورپسې مهاجرې او انصارې مېرمنې ودریږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په ۱۱ یوولسم کال وفات شو ، خو ام ورقه رضی الله عنها لا په هغه شهادت برخمنه نه شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ورته زیری ورکړی وو . هغه به کور کې اوسیده ، قرآن کریم به یې تلاوت کاوه او ښځو ته به یې امامتي کوله . نوموړې د عمر بن الخطاب رضی الله عنه تر خلافته ژوندۍ وه . ام ورقه د عمر رضی الله عنه ګاونډۍ وه ، او عمر رضی الله عنه به خوښه ګڼله چې د شپې لخوا ترې قرآن کریم واوري .

یوه شپه د تېر په څېر ، امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خپلې سترې او پاکې ګاونډۍ د تلاوت غږ وانه ورېده .... پوښتنه او اندېښنه ورته پیدا شوه او ویې ویل چې ، تېره شپه مې د ګرانې ترور ام ورقه رضی الله عنها تلاوت نه دی اورېدلی.... کور ته یې ورغی ترڅو ترې ځان ډاډمن کړي .. خو کور کې یې ونه مونده . ورپسې وګرځېده ، هماغه وو چې چا وژلې وه او د کور په یوه څنډه کې په ټوټو کې تاو شوې پرته وه ... عمر بن الخطاب رضی الله عنه په دې حالت ډېر خپه شو او ویې ویل :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم رښتیا ویلي ، هغه به فرمایل : د شهیدې زیارت وکړئ ! ))

کله چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه دا پېښه وڅېړله ، دې پایلې ته ورسیده چې ، له ام ورقه رضی الله عنها سره غلام او وینځه اوسیدل ، دوی دواړو په شریکه نوموړې وژلې وه ... ام ورقه رضی الله عنها ورته ویلي وو چې ، زما له مرګه به دواړه آزاد یاست ... دواړو ته شیطان زړه کې وسوسې واچولې چې نوموړې ووژني او دواړه آزاد شي . هماغه وو چې سترګې یې وربانديې پټې کړې وې او ام ورقة رضی الله عنها یې زندۍ کړې وه . بیا یې ټوټو کې تاوه کړې د کور په یوه څنډه کې غورځولې وه . ...

امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه هم په دې حالت غلی پاتې نه شو ، بلکې منبر ته وخوت ، او خلکو ته یې خپل خپګان ښکاره کړ .. او له خلکو یې غوښتنه وکړه چې د ام ورقه رضی الله عنها قاتلان راپیدا کړي ، داسې یې وویل :

(( څوک چې ددې دواړو په اړه مالومات لري ، او یا یې ولیدل ، نو ماته دې راولي ... ))

خلک یې په لټه پسې ووتل ، او تر هغې پسې وګرځېدل چې پیدا یې کړل . دواړه یې عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته راوستل . هغه ترې د جرم پوښتنه وکړه او دواړو اعتراف وکړ . په دې یې اقرار وکړ چې دوی دواړه قاتلان دي ... عمر رضی الله عنه هم پر دوی باندې عادل قصاص پلی کړ ..... او ام ورقه رضی الله عنها چې په خیانت وژلې شوې وه ، دا هم د شهادت یو ډول وو . .. نوموړې د شهادت هغه درجه ترلاسه کړه چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ورته زیری ورکړی وو . نېک اعمال او ګڼور یادونه یې پرېښودل .. نوموړې د شهادت هغه خوږ جام وڅښکه چې ، ټول عمر یې په زړه ورېده او دا یې لویه هیله او ارمان وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمه الزهراء رضی الله عنها

دا میرمن خپل پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په اخلاقو او خلقت کې ډېره ورته وه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه داسې ویل :

(( فاطمه زما یوه ټوټه ده .))

نوموړې له خپل پلار ترڅنګ ولاړه وه ، یوه صبرناکه ، زړوره او له ایمانه ډکه مېرمن وه . د فاطمې رضی الله عنها سیرت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند او دهغه له وفات وروسته د اسلام د سیرت یوه مهمه برخه ګڼل کیږي . دا مېرمن **فاطمة الزهراء** نومیږي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګل او ترټولو ورته ګرانه لور وه .

فاطمه رضی الله عنها دهغه مهال د پاکو ښځو سرداره ګڼل کیږي ، نوموړې د خپل وخت تر ټولو مهمه ښځه او سمبول یادیږي . د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیا نوم فاطمه وو ، او همدا لامل وو چې په خپله لور یې هم د فاطمې نوم کېښود . او دا چې ولې یې نوموړې په زهراء یادوله ، لامل یې دا وو چې هغه سپینه ، ځلانده او له فعالیته ډکه مېرمن وه . ... فاطمه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځلور لوڼو کې یوازینۍ لور وه چې د زوکړې نېټه یې کره مالومه وه ، او دا یې ترټولو کشره لور وه . ...

په هغه ورځ چې قریشو غوښتل چې د کعبې شریفې د جوړونې چارې له سره پیل کړي ، او په دې پېښه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فکر کره والی ټولو خلکو ته ثابت شو ، همدا مهال چې له بعثت پنځه کاله وړاندې وو ، فاطمه رضی الله عنها وزیږېده . .. کله چې قریشو د حجرالاسود ځای ته ورسیده ، اختلاف یې پیدا شو چې دا تیږه به کومه قبیله پورته کوي ، ترڅو دا ویاړ له ځان سره وساتي .. د اختلاف کچه یې تر دې بریده ورسیده چې تورې یې راوویستلې او جګړې ته یې ځانونه تیار کړل ... دا مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم رانئوت ، او شخړه یې دحل لپاره هغه ته وړاندې کړه ، ځکه هغه په رښتونولۍ او امانت مشهور وو ... . هغه یې له کیسې خبر کړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( یو څادر راته راوړئ . . .))

څادر یې ورته راوړ . تیږه یې راواخیسته او په خپل لاس یې ور کې کېښوده . بیا یې وویل :

(( هره قبیله دې د څادر یوه څنډه ونیسي ، او بیا یې په ګډه پورته کړئ ...)) همداسې یې وکړه .. کله یې چې تیږه خپل ځای ته ورسوله ، په خپل لاس یې ځای پرځای کړه . په همدې توګه یې دا ستره شخړه هواره کړه ، او د وینو د تویېدو مخه یې ونیوله ...

کله چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحیه رانازله شوه ، او په حراء غار کې به یې د خلوت شپې ورځې تیرولې ، دا مهال فاطمه رضی الله عنها پنځه کلنه وه . .. ټول هغه کړاوونه چې اسلامي دعوت پرې تیر شو ، فاطمه رضی الله عنها په ماشومتوب کې ددې ټولو پېښو او کړاوونو شاهده وه . همدا راز ټولې هغه سترې پېښې یې هم ولیدې چې د نبوي کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرامتیا او کراري يې متزلزله او نا کراره کړه . په دې وخت کې يوه ترټولو ستره غميزه دا وه چې دبعثت په لسم کال خديجه بنت خويلد رضی الله عنها وفات شوه ، دا هغه مېرمنه وه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم او نورو صحابه کرامو سره يې د بنوهاشم په سيمه کې د محاصرې او اقتصادي بنديزونو سخت تکليفونه ګاللي وو . . . . نبوي کورنۍ له مور څخه خالي شوه ، د فاطمې رضی الله عنها مشره خور زينب رضی الله عنها هم له خپل خاوند سره دهغه په کور کې وه . او رقيه رضی الله عنها چې د فاطمې رضی الله عنها بله خور وه ، له خپل خاوند سره يې د مهاجرت او غربت شپې ورځې په حبشه کې تېرولې . له فاطمې رضی الله عنها سره يوازې دهغې خور ( ام کلثوم ) رضی الله عنها وه چې په کورنيو چارو کې به يې ورسره مرسته کوله . همدا لامل وو چې فاطمه رضی الله عنها په کم عمرۍ کې ډېره ځير که وه . . . . دې سترو پېښو له فاطمې رضی الله عنها يوه کوچنۍ موره جوړه کړې وه چې ستر ستر مسؤليتونه به يې پر اوږو بارول . . . په ځانګړې توګه نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په څنګ کې ولاړه وه ، له هغه به يې غمونه ليرې کول ، دفاع به يې ترې کوله ، او قريشو به يې چې له پلار او د هدايت او توحيد سره کومه دښمني او جنجال کاوه ، نوموړې به ورته تسليت ورکاوه او ددې رسالت په سرته رسولو کې به يې خپل پلار ته اوږه ورکوله . . . . ډيرى وختونه به فاطمې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم په تکليفونو ژړل ، کله به يې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په بدن باندې د مشرکينو لخوا د چټليو نښانې وليدې ، دې حالت ته به يې سخت ژړل او هغه به يې ترې ليرې کول . . .

رسول الله صلی الله عليه وسلم له کعبې سره په سجده پروت وو ، چې مشرکانو پرې ناولتوب واچاوه . . دا ناولتوب پرې پروت وو چې ، رسول الله صلی الله عليه وسلم کور ته ننوت ، او د کينې او نفرت بويونه ترې پورته کېدل . . . . فاطمه رضی الله عنها ژر راغله ، او په خپلو پاکو لاسونو يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ناولتوب ليرې کړ او دې حالت ته يې سخت وژړل . . . رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل :

(( ای لورې مه ژاړه . . . الله جل جلاله به دې پلار ساتي . . . ))

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه مکرمه کې سخت تکليفونه وليدل ، الله جل جلاله ورته مدينې منورې ته د هجرت امر وکړ . . .

فاطمه رضی الله عنها له خپلې خور ام کلثوم رضی الله عنها سره په مکه مکرمه کې په خپل کور کې کښېناسته ، دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه هجرت څاره چې ، قريشو يې په ترڅ کې پلار ، رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغه ملګری ابوبکر الصديق رضی الله عنه تر تعقيب لاندې نيولي وو . . . . دواړه غار ته ننوتي وو ، رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل ملګري ته وويل چې ، مه خپه کيږه ! الله تعالی موږ سره مل دی !! رښتيا هم الله جل جلاله له خپل پيغمبر سره مل وو ، که څه هم قريشو ډېره هڅه وکړه ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيدا کولو په موخه يې ګڼ جاسوسان خپاره کړي وو او ګڼ کسان يې دهغه د نيولو په موخه ليږلي وو ، او په ټوله لاره يې تر څار لاندې نيولی وو ، خو بيا هم ونه توانېده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ونيسي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم ، له خپل ملګري ابوبکر الصديق رضی الله عنه سره يوځای روغ رمټ مدينې منورې ته ورسيده ، او هلته يې د مدينې خلکو انصارو ډېر تود هرکلی وکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې ځای پرځای شو ، زید بن حارثه رضی الله عنه یې مکې مکرمې ته ولیږه ، ترڅو فاطمه او ام کلثوم رضی الله عنهما له ځان سره دار الهجرت یانې ، مدینې منورې ته راولي . . . خو د هجرت لاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوڼو لپاره هم څه له خطرونو خالي نه وه . ځکه د قریشو مشرکانو هوډ کړی وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لوڼې به هم شړي او ډاروي به یې . . په دې وخت کې فاطمه رضی الله عنه ډېره کمزورې او خواره وه ، ځکه نوموړې په مکه مکرمه کې ددعوت په لاره کې د پلار د سختو غمونو او کړاوونو شاهده وه .

کله چې دوی مدینې منور ته راروان وو ، ( حویرث القرشي ) ددوی د کاروان مخه ونیوله، دهغوی سپرلي یې ووهله ، او فاطمه رضی الله عنها او دهغې خور یې دواړه په دښته کې راوغورځول . . . فاطمه رضی الله عنها ډېره خپه او سخته ستړې شوه ، خپلې تګلارې ته یې ادامه ورکړه او مدینې منورې ته یې په ډېر تکلیف ځان ورساوه . کله چې د ( حویرث ) له دې کاره خلک خبر شو ، ټولو پرې لعنت ووایه .. خو د کلونو په تیریدو سره ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه دا ظالمانه کار نه شي هیرولی .. ځکه هغه یې تر ټولو ګرانه لور تکلیف کړې وه . . .

دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او نورو مسلمانانو په مدینه منوره کې د ورورولي او د مینې له ژونده برخمن شول ، او اسلامي دولت یې رامنځته کړ ، فاطمې رضی الله عنها هم له خپل پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د آرامتیا ژوند وکړ .

فاطمه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دومره خوشاله وه چې ، هیڅ یې واده ته پام نه وو . ابوبکر الصدیق رضی الله عنه یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنه وکړه ، خو هغه ورته عذر وړاندې کړ . بیا یې عمر بن الخطاب رضی الله عنه غوښتنه وکړه ، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه هم په ډېرې نرمۍ او ادب ځواب کړ . . . او همدا لامل وو چې ، کله علي بن ابی طالب رضی الله عنها د فاطمې رضی الله عنها مرکې ته راغی ، په ډېر زړه نا زړه توب سره یې پرې مرکه وکړه.. کله چې علي رضی الله عنه خپلو ملګرو په فاطمې رضی الله عنها مرکې کولو ته وهڅولو ، علي رضی الله عنه ورته په ځواب کې وویل :

(( آیا له ابوبکر او عمر وروسته به یې ماته راکړي ؟ !!! ))

خو دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم علي بن ابی طالب رضی الله عنه له ماشومتوبه پېژندلو او دهغه په کور کې یې روزنه ترلاسه کړې وه ، او لومړی کس وو چې اسلام یې راوړی وو ، سمدلاسه یې د علي رضی الله عنها سره غوښتنه ومنله او فاطمه رضی الله عنها یې ورته ورکړه . علي رض الله عنه هم په ډېرې حیاء سره غوښتنه وکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

(( هر کله راشې ... ))

علي رضی الله عنه په راتلونکې ورځ بیا راغی ، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه لږ واټن کې ودرېده ، او رسول الله صلی الله علیه سلم ته یې په ډېر آرام غږ وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( غواړم د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور باندې مرکه وکړم ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ورمخ کړ او په ډېرې نرمۍ یې ترې پوښتنه وکړه :

(( نو آیا تاسره څه شته ؟ ))

علي کرم الله وجهه ورته ځواب ورکړ چې

(( نه ، دالله رسوله ...))

علي بن ابی طالب کرم الله وجهه هیڅ مال نه درلود ، یوازې یو زغره یې درلوده چې د بدر په غزا کې یې په غنیمت ترلاسه کړې وه . .. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته امر وکړ چې ویې پلوري ... زغره ترې عثمان بن عفان په څلور سوه او اویا درهمه وپیرله .. رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې څخه ځینې مبلغ بلال ته ورکړ ترڅو پرې عطر وپیري ... پاتې نور مبلغ یې ( ام سلمه ) رضی الله عنها ته ورکړ ، ترڅو پرې د ناوې لپاره سامان وپیري ... .. دا مهال فاطمه رضی الله عنها اتلس کلنه وه ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې صحابه کرام راوغوښتل ، او هغوی یې ګواه کړل چې خپله لور فاطمه یې علي بن ابی طالب کرم الله وجهه ته د څلور سوه مثقاله سپین زرو په مقابل مهر کې ورکړه . .. د واده مراسم یې په داسې حال کې پای ته ورسول چې دواړو ته یې د برکت او نېکې اولادې دعاء وکړه .. بیا یې خپلو مېلمنو ته له خرماوو ډک لوښی وړاندې کړ ... .. فاطمه رضی الله عنها د خپل خاوند علي بن ابی طالب کرم الله وجهه په کور کې د زهد په ژوند باندې ډېره خوشاله وه . .. کله چې هغه د خاوند کور ته راننوته ، په کور کې یې یوازې بخملي جامې ، بالخت ، د اوبو دوه لوښي او دوه لوټې او یو څه اندازه خوشبوي او عطر یې لرل . په ډېر قناعت او صبر یې ژوند وکړ ، د کور خدمت به یې کاوه ، انګړ به یې جارو کاوه ، ډوډۍ به یې پخوله او اوړه به یې اغړل ، او د خپل خاوند د آس ساتنه به یې کوله . علي کرم الله وجهه دومره فقیر وو چې ، دومره وس یې هم نه درلود چې دخپلې میرمنې لپاره یو خادم ونیسي ، ترڅو ورسره په کارونو کې مرسته وکړي او کارونه ورباندې یوڅه آسان کړي .

یوه ورځ فاطمه رضی الله عنها د خپل پلار کور ته تلله ، کله یې چې لاسونه خلاص کړل ، د ډېر کار او مشقت له امله چاودلي وو ... هغې هیله لرله چې پلار به یې ورته یوه وینځه ډالۍ کړي چې په غزاګانو کې یې بندي کړې وې ، ترڅو ورسره په ورځني کارونو کې مرسته وکړي . خو رسول الله صلی الله علیه وسلم که څه هم له خپلې لور فاطمې رضی الله عنها سره ډېره زیاته مینه لرله ، هغه او علي رضی الله عنه یې ځواب کړل ، او ورته یې وویل :

(( قسم په الله هیڅکله نه ، تاسو ګورئ چې د(صفې) د خاوندانو کولمې له ولګې تشې دي ... زه دومره څه نه لرم چې پر هغوی یې ولګوم ، بلکې دا به وپلورم او پیسې به یې پر دوی مصرف کړم ..))

کله چې علي او فاطمه رضی الله عنهما ستانه شول ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورباندې خپه شو ، او په کراره کراره ورپسې ووت ، هغوی یې په داسې حال کې ولیدل چې یو څادر یې درلود .... کله به یې چې پرې سرونه پټ کړل ، پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې ښکاره شوې .. او کله به يې چې پښې پټې کړې ، سرونه به يې ښکاره شول ... هغوی چې کله محمد صلی الله عليه وسلم وليده ، نو په احترام يې ودرېدل .. هغه ورته وفرمايل :

(( ودرېږئ ... تاسو چې له ماڅه وغوښتل ، تر هغې مو له غوره څه خبر نه کړم ؟؟؟.. يو څو خبرې راته جبريل عليه السلام راوښودلې ... ))

د هر لمانځه وروسته لس ځله ، سبحان الله ، ووايااست . او لس ځله ، الحمدلله ، ووياست . او لس ځله ، الله اکبر ، ووياست . کله چې تاسو خپلې بسترې ته ځئ ، دري دېرش ځله ، سبحان الله، ووياست .. او دري دېرش ځله ، الحمدلله ، ووايااست . او څلور دېرش ځله ، الله اکبر ، ووايااست . ... بيا يې پرېښودل او بېر ته ترې راستون شو ..

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم فاطمې رضی الله عنها ته وويل ، هغه غوښتل چې په دې خبرو يې تکليف او مصيبتونه يې راکم کړي ، ورته يې وفرمايل :

(( ای فاطمې ! ځينې داسې ګناهونه شته چې لمونځ او روژه يې نه بخښي ... بلکې په کورنۍ باندې پام کول او کار کول يې بخښلی شي ... ..))

کله چې علي بن ابی طالب کرم الله وجهه څو کلونه وروسته وغوښتل چې ، په فاطمې رضی الله عنها باندې د ابوجهل له لور سره واده وکړي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلې لور ترڅنګ ودريد او غوږ دريځ يې غوره کړ ، فاطمه رضی الله عنها خپل پلار ته راغله ، ورته يې وژړل او شکايت يې وکړ .. رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېر په غوسه شو ، او سمدلاسه جومات ته ووت ، او منبر ته وخوت ، خلکو ته يې خطبه وکړه او داسې يې وويل :

(( بنو هشام بن مغيره راڅخه اجازه غواړي چې خپله لور علي بن ابی طالب ته په نکاح کړي .. . زه ورته اجازه نه ورکوم ، بيا ورته اجازه نه ورکوم ، او بيا هم ورته اجازه نه ورکوم !!! .. او يا خو دې علي بن ابی طالب دېته غاړه کېږدي ، زما لور دې طلاقه کړي ، او دهغوی لور دې نکاح کړي ... فاطمه زما يوه ټوټه ده ... په څه چې خپه کيږي، زه هم پرې خپه کيږم، او څه يې چې دردوي ، ما هم دردوي . او زه ويريږم چې ددين په برخه کې فتنه کې واقع نه شي ... ))

بيا يې خپل زوم ( ابوالعاص ) ياد کړ ، او دهغه په اړه يې خبرو ته ادامه ورکړه او ويې ويل :

(( زه حلال نه حراموم ، او نه حرام حلالوم ... .خو قسم په الله ! د الله درسول لور ، او د الله ددښمن لور هيڅکله نه شي يوځای کېدای .))

علي بن ابی طالب رضی الله عنه خپل کور ته لاړ ، او له فاطمې رضی الله عنها څخه يې بخښنه وغوښته ، بيا يې ورته د جومات ټوله کيسه بيان کړه ... د فاطمې رضی الله عنها له سترګو اوښکې راوبهېدې ... په دې پوه شوه چې پلار يې ورسره څومره مينه لري او په خپګان يې څومره خپه کيږي .. . له دې وروسته لمانځه ته پاڅېده ...

فاطمه رضی الله عنها چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره ډېره مينه کوله ، الله تعالی ورباندې انعام وکړ او زامن او لوڼې يې ورته ورکړې ... د هجرت په درېيم کال ورته الله تعالی ، حسن ځوی ورکړ ... رسول الله صلی الله عليه وسلم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن په زیږېدو ډېر خوشال شو .. او مدینې په فقیرانو یې دهغه د ویښتانو په وزن سپین زر صدقه کړل .. .. بیا یې د شعبان په میاشت کې د هجرت په دریم کال حسین ځوی پیدا شو .. . رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې دوه ګرانو لمسیانو ډېر زیات خوشال شو ... ددوی په لیدو به ډېر آرامېده ، نرمي به یې ورسره کوله او لوبې به یې ورسره کولې ... .. یوه ورځ له خپلو صحابه کرامو سره ووت ، په یوه اوږه یې یو لمسی وو ، او بل لمسی یې په بله اوږه کښېنولی وو .. کله به یې یو ښکلولو ، او کله به یې بل ښکلولو .... بیا یې داسې وویل :

(( چا چې دوی سره مینه وکړه ، ماسره یې مینه وکړه ، او چا چې دوی سره کینه وکړه ، نو داسې دی لکه ماسره چې کینه وکړي . ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم به پر دوی باندې له نظره ډېر ډارېده .. تل به یې ورته دا دعاء کوله :

(( اعیذ کما بکلمات الله التامة ، من کل شیطان وهامة ، ومن کل عین لامة . ))

الله تعالی په فاطمې رضی الله عنها نور احسان هم وکړ ، هماغه وو چې د هجرت په پنځم کال ورته الله جل جلاله یوه لور ورکړه . نیکه یې پرې ( زینب ) نوم کېښود .. په دې نوم یې دخپلې مشرې ترور یاد راتازه کړ ، دا هغه ښځه وه چې د فاطمې د مور پرځای وه. بیا یې د هجرت په اووم کال د ( ام کلثوم ) په نوم لور پیدا شوه ... فاطمې رضی الله عنها له خپلو زامنو سره داسې ژوند وکړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیا یې له خوشالیو ډکه کړې وه . په دې سره یې د خپلو بچیانو تنده ورماته کړه . رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوازې دهغه لور فاطمه رضی الله عنها ورپاتې وه چې ور ته به یې د وفات شویو زامنو تسلیت ورکاوه ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کوم بچیان له دنیا تللي وو ، په لمسیانو به یې زړه ته ډاډ ورکاوه .

فاطمه رضی الله عنها ژوندۍ وه ، او د اسلام د سترو بریاوو شاهده وه . د هجرت په اتم کال یې د مکې فتحه ولیده ، او له خپل پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای مکې مکرمې ته لاړه ، او هلته یې دخپلې مور خدیجې رضی الله عنها د قبر زیارت وکړ . رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدیجې رضی الله عنها په قبر باندې ګومبزه وهلې وه . فاطمې رضی الله عنها د هجرت په نهم کال خپله خور ام کلثوم رضی الله عنها له لاسه ورکړه . بیا د هجرت په لسم کال خپل ورور د محمد صلی الله علیه وسلم ځوی ابراهیم له لاسه ورکړ چې له ( ماریة القبطیة ) څخه یې زیږیدلی وو ... له ده وروسته یې پلار ته یوازې فاطمه رضی الله عنها ورپاتې شوه ...

د صفر میاشتې ته څو ورځې پاتې وې ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغ شو ، خپله لور یې راوغوښته ... هغه ورته ژر راغله ... کله یې چې ولیده ... ملاقات ته یې راپاڅیده ، ښکل یې کړه او خپل ښي لور ته یې کښېنوله ، هغې ته یې پټ وویل چې ګویا په دنیا کې یې نورې شپې نشته او نېټه یې رانږدې ده ... کله چې فاطمه رضی الله عنها په ژړا شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبره بیر ته خوشاله کړه ، ورته یې وویل :

(( زما له کورنۍ به ته، تر ټولو وړاندې ما پسې راځې !!! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه ورته زیاته کړه :

(( ای فاطمې ! آیا خوشاله نه یې چې د مؤمنانو د ښځو سرداره شې ؟ او یا ددې امت د ښځو سرداره شې ؟ ! ! ))

فاطمه رضی الله عنها ترهغې ژوندۍ وه چې ، د بنوساعده په ځپري کې یې د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د بیعت مراسم وليدل ... بیا د خپل پلار د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات شپږ میاشتې وروسته ، له دې دنیا په داسې حال کې سترګې پټوي چې ، لا د عمر دېرشم کال یې نه وو پوره کړی ... خپل خاوند علي بن ابی طالب کرم الله وجهه ، دهغې تره عباس ، او دوه زامنو حسن او حسین رضی الله عنهما او نورو صحابه کرامو پرې د جنازې لمونځ اداء کړ ، او د شپې لخوا یې د مدینې منورې په بقیع هدیره کې خاورو ته وسپارله ... دهغې پاک سیرت ، دهغې په سپیڅلي نسب ، نیک کار ، په خلقت او اخلاقو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ورته والي کې رانغښتل شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمیة بنت خیاط رضی الله عنها

د سختو عذابونو او شکنجو له امله له دنیا ستر ګې پټوي ، دا شهادت تل د تاریخ په پاڼو کې پاتې کیږي .. دا هغه شهادت وو چې د غښتلي ایمان ، قوي عقیدې او ډېر زغم او صبر په پایله کې ترلاسه کیږي . . دا هغه شهادت وو چې په راتلونکې کې د ټولو شهیدانو د کاروان بنسټ یې ایښی وو .. دا د دعوت په لومړیو کې ، په اسلام کې لومړۍ شهیده وه ..... دا مېرمن ، سمیة بنت خیاط نومیږي چې په اسلام کې لومړۍ شهیده ګڼل کیږي .

نوموړې سمیة بنت خیاط نومیږي ، او خاوند یې یاسر بن عامر نومېده ، او ځوی یې عمار بن یاسر یادېده . دا په یوه پاکه او مبارکه کورنۍ کې پاکه مور او سپېڅلې مېرمنه وه . . . د عذاب پرمهال به ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت زیری ورکاوه ... ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د صبر کچه او ټینګ ایمان مالوم وو .. خو له دې وړاندې ، له یاسر بن عامر رضی الله عنه سره د سمیة رضی الله عنها د واده کیسه داسې بیانیږي ...

ددوی واده او یوځای کیدل له تقدیري معجزو ډک ګڼل کیږي ، یاسر بن عامر الکناني چې په اصلیت کې یې د یمن قبیلو ته رسیږي ، نوموړی له خپلو دوه ورونو ، حارث او مالک سره له یمن څخه راووت او غوښتل یې خپل ورک شوی ورور ولټوي ... دوی له قبیلې راووتل او بیا یې په اړه مالومات هم ورک شول ... د خپل ورور په لټه پسې یې دښتې او سمې ټولې وکتلې ... بیا د مکې مکرمې پر لور راغلل ، ځکه مکه مکرمه هغه مهال د سوداګریزو سفرونو لپاره د عربانو د راټولیدو ځای او مرکز ګڼل کیده ، او دلته به خلک د حج د مراسمو د اداء کولو لپاره راتلل ... خو له اوږدې پلټنې وروسته ، بیا هم درې واړه ورونه ونه توانیدل چې خپل ورک شوی ورور پیدا کړي ... هغوی هوډ وکړ چې بیرته ستانه شي ، خو په دې ترڅ کې ترې یو بل ورور هم ورک شو .... دا په دې مانا چې یاسر وغوښتل چې له خپلو دوه ورونو سره خدای په اماني وکړي او په مکه مکرمه کې پاتې شي . . . خو دا چې یاسر بن عامر په مکه کې قبیله نه لرله او نه یې څوک داسې درلود چې دفاع یې ترې کولی او د قریشو د قبیلو د ځینو مخورو له ظلم یې وساتي ... هغه اړ شو چې د بنو مخزوم قبیلې له یوې ډلې سره یوځای شي ، هماغه وو چې له ابوحذیفه بن المغیره سره یې ایتلاف وکړ او دهغه خدمت به یې کاوه . . . هغه مهال دا یو کلتور وو چې ، کله به یو چا له یوې غښتلې کورنۍ او قبیلې سره ایتلاف وکړ ، او یا به یې ورته ځان منسوب کړ ، نو هغې قبیلې به ترې دفاع کوله او څوک به یې نه پرېښوده چې ظلم پرې وکړي .

په دې ترتیب ، یاسر بن عامر په یمن کې د آزادۍ ژوند پرېښود ، او د ځان ساتنې په مقابل کې یې خپل ژوند په مکه مکرمه کې له یوې قبیلې سره د ایتلاف کولو له لارې قید ، او دهغوی خدمت ته یې ژوند وقف کړ .

خو دې عجیبه کیسې ، هغه ته د ژوند نورې کړکۍ خلاصې کړې ، په ځانګړې توګه ، هغه مهال چې ابوحذیفه ورته خپله وینځه سمیة بنت خیاط ، یا ( سمیة بنت خباط ) واده کړه ... له سمیة رضی الله عنها یې عمار او عبیدالله دوه زامن وزیږېده . دوی د بنو مخزوم قبیلې تر سیوري لاندې ژوند کاوه .... خو دا تړون او ایتلاف چې په پیل کې د یاسر او دهغه کورنۍ ته یوه بریا او ملاتړ ګڼل کېده ، خو د اسلامي دعوت له پیل سره دا ملاتړ په تکلیفونو او کړاوونو بدلیږي . .. عمار رضی الله عنه ایله د ځوانۍ په عمر کې وو ، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دعوت او رسالت خبر شو چې په پټه توګه به یې ورته خلک رابلل ... نوموړی دار الارقم ته لاړ ، دا هغه ځای وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورکې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو صحابه کرامو سره رایوځای کېده ... څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت وکړ ، او اسلام ته یې راوباله ، سمدلاسه یې اسلام زړه ته لاره پیدا کړه او ایمان یې پرې راوړ . په پټه توګه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خپل کور ته لاړ ، او هلته یې خپل پلار او مور له نوي دین څخه خبر کړل ، د اسلام هغه لارښوونې یې ورته بیان کړې چې د شتمن او نشتمن ، د بادار او غلام ترمنځ توپیر نه کوي ... هغوی ته یې د اسلام دعوت ورکړ ، سمدلاسه دواړه مسلمانان شول .

د بنومخزوم قبیله ددوی له اسلامه خبره شوه ، عمار او دهغه کورنۍ منکره نه شوه ، بلکې په ډېر قوت او مېړانې سره یې ورته خپل اسلام اعلان کړ ... د بنو مخزوم قبیله راپاڅیده او د عمار کورنۍ یې ټوله ونیوه ، او له سختو شکنجو سره یې مخ کړه ترڅو یې بیرته له دینه وګرځوي . .. دوی ډېرې شپې ورځې د مکې مکرمې په ګرمو دښتو او د سوځوونکو وړانګو لاندې تیرې کړې . .. سمیه رضی الله عنها چې د مکې سوځوونکې وړانګو سېځله ، او له سختو شکنجو سره مخامخ وه ، بیا هم هغه په خپله عقیده او اسلام ټینګه ولاړه وه . . . رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره تېرېده ، چې په سمیة بنت خیاط یې سترګې ولګېدې .. دهغې په حالت ډېر خپه شو ، نوموړې په همدې حالت د شرک او کفر ګواښونه ردول او ورسره یې مقابله کوله .. ... د سمیه رضی الله عنها دخاوند یاسر بن عامر رضی الله عنه خبرې یې واورېدې ، د اوسپنو او لمبو له حالته ډېر دردېدل ، او داسې به یې ویل : ( زمانه همداسې ده ) ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم اسمان ته وکتل او ویې ویل :

(( د یاسر کورنۍ صبر وکړئ ، ستاسو ځای به جنت وي .... ))

که څه هم د یاسر کورنۍ ډېره کمزورې وه ، او عمر هم پرې تیر وو ، خو بیا هم د قریشو مشرکینو دهغوی له شکنجې لاس وانه خیست . هغوی په دې خاطر سخت عذاب ورکاوه ترڅو یې بیرته له اسلامه وګرځوي . خو په مقابل کې دې سختو عذابونو او شکنجو هم د یاسر کورنۍ له اسلام او ټینګې عقیدې ونه ګرځول . . ددوی صبر ټینګ ، او دداسې غوڅ او کره ایمان خاوندان وو چې هیڅ ماته یې نه منله . .. په همدې ترتیب یاسر بن عامر رضی الله عنه سخته ولږه ، کړاوونه او تکلیفونه تیر کړل ، په لرګي باندې راوځړول شو او دالله په لاره کې شهید شو . ... دهغه میرمن سمیة بنت خیاط هم له خپل خاوند څخه په صبر ، ایمان او اراده کې کمزورې نه وه . نوموړې داسې یوه میرمن وه چې ټول عمر یې په قید کې تیر کړی وو ، هیڅ ځواک او وس یې نه درلود ، خو بیا هم د ټینګ عزم او قوي ارادې خاونده وه . .. ابوجهل به نوموړې ته ډول ډول عذابونه ورکول او له سختو شکنجو سره یې مخامخ کړې وه ترڅو د محمد په دین کافره شي . خو سمیه رضی الله عنها دهغه غوښتنه ونه منله ، او هر ډول ښکنځلې به یې چې ورته کولې ، په سپکه سترګه به یې ورته کتل او دالله په لاره کې یې له صبر کار واخیست ... یوه ورځ یې دا حوصله له لاسه ورکړه چې د ابوجهل ښکنځلې وزغمي ، د خپل کرامت د ساتلو لپاره یې د ابوجهل په مخ لاړې ور توف کړې ... ابوجهل په دې کار ډېر غوسه شو ، نیزه یې راواخیسته او په زړه یې ووهله ، نوموړې ساه ورکړه ، او له دې دنیا یې سترګې پټې کړې .. په دې سره ، نوموړې د اسلام په تاریخ کې لومړۍ شهیده ګڼل کیږي ... د دعوت او رسالت لړۍ ادامه مومي ، او الله خپل دین بریالی کوي ... مسلمانان له خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم سره مدینې منورې ته هجرت کوي ، او هلته یو اسلامي دولت جوړوي ... کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته مسلمانان ځای پر ځای کيږي ، د هجرت په دويم کال د بدر ستره غزا پيښيږي ، په همدې غزا کې ، الله تعالی د سمية بنت خياط رضی الله عنها غچ اخلي ... .. ابوجهل په ډېره ناوړه توګه وژل کيږي ... بيا يې عبدالله مسعود رضی الله عنه سر خوځوي ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د زيري غړونه کوي ... د عمار بن سمية لپاره !!! الله جل جلاله يې د مور د قاتل څخه غچ واخيست . !! نوموړې هغه ميرمن وه چې په نبوي وخت کې يې ، د اسلام په تاريخ کې د شهادت لومړی وياړ له ځان سره وړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام الفضل رضی الله عنها

دا ښځه د غوره اصلیت او نسب خاونده وه . دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره مېرمن وه ، دا هغه میرمن وه چې په داسلام د راتګ په پیل کې یې ایمان راوړی وو . په ګڼو روایتونو کې راغلي چې دا مېرمن له خدیجې رضی الله عنها څخه وروسته دویمه مېرمن وه چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ . دا مېرمن :

( **لبابة بنت الحارث بنت الحزن بن بجیر الهلالیة** ) نومیږي . نوموړې درسول الله صلی الله علیه وسلم د تره عباس بن عبدالمطلب مېرمن وه . ام الفضل رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وروستۍ مېرمنې ( میمونة بنت الحارث ) رضی الله عنها خور وه .

لبابة بنت الحارث چې په ( **ام الفضل** ) باندې مشهوره ده ، خپلې مور ( خولة بنت عوف القرشیة ) ته منسوبیږي ، نوموړې کورنۍ په ډېر سخاوت ، کرامت او نیکو کارونو باندې مشهوره وه . دا چې یادې کورنۍ خپله یوه لور عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه ته ورکړې وه ، له بل پلوه یې بله لور میمونة رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړې وه . همدا راز حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه یې هم له سلمی لور سره واده کړی وو . او له بل پلوه یې جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه یې له لور ، اسماء سره واده کړی وو . کله چې نوموړی د مؤتة په غزا کې شهید شو ، بیا ورسره ابوبکر الصدیق رضی الله عنه واده وکړ . له ابوبکر الصدیق رضی الله عنه وروسته ورسره ، علي بن ابی طالب کرم الله وجهه واده وکړ ... دا هغه مور وه چې په خپل وخت کې د غوره زومانو خاونده وه ....

ام الفضل رضی الله عنها له عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه سره واده کړی وو ، او له هغه څخه یې شپږ غوره ، تکړه او ځیرک زامن زیږیدلي وو ، چې په لاندې نومونو یادېدل :

(( الفضل ، او په همدې کنیه مشهوره وه .. عبدالله ، عبیدالله ، قثم ، معبد او عبدالرحمن . ))

ام الفضل رضی الله عنها له لومړنیو مسلمانانو څخه وه ، او ویل کیږي چې له خدیجة بنت خویلد رضی الله عنها وروسته دویمه میرمن وه چې اسلام یې راوړی وو ... نوموړې د قوم مخوره مېرمن ګڼل کېده .. له بل پلوه یې خاوند ، عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه هم په خپل قوم کې ډېر مخور شخصیت وو ... خو دا چې ام الفضل او دهغې ځوی عبدالله دواړه مسلمانان شوي وو ، دا ددې لامل شوی وو چې په مکه مکرمه کې ډېر کمزوري وو ، ځکه قریشو دهغه کسانو پر ضد ددښمنۍ اعلان کړی وو چې اسلام یې قبول کړی وو . خو ددې هرڅه سره سره ، ام الفضل رضی الله عنها په خپل ذات کې ځان ستر او غښتلی باله .

بخاري په خپل صحیح کې له عبیدالله څخه روایت کوي ، فرمایي : له ابن عباس رضی الله عنهما څخه مې اوریدلي چې فرمایي :

(( زه او مور مې په ټولو ښځو او نارینه وو کې کمزوري وو ))

همدا راز بخاري رحمه الله له ابن ابی ملکیه څخه روایت کوي چې ، ابن عباس دا ایتونه تلاوت کړل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

ابن عباس رضی الله عنهما ددې آیت په تفسیر کې فرمایې : زه او مور مې الله د معذورینو په ډله کې راوستي یو ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم به ام الفضل ته ډېره مینه او احترام ورکاوه . تل به دهغې کور ته دهغې ملاقات ته ورتللو ، که څه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره لا مسلمان شوی نه وو ، خو د اسلامي دعوت به یې ډېر ملاتړ کاوه.

او ویل کیږي چې ، نوموړی مسلمان شوی وو ، خو اسلام یې پټ ساتلی وو . ځکه هغه د عقبې په دویم بیعت کې هم موجود وو ، او هدف یې دا وو چې له انصارو څخه ځان ډاډمن کړي ترڅو په رښتونې مانا دهغه د وراره سره مرسته وکړي او نیمه لاره کې یې پرې نږدي .

ام الفضل رضی الله عنها د حق په لاره کې یوه تکړه ، زړوره او غښتلې مېرمن وه ، د اسلامي دعوت په لومړیو کې یې اسلام اعلان کړ ، او په دې لاره کې له هیڅا نه ډارېده ... ټول عمر یې دالله ددین او رسول الله صلی الله علیه وسلم ددین په خدمت کې تېر کړ . .. مشهوره کیسه یې له ابولهب سره وه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترو او سختو دښمنانو څخه شمېرل کېده . دا کیسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم ( ابورافع ) داسې بیانوي :

(( زه له عباس بن عبدالله سره غلام وم ، کله چې اسلام راغی ، زه مسلمان شوم . ام الفضل هم مسلمانه شوه . عباس هم مسلمان شوی وو ، خو له خپل قوم څخه ډارېده .. او همدا لامل وو چې اسلام یې پټ ساتلی وو .. ابولهب هغه کس وو چې په بدر غزا کې یې برخه نه وه اخیستې ، او د ځان پرځای یې ( عاس بن هشام بن المغیره ) ولیږه .. هر کس به چې له غزا پاتې کېده ، د ځان پرځای به یې بل کس ضرور لیږه .. زه ډېر کمزوری سړی وم ، ما به لوښي جوړول ، او د زمزم له تیږو به مې راتوږل . قسم په الله زه ناست وم ، او ام الفضل هم راسره ناسته وه .. کله چې د بدر د غزا له پېښې خبر شو ، ډېر زیات خوشاله شو ... ابولهب راغی ، پښې یې راښکلې او راسره کښېناست ... دا مهال خلکو وویل :

هاغه دی ابوسفیان بن الحارث راغی ...

ابولهب وویل :

دلته راشه ، کیسه راته وکړه ..

ابوسفیان ورسره کښېناست ، او چاپېره خلک ولاړ وو . ویې ویل :

ای وراره ... کیسه راته وکړه چې خلکو څه وکړل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوسفيان ورته د بدر کيسه ټوله شروع کړه ..

قسم په الله ! موږ له هغوی سره مخامخ شو ، خپلې اوږې مو هغوی ته وسپارلې ، او چې څنګه يې خوښه وه ، هغسې يې ووژلو ..! او چې څنګه يې خوښه وه ، هغسې يې بنديان کړو !! خو بيا هم ، ما هيڅوک ملامت نه کړ ...

موږ له هغو سپينو کسانو سره مخامخ شول چې په رنګارنګ آسانو سپاره وو ، قسم په الله هيڅ شي يې مخه نه شوه نيولی ..

ابو رافع وايي :

تيره مې په لاس پورته کړه ، او بيا مې وويل :

قسم په الله چې دا ملايکې وې !!

ابولهب لاس راپورته کړ ، او زه يې په مخ په يوه تېزه څپېړه ووهلم ... ما دفاع وکړه .... هغه راپورته شو او زه يې پر ځمکه راوغورځولم .. زه کمزوری سړی وم ، هغه راباندې کښېناست او زما په وهلو يې پيل وکړ ... ام الفضل د خونې يو ستنې ته ورپاڅېده ، لرګی يې راواخيست ، او ابولهب يې پرې په تيز ګوزار وواهه او سر يې ورته ټپي کړ .... بيا يې وويل:

چې بادار يې نشته ، نو ته بهورباندې داسې ظلم کوې !!!

ابولهب په ډېر ذلت سره پاڅېده او روان شو ... نوموړی له دې پېښې وروسته اووه ورځې ژوندی وو ، چې بيا الله تعالی په ناوړه توګه وواژه ...

کله چې د ام الفضل رضی الله عنها خاوند عباس بن عبدالمطلب اسلام ښکاره کړ ، او مسلمانان د بدر په غزا کې بريالي شول ، له دې وروسته ام الفضل رضی الله عنها مدينې منورې ته هجرت وکړ .

او ويل کيږي چې هغې يو عجيبه خوب وليده ، هغه فرمايي :

په خوب کې مې وليده چې زما په کور کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدن يو غړی وي ... په دې ډېره زياته خپه شوم ، سمدلاسه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلم ، دا خوب مې ورته بيان کړ ، هغه راته داسې وويل :

(( خيريت دی ، د فاطمې به ماشوم پيدا کيږي ، هغه ته به له خپل ځوی ( قثم ) سره يوځای شيدې ورکوې ))

هماغه وو چې د فاطمة الزهراء رضی الله عنها حسن ځوی پيدا شو ... هغه يې ام الفضل رضی الله عنها ته ورکړ ، او د شيدو څخه د جلا کيدو تر عمره يې ورته شيدې ورکړې .

په دې کار سره ، نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لمسي رضاعي مور ګڼل کيږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام الفضل رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه هم روایت کړي ، نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نږدې دېرش حدیثونه روایت کړي دي ... او ځینې یې ترې دهغې ځوی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کړي دي ... همدا راز انس بن مالک رضی الله عنه ترې هم حدیثونه روایت کړي دي ، دهغې خادم ( تمام ) او ځینو نورو صحابه کرامو له ام الفضل رضی الله عنها څخه ګڼ حدیثونه روایت کړي دي .

ام الفضل رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته ، د عثمان بن عفان رضی الله عنه تر خلافته ژوندۍ وه ... نوموړې د عثمان بن عفان په خلافت کې وفات شوه ، او خپل خاوند عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه او یو شمېر نورو مسلمانانو پرې د جنازې لمونځ اداء کړ ... نوموړې په داسې حال کې له دې دنیا ستر ګې پټوي ، چې د نبوت د وخت د ښځو په لړ کې خپل نوم د تل لپاره ثبتوي ، او د نورو ښځو لپاره د عقیدې ، ایمان او غښتلې ارادې د نمونې په توګه یادیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عائشه رضی الله عنها

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو کشره مېرمن وه ، دا هغه ښځه وه چې تر نورو ښځو یې زیات حدیثونه روایت کړي دي . ټول احادیث یې په بشپړ امانت او کره توګه روایت کړي دي . روایتونه یې کومه ستونزه نه لري او د غښتلي سند څخه برخمن دي . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ډېره زیاته مینه کوله ، او په ډېره درنه سترګه به یې ورته کتل ... لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددې ښځې پلار په ټولو صحابه کرامو کې ګران او نږدې وو ، همداسې یې ورته لور په ټولو مېرمنو کې ګرانه وه . دا رښتونې ښځه وه او د رښتونې انسان لور وه ..

دا مېرمن ( ام المؤمنین عائشة بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنها ) نومیږي .

( عائشة بنت ابی بکر بن ابی قحافة ) په مکه مکرمه کې د اسلام له راتګ څخه پنځه کاله وروسته وزیږېده . نوموړې له خپلې خور اسماء رضی الله عنها سره یوځای په کم عمرۍ کې مسلمانان شول .. ددوی د مسلمانیدو پر مهال د مسلمانانو شمېر ډېر کم وو ، دا مهال یې پلار ابوبکر الصدیق رضی الله عنه هم مسلمان شوی وو چې په نارینه وو کې لومړی مسلمان ګڼل کیږي . دا په داسې حال کې چې د عائشې رضی الله عنها مور ( ام رومان بنت عامر الکنانیة ) هم له سترو صحابیاتو څخه وه . په دې ترتیب ویلی شو چې ، عائشه رضی الله عنه دداسې کورنۍ څخه وه چې داسلام په لومړیو کې یې اسلام راوړی وو ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت یې ژر منلی وو . . . د عائشې رضی الله عنها همدا ویاړ هم بس دی چې ، نوموړې د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه لور وه ، او لا اووه کلنۍ نه وه چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان لپاره پرې مرکه وکړه . . . خولة بنت حکیم رضی الله عنها د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه کور ته راغله ، او ورته یې وویل :

(( ای ابوبکره ! الله تعالی تاته خیر او برکت درکړی دی ! .. رسول الله صلی الله علیه وسلم رالیږلې یم او عائشه ورته غواړم ..))

ابوبکر ورته وویل :

(( آیا دا به ورته مناسبه وي ؟ دا خو یې وریره ده ..))

خولة رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راستنه شوه ، او دا کیسه یې ورته وکړه . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

(( لاړه شه او ورته ووایه چې ، ته مې په اسلام کې ورور یې ، او زه دې هم ورور یم .. . او ستا لور ماته مناسبه ده ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې کار سره خپل امت ته دا هم ثابته کړه چې ، د حقیقي نسب ورورولئ ته د معنوي او رمزي ورورولئ درجه ورکول په اسلام کې جواز نه لري .. ځکه دا د ځویولئ یوه بڼه ده چې اسلام ترې منعه فرمایلې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو بکر الصديق رضی الله عنه هم ددې کار په حکمت ډېر ژر پوه شو ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنې ته یې غاړه کېښوده ... پر عائشې رضی الله عنها یوه بله مرکه هم شوې وه ، هغې مرکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرکې مخه نیولې وه . ابوبکر رضی الله عنه وغوښتل چې دا پیچلتیا له منځه یوسي ... .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عائشې رضی الله عنها مرکه وکړه ، له ده وړاندې نوموړې د ( جبیر بن مطعم بن عدي ) لپاره غوښتل شوې وه . دده پلار او مور دواړه مشرکان وو . او دا چې ابوبکر نه غوښتل چې وعده خلاف کړي ، د تیرې مرکې پوښتنه یې وکړه ترڅو ځان ډاډمن کړي ... د جبیر مور ورته وویل :

(( ای ابن ابی قحافة ، هسې نه چې موږ خپل ځوی ته ستا لور وکړو ، زموږ ځوی له دینه ونه ګرځوې او خپل دین ته یې اونه ړوې ...؟ په دې خبره کې ورسره دهغې خاوند هم موافق وو ..

ابوبکر رضی الله عنه په دې خبره د ډېرې آرامتیا احساس وکړ ، او د وعده خلافۍ له عهدې ووت ... .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د عائشې رضی الله عنها ته بیا هم دومره لېوال نه وو ... خو خوب یې ولیده ..

په ( صحیحین ) کې د عائشې رضی الله عنها څخه روایت کیږي ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( دوه ځله راته په خوب کې راغلې ... په سپین ورېښمین استوګنځای کې یې ، او وایې : دا ستا مېرمن ده .. ویې ګوره .. چې ومې کاته ، هغه ته وې .. ما به ویل : که دا دالله له لورې وي ، نو خامخا همداسې کیږي . .... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله په عائشه رضی الله عنها مرکه وکړه ، نږدې د ۵۳ کالو وو .. . څوارلس پیړۍ وړاندې دا کار په مکه مکرمه کې څه حرام یا ناوړه کار نه بلل کېده ... دلیل یې دادی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندې هم په عائشه رضی الله عنها باندې بل چا مرکه کړې وه .. . هغه مستشرقینو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت یې څېړلی ، دې کار ورته ډېرې پوښتنې پیدا کړې دي ، او له همدې ځایه یې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نیوکې او اعتراضونه کړي ... .. خو د ( بوډلي ) په نامه یو عادل مستشرق عربي جزیرې ته راغلی وو ، هغه غوښتل چې د ( رسول ) په نامه کتاب کې د دې چاپیریال په اړه څیړنې وکړي .. هغه وایې :

(( دا واده چې ، د محمد ځینې تاریخپوهان یې په اړه لیکنې کوي ، دوی هغه ته دهغه ټولنې له زاویې ګوري چې نن ورکې ژوند کوي .. هغوی دې ته نه دي کتلي چې ، دا ډول واده یو آسیایي عادت دی .. په دې کې یې هم فکر نه دی کړی چې ، دا عادت لا تراوسه هم په ختیځه اورپا کې دود دی . آن په اسپانیا او پرتګال کې هم دې وروستیو کلونو پورې دخلکو دود وو . ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم پر عائشه رضی الله عنها له مرکې وروسته ، هغه بیا هم د ماشومتوب له مستیو او ساتیریو نه وه ویستلې ... بلکې هغه یې د پلار په کور کې پرېښوده او له خپلو همزولو سره به یې لوبې کولې ... خو له کوژدې وروسته ، د عایشې رضی الله عنها پلار ابوبکر له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای مدینې منورې ته هجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي ... دهغوی دا سفر په پټه توګه ترسره او له کړاوونو او تکلیفونو ډک وو او د قریشو د مشرکانو له څار لاندې وو .
ددې کیسې بیان په قرآن کریم کې هم راغلی دی :

ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ

رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر الصدیق رضی الله عنه مدینې منورې ته ورسیدل ، او کله چې هلته ځای پرځای شول ، زید بن حارثه یې مکې مکرمې ته ولیږه ترڅو یې لوڼې له ځان سره مدینې منورې ته راولي . ابوبکر رضی الله عنه هم خپل ځوی عبدالله ته لیک ولیږه ، او غوښتنه یې ترې وکړه چې له خپلو خویندو سره مدینې منورې ته راشي ... اسماء ، عایشه او دهغوی مور ، ام رومان یې بیا مدینې منورې ته راوستل .

په نبوي جومات کې چې مهاجرینو او انصارو یې په جوړولو کې سیالي کوله ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته ګڼې خونې جوړې کړې ... یوه یې ( سودة بنت زمعة ) ته جوړه کړه ، دا یې هغه مهال یوازینۍ مېرمن وه .. او بله یې عائشې رضی الله عنها ته جوړه کړه چې ، په مدینه منوره کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته واده شوه . نوموړې یوازینۍ پېغله وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره واده کړی وو . عائشه رضی الله عنها د خپل واده ورځ داسې بیانوي :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ کور ته راغی ، د انصارو نارینه او ښځې ورته ورټولې شوې ، ما په ټال کې زنګل چې مور مې راته راغله ... زه یې راښکته کړم ، ویښتان یې راته برابر کړل او مخ یې راته په اوبو باندې ووینځه ... بیا یې را روانه کړم ، کله چې دروازې ته راورسېدم ، ویې درولم او لږه دمه مې جوړه کړه ... بیا یې کور ته دننه کړم او رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په کور کې په کټ کې ناست وو ... زه یې کښېنولم او راته یې وویل :

دا ستا اهل دی .. الله دې دوی پر تا برکتي کړي ، او تا دې الله پر دوی برکتي کړي ....

په یو عاجز او له ایمانه ډک کور کې ، عائشې رضی الله عنها نوی ژوند پیل کړ ... نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې لوړ ځای ته ورسیده .... ډېر وخت لا تېر نه وو چې نبوي جومات پورې نښتو خونو کې او د اسلام په تاریخ کې د عایشې رضی الله عنها یاد خپور او تلپاتې شو ..

دا دالله تعالی تقدیر وو چې دعائشې رضی الله عنها ماشومان نه پیدا کیږي . ټول ژوند یې له شنډتوب سر ټکاوه ، او پرځای یې د خپل خورین داسماء د ځوی عبدالله بن الزبیر روزنه کوله . ویل کیږي چې نوموړې د ( ام عبدالله ) په کنیه باندې نومول شوې وه .

که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم له عائشې رضی الله عنها سره ډېره مینه درلوده ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم له نورو مېرمنو سره هم ودونه وکړل ، او په نبوي جومات پورې تړلي خونو کې یې مېشتې کړې ، ددې ښځو لړۍ له دې وروسته په حفصة رضی الله عنها پیلیږي ،له دومره مینې سره سره ، بیا هم عائشې رضی الله عنها کې هغه احساسات راپاریږي چې د بنې ( دویمې ) ښځې په راتګ سره په فطري ډول ښځو کې پیدا کیږي . عائشه رضی الله عنها نسبت نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنو ته ډېره هڅانده وه چې د رسول الله صلی الله علیه مینه لاسته راوړي ، او په دې لاره کې به یې ډېر غیرت کاوه . که څه هم نوموړې په دې پوهیده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مستئ نور ودونه نه کوي ، بلکې د یو ضرورت او حکمت له مخې دا کار کوي .... رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلو مېرمنو ترمنځ له عدالت کار اخیست ، او دا یې د ژوندانه چلند ګرځولی وو . د عدالت کچه یې تر دې رسیدلې وه چې ، دوی به یې په نوبت سره آن غزاګانو ته بولې . . .

د عائشې رضی الله عنها برخه داسې وه چې ، د هجرت په شپږم کال یې د ( بنو المصطلق ) په غزا کې ځان سره بوتله . مخکې له تللو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو ترمنځ پچه ( قره کشي ) وکړه ، او د عائشې رضی الله عنها نوبت ور کې راووت . . .

عائشه رضی الله عنها په خپله ډولۍ کې کښېناسته او د صحابه کرامو سره یوځای روانه شوه .. دا هغه غزا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکې لویه بریا لاسته راوړه . .. کله چې له بریا وروسته صحابه کرام بیرته مدینې منورې ته راستنېدل ، لښکرې یوځای کې دمې ته کښېناستې او د شپې یوه برخه یې ورکې تېره کړه ، بیا ورته د تللو اجازه وشوه ... خو عائشه رضی الله عنها د یوې اړتیا لپاره یوڅه تم شوه ، په همدې ځای کې یې یوه غاړه کۍ ورکه کړه ، او دهغې په لټه کې یو څه پاتې شوه .... په دې لامل نوموړې له کاروانه پاتې شوه ، کله چې د عائشې رضی الله عنها ډولۍ مدینې منورې ته رسیږي ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې خالي ګوري .... په دې حالت ډېر خپه او حیرانیږي ..رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو صحابه کرامو سره د ورځې څه شېبه په حیرانتیا او خپګان تیروي .. ځینې خو یې آن په لټه پسې ووتل چې ځای یې مالوم کړي ... عائشه رضی الله عنها وروسته د ( صفوان بن معطل السلمي ) په اوښه باندې راسپره وه... په مدینه منوره کې یهودو او منافقانو دې پېښې پورې ډېرې ناروا خبرې وتړلې ، ترڅو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په ناموس کې داغ ولګوي او بدنام یې کړي .. عائشه رضی الله عنها څو ورځې د دې درواغجنو آوازو په خپرېدا سوځېده ، دا پېښه په ( حدیث الافک ) یانې ( ددرواغو خبرې ) په نوم مشهوره شوه ... دا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوږونو ته راورسید او ډېر زیات یې خپه کړ ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر غمجن راووت .. او د عائشې رضی الله عنها پر وړاندې یې په مخ د خپګان ښکاره نښې راڅرګندې شوې .. هغې ترې اجازه وغوښته چې د خپلې مور کور ته لاړه شي او هلته د ناروغتیا له امله یوڅه آرام وکړي ... کله چې عائشه رضی الله عنها له دې پېښې څخه خبره شوه ، هغه د مور په کور کې ناروغه پرته وه ، ددې خبرې په اوریدو سره یې ډېر زیات په درد سره وژړل ..... په ډېره چوپتیا یې د ظلم او تور دا شپېږه وزغمله .... هماغه وو چې الله تعالی د جبریل علیه السلام په واسطه آیتونه رانازل کړ ، او د عائشې رضی الله عنها براءت او پاکوالی یې ورکې روښانه کړ . ددې آیتونو په رانازلېدو له عائشې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو لوی تکلیف لیرې شو .... په دې آیتونو کې د مؤمنانو د زړونو شفاء رانازله شوه ... رسول الله صلی الله علیه وسلم جومات ته راووت ، او خلکو ته یې دا آیتونه تلاوت کړل :

إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١١﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عائشې رضی الله عنها د پاکوالي او براءت په اړه چې کوم آیتونه رانازل شول ، دې حالت په نبوي کورنۍ کې عائشې ته ځانګړې ځای ورکړ او مقام یې ورته لا اوچت کړ ... او په دې سره یې دا حکم کېښود چې له دلایلو او ګواهانو د نشتوالي په صورت کې ، د پاکو ښځو ویشتل او تورنول ناروا او یو حرام کار دی . .

مسلمانان په دې پوهیدل چې عائشه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څومره ارزښت لري ، د عائشې رضی الله عنها د براءت د رانازلیدو په ورځ یې ډالۍ راوړې ، ترڅو په دې کار سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم رضایت ترلاسه کړي .

که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم به د عائشې له خونې ، خپلو ټولو مېرمنو ته خپله برخه لیږله ، خو بیا هم د فطري غیرت له مخې به ، ځینو ښځو له فاطمة الزهراء رضی الله عنها غوښتنه کوله چې په دې اړه له خپل پلار سره وغږیږي . .
فاطمې رضی الله عنها ددوی غوښتنو ته غاړه کېښوده ، پلار ته راغله او عائشه رضی الله عنها هم ورسره وه ... ویې ویل :

(( ای پلاره ! ستا مېرمنو تاته رالیږلې یم ، او غوښتنه کوي چې د ابوقحافه د لور په باب له عدالته کار واخلې . . ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( ای لورې ! زه چې څه خوښوم ، آیا ته یې نه خوښوې ؟ !! ))

ویې ویل : ولې نه .

بیا یې وفرمایل :

(( نو دې سره مینه وکړه !!! ))

فاطمه رضی الله عنها بیر ته راستنه شوه ، او نورو میرمنو ته یې د رسول الله صلی الله علیه کیسه بیان کړه او ویې ویل :

(( قسم په الله چې هیڅکله به ورسره دهغې په اړه ونه غږیږم . . ))

د کلونو په تیریدو سره ، عائشې رضی الله عنها د نبوت په کور کې ، فقه او دینې زده کړې پراخه کړې ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم کارونه او ویناوې یې زده کړې ، او په ډېرې رښتونولۍ او پیاوړې، ژور او حساس ادارک له مخې یې د غښتلې حافظې د درلودلو په برکت سره خلکو ته انتقال کړې . .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند په وروستیو شپېو کې سخت ناروغ شو ، له نورو مېرمنو یې وغوښتل چې د عائشې رضی الله عنها په خونه کې پاتې شي ، هغې ورسره شپې ویښې تېرې کړې او درسول الله صلی الله علیه وسلم د خدمت ویاړ یې له ځان سره یوړ . . . بلال رضی الله عنه راغی او د لمانځه لپاره یې آذان وکړ ... رسول الله صلی الله علیه وسلم نه شو کولی چې لمانځه ته ووځي ، نو ویې ویل :

(( ابوبکر ته امر وکړئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي !!! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

عائشه رضی الله عنها په خپل پلار وویریده چې ګویا دومره ستر کار به ونه شي کړای ... څو ځله یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنه وکړه او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله! ابوبکر کمزوری دی ، او هر کله چې ستا پرځای ودریږي ، خلکو ته غږ نه شي رسولی .... . عمر ته دا کار وسپاره !! ))

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ابوبکر باندې ټینګار کوي ، دا هغه شخصیت وو چې خپله بلیغه او ژوره وینا یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته په تاریخي خطبه کې ثابته کړه ، چې بیا یې د خلافت چارې هم په لاس کې ونیولې .

عائشه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په سنتو او احادیثو کې مصدر ګڼل کېده ، او خلکو به ترې د اسلام په اړه پوښتنې کولې ...

په دې اړه ډاکتر محمد عبدو یماني په خپل کتاب ( السیده عائشه و امانة الروایه ) کې لیکي :

(( عائشې رضی الله عنها په یوازې توګه ۱۳۸ حدیثونه روایت کړي ، دا هغه حدیثونه دي چې له دې پرته بل هیچا نه دي روایت کړي ، او ۵۷۵ حدیثونه یې داسې روایت کړي چې ، چې په روایت کولو کې ورسره نور صحابه کرام هم شریک دي .. عائشې رضی الله عنها دا یوه ستره ځانګړنه لرله چې په خبره به ښه پوهیده او ژور فکر به یې ورکې کاوه . هم یې حدیثونه روایت کړي او هم یې خپله پوهه زیاته وه . عائشه رضی الله عنها فرمایې : له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې ددې آیت په اړه پوښتنه وکړه :

(( والذین یؤتون ما آتوا وقلوبهم وجلة )) آیا په دې ایت کې هغه کسان یاد شوي چې شراب څښکي او غلاوې کوي ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل چې ، نه د صدیق لورې ... دا هغه کسان دي چې روژې نیسي ، لمونځونه اداء کوي او خیراتونه ورکوي .. خو ویریږي چې دا به ترې قبول نه شي .. دوی په نیکو کارونو کې سیالي کوي او ژر ورته ځانونه رسوي... ))

عائشه رضی الله عنها د خپل پلار ابوبکر الصدیق ، عمر او عثمان رضی الله عنهم د خلافت په دوران کې د فتوا اصلي مرجع ګڼل کېده .. . قاسم بن محمد بن ابی بکر چې په مدینه منوره کې د اووه سترو فقهاوو په کتار کې راځي ، هغه فرمایې : ( عائشه رضی الله عنها د ابوبکر ، عمر او عثمان په خلافتونو کې یوازینۍ مفتۍ وه ، او په هغه څه به یې فتوا ورکوله چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې زده کړي وو ، او که هغې کې به یې څه پیدا نکړل ، بیا به یې نویو پېښو په اړه د احکامو په استنباط کې اجتهاد وکړ .. دا به هغه پېښې وې چې په قرآن او سنتو کې به یې ښکاره حکم نه وو موجود .))

راویانو او فقهیانو یې د پوهې په اړه ګڼ اعترافات کړي ، ابوسلمة بن عبدالرحمن رضی الله عنه فرمایې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( عائشه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو باندې ډیره پوهه وه ،نوموړې د ښه نظر خاونده وه ، په دې پوهیده چې یو آیت د څه په اړه نازل شوی ، همدا راز نوموړې په فرایضو باندې تر هر چا ښه پوهیده !!! ))

عائشه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته تر شپږ څلوېښتو کلو نو ژوندۍ وه ... نوموړې د معاویة بن ابی سفیان د خلافت په وروستیو کې د هجرت په ۵۷ کال په شپږ شپېته کلنۍ کې وفات شوه ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې پرې ابوهریرة رضی الله عنه جنازه وکړه ، دهغې د وصیت سره سم ، نوموړې د شپې لخوا په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه .

د عائشې رضی الله عنها ژوند له ویاړونو ډک وو ، د ویاړونو لړۍ یې د عمر تر شپږ کلنۍ راپیلیږي ، او له وفات کېدو وروسته ، خپل نوم د علم ،فقهې او د نیک کار په ډګر کې ژوندۍ او تلپاتې پریږدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حفصة بنت عمر رضی الله عنها

دا  دداسې سړي لور وه چې الله تعالی پرې اسلام ته غښتلتيا وربخښلې وه ، ديوې پاکې زمانې لور وه چې په شهادت او شهيدانو باندې مشهور  وو ،  دا هغه مېرمن وه چې  لا اتلس کلنه نه وه چې له شهيد ځخه کونډه پاتې شوه.. دا ښځه د قرآن کريم حافظه وه ، او کله چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې د قرآن کريم آيتونه وليکل شول ، دې ښځې د قرآن کريم صحيفې وساتلې . بيا يې د قرآن کريم لومړی نسخه له ابوبکر او عمر رضی الله عنهما وروسته ، د عثمان رضی الله عنه ترخلافته وساتله .  دا ښځه ،  حفصة بنت عمر بن الخطاب رضی الله عنها وه ، نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مېرمن وه ، او يو له هغو ښځو ځخه وه چې د ( ام المؤمنين ) د لقب وياړ يې تر لاسه کړی وو .

بشپړ نسب يې ، حفصة بنت عمر بن الخطاب ، بن نفيل بن عبدالعزی ، دی . نوموړې د کعب بن لؤی کورنۍ ته رسيږي  او د قريشو له قبيلې ځخه وه  ..  حفصه په مکه مکرمه کې له بعثت ځخه دوه يا درې کاله وړاندې زيږيدلې ده ... کله يې چې پلار عمر بن الخطاب رضی الله عنه مسلمان شو ، او د اسلامي دعوت ټګلاره يې بدله او غښتلې کړه ، دا مهال يې د لور عمر اته کلونو ته رسيده . په دې سره د حفصې اسلامي ذهنيت پراخ او د هدايت پر لورې يې د عقل کړکۍ خلاصې شوې .. . حفصة بن عمر بن الخطاب له ستر صحابي ( خنيس بن حذافة ) رضی الله عنه سره واده وکړ ،  ياد صحابي ددوه هجرتونو خاوند وو . له لومړنيو مهاجرينو سره يې حبشې ته لومړی هجرت وکړ ، او بيا يې مدينې منورې ته هم هجرت کړی وو .. . حفصه رضی الله عنها له خپل خاوند سره د خوشالۍ او  په اسلامي فضا کې ژوند کاوه ، خاوند يې  د بدر په غزا کې هم ګډون وکړ  چې له بريا وروسته بير ته مدينې منورې ته راستون شو . بيا يې  د هجرت په دريم کال کې د احد په غزا کې ګډون وکړ  ، نوموړی په دې غزا کې سخت ټپي شو ، څو ورځې له ژوندی وو چې بيا دهمدې ټپونو له امله شهيد شو . . .

د عمر رضی الله عنه  په کورنۍ کې د خپګان فضا خپره شوه ، ځوانه لور چې لا د اتلس کلنۍ عمر يې نه وو بشپړ کړی ، کونډه شوه او خپل د ژوند ملګری يې له لاسه ورکړ او د کونډتوب په لمبو کې سوځېده . . د عربانو پخوانی دود داسې وو چې خپله لور  او يا خور به يې بل چاته د واده لپاره وړاندې کوله ،  په دې کار کې يې ستونزه نه ليده .  هغه چا کې به يې چې خير ليده او د لور يا خورلپاره به ورته وړ ښکاره شوه ، ورته به يې ور کوله ... همدا لامل وو چې عمربن الخطاب رضی الله عنه خپل نږدې ملګري ، ابوبکر الصديق رضی الله عنه ته وړانديز وکړ ، که غواړي چې لور سره يې واده وکړي . ابوبکر الصديق رضی الله عنه غلی شو او هيڅ يې ونه ويل . په ډېر خپګان ترې ووت ، او عثمان بن عفان رضی الله عنه ته ورغی ، دا هغه مهال وو چې د هغه ميرمن د رسول الله صلی الله عليه وسلم لور رقية رضی الله عنها هم وفات شوې وه .  هغه ته يې وړانديز وکړ ،  عثمان رضی الله عنه هم دعمر وړانديز داسې ځواب کړ :

(( زه نه غواړم  چې نن واده وکړم . ))

په دې ځواب عمر رضی الله عنه ډېر خپه شو ..  کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر په دې حالت وليده ، او هغه ته يې له ابوبکر او عثمان سره خپله د درد کيسه بيان کړه ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې هم په مخ کې د خپګان او غوسې نښانې وليدې ،  هڅه يې وکړه چې هغه آرام کړي او د خوشالۍ زيری ورته ورکړي ، نو ورته يې وفرمايل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( حفصې سره به ، له عثمان غوره انسان واده کوي ، او عثمان سره به له حفصې غوره میرمن واده کوي ))

عمر بن الخطاب رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبره باندې پوه نه شو ، او نه یې وغوښتل چې ددې خبرې تفصیلات ترې وپوښتي ... بلکې یوځه یې غوسه آرامه شوه او له رسول الله صلی الله علیه وسلم جلا شو ، په لاره کې ورسره ابوبکر الصدیق رضی الله عنه مخامخ شو ، او هغه ته یې در سول الله صلی الله علیه وسلم کیسه بیان کړه . او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینا په اړه یې ورته خپله حیرانتیا ښکاره کړه . ابوبکر رضی الله عنه ورته موسکی شو او عمر رضی الله عنه ته یې وویل :

(( له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې اوریدلي چې حفصه یې یادوله ، ما هم نه غوښتل چې دهغه راز ښکاره کړم ، که هغه پرېښې وای ، نو ما به ورسره واده کړی وای ، نو په دې کار له ما مه خپه کیږه ! ))

په دې خبرو کې په حفصه رضی الله عنها باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرکې نښې نښانې ښکاره شوې ... ابن سعد په خپلو طبقاتو کې ، د تابعینو له سردار ، سعید بن مسیب څخه داسې روایت کوي :

(( ټولو ته الله غوره اختیار ورکړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له عثمان غوره وو ، او حفصې ته یې وټاکه ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور چې عثمان ته یې ورکړه ، له حفصې غوره وه ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په دریيم کال د شعبان په میاشت کې له حفصې رضی الله عنها سره واده وکړ . .. کله یې چې له حفصې رضی الله عنها سره واده وکړ ، دامهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې دوه مېرمنو ( سودة بنت زمعة او عائشه رضی الله عنهما ) د ژوند ګڼې شېبې ورځې تېرولې . د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمرخوړلې مېرمنې سودة بنت زمعة رضی الله عنها حفصې رضی الله عنها ته تود هر کلی ووایه .... خو عائشه رضی الله عنها چې له واده یې لا ډېره موده تېره نه وه ، د حفصې رضی الله عنها په راتګ یو څه ودرېده .. له ډېر خپګان سره سره غلې پاتې شوه ... د حفصې رضی الله عنها ځواني ، نسب او له تقوا ډېره متأثره وه .. خو د عائشې رضی الله عنها دا خپګان هغه مهال مخ یوڅه راکم شو ، چې کله نبوي کورنۍ ته پرله پسې ښځې راغلې او له ګڼو ښځو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ودونه وکړل ... عائشې رضی الله عنها له حفصې رضی الله عنها سره ملګر تیا غښتلې کړه . عائشې رضی الله عنها چې له حفصې رضی الله عنها سره په زړه کې څه لرل ، هغه یې ټول هېر کړل . هڅه یې وکړه چې په ټولو بنو کې له حفصې رضی الله عنها سره ښې اړیکې ولري ، څنګ په څنګ ورسره ودرېږي او خوشاله ژوند ورسره ولري ...ډېر وخت لا تېر نه وو چې ددوی ترمنځ یو څه کشمکش په مینه او ملګر تیا بدل شو ... حفصه رضی الله عنها هم د عائشې رضی الله عنها حالت ته یوڅه د حیرانتیا په ګوته ناسته وه ،ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره له حفصې وړاندې واده کړی وو او نوموړې یې یوازینۍ پیغله میرمن وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره نکاح تړلې وه . ... حفصې رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوشالۍ ژوند کاوه ، له هغه یې غوره اخلاق او ښکلې اسلامي تګلاره زده کوله . رسول الله صلی الله علیه وسلم یو مهربانه او نرم خاوند وو . حفصه رضی الله عنها د غښتلې شخصیت خاونده وه ، او په دې باندې یې ډېر شهرت پیدا کړی وو . عمر بن الخطاب رضی الله عنه په دې باندې ډېر حرص کاوه چې لور یې یوه نېکه ، تابعداره او یوه نمونه یی مېرمن وي . ټینګار یې کاوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره ومني ، او اطاعت یې وکړي . ځکه له یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوه محمد دالله رسول او له بل پلوه عمر بن الخطاب رضی الله عنه دهغه د خپلوۍ ویاړ له ځآن سره درلود . دا د حفصې رضی الله عنها لپاره ستروياړ وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن وه او د مؤمنانو له میندو څخه وشمېرل شوه .

..

کله چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته خپلې میرمنې کیسه وکړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمنې له رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنه کوي چې نفقه پرې زیاته کړي ، عمر رضی الله عنه خپلې لور حفصې ته ډېر زيات غوسه شو ، سمدلاسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته روان شو ، او خپلې لور ته په غوسه ورننوت او ورته يې وويل :

(( آیا دا سمه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبره ژوې ؟ ))

کله يې چې ورته ځواب ورکړ ، په غوسه يې ورته وويل :

(( هرڅوک چې تاسو کې دا کار وکړي ، له سخت تاوان سره به مخامخ شي ، نه پوهیږئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غوسې لامله به د الله له غوسې خلاصې نه شئ ؟ په دې سره به هلاکې شئ ... پآم کوه لورې ! رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبره مه ژوه او مه ترې غوښتنې کوه ... او څومره مال چې غواړې ، له ما يې وغواړه !!

عمر بن الخطاب رضی الله عنه چې خپلې لور ته دا وصیت وکړ ، په دې سره يې دا څرګنده کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يو ځانګړی او استثنائي رتبه لري ... نوموړی د مسلمانانو په وجدان او د عمر رضی الله عنه په وجدان کې د ځانله ځای خاوند دی ...

حفصې رضی الله عنها په نبوي کور کې شپې ورځې سبا کولې ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت به يې کاوه ، او تل به يې د الله تعالی په اخلاص سره عبادت کاوه ... خو دهغې بشري او ښځینه طبیعت پر هغې غالب وو ، او کله نا کله به يې دهمدې فطري طبیعت له مخې سخت چلند صادرولو .. ...

هغه هم یوه تاریخي ورځ وه چې ، کله عمر بن الخطاب رضی الله عنه له دې خبر شو چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر رضی الله عنه لور حفصه ، په ځل ویلو طلاقه کړې ده .. ددې خبر په اوریدو عمر رضی الله عنه ډېر ولړځېده .... دا یوه درنده پېښه وه .. نه یوازې د حفصې رضی الله عنها په ژوند کې ، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې هم ، ځکه هغه له دې وړاندې او نه وروسته کومه ښځه طلاقه کړې وه . .. نبوي ټولنه ولړځېده ، او دخلکو په منځ کې خپره شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځې طلاقې کړې دي .. په خپلو خبرو کې به يې د حفصې طلاق ته اشاره کوله ... دا په داسې حال کې ده چې هیڅوک ددې طلاق له لامل نه وو خبر ، داهغه پېښه وه چې الله تعالی ورکې د تحریم په سورت کې آیتونه هم رانازل کړل ...

خو کله چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه له دې پېښې خبر شو ، په سر يې خاورې راتوی کړې او ويې ویل :

(( له دې وروسته الله تعالی د عمر او دهغه د لور پروا نه ساتي .. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يوه حديث کې راځي چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه حفصې رضی الله عنها ته ورغی ، او هغې ژړل ، ويې ويل :

ولې ژاړې ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم خو به نه يې طلاقه کړې ؟ .. هغه طلاقه کړې يې او زما له امله يې بېرته ښځه کړې !!! قسم په الله که طلاقه کړې يې وې ، هيڅکله به درسره خبرې ونه کړم ....

کله چې الله تعالی د جبريل په واسطه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وحيه رانازله کړه او ورته يې وويل :

(( الله تعالی درته امر کوي چې د عمر په خاطر بيرته حفصه ښځه کړه !! ))

ددې وحيې په رانازليدو سره ، سمدلاسه رسول الله صلی الله عليه وسلم حفصه رضی الله عنه بيرته ښځه کړه .

او په بل روايت کې راځي ، چې الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل :

(( حفصه بيرته ښځه کړه ، ځکه هغه روژه نيونکې او لمونځ ګوزاره ده ، او همدا به دې جنت کې هم ميرمن وي ... ))

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حفصه رضی الله عنها بيرته ښځه کړه ، عمر رضی الله عنه کې ساه راپيدا او ډېر خوشاله شو او ناکراري يې ختمه شوه ..

رسول الله صلی الله عليه وسلم جومات ته ووت ، او خلکو ته يې د تحريم رانازل شوي آيتونه تلاوت کړل ، او ددې پېښې حکمتونه يې خلکو ته روښانه کړل ...

وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٣﴾

له دې پېښې وروسته د عمر رضی الله عنه د لور حفصې رضی الله عنها ژوند د محمد صلی الله عليه وسلم په کور کې کرار او آرام شو ... او درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د نرمۍ ، مهربانۍ او خپلوۍ غوره درسونه زده کړل .... له دې پېښې وروسته هيڅکله حفصې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم په کور کې داسې کار ونه کړل چې خپل خاوند يې پرې خپه شي او يا دهغه خوښ نه وي .. .. بلکې د ژوند لپاره يې نوې او ځانګړې تګلاره غوره کړه ، د قرآن کريم ساتلو او په يادو زده کولو ته يې مخه کړه ، او د رسو الله صلی الله عليه وسلم او له خپل پلار عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه يې ګڼ حديثونو روايت کړل ... د حفصې رضی الله عنها ورور عبدالله بن عمر او دهغه ځوی حمزه هم له نوموړې ګڼ حديثونه بيا روايت کړل . ... رسول الله صلی الله عليه وسلم به هم د حفصې رضی الله عنها د زده کړې ستاينه کوله او هغه به يې هڅوله ... دا داسې يو وخت وو چې ډېرو کمو نارينه او کمو ښځو ورکې لوست ته پام کاوه ... الله تعالی حفصې رضی الله عنها ته دا تقدير کې ليکلي وو چې درسول الله صلی الله عليه وسلم په کور کې دا وياړ تر لاسه کړي ... نوموړې د قرآن کريم آيتونه ليکل او په يادو به يې زده کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله مېرمن د عمر بن الخطاب رضی الله عنه لور حفصه رضی الله عنه لیک او لوست ته هڅوله ، دا موږ ته دا ثابتوي چې ، روښانه اسلام ښځه له زده کړې نه منعه کوي او نه يې په دنيوي او ديني زده کړو کې له ګټې اخيستنې مخه نيسي ... درسول الله صلی الله علیه وسلم کور زموږ لپاره غوره نمونه ګڼل کيږي .... ټول مسلمانان په دې مکلف دي چې په فکري ، معنوي او سلوکي لارو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور پيروي وکړي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا وکوچېده ، او له حفصه بنت عمر رضی الله عنهما سره يې خدای په اماني وکړه ، حفصه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ميرمن وه چې اته کلونه يې ورسره يوځای تېر کړل ، او ګڼ درسونه او غوره اخلاق يې ترې په ميراث واخيستل . . حفصې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته د مسلمانانو سره يوځای په ګڼو غوره فعاليتونو کې برخه واخيسته .... نوموړې دالله تعالی کتاب يې وساته..

کله چې د یمامة په ورځ د ردت په جګړو کې ګڼ صحابه کرام ، په ځانګړې توګه د قرآن کريم ستر حافظان په شهادت ورسيدل... عمر بن الخطاب رضی الله عنه د قرآن کريم راټولولو ته متوجې شو ، هماغه وو چې ابوبکر الصديق رضی الله عنه ته يې مشوره وکړه چې له خپرو شويو صحيفو څخه دې قرآن کريم راټول کړي ترڅو يې د ضياعت مخه ونيول شي . .. ابوبکر رضی الله عنه دې غوښتنې ته غاړه کېښوده او زيد بن ثابت ته يې دنده وسپارله چې قرآن کريم راټول کړي ... .. نوموړي پيل وکړ او د خلکو له خولو څخه يې راټول کړ . او بيا يې له هغو صحيفو سره سر ورکړ چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې ليکل شوې وې او حفصه رضی الله عنها له ځان سره ساتلې وې . په هغه ترتيب يې قرآن کريم راټول کړ چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې رانازل شوی وو ، او له دې پر ته يې نور صحيفې ليرې کړې . په دې توګه د ابوبکر رضی الله عنه د خلافت په دوران کې قرآن کريم راټول شو ... د مؤمنانو په ټولو ميندو کې حفصه رضی الله عنها ددې کار لپآره غوره شوې وه چې د قرآن کريم لومړۍ نسخې له ځآن سره وساتي .. د قرآن کريم صحيفې بيا له ابوبکر رضی الله عنه سره دهغه تر وفات ورځې پورې وې ، بيا همدا صحيفې عمر بن الخطاب رضی الله عنه له ځان سره وساتلې ، چې بيا هغه هم د هجرت په درويشتم کال د ابولؤلؤة المجوسي په ګوزارونو د لمانځه پرمهال شهيد شو . بيا عمر رضی الله عنه وصيت وکړ چې قرآن کريم دې له حفصې رضی الله عنها سره وي ، هماغه وو چې له ده وروسته حفصې رضی الله عنها له ځآن سره وساته . . . بيا عثمان رضی الله عنه راغی او قرآن کريم يې وليکه او په ګڼو ښارونو يې وويشه . په دې کار کې يې له راټولو شويو صحيفو او له هغه قران کريم څخه ګټه واخيسته چې له حفصه رضی الله عنها سره عمر رضی الله عنه ايښې وې .

حفصې رضی الله عنها د ژوند پاتې ورځې په مدينه منوره کې تېرې کړې ، روژې به يې نيولې او د شپې به يې لمونځونه اداء کول . نوموړې له ګڼو پيښو شاهده وه او د معاوية بن ابی سفيان رضی الله عنه د خلافت په دوران کې وفات شوه . نوموړې په مدينه منوره کې د بقيع په هديره کې خاورو ته وسپارل شوه . . . نوموړې د جبريل عليه السلام دا زيری له ځآن سره يوړ چې :

(( حفصه رضی الله عنها به په جنت کې درسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن وي ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خديجة بنت خويلد رضی الله عنها

د نبوت په وخت کې د ښځو د تاريخ په اړه مستند اسناد ، د مجاهدو ، صابر او نېکو ښځو د ژوند هغه پېښې راخلي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځای ثابتې ودرېدلې وې ، او د صحابه کرامو رضوان الله عليهم څخه يې دفاع کړې او دهغوی خدمت يې کړی . هغوی پر حق باندې د ټينګ ودريدو او د توحيد په دعوت باندې د ايمان ويار له ځانونو سره لري . دا هغه ښځې وې چې د غوره نسل او د ژوند د ارزښتونو په جوړولو کې يې فعاله ونډه درلوده . . . دا ښځې فعالې ، خويندې ، مجاهدې او صابرې وې ... دهمدوی له ډلې د مؤمنانو ميندې وې ، او د همدوی له ډلې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لوڼې دنيا ته راغلې وې .. او له همدوی مهاجرو او مجاهدو صحابياتو نړۍ ته ستر ګې پرانيستې وې ، او له همدوی انصارې ښځې زيږېدلې وې ... خو په لنډه ، دا ټولې هغه ښځې وې چې په تاريخ کې تلپاتې دي !!!

خديجه رضی الله عنها د قريشو د ښځو سرداره وه ، دا يوه مخوره ميرمن وه .. هغه ميرمن وه چې غوره نسب ، ژور او پوخ فکر او غوره اخلاق په خپلو ځانګړنو کې رانغاړي . په جاهليت کې ورباندې خلکو د ( طاهره ) يانې د پاکې ښځې لقب ايښی وو . . الله تعالی ورته ډېر مال ورکړی وو ، په خپل قوم کې يې د همزولو په منځ کې له دې شتمنه ميرمن نه وه . . . دا مېرمن ثابته او د غښتلې ارادې خاونده وه .. نوموړې د ژوندغوره ملګرې ، همکاره او ملاتړې مېرمن وه . دا مېرمن په جهاد ، صبر او سخاوت کې تربلې هرې ښځې لومړۍ او مخکښه ګڼل کيږي . . . .

خديجه بنت خويلد رضی الله عنها په مکه مکرمه کې له عام الفيل څخه پنځلس کلونه وړاندې زيږېدلې ده ... پلار يې ( خويلد بن اسد ) نومېده او د قريشو د مخورو او بانفوذه کسانو له ډلې وو . نوموړی د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نيکه عبدالمطلب له همزولو څخه وو ... کله چې د يمن وروستنيو پاچاهانو وغوښتل چې له مکې مکرمې څخه حجر الاسود يمن ته يوسي ، ويل کيږي چې خويلد بن اسد ددوی د حملو په مخنيوي کې مهم رول لوباوه . د خديجة بنت خويلد رضی الله عنها مور ( فاطمة بنت زائده ) نوميږي ، او نسب يې ( عامر بن لؤی ) ته رسيږي .

د خديجې رضی الله عنها د تره ځوی ( ورقة بن نوفل بن اسد ) هغه سړی وو چې په جاهليت کې يو ځل نصراني شو ، او دهغوی کتابونه يې مطالعه کړل .... له اهل کتابو څخه يې ډېر څه زده کړل ، دې پايلې ته ورسېده چې د بتانو عبادت يو ناروا کار دی ، هماغه وو چې د پاک دين په لټه پسې ووت .

کله چې خديجه رضی الله عنها د واده عمر ته ورسيده ، د قريشو د ځوانانو هيلې دا وې چې واده ورسره وکړی ... بيا يې له ( ابوهالة بن زرارة بن النباش التميمی ) سره واده وکړ ... د ژوند لنډه موده يې له هغه سره تېره کړه او دوه بچيان يې ترې پيدا شول ، چې ( هند او هالة ) نومېدل . کله يې چې خاوند وفات شو ، خپلې ميرمنې ته يې ډېره شتمني پرېښوده . له هغه وروسته يې له ( عتيق بن عائذ المخزومي ) سره واده وکړ ... له ده يې هم يوه لور وزېږېده چې پر دې يې هم د ( هند ) نوم کېښود او خاوند يې وفات شو . .

سوداګري د مکې د مخورو کسانو ستره ځانګړنه وه ... قريش په سوداګرۍ باندې ډېر مشهور وو ، همدا لامل وو چې په عربي قبيلو کې تر نورو هغو د قريشو قبيله مخکښه او د ډېر نفوذ خاونده وه ... . خديجه رضی الله عنها هم راپاڅېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مال يې ګڼو کسانو ته وسپاره ترڅو يې په مال باندې سوداګري وکړي او ګټه ورته راوړي ... کله به چې خديجې رضی الله عنها خپل سوداګريز کاروانونه شام ته ليږل ، هڅه به يې کوله چې غوره انسان د سوداګرۍ لپاره وټاکي ترڅو يې مالونه خوندي او ډيره ګټه ورته راوړي ...

خلکو به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د غوره اخلاقو ، ښې رويې او امانت په اړه خبرې اترې کولې ، خديجه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې غوره ځانګړنو څخه خبره شوه ... ددې خبرو په اوريدو نوموړې ډيره خوشاله شوه .. نوموړې دې پايلې ته ورسيده چې خپل هدف ته ورسيده او د خپلې خوښې وړ سړی يې د سوداګرۍ لپاره پيدا کړ .. خديجې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تره ابوطالب څخه غوښتنه وکړه چې محمد صلی الله عليه وسلم دې د خديجې سوداګريزې چارې پر مخ بوځي . او غوښتنه يې ترې وکړه چې په لومړۍ معامله کې دې د خديجې مال شام ته يوسي ، له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې ژمنه وکړه چې د نورو سوداګرو په پرتله به ورته ډيره مزدوري ورکوي ... که څه هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم تره ابوطالب په خپل وراره محمد صلی الله عليه وسلم باندې په شام کې د يهودو له زيانه ويريده ، خو بيا هم د خديجې رضی الله عنها غوښتنې ته يې غاړه کېښوده ، او د سوداګرۍ په هوډ ووتل ...

رسول الله صلی الله عليه وسلم د خديجې رضی الله عنها مال شام ته روان کړ ، خديجې رضی الله عنها ورسره خپل غلام ( ميسره ) هم ملګری کړی وو ... هغه ته يې وصيت کړی وو چې د محمد خدمت به کوي او ټول حالات به يې څاري ... د شام په ( بصری ) کې دوی مالونه واخيستل او ځينې يې وپلورل او بيرته له ډيرو ګټو سره راستانه شول .. کله چې دوی بيرته مکې ته د راتګ اراده وکړه ، کاروان ډير په چټکتيا د مکې پر لور روان وو ، او په مکه مکرمه کې ، خديجې رضی الله عنها په خپل کور کې دانتظار شيبې تيرولې چې سوداګري يې بيرته راستنه شي ، او وګوري چې نوي سوداګر يې څه لاسته راوړنې کړې دي . کله چې د خديجې رضی الله عنها غلام ميسره راغی ، ورته يې وويل :

(( محمد صلی الله عليه وسلم باندې په ټوله لاره کې وريځې سيوری غړولی وو ، چې هرچيرته به دا تللو ، وريځ به ورسره تلله ، او کله به چې کښيناسته ، وريځ به يې پر سر ودريده ... په لاره کې د يوې ونې تر سيورې لاندې کښيناست ، د ونې څانګې پرې راکږې شوې ترڅو پرې سيوری کړي .... موږ د يو راهب عبادتځآی سره نږدې کښيناستو ، زه يې راوغوښتم او پوښتنه يې رانه وکړه : هاغه د ونې لاندې څوک ناست دی ؟ !! ما ورته وويل : هغه محمد بن عبدالله دی ، د حرم يو ځوان دی .. .. راهب راته وويل :

( قسم په الله دا ددې امت پيغمبر دی !! او ددې ونې لاندې ، له پيغمبر پرته بل څوک نه دی ناست شوی ! )

خديجه رضی الله عنها او دهغې ملګرې په دې خبرو ډيرې حيرانې شوې ، محمد صلی الله عليه وسلم له کعبې څخه له طواف وروسته د خديجې رضی الله عنها کور ته راورسيده ، هغې ته يې خپل مالونه وسپارل .. او په ډير عفت او غوره اخلاقو سره بيرته د خديجې رضی الله عنها له کوره لاړ ... خديجه رضی الله عنها هغه تر څار لاندې ونيوه او ترهغې يې ورته کتل چې په لارو کوڅو کې پناه شو .. بيا يې خپل غلام ته دوه برابره مزدوري ورکړه او محمد صلی الله عليه وسلم ته يې وليږله .. .. له خديجې رضی الله عنها سره هغه خواږه احساسات راپيدا شول چې ګويا اوس يې هغه امين او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتونی انسان پیدا کړ چې دا یې په لټه کې وه !!! ... شام ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سوداګریز سفر او په ښه توګه دا چاره پرمخ بیول ، د محمد صلی الله علیه وسلم په ژوند کې د بدلون پیل ګڼل کیږي .... خدیجې رضی الله عنها سره د محمد صلی الله علیه وسلم په اړه فکرونه پیدا شول ، او دهغه په اړه یې چې څه اوریدلي وو ، دې خبرو یې هم فکر ډېر مصروف کړ ، نوموړې د محمد صلی الله علیه وسلم له اخلاقو او امانت څخه ډېره متاثره شوه ... له خدیجې رضی الله عنها سره چې کوم احساسات پیدا شول ، په ډېرې حیاء سره یې هغه له خپلې ملګرې ( نفیسه بنت منیه ) سره شریک کړل ... ددې احساساتو په څرګندولو کې خدیجه یوڅه شرمېده هم ، لامل یې دا وو چې خدیجه رضی الله عنها بوډۍ ښځه او د څلوېښت کلنۍ په درشل کې وه ، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم یو غښتلی ځوان وو . دا فکر یې کاوه چې ، چېر ته خدیجه او چیر ته محمد ځوان ؟ !!! خو دهغې ملګرې ترې اجازه واخیسته چې دا چارې به ورته سمې کړي .. هماغه وو چې نوموړې محمد صلی الله علیه وسلم ته ورغله ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دخدیجې رضی الله عنها نکاح هغه څه وو چې ډېر معیارونه یې واړول او ډېر دودونه یې بدل کړل ...

نفیسة بنت منیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او پوښتنه یې ترې وکړه چې ولې له دنیا او واده کولو ځان لیرې ساتي ... رسول الله صلی الله علیه وسلم لږ موسکی شو ، او نفیسې ته یې داسې ځواب ورکړ :

(( زه څه لرم چې واده پرې وکړم ))

سمدلاسه یې وویل :

(( که ښکلا ، مال او شرافت ته راوبلل شې ، غاړه به کېږدې ؟ !!!

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې څنګه دا خبره واورېده په هدف یې پوه شو .... نفیسې غوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مال ، ښکلا او ویاړ خاوندې خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها سره واده وکړي ... دې کار ته غاړه کېښودل دواړو ته د ویاړ خبره وه . ... کله چې له محمد صلی الله علیه وسلم سره خپل ترونه راټول شول ، دا کار یې ژر تر ژره ترسره کړ . ددې کار په ترسره کولو کې ورسره ، ابوطالب ، حمزه او عباس ګډون وکړ . دوی د خدیجې رضی الله عنها تره ته ورغلل او هغه یې محمد صلی الله علیه وسلم ته وغوښته او د نکاح په مقابل کې یې ورته مهر اداء کړ . ددوی دا واده له برکتونو ډک وو ، دا هغه واده وو چې د مکې ټول خلک ورته خوشاله شول ... دا واده د سترو بدلونونو پیل ګڼل کېده ... هغه بدلونونه رامنځته شول چې خدیجه رضی الله عنها ورکې مهمه ملاتړې او ستره همکاره او ملګرې وه .

ښځې او خاوند پنځلس کلونو له خوشالیو ډک عمر تېر کړ ، ددوی کورنی ژوند د یوې ښې کورنۍ او غوره اخلاقو نمونه ګڼل کېده . د خدیجې رضی الله عنها ستروالی یوازې په دې کې نه وو چې د خپلې کورنۍ روزنه یې کوله ، او نه په دې پورې یوازې تړلی وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته خاصه مینه ورکوله او په دې چې نوموړې یې د بچیانو یوازینۍ مور وه . بلکې ددې ترڅنګ د خدیجې ستروالی دهغې په حکمت ، غښتلې ارادې ، قوي ایمان او یقین پورې تړلی وو . کله چې پرې له واده پنځلس کاله وروسته وحیه رانازله شوه ، سمدلاسه یې پرې ایمان راوړ . دا چې محمد صلی الله علیه وسلم آرامه کورنۍ فضا درلوده ، دې کار رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زمینه برابره کړه چې تل فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او په آرام زړه خلوت ته ځان اوزګار کړي . . . . له دې وروسته به رسول الله صلی الله علیه وسلم د حراء غار ته تللو ، هلته به یې دالله په مخلوقاتو کې فکر کاوه او عبادت به یې کاوه . . . دا چې خدیجه رضی الله عنها یوه هوښیاره او ځیرکه ښځه وه ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خلوت باندې نه خپه کېده . دا خبره یې زړه ته نه غورځوله چې محمد به ترې کله نا کله لیرې کېده . . . دا چې ښځې په ډېرو بې ځایه خبرو باندې مشهورې دي ، خو د خدیجې رضی الله عنها حالت د رسول الله صلی الله علیه وسلم تفکر او عبادت له خنډ سره مخامخ نه کړ . . . بلکې محمد صلی الله علیه وسلم به چې کله په کور کې وو ، خدیجې رضی الله عنها به تل هڅه کوله چې آرامتیا وروربخښي او خوشال یې وساتي . . . کله به یې چې خاوند د حراء غار ته تللو ، تر لیرې ځایه به یې څارلو ، او کله خو به یې لا شاته ورپسې یوځوک ولیږه ترڅویې څارنه او ساتنه وکړي . . . . رسول الله صلی الله علیه وسلم د حراء په لوړ غار کې شپې ورځې په عبادت او تفکر تېرولې ، دا په داسې حال کې وه چې ټوله مکه په شرک او بت پرستۍ کې ډوبه وه . . . . دالله تقدیر داسې وو چې په دې وخت جبریل علیه السلام د وحي پیل کوي . . . . جبریل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لومړۍ دا خبره کوي چې :

اقرأ . . . . یانې ولوله ! !

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وایې :

زه لوستونکی نه یم . . .

له دې وروسته پرې دا آیتونه رانازلوي :

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَـٰنَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ ﴿٣﴾ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ ٱلْإِنسَـٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل کور ته راستون شو ، زړه یې ډېر درزېده . . . په ډېره ویره او ورخطایي په خدیجه رضی الله عنها ورننوت ، دا خبرې یې په تکرار سره کولې چې : ( ومې پوښئ ، ومې پوښئ ! ! ) . . . کله یې چې وپوښه یو څه آرام شو ، بیا یې خدیجې رضی الله عنها ته کیسه وکړه او ورته یې وویل : زه پر ځای وویرېدم . .

خدیجې رضی الله عنها ورته یو تاریخي ځواب ورکړ ، دا ځواب د سیرت مختلفو کتابونو روایت کړی دی :

( نه ، قسم په الله ، هیڅکله دې الله تعالی یوازې نه پرېږدي . . . ته تل خپلوي ساتې ، سختۍ ګالې ، ناچاره سره مرسته کوې ، او د مېلمه پالنه کوې ، او کمزورو خلکو ته لاس ورکوې ! ! )

د خدیجې رضی الله عنها دې خبرو د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه ته لاره پیدا کړه ، هغه یې ارام کړ او ستړیا او ورخطایي یې ترې ختمه کړه . . . . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوڅه آرام شو ، خدیجې رضی الله عنها هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل د تره ځوی ورقة بن نوفل ته بوتللو ، نوموړی یو بوډا سړی وو ، ستر ګې یې هم له لاسه ور کړې وې .. دا هغه سړی وو چې په جاهلیت کې نصراني شوی وو ، او د اهل کتابو پیروي یې کړې وه .. خدیجې رضی الله عنها ورته وویل :

ای د تره ځویه ! د وراره کیسې ته دې غوږ شه !

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ټوله کیسه بیان کړه .. بیا ورته ورقة وویل :

دا هغه ناموس دی چې الله تعالی موسی علیه السلام ته رالیږلی وو .. کاش چې زه پاتې شم ، کاش چې زه په هغه وخت کې ژوندی وای چې کله دې قوم له کلي اوباسي ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

آیا ما به اوباسي ؟ !!

ورته یې وویل چې ، هو ..

ستا په څېر دین چې هر چا راوړی ، قوم یې هغه له کلي شړلی دی ... او که زه ژوندی پاتې شوم ، ستا به ډېر ملاتړ وکړم .

خدیجې رضی الله عنها تل وحیه څارله او ورباندې یې ایمان راوړ .. نوموړې لومړۍ میرمن وه چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ ...

او کله چې جبریل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د پنځه لمونځونو د فرض کېدو له مخه اودس او لمونځ ور زده کړ ، خدیجې رضی الله عنها ورسره په هماغه ورځ یوځای لمونځ اداء کړ . په دې سره خدیجه رضی الله عنه په دې امت کې لومړۍ ښځه حسابیږي چې لمونځ یې اداء کړی .... بیا به هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د حراء غار ته تللو او هلته به یې عبادت کاوه .. یوه ورځ خدیجې رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د حراء غار ته ډوډۍ وروړله ، په دې حالت کې جبریل علیه السلام نوموړې ولیده ، بیا یې وفرمایل :

ای دالله رسوله ! دادی خدیجه راغله !! په لوښي کې یې خواړه او څښاک راخیستی دی ... چې کله درته راغله نو :

دالله له لورې او زما لخوا ورته سلامووایه !! او په جنت کې ورته د لرګیو دداسې کور زیری ورکړه چې ، هلته به هیڅ ستړیا او ناآرامتیا نه وي!

کله چې ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم د جبریل دا پیغام ورساوه ، ویې ویل :

الله تعالی خپله سلامتیا ده ! او په جبریل دې سلامتیا وي !! او دالله رسوله ! پر تا دې هم دالله سلامتیا او رحمتونه وي !!

په دې سره خدیجه رضی الله عنها لومړۍ ښځه ده چې د جنت زیری ورته ورکول کیږي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی په پټه او بیا په ښکاره توګه دعوت ته ادامه ورکړه ، ددې تر څنګ به خدیجې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملاتړ کاوه او د مال مرسته به یې ورسره کوله ... د بعثت په اووم کال چې کله حمزة بن عبدالمطلب او عمر بن الخطاب رضی الله عنهما مسلمانان شول ، قریش وویرېدل چې ددوی په اسلام راوړلو دعوت غښتلی نه شي !!! هماغه وو چې قریشو پریکړه وکړه تر څو بنوهاشم د علي په دره کې محاصره کړي ... په دې اړه یې یو تړون ولیکه ، په دې تړون کې یې یادونه کړې وه چې نه به ورسره واده کوي ، نه به پرې څه پلوري ، او نه به ترې څه پیري .... دا تړون یې د کعبې په منځ کې راځوړند کړ او پر هغوی یې اقتصادي بندیزونه ټولو ته اعلان کړل .. .. که څه هم خدیجه رضی الله عنها له بنوهاشم څخه نه وه ، خو بیا هم هغې دې ته غاړه نه ایښوده چې هغه دې په خپل کور کې پاتې شي ، او خاوند او کورنۍ دې د ولږې شپې ورځې په اقتصادي بندیزونو کې تیروي . خدیجه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای د علي درو ته راووته ، او هلته یې له هغه سره یوځای دا تکلیفونه په ګډه تېر کړل .. که څه هم بوډۍ وه او د ډېر تکلیف د زغم حوصله یې نه درلوده ، خو بیا هم هغې دې قربانۍ ته غاړه کېښوده .. .. دې ظالمانه تړون درې کاله ادامه وکړه ، د بنوقصي قوم غبرګ وکړ او ویې ویل چې دا تړون باید نور مات شي ، له همدې سره الله جل جلاله په دې تړون باندې د ځمکې حشرات مکلف کړل ، ددې تړون ډېرې مادې یې خوړلې وې ، او یوازې دا عبارت دې روغ پاتې وو چې : ( باسمک اللهم ) ... ددې هر څه په پایله کې ، قریشو پریکړه وکړه چې دا تړون پای ته ورسوي .. کله چې مسلمانان له درې څخه راووتل ، څو میاشتې وروسته درسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابوطالب وفات شو .. نوموړی تل له خپل وراره سره اوږه په اوږه ولاړ وو او ملاتړ به یې کاوه ... خدیجې رضی الله عنها هم د ابوطالب په ماتم کې ګډون ونه کړ ، ځکه دا مهال خدیجه رضی الله عنها خپله هم د ناروغۍ په بستر پر ته وه ... ورځې لا تېرې نه وې چې ، خدیجې رضی الله عنها هم له دې دنیا سترګې پټې کړې ... خدیجه رضی الله عنها له هجرت درې کاله وړاندې او د بعثت په لسم کال وفات شوه ، د نوموړې د وفات کال د ( عام الحزن ) یا د خپګان کال په نوم ونومول شو .. .. دا څه د مبالغې خبره نه ده ... ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدیجې رضی الله عنها په مړینې سره ، ښځه ، تکیه ، ملاتړ او دژوند ملګری له لاسه ورکړ .... ابن اسحاق وایې :

د خدیجې رضی الله عنها په وفات سره ، پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د مصیبتونو لړۍ پیل شوه ..... نوموړې په اسلام کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم رښتونې ملاتړ کوونکې وه... .. د سیرت په کتابونو کې داسې هم راغلي چې ، د خدیجې رضی الله عنها له وفات وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم تل په کور کې پاتې کیده او ډېر کم وخت به له کوره وتلو ... قریشو هم له دې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډېر تکلیفونه او زیانونه رسول .. .. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ابراهیم پر ته ټول بچیان له خدیجې رضی الله عنها څخه زیږېدلي وو .... له بعثت وړاندې یې د قاسم په نوم ځوی وزیږیده ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم به په همدې کنیه هم یادېده . بل ځوی یې عبدالله نومیده ، چې په (طاهر او طیب ) لقبونو باندې مشهور وو .. زینب ، رقیة ، ام کلثوم او فاطمة ټولې د خدیجې رضی الله عنها لوڼې وې .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د خدیجې رضی الله عنها سره ډېر وفادار پاتې شو . تل به یې د خدیجې رضی الله عنها یادونه کوله ، دې کار د عایشې رضی الله عنها احساسات راوپارول ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ور ته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( قسم په الله ، له هغې غوره ښځه راته الله تعالی نه ده راکړې .... په داسې وخت چې خلکو نه منلم ، هغې راباندې ایمان راوړ ... کله چې خلکو دروغجن کړم ، هغې رښتونی وګڼلم ... کله چې زه خلکو محروم کړم ، په خپل مال یې زما ملاتړ وکړ ... په داسې حال کې چې د نورو ښځو بچیان نه لرم ، خو الله تعالی راته له هغې بچیان راکړل .. ))

خدیجه رضی الله عنها په مکه مکرمه کې د ( معلاة ) په هدیره کې د ( حجون ) په سیمه کې خاورو ته وسپارل شوه . کله چې د هجرت په اتم کال مکه فتحه شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پر قبر ګومبزه جوړه کړه ، او زیارت ته یې ورغی .. دا چې له فتحې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم سمدلاسه د خدیجې رضی الله عنها د قبر زیارت وکړ ، دا مانا لري چې نوموړې د لوړې رتبې خاونده وه . دا رتبه یې یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې نه لرله ، بلکې د اسلام په تاریخ کې د مهم ځای خاونده ده ... .. له میلیونو ښځو وروسته ، او د کلونو په تیریدو سره خدیجه رضی الله عنها د لومړۍ مسلمانې ښځې د لقب ویاړ له ځان سره لري ، دا هغه ښځه ده چې الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند د مهم پړاو لپاره غوره کړې وه ... د تاریخ په اوږدو کې به مسلمانان او کافران د خدیجې رضی الله عنها دا رول د تل لپاره یادوي ... مستشرق ( بوذلي ) وایې :

(( دا چې نوموړې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې باور وکړ او دهمدې باور له مخې یې ورسره واده وکړ .. دا دهغې غښتلې عقیدې څرګندونه کوي چې نن پرې د نړۍ په هر واوه کسانو کې یو کس ایمان لري .. ))

د نن ورځې د میلیونو نارینه وو په اړوند، خدیجه رضی الله عنها د میلیونونو ښځو لپآره یوه ځانګړې نمونه ګڼل کیږي .. .. ټول اسلامي تاریخ د سترې ښځې خدیجې د ژوند ښکلې شیبې یادوي .. کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاتړ او د توحید او دعوت خبره راځي ، سمدلاسه د خدیجې رضی الله عنها یاد راتازه کیږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سودة بنت زمعة رضی الله عنها

داهغه ښځه وه چې د اسلام په لومړيو کې اسلام راوړی وو او دالله په لاره کې يې هجرت کړی وو . له غښتلي ايمان سره يې ډېرې سختۍ او تکليفونه ګاللي .... د صبر خوږه مېوه يې هغه وخت ترلاسه کړه چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته د مرستې لاس ورکړ او هغه يې د ښځې په توګه وټاکله .. کله چې خديجه رضی الله عنها وفات کيږي ، دا لومړۍ ميرمن ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره واده کوي ..... سودة بنت زمعة د نبوت د کورنۍ څارونکې وه .. نوموړې ددې وياړ په برکت پوه شوې وه ، او همدا لامل وو چې په بشپړ يقين او ايمان سره يې دا مسؤوليت ترسره کړ .

نوموړې ( سودة بنت زمعة بن قيس بن عبد شمس العامرية ) نوميږي . مور يې ( شموس بنت قيس بن زيد بن عامر ) نومېده . سودة رضی الله عنها د بنو عامر د قبيلې له يوې ډلې سره چې شمېره يې ايله اتلس تنو ته رسيده . دوی په اسلام کې داخل شول او حبشې ته يې هجرت وکړ . داهغه ډله وه چې خپل کورونه يې پرېښودل ، مالونه يې پرېښودل ، د دښتې په سختو ګرمو تېر او د سمندر خطرناکو څپو ته يې ځان ورساوه ... دوی غوښتل چې خپل دين وژغوري او د مشرکانو له زيانه ځانونو ته خوندي ځای پيدا کړي . ځکه په مکه کې هرې قبيلې دادنده په غاړه واخيسته چې د خپلې قبيلې مسلمانان به نه پريږدي ....مشرکان راپاڅېدل او مسلمانانو ته يې سخت عذابونه ورکړل .. .. رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو دا حالت وليده او ډېر زيات پرې ودردېده .. خپله يې نه شو کولی چې ددوی دفاع وکړي ، هماغه وو چې دوی ته يې حبشې ته د هجرت مشوره ورکړه .. ورته يې وويل :

(( حبشې ته لاړ شئ ، د حبشې د پاچا ترڅنګ پرچا ظلم نه کيږي .. د حبشې ځمکه د رښتونولۍ ځمکه ده ! ! ))

سودة بنت زمعة رضی الله عنها له خپل خاوند او د تره ځوی ( سکران بن عمرو بن عبد شمس ) سره يوځای هجرت وکړ ، او ډېر کلونه يې له خپلې ځمکې او کورونو ليرې په مهاجرت کې تېر کړل . کله چې د بعثت په لسم کال د بنو هاشم کلابندي او اقتصادي بنديزونه پای ته ورسيدل ، او له يو شمېر مهاجرينو سره بيرته راستانه شول ، خاوند يې ترې وفات شو او نوموړې کونډه پاتې شوه .. له دې وروسته سودة رضی الله عنها د ګونډتوب له څپېړې دردېده ... ژوند يې له غربت سره مخامخ شو ، خو له بل پلوه يې د اسلام رڼا زړه ته خوشالي وربخښله .. .. کله چې سودة رضی الله عنها له حبشې څخه راستنه شوه او خاوند يې له لاسه ورکړ ، له هغو مېرمنو څخه نه وه چې د نارينه وو پام ځانته راواړوي او بل واده وکړي ... ځکه سودة رضی الله عنها يوه بوډۍ ښځه وه او ښکلا يې هم نه درلوده ، رنګ يې هم ډېر تور وو ... رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د خديجې د مړينې له غمه لا نه وو خلاص ، همدا مهال ورته ( خولة بنت حکيم ) راغله او سودة بنت زمعه رضی الله عنها يې ورته ياده کړه . رسول الله صلی الله عليه وسلم هم غاړه کېښوده او خپل مهربان لاس يې وراوږد کړ . دې کار د مکې خلک ډېر حيران کړل ، آن ځينو خويې بيخي نه منله چې ګويا محمد صلی الله عليه وسلم دې د ځان لپاره سودة رضی الله عنها وغواړي او واده دې ورسره وکړي او نوموړې دې د خديجې رضی الله عنها ځای ونيسي . .. خو رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې کار سره غوښتل چې د زړه سواندۍ ،نرمۍ ، د خلکو د دردونو د احساس او مهربانۍ بنسټ کيږدي او ددې کار نمونه وګرځي .... رسول الله صلی الله عليه وسلم د سودة بنت زمعة رضی الله عنها حالت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوجې وو او دهغې دردونه یې درک کړي وو . سوده رضی الله عنها چې کله مکې ته له اوږده هجرته وروسته راستنیږي ، هم د سفر ستړیاوې له ځان سره لري ، او هم یې د خاوند د مړینې د غم لمبې په زړه تیریږي . نوموړې هغه خوږ خاوند له لاسه ورکړ چې دژوند په اوږد سفر کې ورسره ملګری وو ، او هم یې په ګډه د نوي دین له نعمته ځان برخمن کړی وو. دا دوه هغه ستر غمونه وو چې د سوده رضی الله عنها ژوند یې ناخواله کړی وو .. . همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ته متوجې شوی وو ، که سوده رضی الله عنها خپل قوم ته پرېښودل شي ، نو قوم به یې له اسلامه وګرځوي او له سختو عذابونو سره به یې مخامخ کړي ... دا چې د سودة رضی الله عنها خاوند وفات شو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حالت درک کړی وو چې دا حالت به د هغې قوم ته دا زمینه په لاس ورکړي چې شکنجه یې کړي اوله عبادت کولو یې منعه کړي . .. دا یو غوره کار وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو مؤمن او داسې سړي د ښځې ژوند او ایمان وژغوره چې دالله په لاره کې یې هجرت کړی وو او ډېر تکلیفونه یې ګاللي وو . رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې میرمنې سوده رضی الله عنها ته دهغې د ربښتوني ایمان ، ربښتوني هجرت او ربښتونې عقیدې په بدل کې غوره مکافات ورکړل . ... خولة بنت حکیم د مکې په کوڅو کې وګرځېده او د ( بنوعامر ) کلي ته یې ځان ورساوه ، هلته یې د سوده رضی الله عنها د پلار ( زمعة بن قیس بن عبد شمس ) دروازه ټک ټک کړه .. کله چې د سودة رضی الله عنها د هجرت ملګرې رسول الله صلی الله علیه وسلم سودة ته یاد کړ ، هیڅ باور یې نه کیده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې په واده کولو موافقه وکړي . سوده رضی الله عنها ددې خبر په اوریدو ډېره زیاته خوشاله شوه ... په همدې وخت کې ، سودة رضی الله عنها له خپلې ملګرې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرکه کوونکې خولة بنت حکیم ښځه وغوښتل چې د سودة پلار ته لاړه شي او هغه هم خبر کړی ... د سودة رضی الله عنها پلار ډېر بوډا سړی وو ، خولة بنت حکیم ورته ورغله ، پرهغه یې سلام واچاوه ، او بیا یې ورته د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنه وړاندې کړه ... هغه په ډېر احسان او منښې سره چیغه کړه او داسې یې وویل :

(( وړ انسان دی !!! ))

بیا یې خپله لور سودة رضی الله عنها راوغوښته او ویې ویل :

( محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب ستا په مرکه راغلی ، هغه مناسبه جوړه ده ... آیا ستا خوښه ده چې ورته دې نکاح کړم ؟!!

سودة رضی الله عنها په ځواب ورکولو کې زړه نا زړه نه شوه او سمدلاسه یې موافقه وکړه .

سودة رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته ننوته ، د کور ساتنه به یې کوله ، او دهغه د لوڼو روزنه به یې کوله چې د خدیجة بنت خویلد رضی الله عنها ښځه پاتې وې ... ... ام کلثوم او فاطمة الزهراء له د خپل پلار محمد صلی الله علیه وسلم په کور کې وې ... سودة رضی الله عنها هم چې کله دې کور ته راغله ، د مینې ، محبت او غښتلي ایمان ژوند ته یې ادامه ورکړه .... .. خو سودة رضی الله عنها فکر نه کاوه چې هغه دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې د خدیجې رضی الله عنها په کچه ځای ونیسي .... هغې له خپل حکمت او ځیرکتیا له مخې دا هڅه نه کوله چې دهغې ځای دې ونیسي او ددې لپاره دې مبارزه وکړي ، او ځان دې پر محمد صلی الله علیه وسلم تحمیل کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتره عائشة عبدالرحمن په خپل کتاب ( سیدات بیت النبوة ) کې داسې وایې :

((سودة بنت زمعه هیڅکله ځان نه دی تېر ایستلی ، بلکې هغه د خپلې پیاوړې تجربې له مخې دې پایلې ته رسیدلې وه چې دهغې او د محمد صلی الله علیه وسلم د زړه ترمنځ داسې پرده ده چې هیڅ لاره ورته نه لري ... له کومې شېبې چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای شوه ، په دې پوه شوه چې نوموړې سره ( پیغمبر ) واده کړی . نه داسې ( سړي ) چې پیغمبری له بشریت نه وي جلا کړی . هغه بې له شکه په دې یقین شوه چې ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې واده دالله د احسان او مهرباني له مخې وو ، نه د مینې او محبت له مخې .... خو داسې هم نه وه .. بلکې همدا یې بس وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې رتبې ته پورته کړه ... او نوموړې یې د ( سکران بن عمرو ) د کونډې پرځای په ( ام المؤمنین ) یا د مؤمنانو په مور بدله کړه .. . سودة بنت زمعه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې ډېره موده په داسې حال کې تیره کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ور کې بله مېرمن نه لرله . .. رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه څنګه یې چې اخلاق او نېکه رویه ستره ځانګړنه وه ، له سودة رضی الله عنها سره یې د نرمۍ ، محبت او مهربانۍ ژوند او چلند کاوه . تل به یې په ښځو باندې په نېکه رویه او پر هغوی د نرمۍ ټینګار کاوه . او ویل کیږي چې سودة رضی الله عنها ډېره خوږه ښځه وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې تل د آرامتیا احساس ور کاوه . کله به چې سودة رضی الله عنها ګرځېده ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې مزل پورې خندل ، دې حالت به ډېره خوشالوله !!! نوموړې د وزن له پلوه هم زیاته وه .. په روایتونو کې راځي چې یوه ورځ سودة بنت زمعه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخ کې خپګان ولیده ، نو ور ته یې وویل :

(( د الله رسوله پرون مې تاپسې لمونځ اداء کړ ، ډېره اوږده سجده دې وکړه .... سجده دې دومره اوږده کړه چې ما خپله پوزه په لاس ونیوه ، ویریدم چې وینه ترې ونه بهیږي ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم وخندل ، چې له خوشالۍ یې ټوله ستړیا او خپګان ختم شو .

لکه څنګه چې د سیرت په کتابونو کې راځي ، سوده رضی الله عنها ډېره خوشاله او آرامه ښځه وه .. په ټوکو کولو کې یې مهارت درلود ، او په دې سره به یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کله کله آرامتیا وربخښله ... ... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې غمونه تېر شول ، د محاصرې او اقتصادي بندیزونو تکلیفونه یې وګالل او دخپګان کال پرې تېر شو .. که په اوسنۍ اصطلاح ووایو ، سوده رضی الله عنها ددې ټولو ستونزو او تکلیفونو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ددرملو حیثیت درلود ...

کله چې الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بعثت په دولسم کال د هجرت اجازه وکړه ، سودة بنت زمعه رضی الله عنها هم مدینې منورې ته هجرت وکړ .... په دې ورځو کې سودة بنت زمعه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازینۍ ښځه وه ، په دې مانا چې په کور کې یې بله میرمن نه درلوده. ... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ ، نبوي جومات پورې نښتې یې ورته د عائشې رضی الله عنها له خونې سره څنګ کې یوه خونه جوړه کړه ... عائشه رضی الله عنها هم په دې وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوژده کې وه . نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړۍ مېرمن وه چې په دې سپېڅلو خونو کې یې ژوند کړی ... .. سوده رضی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله عنها د بدر په غزا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو د سترې بریا هم شاهده وه .. نوموړې د مشرکانو د ماتې هغه حالت ولیده چې ګڼ شمېر یې ووژل شول ، ځینې یې بندیان شول ، او ځینې یې له شرمه ډک مکې ته ستانه شول .. ...

د تاریخ په کتابونو کې راځي چې ، سوده رضی الله عنها د بدر د بندیانو په منځ کې خپل د تره ځوی او د پخواني خاوند ورور ( سهیل بن عمرو ) هم ولیده ... مسلمانانو نوموړی تړلی او مدینې منورې ته یې راروان کړی وو .. ناڅاپي یې چیغه کړه !! لا تر دې وخته ورکې د جاهلیت پاتې شونې تعصب او د قبیلې لپاره د ننګ کولو نښې پاتې وو .. داسې یې وویل :

ای ابوزیده !! دا هرڅه مو خپله پر ځان وکړه !! ولې د شرافت مرګ نه غواړئ !!! ... کاش چې تر وروستی سلګې مو جنګ کړی وای او په عزت مړه شوي وای ، نه په دې حالت !!!

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبره ډېر غوسه شو .. او ورته یې وویل :

(( ای سوده !! دالله او رسول پر ضد خلک هڅوې !!! ؟؟ ))

سودة بنت زمعه رضی الله عنها ژر خپلې ګناه او بې ځایه تعصب ته متوجې کیږي ، د بخښنې په غږ وایې :

(( ای دالله رسوله !! قسم په هغه ذات چې ته یې رالیږلی یې !! کله مې چې ابوزید تړل شوی ولیده، ، هیڅ مې ځان کنټرول نه شو کړای ، ځکه مې له خولې داسې خبرې ووتلې ! ))

د نوموړې دا وینا په دې دلالت کوي چې سوده رضی الله عنها په خبرو او کارونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر تابع وه ، او ژر یې کولی شول چې خپل احساسات کنټرول کړي !!! سوده رضی الله عنها چې کله خپلې ګناه ته متوجې کیږي ، سمدلاسه د غښتلي ایمان ، قوي عقیدې او اسلامي احساس له مخې بخښنه غواړي .... .

سودة بنت زمعه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې درې کلونه یوازې دمحمد صلی الله علیه وسلم په کور کې تېر کړل ... درې کلونه وروسته د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه لور عائشه رضی الله عنها راغله .. . هغې ته یې خپل ځای ورپرېښود ، نوموړې ته یې هغه ځای پرېښود چې پوهیده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې ورته ور کوي .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته وروسته د مؤمنانو نورې میندې هم راغلې ، خو سوده رضی الله عنها د هغوی په راتګ هیڅ د خپګان احساس ونه کړ ... که څه هم ټولې تر سوده رضی الله عنها ځواناني وې او هڅه یې کوله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عواطف ځان ته راواړوي . کله چې سوده رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره واده وکړ ، د ژوند وروستی عمر یې تر ټولو خوشاله او نېکبخته عمر باله . خو د حق او عدالت پیغمبر په هغه څه راضي نه وو چې بوډۍ ښځه یې پرې راضي وه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورباندې د عاطفي محرومیت او د سخت شعور له مخې مهرباني وکړه او فکر یې وکړ چې نوموړې د نورو میرمنو په څېر نه ده .. هماغه وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پريکړه وکړه چې دا مېرمن پرېږدي ... کله چې سوده رضی الله عنها له دې پرېکړې خبره شوه ډېره حيرانه او خپه شوه .... ددې پريکړې په اوريدو سره يې له ايمان او شرافت ډکه خبره وکړه ....

(( ای دالله رسوله ! ما درسره وساته ! قسم په الله زه د خاوند دومره لېواله نه يم ... خو دا خوښه ګڼم چې دقيامت په ورځ مې الله تعالی ستا د ميرمنې په توګه راپاځوي . !!! ))

د سوده رضی الله عنها د خپګان دا شېبې اوږدې شوې ، رسول الله صلی الله عليه وسلم هم ورته په چوپه خوله په نرمۍ او مهربانۍ ورکتل، په ناڅاپي توګه سوده رضی الله عنها ته يو نظر ذهن ته ورغی .. په ډېرې آرامتيا او زغم سره يې د زړه خبره وکړه ، نوموړې د خپلې عمر د تجربې له مخې په دې پوهيده چې خاوند يې په څه ډېر خوشالېږي ... ويې ويل :

(( ای دالله رسوله ما مه خوشې کوه !! زما شپه عائشې ته ورکړه !! او هغه څه چې ښځې غواړي ، زه يې نه غواړم !!! ))

د سوده بنت زمعه رضی الله عنها دې ښکلي نرم او خوږ دريځ په رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېره اغيزه وکړه ، په دې کار کې دالله رسول سوده رضی الله عنها ته د طلاق حکم او دهغې بدوالی روښانه کړ ... د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مېرمنې ځواب هم له خوښيو او مينې ډک وو ، او هغه څه يې ورکې بيان کړل چې خاوند يې پرې خوشالېده . رسول الله صلی الله عليه وسلم يې غوښتنه ومنله او بيرته يې دنبوت په کورنۍ کې پرېښوده او ډېر عزت او احترام يې ورکړ .. څو کلونه يې له خوښيواو خوشاليو ډک ژوند وکړ .... له بل پلوه عائشې رضی الله عنها هم تل د سوده رضی الله عنها دا حسان يادولو ، او په دې کار به يې ورته ډېره زياته مينه ورکوله . هغې به ويل :

زه چې له سوده بنت زمعه سره يم ، تل خوشاله يم ... کله چې بوډۍ شوه ويې ويل :

(( ای دالله رسوله ! ما خپله ورځ عائشې ته ورکړې!!! ))

د هجرت په لسم کال سوده بنت زمعه له رسول الله صلی الله عليه وسلم او نورو ميرمنو او مسلمانانو سره يوځای ( حجة الوداع ) ته لاړه . نوموړې دا مهال ډېره چاغه ، کمزورې او د ډېر عمر خاونده وه . رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې کمزورتيا باندې رحم وکړ ، هماغه وو چې اجازه يې ورته ورکړه چې د شپې لخوا لاړه شي او د ورځې د خلکو له مزاحمت او بيروبار خوندي پاتې شي او له خلکو وړاندې ورسيږي . ...   سودة بنت زمعه رضی الله عنها د پيغمبر عليه السلام په کور کې ديارلس کلونه تېر کړل ، نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ښځه وه چې له خديجې رضی الله عنها څخه وروسته يې ورسره تر نورو هغو ډېر ژونديو ځای تير کړی وو .. سوده رضی الله عنها له زهد او تواضع ډک ژوند درلود .. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هجرت په يوولسم کال ناروغ او بيا وفات شو ، سوده بنت زمعه رضی الله عنها ددې ټولو حالاتو شاهده وه . د رسول الله صلی الله عليه له وفات وروسته نوموړې د شپې لمونځونه او ورځې روژې نيولې ... سوده رضی الله عنها هغه ښځه وه چې د اسلامي دعوت په لومړيو کې مسلمانه شوې وه ، خو ترهغه وخته ژوندۍ پاتې شوه چې د اسلامي دولت نفوذ پراخ او دعوت يې تر ليرې پرتو سيمو پورې وغزېد او د پيل له کمزورتيا څخه دا دعوت ورځ تر بلې غښتلی کيږي ، ټوله عربي جزيره نيسي او نفوذ يې د شام تر هيواونو رسيږي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوده بنت زمعه رضی الله عنها د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت تر وروستیو پورې ژوندۍ وه .. .. ډېر بوډاتوب د ام المؤمنین سوده رضی الله عنها بدن کمزوری کړی وو ، خو قوي عقیدې او ایمان یې زړه غښتلی ساتلی وو .. نوموړې په داسې حال له دې دنیا سترګې پټوي چې ، غښتلی ایمان ، ټینګه اراده او قوي عقیده له ځان سره وړي ... نوموړې ددې نمونه ګڼل کیږي چې ، خپل ځان یې د الله جل جلاله رضایت او د خپل خاوند محمد صلی الله علیه وسلم رضایت ته وقف کړی وو ... هغه خاوند ته یې وقف کړی وو چې د ( ام المؤمنین ) د لقب ویاړ یې ورپه برخه کړی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام سلمه رضی الله عنها

دا مېرمن د قریشو د بني مخزوم له کورنۍ څخه وه ، دا ښځه الله تعالی په پخواني او میراثي عزت ویاړلې وه ، او هم یې په نوي ویاړ نازولې وه .... پخوانی میراثي ویاړ په دې مانا چې ، پلار یې د قریشو له شمارل شویو مخورو څخه وو ، او نوی ویاړ په دې مانا چې ، نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره واده کړی وو ، او د نبوت د کورنۍ یوه سرداره ګڼل کېده او د مؤمنانو د میندو په کتار کې حساب شوه . دا مېرمن ( ام سلمه ) نومیږي . او د تاریخ په کتابونو کې دخپل پلار په لقب شهرت لري . نوموړې د ( بنت زاد الرکب ) په نوم یادېده .

دا مېرمن ( هند بنت ابی امیة بن المغیره بن عبدالله بن عمر بن مخزوم ) نومیږي . او د قریشو له قبیلې څخه او د ویاړلي نسب خاونده وه . پلار یې په ډېر سخاوت باندې مشهور وو ، کله به یې چې پلار په کوم سوداګریز یا بل سفر باندې وتلو ، او بل کس به هم ورسره ملګری شو ، هغه سره به یې خپله د سفر توښه نه پرېښوده . بلکې خپله توښه به یې ورکوله او په خپل لګښت به یې ورته خوراک او څښاک ورکاوه . نوموړی د ( زاد الرکب ) یانې د کاروان توښه په لقب باندې مشهور شو ... په مکه مکرمه کې د ( ام سلمه رضی الله عنها ) د زوکړې نېټه نه ده مالومه . بلکې له هغو مېرمنو څخه وه چې د اسلام په پیل کې یې ایمان راوړی وو . دهغې خاوند ( عبدالله بن اسد بن هلال ) د محمد صلی الله علیه وسلم د ترور ځوی او رضاعي ورور وو . دوی دواړو ته د ابولهب خادمې ( ثویبه ) شیدې ورکړې وې . د ام سلمه رضی الله عنها خاوند هم داسلامي دعوت په لومړیو کې ایمان راوړی وو او دواړو حبشې ته هجرت هم کړی وو . کله چې په مکه مکرمه کې پر مسلمانانو د مشرکانو ظلمونه زیات شول ، د بعثت په پنځم کال یې حبشې ته هجرت وکړ ... رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې په اړه وویل چې ځمکه یې د رښتونولۍ ځمکه ده ، او د حبشې د پاچا ترڅنګ پرچا ظلم نه کیږي ، په همداسې چاپیریال کې ام سلمه رضی الله عنها د ( سلمه ) په نوم ځوی وزیږاوه . نوموړې له خپل خاوند سره د حبشې په ځمکه څو کلونه تېر کړل . بیا چې کله په مکه مکرمه کې پر بنو هاشم اقتصادي بندیزونه او محاصره پای ته ورسیده ، له هجرت درې کاله وړاندې مکې مکرمې ته راستانه شول . دا هغه اقتصادي بندیزونه وو چې قریشو د یو ظالم تړون له مخې پر محمد صلی الله علیه وسلم او بنوهاشم قبیله باندې د ابو طالب په دره کې لګولي وو . چې بیا د نورو قومونو او د چینجیو په خوړلو یاد تړون مات شو . که څه هم مسلمانانو په دې اقتصادي بندیزونو کې ډېر تکلیفونه تېر کړي وو ، خو بیا هم هغوی خپل قوت له لاسه نه وو ورکړی .. او هغه دعوت چې مشرکانو یې دله منځه وړلو هڅه وکړه ، لا غښتلی او پراخ شو ... دا ډول حالات چې له غمونو او تکلیفونو ډک وو ، خو بیا هم دې حالاتو خلک وهڅول ترڅو خپلو کورونو ته راستانه شي .. هماغه وو چې ام سلمه رضی الله عنها له خپل خاوند او ځوی سره د حبشې د نورو مهاجرینو په ملګرتیا مکې مکرمې ته راستانه شول . کله چې ام سلمه رضی الله عنها او ابو سلمه رضی الله عنه مکې مکرمې ته راستانه شول ، بیا هم د قریشو د مشرکینو له ظلمه خوندي نه وو پاتې .. . دالله په لاره کې هجرت او سفر دوی سره په صبر کولو او ټینګ عزم کې ډېره مرسته وکړه .. د حبشې له هجرت وروسته ام سلمه رضی الله عنها یو بل هجرت ته ملا وتړله ... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له انصارو سره په منی کې بیعت وکړ ، او بیا یې مسلمانانو ته د هجرت کولو امر وکړ ، ام سلمه رضی الله عنها او خاوند یې له هغو کسانو څخه وو چې مدینې منورې ته یې له نورو ډېرو وړاندې دهجرت هوډ کړی وو . ددوی د هجرت کیسه له ډېرو عبرتونو او رازونو ډکه ده ... د سیرت په ځینو کتابونو کې راغلي چې د ( سلمه )

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ چې د هجرت په لاره کې له کومو تکلیفونو او ننګونو سره مخامخ شوې ، بله کورنۍ ورسره نه ده مخامخ شوې . . کله چې ام سلمه رضی الله عنها له خپل خاوند سره پریکړه وکړه چې له مکې به مدینې ته هجرت کوي ، له همدې وخته یې د عذاب لړۍ لا سخته شوه . . ..دا چې ام سلمه رضی الله عنها د بنومغیره له کورنۍ څخه وه ، کله چې هغوی خبر شول چې خاوند یې خپله ښځه او د ( سلمه ) په نوم خپل ځوی له مکې اوباسي ، د هغوی مخه یې ونیوله او ویې ویل :

(( دادی خواهشات دې پر موږ غالب کړل ... دا ز موږ ښځه ده ، نو څنګه اجازه درکړو چې له دې ځایه یې اوباسې ؟ ))

قوم یې ترې د اوښې رسۍ ونیوه او د تللو اجازه یې نه ورکوله .. په دې کار د ابوسلمه کورنۍ ( بنو عبدالاسد ) غوسه شول او ویې ویل :

(( قسم په الله که زموږ له کس څخه مو ښځه پاتې کړه ، موږ یې هم ورسره دلته بیا نه پرېږدو !! ))

مشر کینو د هغوی ځوی سلمه دهغوی له غیږې واخیسته ، او ښځه او خاوند یې سره جلا کړل .. خاوند یې له دې پېښې وروسته په یوازې ځان مدینې منورې ته هجرت وکړ او له ښځې او خاوند جلا شول .. .. خو ام سلمه رضی الله عنها په مکه مکرمه کې پاتې شوه ، هره ورځ به د مکې څنډو ته راوتله او خپل خاوند او ځوی باندې به یې ډېر زیات ژړل .. .. یوه ورځ پرې دهغې یو تربور تېرېده ، ورته ودرېده او ډېر زیات پرې خپه شو .. په ډېره مېړانه یې د ( بنو مغیره ) په منځ کې چیغه کړه او ویې ویل :

هلا ک شئ !! ولې دا بېچاره ګۍ نه پرېږدئ ؟ !! له دې مو خاوند ، او ځوی جلا کړي دي !!

د بنو مغیره قوم سره یې دلایل وویل ، او دهغوی د سخت دریځ نیولو په اړه یې ورسره ډېرې ناندرې وکړې .. هماغه وو چې له ډېرو خبرو اترو وروسته رانرم شول او ام سلمه رضی الله عنها ته یې اجازه ورکړه چې خپل خاوند سره یوځای شي .. خو په مقابل کې ، د ام سلمه رضی الله عنها د خاوند کورنۍ ( بنو اسد ) هم راپاڅېدل ، او هغې ته یې خپل ځوی وسپاره . . . له څه مودې عذاب ، بیلتون او تکلیف وروسته ام سلمه رضی الله عنها خپل ځوی خپلې غېږ کې واچاوه ، په خپله سپرلۍ سپره او د مدینې منورې پر لور روانه شوه .... مکې مکرمې ته نږدې د ( تنعیم ) په سیمه کې ورسره ( عثمان بن طلحه ) مخامخ شو .. . نوموړی دا مهال لا مسلمان شوی نه وو ... ام سلمه رضی الله عنها ته یې د مرستې وړاندیز وکړ ، کله چې هغه له دې خبر شو چې نوموړې غواړي له خپل خاوند سره د کوچني ځوی په ملګرتیا یوځای شي ، او ددې هدف لپاره دا اوږده لاره په یوازې ځان ووهي ، په هغه کې هم د غیرت پردې راوپارېدې ... سمدلاسه یې د هغې د اوښې رسۍ ونیوله او ویې ویل :

قسم په الله که دې یوازې پرېږدم !!!

عثمان بن طلحه ورسره تر هغې ملګری شو چې خپل ځای ته یې ورسوله . بیا یې په اړه ام سلمه رضی الله عنها وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په الله په عربانو کې مې له عثمان بن طلحه کريم ملګرى نه دى ليدلى ... کله يې چې راورسېدو ،زه يې ودرولم.. هغه خپله يوې ونې ته لاړ ، او تکيه يې ووهله .. کله چې بير ته د تللو وخت راغى ، زما اوښې ته راغى ، له ما مخکې شو او او اوښه يې روانه کړه ، بيا له ما وروسته شو او ويې ويل : سپره شه ! !

کله چې زه سپره شوم او په اوښه باندې کښېناستم ، راغى او زما د اوړښې رسۍ يې ونيوه او زه يې تر خپل ځايه ورسولم ... مزل مو وکړ او مدينې منورې ته راورسيدو .. د ابوسلمه کور د قباء په سيمه کې د ( بنو عوف ) په کلي کې وو ، کله يې چې دې کلي ته وکتل ويې ويل :

خاوند دې ، دې کلي کې دى . دالله په بر کت سره ورته ننوځه ! ..

ام سلمه رضى الله عنها مدينې منورې ته رسيدو سره سم له خپلې مهاجرې کورنۍ سره يوځاى کيږي .. مسلمانان ددې ښځې په راتګ او له کورنۍ سره په يوځاى کېدو ډېر زيات خوشال شول . ځکه دا هغه کورنۍ وه چې د هجرت په لاره کې له ډېرو تکليفونو سره مخامخ شوې وه . .. په مدينه منوره کې د ام سلمه رضى الله عنها نور بچيان هم وزيږېدل ، هغوى ته يې روزنه ور کړه ، دا په داسې حال کې ده چې خاوند يې دالله په لاره کې جهاد ته ځان اوزګار کړ . .. رسول الله صلى الله عليه وسلم يې پر خاوند ډېر باور کاوه . رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې غزا په تکل ووت ، د ام سلمه رضى الله عنها پر خاوند يې د ډېر باور له مخې هغه د مدينې منورې د چارو د پرمخ بيولو په موخه په مدينه منوره کې پرېښود . د بدر په غزا کې هم ابوسلمه رضى الله عنها ډېره مېړانه ثابته کړه . نوموړى هغه صحابي وو چې د احد په غزا کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په څنګ کې پاتې شوى وو او دفاع يې ترې کوله ... په همدې غزا کې پر مټ په غشي ولګېده او ډېره موده يې په درملنه تېره او بيا روغ شو ... بنو اسد وغوښتل چې په دار الهجرت باندې حمله وکړي او له مسلمانانو سره جګړه وکړي ، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې خبر شو ، ابوسلمه رضى الله عنه يې د يونيم سلو کسانو په مشرۍ وليږه ، ترڅو دښمن په خپله سيمه کې وځپي او حملې ته يې پرې نږدي .. ابوسلمه دا جګړه په ډېره بريا ترسره کړه ، داسې بريا يې ترلاسه کړه چې د احد د غزا ماته يې ترې هېره کړه ... خو هغه ټپونه چې په احد غزا کې يې خوړلي وو ، لا پوره نه وو رغېدلي ، هماغه ټپونه په دې جګړه کې بيا راوپاړېدل ، څو ورځې د سختې ناروغۍ او تکليفونو سره مخامخ شو .. په همدې وخت کې ، ابوسلمه احساس وکړ چې نېټه يې رانږدې ده ... کله چې ابوسلمه رضى الله عنها د ناروغۍ پر بستر پروت وو ، د غښتلي ايمان او پياوړې عقيدې له مخې يې خپلې مېرمنې ام سلمه رضى الله عنها ته دا دعاء وکړه :

(( اى الله ! ام سلمه ته له ما وروسته تر ما غوره خاوند ورپه برخه کړې ! ! داسې خاوند ورته ور کړې چې نه يې خپه کړي او نه ورته زيان ورسوي ! ! ! ... ))

له دې وروسته يې سترګې پټې ، او له دې دنيا وکوچېده ... له وفات وروسته يې مؤمنه مېرمن ، او روزنې او ساتنې ته اړ بچيان پرېښودل ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ام سلمه رضی الله عنها د خاوند له وفات وروسته ستر صحابه کرام د ام سلمه رضی الله عنها مرکې ته راغلل. ابوبکر الصديق رضی الله عنه پرې مرکه وکړه ، خو په ډېرې نرمۍ يې ځواب کړ .. بيا پرې عمر بن الخطاب رضی الله عنه مرکه وکړه ، هغه ته يې هم د تېر په څېر ځواب ورکړ .. . بيا پرې رسول الله صلی الله عليه وسلم مرکه ورولېږله .. په ځواب کې يې ورته عذر وړاندې کړ او داسې يې ورته وويل :

(( دالله رسول دې هر کله راشي ! خو ورته ووایاست چې ، زه يوه بوډۍ ښځه يم ! د يتيمانو مور يم ! او ددې ټولو سره سره زه ډېر غيرت کوم .. . . . ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وويل :

(( که د بوډاتوب خبره کوې ، خو زه تر تا مشر يم ... او د غيرت خبره ، زه به الله جل جلاله ته دعاء وکړم چې دا غيرت درنه واخلي ... او د بچيانو په اړوند .. الله او رسول به دهغوی مل وي !! ))

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دې خبرو د ام سلمه رضی الله عنها په زړه کې ځای ونيوه ، هماغه وو چې موافقه يې ورسره وکړه .. او له ځان سره يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تواضع او نرمۍ ياد د تل لپاره وساته .. . رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت په څلورم کال د شوال په مياشت کې له ام سلمه رضی الله عنها سره واده وکړ ... ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بلې مېرمنې ( زينب بنت خزيمه رضی الله عنها ) له وفات وروسته دهغې خونې ته ننوته ..... دا چې ام سلمه رضی الله عنها رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د واده په ورځ په خونه کې له پاتې شونو خوراکي توکو څنګه خواړه تيار کړل ، داسې کيسه کوي :

ننوتم ، چې ومې ليده ، هلته يو لوښی پروت وو ... ورته مې وکتل .. په لوښي کې يو څه وربشې پرتې وې ... چې ومې کتل هلته پل ، ميچن او دېګ پروت وو .. ومې کتل چې هلته يوڅه وازده هم پرته وه ... وربشې مې واخيستې او وړه مې کړې ... بيا مې لګن کې واغږل .. او له دېګ مې وازده راواخيسته او وره مې پرې پاخه کړل ... دا د واده په شپه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغه د کورنۍ خواړه وو . .... د ام سلمه رضی الله عنها په راتګ باندې ، عائشه رضی الله عنها خپه شوه .. ځکه ام سلمه رضی الله عنها ډېره ښکلې وه .. عائشه رضی الله عنها يې په اړه داسې وايي :

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ام سلمه رضی الله عنها سره واده وکړ ... زه ډېره زياته خپه شوم ... ما يې د ښکلا په اړه اوريدلي وو .. خو صبر مې وکړه چې ويې ګورم ... بيا مې چې کله وليده ، قسم په الله ، خلکو يې چې په اړه څه ويل ، له هغې څو برابره ښکلې وه . !!. ...

واقدي رحمه الله هند بنت الحارث ته روايت منسوبوي ، چې فرمايي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :

(( عائشه رضی الله عنها داسې ځانګړنه لري چې بل هيچا کې مې نه ده ليدلې .. . کله يې چې له ام سلمه رضی الله عنها سره واده وکړ ، پوښتنه ترې وشوه ...

(( ای د الله رسوله !! د عائشې د ځانګړنې په اړه اوس څه وايې ؟ ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم غلی شو ... بیا مالومه شوه چې ، ام سلمه رضی الله عنها دا ویاړ له ځان سره درلود .

ام سلمه رضی الله عنها پوه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ډېر پام کوي ، هماغه وو چې پریکړه یې وکړه چې خپله کوچنۍ لور بلې روزونکې ته ولیږي تر څو خپل خاوند ته په بشپړه توګه اوزګاره شي ....

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې تر څنګ چې یو غوره خاوند وو ، د ام سلمه رضی الله عنها د بچیانو لپاره یو غوره پلار هم وو . د ام سلمه رضی الله عنها لور زینب د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر څارنې او روزنې لاندې راستره شوه . په خپل وخت کې یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر علم زده کړ ... او د ام سلمه رضی الله عنها ځوی چې ( سلمه ) نومېده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته خاصه مینه ورکوله ، دهمدې مینې له مخې یې ورته د خپل د تره د ځوی حمزة بن عبدالمطلب لور ( امامة ) رضی الله عنها په نکاح کړه ... همدا راز د ام سلمه رضی الله عنها بل ځوی چې عمر نومېده ، او د ( دره ) په نوم لور یې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفالت ، څارنې او روزنې لاندې راستر شول . د سلمه او زینب په ګډون دوی دواړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍ او پر کټیانو څخه وو ... ام سلمه رضی الله عنها په غښتلي کر کتر او پیاوړي فکر باندې مشهوره وه ...

ویل کیږي چې کله د عمر بن الخطاب رضی الله عنه مېرمنې هغه ته د محمد صلی الله علیه وسلم د مېرمنو کیسه وکړه چې په ځینو کارونو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبرې ژوي ، سخت غوسه شو ....هغه پاڅېده او خپله لور حفصه رضی الله عنها یې وټرټله ... ام سلمه رضی الله عنها هم د عمر رضی الله عنه له خپلوانو څخه وه ، له دې وروسته ام سلمه رضی الله عنها ته ورغی تر څو ورسره په دې اړه خبرې وکړي ... ام سلمه رضی الله عنها ورته وویل :

(( ابن الخطابه تاته حیرانه یم ... په هر څه کې مداخله کوې ... اوس غواړې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو په کارونو کې هم مداخله وکړې !! .. ))

عمر رضی الله عنه ورته وویل :

(( زه یې په دې خبرو سخت مات کړم ، او له ډېرو خبرو یې وویستلم ... ژر ترې راووتلم .. ))

د هجرت په شپږم کال رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله مېرمن ام سلمه رضی الله عنها ددې لپاره غوره کړه چې مکې مکرمې ته ورسره د عمرې د اداء کولو لپاره لاړه شي ... دا هغه سفر وو چې قریشو ورکې مسلمانان حرم شریف ته له داخلیدو منعه کړي وو .... صلح الحدیبیه هغه سوله وه چې ددې پېښې په پایله کې رامنځته شوه ... ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مېرمن وه چې د حدیبیې په سوله کې یې په اسلامي تاریخ کې تلپاتې رول لوبولی دی .....په دې سوله کې صحابه کرامو داسې احساس وکړ چې مسلمانانو ورکې ځینې حقونه له لاسه ورکړل او د سولې ګڼ بندونه د مشر کانو په ګټه دي .. په دې کار مسلمانان غوسه شول .... عمر بن الخطاب رضی الله عنه دهغه کسانو په سر کې وو چې ددې سولې په تړون باندې ډېر زیات راوپارېده او سخت غوسه شو ... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو ته د نحر یا ( حلالې ) ، د سر خریيلو او له احرام څخه د ځان د حلالولو امر وکړ ....مسلمانا ن لا مکې ته نه وو داخل شوي ... هیچا دا کار ونه کړ ... رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېر خپګان د ام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلمه رضی الله عنها خیمې ته ننوت ، او ټوله کیسه یې ورته بیان کړه . ام سلمه رضی الله عنها ورته مشوره وکړه چې سر خریبونکی راوغواړي او دخلکو مخامخ دې سر وخریي .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسې وکړه .. کله چې صحابه کرامو دا کارولیده ، ټولو سرونه وخریبل او له احرام یې ځانونه حلال کړل ... رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې کار ډیر زیات خوشال شو ... دا هغه مشوره وه چې ټول مسلمانان دې ته اړ شول چې له عواطفو تېر او له عقلونو کار واخلي ... مسلمانان په دې پوه شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې سوله وکړه چې ، دښمنان یې خپله دېته اړ کړل چې ددوی په حق اعتراف وکړي ... حافظ ابن حجر په خپل کتاب ( الاصابة فی معرفة الصحابه ) کې د ام سلمه رضی الله عنها په اړه داسې لیکي :

(( ام سلمه رضی الله عنها په ډیره ښکلا ، غښتلي عقل ، او پیاوړي نظر باندې مشهوره وه .. کله یې چې د حدیبیې د سولې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مشوره ورکړه ، دا یې په غښتلي فکر او پیاوړي نظر باندې دلالت کوي . ))

ام سلمه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ډیرو غزاګانو او مهمو پېښو کې ملګرې وه .. نوموړې ورسره د خیبر په غزا ، د مکې په فتحه او د طائف په کلابندۍ کې ملګرې وه ..

ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له نورو مېرمنو سره یوځای د هجرت په لسم کال په ( حجة الوداع ) کې هم ملګرې وه . ..

ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته تر ډېرې مودې ژوندۍ وه .. نوموړې همدا راز د ځینو هغو فتنو شاهده هم وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته رامنځته شوې .... خو په دې فتنو کې یې د هیڅ پلوي نه وه کړې ..... ام سلمه رضی الله عنها به په هیڅ داسې پېښو کې برخه نه اخیسته او داسې به یې ویل :

(( الله ددې امت ملګری دی !! قسم په الله که زه روانه شم او راته وویل شي چې ( فردوس ) ته ننوځه ، زه به وشرمېږم چې په داسې حال کې له محمد صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شم چې پرده راڅخه پورته شوې وي ... ))

ام سلمه رضی الله عنها د بنوامیة د خلافت تر دوران پورې ژوندۍ وه ... او ویل کیږي چې نوموړې د هجرت په ۶۱ کال د حسین رضی الله عنه له شهادت وروسته وفات شوه ... .نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستۍ مېرمن وه چې وفات شوه .. په مدینه منوره کې وفات شوه ، او ابوهریره رضی الله عنه پرې جنازه وکړه ، او بیا په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زینب بنت خزیمه رضی الله عنها

پاکه او تقواداره مېرمن ، د پیغمبر علیه السلام په کور کې راوځلېده ، بیا ډېره ژر په داسې حال کې له صحنې ووته چې په اړه یې هیڅ پېښې پرې نه ښودې ... ددوه میندو ماناوې ورکې پرتې وې ... هغه هم ( ام المؤمنین ) وه ، او هم ( **ام المساکین** ) . دا مېرمن ( **زینب بنت خزیمة رضی الله عنها** ) نومیږي .

نوموړې ( **زینب بنت خزیمة بن الحارث بن عبدمناف بن هلال بن عامر بن صعصعة الهلالیة** ) نومیږي . زینب بنت خزیمة رضی الله عنها د یو شهید مېرمن وه ... دا د هغو کونډو په ډله کې وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پر کونډتوب باندې د زړه سواندی او رحم لاس راښکلی وو .. ...

د زینب بنت خزیمة رضی الله عنها د سیرت په اړه مختلف تاریخي روایتونه راغلي دي ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو مېرمنو په خلاف ، دا روایتونه یو بل سره ډېر توپیر لري .. ددې په اړه دا اختلافات هم موجود دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندې یې د خاوند نوم څه وو ؟؟ ... ځینې سرچینې وایې چې ، نوموړې د عبدالله بن جحش مېرمن وه . دا هغه صحابي وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لومړی سریې ( غزا ) لپآره د امیر په توګه ټاکلی وو . خو ځینې نورې سرچینې بیا ټینګار کوي چې نوموړې د طفیل بن حارث بن عبدالمطلب مېرمن وه . د هغه له مړینې وروسته ورسره بیا دهغه ورور عبیدة بن حارث بن عبدالمطلب واده وکړ ... دا هغه صحابي وو چې د بدر په غزا کې شهید شو .. او ځینې نور بیا وایې چې ، د نوموړې خاوند د احدا په غزا کې شهید شوی وو . رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان لپاره وغوښته ، هغې ورسره موافقه وکړه او بیا یې واده وکړ ..

د ابن هشام په ( السیرة النبویة ) کتاب کې راغلي چې ، له نوموړې سره خپل د تره ځوی ( قبیصة بن عمرو الهلالي ) واده وکړ . او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته څلور سوه درهمه مهر ورکړ .. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت د دریم کال په وروستیو کې ، د عمر رضی الله عنه له لور حفصې رضی الله عنها سره له واده وروسته واده وکړ . او دا چې د زینب بنت خزیمه رضی الله عنها د سیرت په اړه روایتونه ډېر مختلف دي ، لامل یې همدا دی چې نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې ډېره کمه موده تېره کړې ده . دسیرت پوهان په دې نه دي توانېدلي چې دهغې ژوند بشپړ وڅاري .. او نه یې په اړه ډېر روایتونه راغلي دي .. خو دا ددې مانا نه لري چې نوموړې مېرمن د ډېر ارزښت خاونده نه ده ، دهغې همدا سیرت او تاریخ هم بس دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن او ام المؤمنین ده . . .

زینب بنت خزیمة رضی الله عنها په ( ام المساکین ) لقب باندې شهرت لري ... نوموړې ځکه په دې نوم یادیږي چې ، هغې به مسکینانو ته ډېر خواړه ورکول ، پر هغوی به یې پام کاوه او ډېره نرمي به یې ورسره کوله ... .. زهري فرمایې :

رسول الله صلی الله علیه وسلم له زینب بنت خزیمة سره واده وکړ ... دا په ام المساکین باندې یادېده .. هغې له فقیرانو سره ډېره مرسته کوله .. ځکه په دې نوم یاده شوه .. نوموړې د بنوعامر بن صعصعه له کورنۍ څخه ده ..

زینب بنت خزیمة د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې څو میاشتې تېرې کړې ... دا موده د درې او اته میاشتو په منځ کې ده .. خو دا یقیني ده چې ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې یې بشپړ کال نه دی تېر کړی ... له واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو میاشتې وروسته ډېره سخته ناروغه شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې تل پوښتنه کوله ، تسلیت به یې ورکاوه او پام به یې پرې کاوه . رسول االله صلی الله علیه وسلم په خپله کورنۍ باندې په پام او نرمۍ باندې مشهور وو .. تل به یې په ښځو باندې د نرمي کولو امر کاوه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرګ تر شېبې د زینب بنت خزیمه رضی الله عنها ساتنه او پالنه کوله . نوموړې د ځوانۍ په عمر په دېرش کلنۍ کې وفات شوه .. زینب بنت خزیمه رضی الله عنه له خدیجې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم دویمه مېرمن وه چې د هغه پر ژوند وفات کیږي . نوموړې په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جویریة بنت الحارث رضی الله عنها

له تلفاتو او اغیزو ډکه غزا وه ... مسلمانانو ورکې لویه بریا ترلاسه کړه ... په دې غزا کې د هغوی د مشر لور ونیول شوه او خاوند یې ورکې وفات شو .. ددې ترڅنګ ډېر نارینه هم بندیان شول ... خو د بدلون هغه کیسه چې اسلام ددې نیولې شوې مېرمن په ژوند کې رامنځته کړه ، له هر ډول شونتیاوو ستره وه .... دا مېرمن د بندیتوب له پیغوره خلاصه او خپل قوم یې له بنده خوشې کړ ... او تر ټولو ستره خبره خو دا وه چې ، الله تعالی ورته دا ویاړ ورپه برخه کړ چې د ستر انسان محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند ملګرې شوه .. ( جویریة بنت الحارث ) د ( بنو المصطلق ) سرداره او د مؤمنانو له میندو وګرځېده ...

بنو المصطلق د بنو الخزاعه یو ټبر وو ، دا یو له هغو قومونو څخه وو چې د اسلام پر ضد یې پاڅون کړی وو ، او د شرک او بت پرستۍ لپاره یې مبارزې کولې ..... په مدینه منوره کې د مسلمانانو پرله پسې بریاوو دوی راپارول او ډېر زیات یې احساساتي کړل ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وړتیا یې په زړه نه ځاییده چې دښمنان به یې ځپل او د مسلمانانو پر ضد به یې دهغوی دسیسې شنډولې او له ماتې سره به یې مخامخ کولې . هماغه وو چې د هجرت په پنځم کال یې پریکړه وکړه چې د خپل مشر ( الحارث بن ابی ضرار بن حبیب الخزاعي ) تر مشرۍ لاندې په مدینه منوره باندې حمله وکړي ... دوی په دې فکر وو چې د اسلام دعوت به له ماتې سره مخ کړي ، او دولت به یې له منځه یوسي ... . خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مالومات راورسېدل چې بنو المصطلق پلان لري چې پر مسلمانانو حمله وکړي . سملاسي یې پریکړه وکړه چې وړاندې تر دې چې هغوی د مسلمانانو پر کورونو حمله وکړي ، دوی باید پرهغوی حمله وکړي او مخه یې ونیسي .... د بنوالمصطلق په سیمه کې د هغوی اوبو له ځای سره نږدې د ( المریسیع ) په سیمه کې د مسلمانانو او بنوالمصطلق ترمنځ جګړه ونښته ... په دې غزا کې الله جل جلاله مسلمانانو ته ستره بریا ورکړه ، او بنوالمصطلق یې له شرموونکې ماتې سره مخامخ کړل ، چې په ترڅ کې یې ګڼ نارینه او ښځې بندیان شول .. ... د بندي شویو مېرمنو په کتار کې د دې قوم د مشر لور ( برة بنت الحارث ) هم وه . نوموړې مېرمن د ثابت بن قیس الانصاري رضی الله عنه په لاس ورغله . . که څه هم د اسلام سپېڅلي دین د غلامانو او وینځو سره د رویې او چلند لپاره هغه غوره اخلاق او بنسټونه ټاکلي، چې په بل دین کې یې ساری نه لیدل کیږي ، خو بیا هم دا مېرمن چې د یو قومي مشر او سردار لور وه ، نه یې شول زغملی چې د وینځتوب ژوند وکړي .... هماغه وو چې له خپل مالک سره یې تړون ولیکه چې د مال په بدل کې به یې خوشې کوي ... . خو کله چې ثابت بن قیس رضی الله عنه پوه شو چې نوموړې د دښمن د قومي مشر لور ده ، د دومره مال غوښتنه یې وکړه چې دهغوی له وسې پورته وو . خو ( برة بنت الحارث ) پریکړه وکړه چې د وینځتوب له ژونده ځان خلاص کړي او مال ورته پیدا کړي .... له ډېر فکر او ځان سره له مشورو وروسته دې پایلې ته ورسېده چې ، په دې برخه کې ورسره له رسول الله صلی الله علیه وسلم پرته بل هیڅوک مرسته نه شي کولی ، ځکه هغه پوهیده چې محمد صلی الله علیه وسلم هغه انسان دی چې ، د مدینې خلک یې له کمزورتیا راوویستل او تر هرچا یې غښتلي کړل . . . کله چې نوموړې مدینې منورې ته راورسیده ، او د جګړې له ستړیاوو وروسته دمه شوه ، سمدلاسه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغله .. . کله چې ( برة بنت الحارث ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغله ، نوموړې د عائشې رضی الله عنها په خونه کې وو . . کله چې عائشې رضی الله عنها د ( برة بنت الحارث ) ښکلا ولیده ، ورخطا شوه ، او اراده یې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې له ورننوتلو مخه ونیسي .. .. خو غمځپلې مېرمنې ټینګار وکړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وګوري .... له لیدو وروسته یې ورته ټوله کیسه داسې بیان کړه :

(( ای دالله رسوله ! زه د بنوالمصطلق د قوم د مشر لور ( برة بنت الحارث ) یم .. او تاسو ته مالومه ده چې په تېره جګړه کې موږ له سخت مصیبت سره مخامخ شو ... .. خاوند مې وفات شو ، او زه د ثابت بن قیس په لاس بندي شوم ... هغه یو ښه انسان دی .. ماته یې هیڅ زیان نه دی رسولی .... ما ورسره تړون هم کړی چې د مال په مقابل کې به مې خوشې کوي ... کله چې هغه زما له حالته خبر شو ، د فدیې مبلغ یې راته پورته کړ او د زیات مال غوښتنه یې راڅخه وکړه .... خو زه دومره مال نه لرم ... .. زه تاته راغلم ، او د ځان په خوشې کولو کې له تا مرسته غواړم ... ))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه د قومي مشر پر لور وسوځېده ... کله چې ورته نوموړې ښځې د خپل حالت څخه شکایت وکړ ، او دا یې ورته روښانه کړه چې د وینځتوب ژوند نه شي زغملی ، او په دې برخه کې یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرستې غوښتنه وکړه ، او د پخوانۍ آزادۍ آرمان یې وښود .. ددې لپاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې درد راکم کړي ، ورته یې وویل :

آیا له دې درته غوره شته ؟

په ډېرې حیرانتیا او بیړه یې پوښتنه وکړه :

دالله رسوله څه وایاست ؟

ویې فرمایل :

(( ستا تړون به پوره کړم ، او واده به درسره وکړم .. ))

ددې خبرې په اوریدو سره یې پر مخ د خوشالۍ نښې ښکاره شوې ... او په ډېرې خوشالۍ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل :

(( هو د الله رسوله ! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ( برة بنت الحارث ) سره واده وکړ ، دا چې د ( برة ) کلمې مانا مناسبه نه وه ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې بیا ( جویریة ) نوم کېښود . ...

کله چې په مدینه منوره کې خلک د جویریة رضی الله عنها او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له واده خبر شول ، سمدلاسه یې ټول هغه بندیان او وینځې خوشې کړل چې د بنو المصطلق په غزا کې یې نیولي وو ، او ویې ویل :

(( د رسول الله صلی الله علیه وسلم زومان ، هیڅکله غلامان نه شي پاتې کیدای !! ))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې واده له برکته د بنوالمصطلق د قوم دنږدې سلو کورونو بندیان خوشې شول . ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو له بل پلوه د ( برة ) پلار د لور بند نه شو زغملی .... سمدلاسه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی ، ترڅو ترې خپله لور راخوشې کړي او فدیه یې اداء کړي ... ځان سره یې ګڼ اوښان او پسونه مدینې ته روان کړي وو ترڅو د خپلې لور فدیه ورکړي ... په دې فدیه کې دوه هغه سپین اوښان وو چې د ( برة ) د پلار ډېر زیات خوښ وو ....زړه یې ونه منله چې دا دوه اوښان هم فدیه کې اداء کړي .. له ځان سره یې پرېکړه وکړه چې دا دوه اوښان به د ( عقیق ) په نوم یوه سیمه کې پټ ساتي .. .. کله چې نوموړی مدینې منورې ته ورسیده ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې ولیده ، هغه یې ډېر احترام وکړ .... دومره احترام یې وکړ چې ټوله تېره دښمني یې ترې هېره کړه ... حارث ورته وویل :

ای محمده !! زما لور مو نیولې ... او دا یې فدیه ده .. زما لور باید وینځه نه شي ، هغه راخوشې کړئ !!

کله چې حارث د خپلې لور د خوشې کېدو په مقابل کې د فدیې وړاندیز وکړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه :

(( هغه دوه اوښان دې څنګه کړل چې په ( عقیق ) کې دې پټ کړي دي ؟

دې پوښتنې حارث ډېر زیات ورخطا او حیران کړ . . . !! له حیرانتیا یې لاره ورکه کړه !!! سمدلاسه یې غږ وکړ چې :

ګواهي ورکوم چې ته په رښتیا دالله رسول یې !!! .. له الله پرته له دې هیڅوک نه وو خبر !!!

بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم د لور کیسه وکړه او له دې یې خبر کړه چې هغې سره یې واده کړی ... هغې ته یې اختیار ورکړ ، جویریې رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پاتې کیدل انتخاب کړل او ویې ویل :

(( زه الله او رسول غواړم ))

هغه پلار چې د لور د خلاصون لپاره یې فدیه راوړې وه ، ایمان یې زړه ته لاره پیدا کړه ... حارث د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلوۍ ویاړ له ځان سره وړې ... په دې سره د بنوالمصطلق ټول قوم په اسلام کې داخل شول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلوۍ ډېر خوشال شول ... .

جویریة بنت الحارث رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې اوسیده ، او تل به یې هغه شپېه له برکته ډکه ګڼله چې د لومړي ځل لپاره ورکې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شوې وه .... دا هغه شپېه وه چې ځان یې ورکې له پیغوره ، او خپل ټول قوم یې له بنده خلاص کړی وو .. په همدې شپېه کې یې دا ویاړ ترلاسه کړ چې د بشریت لارښود محمد صلی الله علیه وسلم سره یې واده وکړ ...

عائشه رضی الله عنها راته د جویریة بنت الحارث رضی الله عنها کره وصف داسې بیانوي :

(( هغه ډېره ښکلې او خوږه مېرمن وه .. هرچا چې لیدلې ،خوښه شوې یې ده .. نوموړې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او مرسته یې ترې وغوښته ... .. قسم په الله ، څنګه مې چې د خونې له دروازې سره ولیده ، غوسه راغله .. او پوه شوم چې زما په څېر به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم ښکلې ښکاره شي ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې په ښکلا نه وه خوښه شوې ، بلکې دهغې هغه ټینګ عزم یې خوښ شوه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مرسته وغوښته او د وینځتوب له ژونده یې کر که وښوده ..

له جویریې رضی الله عنها سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم واده ، له نرمۍ ، مرستې او لاس ورکولو له ماناوو ډک وو ، خپل امت ته یې د دښمنۍ د لاملونو د له منځه وړلو لارښوونه او د یوې ښکلې او پاکې ټولنې د رامنځته کولو لارښوونه وکړه . له نوموړې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم واده ، د مدینې منورې خلک دې ته وهڅول چې د بنو المصطلق د قوم ټول بندیان نارینه او ښځې خوشې کړي ... دې کار د مسلمانانو هغه دښمنان چې د اسلام د له منځه وړلو لپاره یې مبارزه پیل کړې وه ، داسلام د دفاع لپاره یې متې راونغاړلې ، او د اسلام په سپیڅلي دین کې یې ورته د نرمۍ ، عدالت او انصاف درس ورکړ .... د همدې خپلوۍ لامله ټول دالله په دین کې ډلې ډلې داخل شول ..

جویریة بنت الحارث رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې واوسیده ، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې د تقوا او پرهیز ګارۍ پیغامونه زده کړل ... له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې ګڼ احادیث روایت کړل چې د حدیثونو په شپږو سترو کتابونو کې هم راغلي ... نوموړې د معاویة بن ابی سفیان تر خلافته ژوندۍ وه .. او د هجرت په ۵۶ کال په مدینه منوره کې د اویا کلنۍ په عمر کې وفات شوه . د مدینې منورې امیر ( مروان بن الحکم ) پرې د جنازې لمونځ اداء کړ ... د جویریة رضی الله عنها همدا ویاړ بس دی چې د سیرت او تاریخ کتابونو کې یې په اړه داسې لیکل شوي دي :

(( تر جویریة بنت الحارث رضی الله عنها په خپل قوم باندې بر کتي ښځه نشته . ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها

دا ښځه په مکه مکرمه کې زیږیدلې ، هملته اوسیدلې ، په مکه کې وفات شوې او په همدې ځای کې خاورو ته سپارل شوې ... عمر یې هم تر سلو کلونو اوښتي وو .. دا ښځه د خپل وخت په ښځو کې تر ټولو مشهور لقب باندې یادېده ... دداسې لقب خاونده وه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هجرت پورې تړاو لري ... دا هغه ښځه وه چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګری ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د هجرت پر مهال له قریشو پټ شوي وو او دې یې خدمت کاوه ... دا هغه مېرمن وه چې پړونی یې دوه ټوټې کړی وو او هغوی ته به یې خوراک او څښاک وروړلو او په دې ټوټو به یې تړلو .. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته زیری ورکړی وو چې ، الله جل جلاله به ورته ددې پړوني پر ځای په جنت کې دوه پړوني ورکوي ... دا مېرمن په ( ذات النطاقین ) مشهوره وه .. او ( اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها ) نومېده .

د اسماء بشپړ نوم ( اسماء بنت ابی بکر عبدالله بن ابی قحافة بن عامر بن عمرو بن تیم ) وو .... نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د نسب له مخې په پنځم نیکه ( مرة بن کعب ) کې یوځای کیږي ... د اسماء مور ، ( قتیلة بنت عبدالعزی بن اسعد .. له قریشو څخه او د بنوعامر بن لؤی له کورنۍ څخه وه .. دا مېرمن له اسلام وړاندې ابوبکر الصدیق رضی الله عنه طلاقه کړې وه او په بانډه کې اوسیده . ... اسماء رضی الله عنها له بعثت څو کلونه وړاندې زیږېدلې وه . نوموړې په ماشومتوب کې مسلمانه شوې وه ، ابن اسحاق وایې چې ، اسماء رضی الله عنها له اوولس کسانو وروسته مسلمانه شوې ده .. دا په داسې حال کې ده چې د اسماء مور ( قتیلة بنت عبدالعزی ) دا مهال مشرکه وه .. .. اسماء رضی الله عنها له خپلې مورسره د ښې رویې ، احترام او ادب داسې کیسه لري چې ټولو مسلمانانو ته د احترام او پلار او مور سره د نیکۍ درسونه ورکوي .

یوه ورځ د اسماء مور خپلې لور ته راغله ، اسماء نه غوښتل چې مور یې کور ته ورننوځي ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړه ترڅو په دې اړه له هغه پوښتنه وکړي ، ورته یې وویل :

ای دالله رسوله ! مور مې غوښتل ماته راشي .. ایا اړیکې ورسره وساتم ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

هو ، مور سره دې اړیکې مه پرې کوه !!

کله یې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا واورېده ، د ننوتلو اجازه یې ورکړه ، او دهغې ډالۍ یې قبوله کړه ...

له بعثت پنځه کاله وړاندې ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور ځوی زبیر بن العوام رضی الله عنه په اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها باندې مرکه وکړه ... زبیر بن العوام خپل پلار ته د اسماء رضی الله عنها یادونه کړې وه ... بیا یې له کمزورو مسلمانانو سره حبشې ته هجرت وکړ .. دامهال له زبیر بن العوام رضی الله عنه له اسماء رضی الله عنها نه وو یوځای شوی ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغو کسانو ته چې د هجرت هوډ یې درلود ، امر کړی وو چې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې هم له ځانونو سره ملګرې کړي ... اسماء رضی الله عنها له روسول الله صلی الله علیه وسلم روایت کوي ، وایې : کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لور رقیة خاوند عثمان بن عفان رضی الله عنهما د هجرت اراده وکړه ، ورته یې وفرمایل :

(( عثمانه آیاد هجرت هوډ دې کړی ؟.. که ځې نو په حبشه کې یو سړي ته لاړ شه ...( له سړي یې مطلب نجاشي وو ) .. ځکه هغه ډېر وفادار دی .. رقیة هم درسره بوځه او دلته یې مه پرېږده !!! او نور مسلمانان چې ستا په څېر اراده لري ، هغوی دې هم هلته لاړ شي ... ښځې دې هم له ځانونو سره ملګرې کړي او یوازې دې نه پرېږدي ... !! ))

زبیر بن العوام رضی الله عنه ځکه خپله مېرمن حبشې ته له ځان سره ملګرې نه کړه ، ځکه دا مهال یې لا واده نه وو کړی ... نوموړي په یوازې ځان هجرت کړی وو او هلته له نورو مهاجرینو سره پاتې شوی وو .. کله چې زبیر بن العوام په مکه مکرمه کې د ځینو کسانو له اسلامه خبر شو ، لکه د عمر بن الخطاب رضی الله عنه او د حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه ، د زبیر په ګډون ځینو نورو مسلمانانو د سمندر پر لور حرکت وکړ او هوډ یې وکړ چې مکې ته راستانه شي ... کله چې زبیر بن العوام په مکه کې څه موده تېره کړه ، بیا یې اسماء رضی الله عنها دهغې پلار ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ته یاده کړه .. . هماغه وو چې مدینې منورې ته یې له هجرت وړاندې واده وکړ ....

د مهاجرینو ډلې ډلې له مکې څخه مدینې منورې ته روانې شوې ، دوی په مدینه منوره کې د اسلامي دعوت لپاره غښتلې کلا جوړه کړه او له همدې ځایه یې د اسلامي دعوت لړۍ لا پراخه کړه ... زبیر بن العوام رضی الله عنه هم مدینې منورې ته هجرت وکړ ، او خپله مېرمن اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها یې حامله په مکه مکرمه کې پرېښوده .. خو اسماء رضی الله عنها یوازې ددې منتظره نه وه چې خپل خاوند سره به یوځای شي ، بلکې د هجرت په تاریخ کې یې مهم رول ثبت کړ .... اسماء رضی الله عنها خپل مهم رول هغه وخت ثابت کړ چې ، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه ملګری ابوبکر الصدیق رضی الله عنه له مکې مدینې ته هجرت کاو او له قریشو په غار ثور کې پټ شوي وو .. . دې هجرت ته الله جل جلاله په خپل کتاب قرآن کریم کې هم اشاره کړې :

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثَانِىَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِىَ ٱلْعُلْيَا ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾

کله چې محمد صلی الله علیه وسلم او ابوبکر رضی الله عنه له غار څخه مدینې منورې ته هجرت کاو ه ، اسماء رضی الله عنها د سفر توښه ، خوراک او څښاک تیار کړی وو ... کله یې چې خوراک او څښاک تیار کړل ددې د تړلو لپاره یې ټوټه هېره کړې وه... هغه اړ وه چې خواړه په یوڅه باندې غوټه کړي ... ددې ستونزې د حل لپاره یې خپل پړونی وشکاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ټوټې یې کړ ... په یوه ټوټه یې خواړه او په بله برخه یې د اوبو لوښی وتاړه .. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې حالت ته موسکی شو او ویې ویل :

(( الله جل جلاله به در ته ددې پړوني پرځای ، په جنت کې دوه پړوني در کړي !! )) ..

له همدې مهاله راهیسې اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها په ( ذات النطاقین ) باندې مشهوره شوه .

اسماء رضی الله عنها د هجرت په کیسه کې نور رولونه هم لوبولي چې خپله یې روایت کړي .... هغه فرمایې :

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووت ، د ابوجهل بن هشام په ګډون د قریشو څه کسان راغلل ، ټول د ابوبکر رضی الله عنه دروازې ته ودرېدل ، نو زه ورته راووتلم .... ویې ویل :

د ابوبکر لورې پلار دې څه شو ؟

اسماء وویل :

قسم په الله خبره نه یم چې پلار مې چېرته دی ؟

ابوجهل ډېر خبیث او فاحش انسان وو ، لاس یې راباندې پورته کړ او زه یې په مخ باندې په تېزه څپېړه ووهلم .. بیا لاړل ...

درې شپې تېرې شو ، خو موږ خبر نه وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به چیرته وي ... بیا خبر شو چې مدینې منورې ته روان شوی ، زما پلار او عامر بن ابی فهیره هم ورسره دي ، او عبدالله بن اریقط ورته د هجرت لاره ښودله ...

اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها د پلار په نشتوالي کې د قریشو د مشرکینو ډېر ظلمونه وزغمل ... هغه فرمایې : کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او زما پلار ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ووتل ، ابوبکر ټول مال له ځان سره وړی وو .. د اسماء رضی الله عنها نیکه ابوقحافة چې ړوند هم وو ، د اسماء کور ته ورغی . او ویې ویل :

(( ابوبکر تاسو په خپل تګ او د مال په وړلو سره په مصیبت کې اچولي یاست ))

اسماء ورته وویل :

(( نه پلاره ، هغه راته ډېر خیر پرېښی دی )) هغه زیاتوي :

(( ما تیږې راواخیستې او په هغه خالي ځای کې مې کېښودې ، چې زما پلار به ور کې مال کېښود .. بیا مې پر هغې باندې څادر خپور کړ ، بیا مې د خپل نیکه لاس ونیوه او ورته مې وویل :

ای پلاره ! په دې مال باندې لاس کېږده !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس يې پرې کېښود او بيا يې وويل چې : سمه ده !!! که دا مال يې درته پرېښی وي ، نو بيا يې ښه کړي دي !! دا درته بسنه کوي !!

ابوبکر رضی الله عنه چې کله هجرت کاوه ، خپلې کورنۍ ته يې هيڅ مال نه وو پرېښی ... خو اسماء رضی الله عنها غوښتل چې خپل نيکه خوشاله کړي ، ترڅو خپل ځوی ته غوسه نه شي ... همدا راز په دې کار سره يې خپل قناعت هم ثابت کړ او دا يې وښوده چې دوی دالله په لاره کې د جهاد لپاره هر ډول ځاني او مالي قربانيو ته تيار دي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل ملگري ابوبکر الصديق رضی الله عنه سره يوځای مدينې منورې ته رسيږي ... بيا يې زيد بن حارثه او خپل خادم ابورافع مکې مکرمې ته ليږي .. له بل پلوه ابوبکر رضی الله عنه عبدالله بن اريقط وليږه او خپل ځوی عبدالله بن ابی بکر رضی الله عنه ته يې ليک وليږه او ورته يې وويل چې ټوله کورنۍ له ځان سره راولي .. .. کله چې دوی مکې مکرمې ته ورسيدل ، اسماء رضی الله عنها له خپلې خور عائشې رضی الله عنها او دخپلې مور ام رومان رضی الله عنها سره يوځای ټول مدينې منورې ته راروان شول ... .. لکه څنگه چې يادونه وشوه ، دا مهال اسماء رضی الله عنها حامله وه... له رسيدو سره يې عبدالله ځوی وزيږاوه ... نوموړی لومړی ماشوم وو چې په اسلام کې له هجرت وروسته وزيږېده .. اسماء رضی الله عنها د خپل ځوی عبدالله د زوکړې کيسه داسې بيانوي :

زه چې کله له مکې راووتلم دحمل مياشتې مې بشپړې کړې وې ... مدينې منورې ته راورسيدم او له قباء سره نږدې مې ماشوم وزيږاوه .. بيا مې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوړ ، هغه واخيسته او په خپله غېږه کې يې کښېناوه ، بيا يې خرما راوغوښته او ويې ژوله ، او د ماشوم په خوله کې يې کېښوده ... .. لومړی شی چې د عبدالله خولې ته ننوت ، هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم لاړې وې ... بيا يې خرما ورته په اوريو ومومږله او د برکت دعاء يې ورته وکړه .. عبدالله نوم يې پرې کېښود .. او دا په مدينه منوره کې د مهاجرينو لومړی زيږېدلی ماشوم وو ... ټول خلک پرې ډېر زيات خوشال شول .. ځکه دوی ته ويل شوي وو ... چې يهوديانو پرې جادو کړی ، او ماشومان به يې نه پيدا کيږي ...

اسماء رضی الله عنها په مدينه منوره کې له خپل خاوند زبير سره اوسيده ... د ( عروه ، منذر ، عاصم او مهاجر ) په نومونو يې زامن يې پيدا شول .. او د ( عائشه ، ام الحسن او خديجه ) په نومونو يې لوڼې يې وزېږولې ..

د ژوند په لومړيو کې دوی له ډېر فقر او بې وزلۍ سره مخامخ وو ، بيا وروباندې الله تعالی انعام وکړ او ډېر مال يې ورته ورکړ . همدا راز اسماء رضی الله عنها د خپل خاوند غيرت هم زغملو ، نوموړې دخپل خاوند د غيرت يوه کيسه داسې بيانوي :

په داسې حال کې راسره زبير واده وکړ چې ، هيڅ مال او غلام يې نه درلود .. له آس پرته يې هيڅ نه لرل .. مابه يې آس ته خواړه ورکول او اړتيا به مې ورته پوره کوله ، آس ته به مې دانه ميده کوله او واښه به مې ورته تيارول ، اوبه مې ورکولې او د اوبو ورکولو لپاره به مې ورته بوکې جوړولې . وړه به مې ورته اغږل .. خو ما ښه پخلی نه شو کولی ... د انصارو مېرمنې چې له صداقت او رښتونولۍ ډکې وې ، هغوی به راته پخلی کاوه ... هغه ځمکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ټاکلې وه ، ما به ورته له هغه ځايه دانې راوړلې، دا ځمکه زموږ له کوره شپږ ميله ليرې وه... يوه ورځ مې دانې په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وې ، چې راورسیدم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ځینې صحابه کرام هم ناست وو او ورسره مخامخ شوم ... ماته یې دعاء وکړه او ویې ویل :

ودریږه ودریږه ! غوښتل یې راسره واخلي .. ..

زه وشرمېدم چې له نارینه وو سره یوځای روانه شم ، د زبیر غیرت راته مخې ته ودرېده ... ځکه هغه ډېر غیرتي انسان وو ... رسول الله صلی الله علیه وسلم پوه شو چې زه وشرمېدم ، بیر ته ستون شو ... بیا ابوبکر ما پسې خپله خادمه راولیږله ، هغې څخه آس واخیست ، دمه یې راکړه ، داسې احساس مې وکړ لکه له بنده چې خلاصه شوې یم ...

خو الله جل جلاله د اسماء د سختیو ، فقر او بې وزلۍ ژوند په شتمنۍ او مالدارۍ باندې بدل کړ ... الله جل جلاله فاتحو مسلمانانو ته ډېر غنیمتونه په لاس ورکړل ... د اسماء رضی الله عنها خاوند به چې هر هیواد کې بریا لاسته راوړله ، هلته به یې ځمکه او د اوسیدو لپاره کور درلود .. خو په زبیر رضی الله عنها باندې د عمر له تېریدو سره یې ، د غیرت اغیزه پر اسماء راپه کمېدو شوه .. خو بیا هم ورکې د غیرت ځینې تیزوالی پاتې وو ... کله کله خو به آسماء رضی الله عنها له دې تېز غیر ته خپل پلار ته شکایت هم کاوه ... ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ور ته وویل :

ای لورې ! صبر وکړه !

کومه مېرمن چې نېک خاوند ولري ، هغه وفات شي او وروسته ترې بل خاوند سره واده ونکړي ، الله جل جلاله به یې ورسره په جنت کې یوځای کړي !!

اسماء رضی الله عنها دعمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت تر پایه د صبر شپې تېرې کړې ... ددوی ترمنځ اختلافات خپل اوج ته ورسېدل ، او د اسماء او زبیر رضی الله عنهما تر منځ د یوځای ژوند تېرول ناشونې شول .. هماغه وو چې دا اختلافات په طلاق پای ته ورسېدل . هوکړه یې وکړه چې زبیر به خپل کشر ځوی ( عروه ) اخلي ، او اسماء رضی الله عنها به له خپلو نورو زامنو سره اوسیږي .. ...

د اسماء رضی الله عنها خاوند د علي رضی الله عنه په خلافت کې د لمانځه پر مهال د یو غلام له لاسه په شهادت ورسیده .. خو اسماء رضی الله عنها هم دهغه له شهادت وروسته بل خاوند سره واده ونکړ ... .. قاتل امام علي رضی الله عنه ته تېز ځان راورسولو ترڅو ور ته د زبیر د وژلو زېری ورکړي .... او توره یې ور ته مخامخ کېښوده .... هغه یې له خپلې مخې وشاړه او غبر یې وکړ :

(( د ابن صفیه قاتل ته د اور زیری ورکړه !!! ))

اسماء رضی الله عنها پاتې عمر په مکه مکرمه کې له خپل ځوی عبدالله بن الزبیر سره تېر کړ .. نوموړې د فتنو له هغو پېښو لیرې وه چې د عثمان بن عفان رضی الله عنه له شهادت وروسته راپیل شوې .. اسماء رضی الله عنها د بنوامیة تر خلافته له دې توپاني پېښو څخه لیرې وه او هیڅ مداخله یې ورکې نه کوله.. کله چې د هجرت په ۶۴ کال کې ، د یزید بن معاویة له مړینې وروسته ، د عراق خلکو دهغې ځوی عبدالله بن الزبیر سره د خلیفه په توګه بیعت وکړ ، د اسماء

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضی الله عنها رول بیا راښکاره شو ... په دې بیعت کې یې د مصر ، حجاز ، یمن او د خراسان خلکو پلوي کړې وه . عبدالله بن الزبیر د خلافت پلازمېنه مکې مکرمې ته انتقال کړه .. او د امویانو امیر مروان بن الحکم یې له مکې مکرمې وشاړه .. د شام پر لور لاړ ، او هلته د مسلمانانو خلیفه شو .. بیا یې پرځای دهغه ځوی ، عبدالملک بن مروان د خلیفه په توګه وټاکل شو ، هغه د عبدالله بن الزبیر د خلافت د له منځه وړلو پرېکړه وکړه ... هماغه وو چې ( حجاج بن یوسف الثقفي ) یې ولیږه او مصعب بن الزبیر یې وواژه .. نوموړی د عبدالله بن الزبیر ورور وو او په عراق کې یې د والي په توګه ګومارلی وو . دا هیوادونه یې د اموي واک تر ولکې لاندې راوستل ... کله یې چې په عراق کې برياوې لاسته راوړې ، د هجرت د ۷۲ کال په وروستیو کې ورته عبدالملک بن مروان امر وکړ چې له ستر لښکر سره مکې مکرمې ته لاړ شي ... حجاج بن یوسف له خپلو لښکرو سره د مکې حرم ته ننوتل ، او اته میاشتې یې عبدالله بن الزبیر او دهغه پلویان محاصره کړل ... د ( ابو قبیس ) په غره باندې یې منجنیق نصب کړ او په حرم باندې یې ګوزارونه پیل کړل ... خلک ډېر زیات خپه او له دې محاصرې ډېر تنګ شول .... او له عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه یې اجازه وغوښته چې له حجاج بن یوسف څخه د امان غوښتنه وکړي ..... هغه ورته له اجازې ورکولو بله لاره نه لرله .. ددې کسانو په جمله کې د عبدالله بن الزبیر د ( حمزه او خبیب ) په نومونو هغه دوه زامن هم موجود وو چې له خپل پلار څخه جلا شوي وو او حجاج ورته امان ور کړی وو ..

اسماء رضی الله عنها له خپل ځوی عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه سره د محاصرې ټولې ستونزې او تکلیفونه وګالل .. اسماء رضی الله عنها دامهال له سلو کلونو اوښتې وه ، عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه سره ډېر کم ملګري پاتې وو ، نوموړی خپلې مور ته ورغی ، او هغې سره یې تاریخي محاوره وکړه ، دا هغه محاوره وه چې د غښتلې مور ایمان او قوي عقیده څرګندوي ... ورته یې وویل :

(( ای مورې !! خلکو پرېښودم ، ان خپل زامن او کورنۍ راڅخه لاړل ... ډېر کم ملګري راسره پاتې دي ، دوی له یو ساعت د زیات صبر وس هم نه لري .. په مقابل کې راته قوم د زیاتې دنیا وړاندیز هم کوي ... ته څه نظر لرې ؟

اسماء رضی الله عنها ورته وویل :

(( قسم په الله ځویه ! ته په خپل ځان ښه پوهیږې ... که پوهیږې چې ته په سمه یې ، نو پرې ودرېږه !! په همدې حق باندې ستا ملګري هم ووژل شول ... او که تا په دې کار دنیا غوښته ، نو بیا ته بدترین انسان یې ... هم دې ځان هلاک کړ او هم دې خپل ملګري هلاک کړل !!! .. او که ته وایې چې زه په حق یم ، او کله مې چې ملګري کمزوري شول ، زه هم کمزوری شوم ... نو دا د آزادو او ددین د خاوندانو کار نه دی . ))

سمدلاسه عبدالله بن الزبیر د خپلې مور سر ښکل کړ او ورته یې وویل :

(( دا زما نظر دی .. خو ما غوښتل چې ستا نظر هم وپوښتم .. زما پوهه دې زیاته کړه ! ته هم پوه شه مورې چې ، زه همدا نن وژل کیږم !! دالله په پریکړه باندې به نه خپه کیږې !!! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله بن الزبیر د خپل غښتلی ایمان او زړورتیا سره خپل تقدیر سره مخامخ شو .... نوموړی په ۷۳ کلنۍ کې ووژل شو .. حجاج بن یوسف یې سر راواخیست او عبدالملک بن مروان ته یې ولیږه .... له دې وروسته حجاج اسماء بنت ابی بکر ته ورغی او ورته یې وویل :

(( دالله دښمن مې چې وواژه تا څه فکر وکړ ؟ ))

په ډېر بلاغت او زړورتیا یې ورته وویل :

(( داسې فکر کوم چې دهغه دنیا دې خرابه کړه ، خو هغه دې آخرت برباد کړ .. .. خبره شوم چې تا به ورته ویل :

( د ذات النطاقین ځویه ) ... قسم په الله زه ( ذات النطاقین ) یم ... یانې ددوه پړونو خاونده ... پر یوه ټوټه به مې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر خواړه تړل ... او بله ټوټه د ښځې هغه پړونی وو چې ښځه ورته تل اړتیا لري ... .. رسول الله صلی الله علیه وسلم راته ویلي وو چې ، په ( ثقیف ) به یو درواغجن او یو قاتل انسان راپیدا کیږي ..... درواغجن خو مو ولیده .. او وینې تویوونکی او قاتل ... همدا ته یې !!! پروا نه کوي چې هغه ته الله جل جلاله ستا په لاس د مرګ ویاړ ورپه برخه کړ ... د ( یحیی بن زکریا ) سر د بنو اسرائیلو لخوا همداسې پرې شوی وو ..

حجاج بن یوسف یوازې په وژنه بسنه ونه کړه ... بلکې امر یې وکړ چې دعبدالله بن الزبیر جثه له سر پرته راوځړوي.. هغه یې ټوټې ټوټې کړ ... اسماء رضی الله عنها یوځل بیا حجاج ته راغله ، او زړه یې د صبر په وینو ټکېدلی وو ... ورته یې وویل :

(( دې قاتل کې به کله سړیتوب پیدا کیږي ؟ !! )) ..

نږدې یوه میاشت وروسته عبدالله بن الزبیر د دار له لرګي راوښکته کړی شو .... .. اسماء رضی الله عنها ورته غسل ورکړ ، کفن یې ورواغوست ، لمونځ یې پرې اداء کړ او بیا یې خاورو ته وسپاره .... ... ډېرې ورځې لا تېرې نه وې چې د عبدالله بن الزبیر صابره مور ، اسماء رضی الله عنها هم وفات شوه ... نوموړې د هجرت په ۷۳ کال کې وفات شوه .. او په مکه مکرمه کې د ( معلاه ) په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه .. .. د اسماء رضی الله عنها د ژوند وروستۍ شېبې له سترو او غمجنو پېښو ډکې وې ... د صبر هغه پېښې یې ثبت کړې چې د اسلام په تاریخ کې به تلپاتې نمونه وي ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام هانئ رضی الله عنها

دا ښځه د قریشو له قبیلې ، او د محمد صلی الله علیه وسلم له پاکې کورنۍ څخه وه . دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره ابوطالب لوره ده ... دا ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو د نږدې تره ځوی ، علي بن ابی طالب رضی الله عنه سکه خور ده ... .. له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې نسبي او دیني تړاو درلود .. دا مېرمن د نبوت د یوې مشهورې کیسې شاهده وه .... د اسراء د کیسې حال یې په ستر ګو لیدلی ... په دې اړه یې فرمایلي :

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسراء په سفر تللو ، هغه زما په کور کې ویده وو . ...

دا مېرمن چې د ( ام هانئ رضی الله عنها ) په نوم یادیږي او د خپل نوم په پرتله یې په دې کنیه ډېر شهرت درلود ، کیسه یې په څه ډول ده ؟ او د نبوت په روښانه او ځلانده وخت کې یې کوم ډول حضور درلود ؟

نوموړې مېرمن ( فاختة بنت ابی طالب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف ) نومیږي .. او ویل کیږي چې ، نوموړې ( عاتکه یا هند ) نومېده .او په دې نومونو خپل خاوند په ځینو شعرونو کې هم یاده کړې . خو که څه هم په ( فاختة ) نوم ډېره نه یادېده ، خو تر نورو هغو یو څه مشهور وو .. او د دلالت لپاره دسیرت په کتابونو کې هم ډېر نه دی راغلی . دنوموړې کنیه ( ام هانئ ) دهغې پر حقیقي نوم ډېر غالب او مشهور وو . د نوموړې مور ( فاطمة بنت اسد بن هاشم بن عبدمناف ) نومېده ... په دې سره ویلی شو چې ( ام هانئ ) د علي کرم الله وجهه سکه خور وه .. د جاهلیت په دوره کې دا مېرمن دمحمد بن عبدالله صلی الله علیه وسلم ، او د ( هبیرة بن عمرو بن عائد المخزومي ) لپاره غوښتل شوې وه . خو ابوطالب خپله لور ( ام هانئ ) ( هبیرة ) ته واده وکړه . محمد صلی الله علیه وسلم هم لیوال وو چې له یادې میرمنې سره واده وکړي ، کله یې چې ورته تره لور ورنکړه ، داسې یې ملامت کړ :

(( ای کاکا ! لور دې هبیرة ته ورکړه او زه دې پرېښودم !!! ))

ابوطالب ورته وویل :

موږ ورسره خپلوي کړې وه ، او کریم سړی د کریم سړي احسان نه پرېږدي !!

د ( ام هانئ ) له خپل خاوند ( هبیرة ) څخه درې زامن وزیږېدل .. یو یې ( هانئ ) نومېده او په دې نوم یې کنیه هم وه .. نور یې ( عمرو او یوسف ) نومېدل .. او د ( جعدة ) په نوم یوه لور یې هم درلوده ..

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حراء په غار کې د عبادت او تفکر لپاره د خلوت شپې ورځې تېرولې ، او دنبوت رڼاوې په مکه مکرمه کې راښکاره شوې او په رسول الله صلی الله علیه وسلم وحیه رانازله شوه ، ( ام هانئ ) دپیغمبر علیه السلام د کورنۍ له نورو غړو سره یوځای مسلمانه شوه . خو د سیرت په کتابو نو کې د ( ام هانئ ) د مسلمانېدو کره نېټه نه ده یاده شوې . ... د ام هانئ رضی الله عنها خاوند ( هبیره ) مسلمان نه شو ، او په شرک باندې یې پر پاتې کېدو ټینګار وکړ .. نوموړی د عربي جزیرې جنوب ( نجران ) ته وتښتېده ، هلته واوسېده او همهلته کافر وفات شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن هشام په ( السيرة النبوية ) کتاب کې وايي : کله چې هبيره د خپلې مېرمنې ( ام هانئ ) له مسلمانېدو خبر شو ، د هغې د اوښتو په اړه يې داسې شعر ووايې :

اشتاقتک هند ام اتاک سؤالها کذاک النوى اسبابها وانفتالها

فقد ارقت فی رأس حصن ممنع بنجران يسرى بعد ليل خيالها

کله چې له ام هانئ رضی الله عنها خپل خاوند جلا شو ، په يوازې ځان يې د خپلو بچيانو روزنې او ساتنې ته ملا وتړله . نوموړې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره لور وه ، ويې غوښتل چې د خپل جلا شوي خاوند درد يې په خوشالۍ جبران کړي ... بيا يې پرې مرکه وکړه ... دځان لپاره يې وغوښته ... په ډېرې نرمۍ او ادب يې داسې ځواب ورکړ :

ای دالله رسوله !!! په جاهليت کې مې چې درسره مينه لرله ، نو په اسلام کې به يې درسره ولې نه لرم ؟ !!! قسم په الله تر هر څه درسره زياته مينه لرم ... او د خاوند حق ډېر ستر دی .. ويرېږم که خپل خاوند ته لاړه شم ، نو يوځه به خپل حيثيت او بچيان له لاسه ورکړم .. او که خپل ځوی ته مخه کړم ، ويرېږم چې د خاوند حق به ضايع کړم ....

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې کله د نوموړې ادب او دهغې رښتونی احساس وليده ويې ويل :

غوره ښځې چې پر اوښانو سپرې شوي دي ، هغه د قريشو ښځې دي .. په بل روايت کې راځي چې ابن سعد په خپل طبقاتو کې راخيستی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

د قريشو ښځې ، غوره ښځې دي چې پر اوښانو سپرې شوي دي ... او که مريم بنت عمران پر اوښ سپره شوې وای .. نو ما به پرې هيڅوک نه وی غوره کړی ...

د سيرت ليکوالانو پر ام هانئ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دويمې مرکې نېټه په کره توګه نه ده ياده کړې ... خو دومره يقيني ده چې ، د خديجې رضی الله عنها تر وفات وروسته او مدينې منورې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر هجرت وړاندې يې پرې مرکه کړې وه ...

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسراء پر سفر باندې تللو ، د ابوطالب لور ام هانئ رضی الله عنها ورسره نږدې وه .. نوموړې د ( اسراء ) د پېښې په اړه يو روايت هم لري ، دا روايت ابن هشام په ( السيرة النبوية ) کتاب کې راخيستی دی .. ام هانئ رضی الله عنها فرمايي :

(( کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په اسراء سفر باندې تللو ، زما په کور کې وو ، دشپې موږ کره وو ، ناوخته يې د ماخوستن لمونځ اداء کړ ، بيا هغه او موږ ټول ويده شو .. سهار لا نه وو راختلی ، چې دالله رسول راويښ کړو ، کله يې چې د سهار لمونځ وکړ او موږ هم ورسره اداء کړ ، ويې ويل : ای ام هانئ ! ما درسره د ماخوستن لمونځ اداء کړ ، بيا بيت المقدس ته لاړم ، هلته مې لمونځ وکړ .. او لکه څنګه چې اوس ګورې ، بيا مې درسره د څاښت لمونځ اداء کړ ....بيا ودرېده او غوښتل يې چې ووځي .. ماورته وويل : ای دالله رسوله !! دا کيسه خلکو ته مه کوه ، درواغجن به دې وګڼي او زيان به در ورسوي ... ويې فرمايل : قسم په الله ، خامخا به ورته دا کيسه بيانوم ... ام هانئ وويل : چې ما خپلې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبشي وينځې ته وويل : .. هلاکه شي !! ژر رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې ووځه ، وګوره چې خلکو ته څه وايې او خلک ورته څه وايې ؟؟ ... ... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته ووت ، کیسه یې ورته بیان کړه ، هغوی ډېر حیران شول او ورته یې وویل :

( ددې نښه څه ده محمده ؟ موږ خو تراوسه داسې کومه کیسه نه ده اورېدلې ... !! ) ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

( نښه یې داده چې زه د پلانکیو په کاروان راتېر شوم ، او په پلانکۍ پلانکۍ دره کې هغوی راروان وو ... اوښان یې خوشې کړي وو .. یو اوښ یې په لوړه تپه باندې وو .. ما ورته وښود ، او زه د شام پر لور روان وم .. .بیا چې بیرته راغلم او ( ضجنان) ته راورسیدم ، دا سیمه له مکې څخه پنځه ویشت میله لیرې پرته ده .. د پلانکیو په کاروان باندې تېر شوم ، هغوی ټول ویده وو ... په لوښي کې یې اوبه پرتې وې ، او سر یې ورته پوښلی وو ... سر مې ترې خلاص کړ او اوبه مې ترې وڅښکلې ... بیا مې ورته بیرته سر وپوښه ... او نښه یې داده چې ، اوښان یې اوس د تنعیم پر لور راروان دي .. مخکې ترې سپین اوښ روان دی .. دوه جوالونه پرې پراته وو .. . یو یې تور ، او بل یې سپین وو . )

ام هانئ د اسراء کیسه بیانوي ، او د خلکو حیرانتیا راته انځوروي .. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې قوم ته کومې نښې وښودې ، هغوی یې په اړه څیړنه وکړه او کاروانونه یې وکتل چې د بیت المقدس په لاره روان وو . په دې اړه یې پوښتنې وکړې ، هغوی ورته وویل :

(( قسم په الله رښتیا یې ویلي .. کومه دره یې چې یاده کړې هلته مو اوښان خوشې کړي وو .. او اوښ هم رانه لیرې شوی وو . د یو کس غږ مو واورېده چې د اوښ ځای یې راته راښوده .. موږ لاړو او اوښ مو راوست .. ))

په دې توګه ویلی شو چې د ام هانئ رضی الله عنها روایت د اسراء د معجزې په اړه یو ستر او کره روایت دی چې د سیرت او تاریخ په کتابونو کې راغلی دی .. لامل یې همدا وو چې ، نوموړې دا ویاړ لري چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مبارکه شپه د ام هانئ رضی الله عنها په کور کې وه .. دا هغه ستره پېښه ده چې الله تعالی ورته په خپل کتاب کې اشاره کړې :

سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا ٱلَّذِى بَٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١﴾

د ام هانئ رضی الله عنها بچیان راستر شول ، او دا یې ستره هیله وه چې کاش د مؤمنانو له مینډو څخه وای .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د واده وړاندیز وکړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل :

(( اوس دا کار نه شم کولی ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه الله جل جلاله دا آیتونه رانازل کړي وو :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾

ام هانئ رضی الله عنها وویل : (( زه ورته حلاله نه وم .. ما ورسره هجرت نه وو کړی ، زه له آزادو ښځو وم ... ))

ام هانئ رضی الله عنها هغه مېرمن وه چې مدينې منورې ته يې هجرت نه وو کړی ... .. نوموړې په مکه مکرمه کې پاتې شوه ، چې بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په اتم کال د مکې د فتحې لپاره هلته لاړ .. هلته يې د اسلام بيرغ په رپيدا او لوړېدا وليده .. نوموړې مېرمن چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم يې وار له مخه ايمان راوړی وو ، دمکې په فتحه کې يې د ستر فاتح ، د خپل د تره د ځوی او د پيغمبر علیه السلام نرمي ، مهرباني او رحم وليده ..

د مکې د فتحې په ورځ د بنو مخزوم له قبيلې څخه دوه کسانو د ام هانئ بنت ابی طالب رضی الله عنها سره پناه غوښتې وه ، دوی يې د خاوند خپلوان وو .. ام هانئ رضی الله عنها ورته پناه ورکړه .. هغه ددې پېښې کيسه داسې بيانوي :

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې په لوړه باندې راښکاره شو ... د بنو مخزوم له قبيلې څخه زما د خاوند دوه خپلوان ماته راوتښتېدل ... زما ورور علي بن ابی طالب رضی الله عنه زما کور ته راننوت ... ويې ويل :

(( قسم په الله زه يې وژنم .. ))

ما ورپسې د کور دروازه وربنده کړه ، بيا ر سول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم ... هغه د مکې په لوړ ځای کې وو .. هغه د وړو په يوه لوښي کې غسل کاوه .. او دهغه لور فاطمې رضی الله عنها ورته پرده نيولې وه .. کله چې له غسل را اوزګار شو . جامې يې راواخيستې او ځان يې ورکې راټول کړ ... بيا يې د څاښت اته رکعتونه اداء کړل .. او زما پر لور راغی او ويې ويل :

(( ام هانئ دې په خير راشي !! څه ته راغلې يې ؟؟ ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام هانئ وايي چې د بنو مخزوم ددوه کسانو او د علي رضی الله عنه کيسه مې ورته بيان کړه ... رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :

(( تا چې چاته پناه ورکړې ، موږ هم پناه ورکوو ، چاته دې چې امان ورکړی ، موږ هم امان ورکوو .. نه دې وژني ))

دا پېښه ددې څرګندونه کوي چې ، ام هانئ رضی الله عنها يوه اصيله مېرمن وه ، او د خپل خاوند له خپلوانو سره ډېره وفاداره وه ... او دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغو کسانو ته امان ورکړ چې ام هانئ ورته پناه ورکړې وه ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په غوره اخلاقو او غښتلي اساساتو دلالت کوي .. موږ ته دا څرګندوي چې ، د مسلمانانو ذمه يوه ده ، هر کمزوری مسلمان چې ذمه وکړي قبوله ده ، او د هر مسلمان پناه ورکول د اعتبار وړ ده .

ام هانئ رضی الله عنها له فتحې وروسته هم ژوندۍ وه ... را نازل شوي آيتونه به يې تعقيبول ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديثونه به يې يادول .. له رسول الله صلی الله عليه وسلم يې ګڼ احاديث روايت کړي ... ځينې يې شرعي احکام روښانه کوي .. لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا چې د ( متطوع ) روژه بيانوي ... هغه فرمايي :

(( متطوع مختار دی ، که خوښه يې وي ،روژه دې ونيسي او که خوښه يې وي ماته دې کړي .. )) او بل روايت کې راځي :

(( متطوع د خپل ځان امير دی .. که خوښه يې وي ،روژه دې ونيسي او که خوښه يې وي ماته دې کړي ))

د شرعي احکامو د بيانولو په ترڅ کې يې د غسل کولو يو حديث داسې روايت کړی ...

له ام هانئ رضی الله عنها روايت دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

(( کله چې غسل کوئ ، نو هر غړی درې ځله ووينځئ ... ))

خو ځينې نور حديثونه ام هانئ رضی الله عنها د علم او زه کړې په فضيلت او اسماني رسالتونو د غوره والي په اړه روايت کړي دي .... لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وينا يې روايت کړې :

(( علم زما ميراث دی .. او دا له ما وړاندې د پيغمبرانو ميراث دی .. ))

له ام هانئ رضی الله عنها څخه روايت دی ، هغې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل :

ای دالله رسوله ! ! يو کار راته وښايه ، ځکه زه کمزورې ، بوډۍ او چاغه شوم ...

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل :

(( الله اکبر ، سل ځله induced وايه .. دا کلمه درته کعبې شريفې ته له سلو قربانيو غوره ده .. او ، الحمدلله ، سل ځله ووايه .. دا کلمه درته له سلو هغو اسانو غوره ده چې دالله په لاره کې دې ويستلي او قيازې دې ورته اچولي وي .. او ، سبحان الله ، سل ځله ووايه .. دا کلمه درته له سلو غلامانو څخه غوره ده چې دالله لپاره يې آزادوې .. او ، لا اله الا الله ، نه به ګناه کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

، او نه تري بل کار مخکې کيداى شي... )) او په بل روايت کې راځي چې ( سل ځله ، لا اله الا الله ، ووايه .. دا کلمه داسمان او ځمکې ترمنځ واټن ډکوي .. او هيڅ بنده تر دې غوره عمل اسمان ته نه پورته کيږي ....مګر ، که هغه هم ستا په څېر دا کلمې ووايې ... )

ام هانئ رضی الله عنها د هجرت په يوولسم کال کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات کېدو شاهده وه .. او ترهغې ژوندۍ وه چې د خلفاء راشدينو د خلافت دورې يې ټولې وليدې ، او اسلامي دولت له عربي جزيرې څخه تر ليرو هيوادونو پورې وغزېده .. خو له دې وروسته ، د هجرت په څلوېښتم کال د روژې په مياشت کې ، دڅپل ورور او څلورم خليفه ، علي بن ابى طالب رضی الله عنه ، شهادت ډېره ودردوله ... .. او ويل کيږي چې ، له دې پېښې لږه موده وروسته ام هانئ رضی الله عنها هم له دې دنيا سترګې پټې کړې .. نوموړې د نبوت د وخت هغه سپېڅلې مېرمن وه چې له ځان سره يې د غښتلي ايمان ، قوي عقيده او پاک نسب وياړ يوړ ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها

دا یو له هغو ښځو څخه وه چې لومړی یې اسلام راوړی وو ، دداسې یو سړي خور وه چې الله جل جلاله پرې اسلام ته غښتلتیا وربخښلې وه .. او دداسې سړي مېرمن ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د جنت زیری ورکړی .. خاوند یې یو له هغو لسو کسانو له ډلې څخه وو چې په دنیا ورته د جنت زیری ورکړل شوی وو . .. تاریخ ددې ښځې د ورور عمر بن الخطاب رضی الله عنه د اسلام راوړلو او اسلام ته د قوت د وربخښلو کیسه کوي ... دا کیسه په حق باندې د ټینګ ودرېدلو یوه ښکلې کیسه ګڼل کیږي ... دا مېرمن ( **فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها** ) نومیږي .. د عمر بن الخطاب رضی الله عنه خور او لومړۍ ښځه چې عمر ته یې خپل اسلام ښکاره کړ ..

دا مېرمن د قریشو له قبیلې څخه ده او ( **فاطمة بنت الخطاب بن نفیل بن عبدالعزی** ) نومیږي .. نسب یې ( کعب بن لؤی ) ته رسیږي .. نوموړې د خپل تره ځوی ( سعید بن عمرو بن نفیل ) سره واده کړی وو . دا د هغو لسو کسانو له ډلې څخه دی چې په دنیا ورته د جنت زیری ورکړل شوی او له فاطمې څخه یې د ( عبدالرحمن ) په نوم یوځوی زیږیدلی وو . ... فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها له خپل خاوند سره د اسلام په لومړیو کې مسلمانه شوه .. په دې سره نوموړې له لومړنیو څلوېښتو کسانو څخه شمېرل کیږي چې په اسلام کې داخل شوي وو ... نوموړې هغه مهال مسلمانه شوه چې لا رسول الله صلی الله علیه وسلم دارالارقم ته نه وو داخل شوی ... خو فاطمې رضی الله عنها له خاوند سره حبشې ته هجرت نه وو کړی ، بلکې په مکه مکرمه کې پاتې شوي وو او له خلکو یې اسلام پټ ساتلی وو . نوموړې ویرېده چې ورور ( عمر بن الخطاب رضی الله عنه ) یې له اسلامه خبر نه شي .. ځکه هغه دامهال لا نه وو مسلمان شوی .. خو د فاطمې رضی الله عنها اسلام او په حق او هدایت باندې دهغې ټینګ ودرېدلو د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په مسلمانېدو کې مهم رول درلود . .. عمر رضی الله عنه یو ورځ په دې تکل راووت چې محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه ملګرو ته زیان ورسوي .. مسلمانان په دارالارقم کې راټول شوي وو .. په لاره کې ورسره ( نعیم بن عبدالله ) مخامخ شو .. ورته یې وویل :

چېرته روان یې عمره ؟ !!

ویې ویل :

محمد ته ورځم چې ویې وژنم !!

نعیم ورته وویل :

لومړی دې کور ته ستون شه او دهغوی چاره وکړه ... .. ستا اوښی او د تره ځوی ، او دهغه مېرمن او ستا خور فاطمة دواړه مسلمانان شوي او د محمد پلوي یې شروع کړي ...

عمر رضی الله عنه سمدلاسه د خور کور ته لاړ ، چې کله ورسیده ( خباب بن الارت التمیمی رضی الله عنه )هم ورسره وو او هغوی دواړو ته یې قرآن کریم ور زده کولو .. عمر رضی الله عنه مخکې تر دې چې دروازه ټک ټک کړي ، ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلاوت ته يې غوږ ونيوه .. دا مهال يې د طـــه سورت آيتونه تلاوت كول .. په ټک ټک سره ( خباب رضی الله عنه ) پټيږي ... فاطمه رضی الله عنها هم صحيفه راخلي او پټ ځای کې يې خوندي کوي .... عمر پوښتنه کوي چې :

ما دا څه اوريدل ؟

دواړه ورته وايي : .. تا هيڅ نه دي اوريدلي ..

عمر ورته وايي :

قسم په الله زه خبر شوی يم چې تاسو پر محمد ايمان راوړی ... .. سمدلاسه عمر په خپل اوښي سعيد بن زيد ګوزار وکړ .. فاطمه رضی الله عنها ورپاڅېده ترڅو دخپل خاوند دفاع وکړي او د عمر د وهلو مخه ونيسي ... هغه يې هم ووهله او ټپي يې کړه ... له ويښتانو يې کش کړه ... فاطمه رضی الله عنها ورته په ټينګ عزم وويل :

(( هو .. موږ مسلمانان شوي يو او په الله او رسول مو ايمان راوړی ... ))

عمر رضی الله عنه چې کله په خپله خور باندې وينې وليدې ... ډېر ورته خپه او ودردېده .. د غوسې له کموالي سره سم يې ورته وويل :

(( تاسو چې کومه صحيفه لوستله ، هغه راته راکړئ !! .. دا محمد څه راوړي دي ؟ !! ))

خور يې ورته وويل :

موږ ويريږو چې وبه يې شکوې ... !!

عمر ورته وويل :

مه ويريږه ! او قسم يې وکړ چې له لوستلو وروسته به يې ورته بير ته سپاري !!!

ددې خبرو سره سم فاطمې رضی الله عنها سره د عمر د مسلمانېدو تمه پيدا شوه !! ... ويې غوښتل چې په پاک بدن ورته د قرآن کريم صحيفه ورکړي ، ښايي الله جل جلاله يې اسلام ته سينه پراخه کړي ... ورته يې وويل :

ای وروره !! ته په شرک باندې ناولی يې !! دا کتاب يوازې پاک خلک اخيستی شي !!

عمر رضی الله عنه پاڅېده ، غسل يې وکړ او بيا يې ورته صحيفه ورکړه .. په دې صحيفه کې د طـــه سورت ليکل شوی وو ... عمر رضی الله عنه دا سورت ولوست او زړه يې ورته ډېر خوشال شو ... بيا يې وويل :

(( دا څومره خوږې او ښکلې خبرې دي !!! ))

په دې وخت کې خباب بن الارت رضی الله عنه پيل وکړ او هغه يې لا وهڅاوه .... او ورته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې اوريدلي ، هغه فرمايل :

(( ای الله په عمربن الخطاب ، او يا په عمرو بن هشام اسلام غښتلی کړې !!! ))

عمر رضی الله عنه ورته وويل : عمر راته وښايه چې ورشم او اسلام اعلان کړم !!

له صفا غونډۍ سره يې ورته د محمد صلی الله علیه وسلم ځای وروښود ... . . عمر رضی الله عنه سمدلاسه ووت او هلته يې اسلام اعلان کړ ... رسول الله صلی الله علیه وسلم د تکبير ناره وکړه او ډېر زيات پرې خوشاله شو ... . نو ويلی شو چې فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها د عمر رضی الله عنه په مسلمانېدو کې مهم رول درلود ....

فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم يوازې يو حديث روايت کړی دی ... وايې :

له فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها روايت دی ، وايې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوريدلي ، فرمايې :

(( ترهغې به زما امت په خير وي چې ، ددنيا مينه ورسره نه وي پيدا ، فاسق علماء ورکې نه وي پيدا ، جاهلان قاريان ورکې نه وي پيدا ، ظالمان ورکې نه وي پيدا ، که دا خلک ورکې پيدا شو ، ويريږم چې الله جل جلاله به ورباندې عمومي عذاب راوليږي .. ))

د سيرت په کتابونو کې د فاطمې رضی الله عنها د مړينې په اړه کره نېټه نه ده راغلې ... او نه يې د زوکړې نېټه کره مالومه ده . خو دا نوم د نبوت د وخت د ښځو په نومونو کې ښکاره او ځلانده نوم دی .... هغه نوم دی چې د تل لپاره ژوندی پاتې او رول يې د تل لپاره روښانه او ښکاره دی ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زینب بنت جحش رضی الله عنها

مخوره ، د غوره نسب او ښکلا خاونده .. د قریشو د سردار عبدالمطلب بن هاشم لمسۍ ... او د محمد صلی الله علیه وسلم د ترور لور ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندې یې واده د یو حکمت له مخې ترسره شوی وو .. او دهغې طلاق هم د یو الهي حکم د تشریع په خاطر وو ... په دې اړه آیتونه هم رانازل شول .. دنبوت په سپېڅلې کورنۍ کې ددې ښځې ژوند ، د مؤمنانو د نورو میندو په څېر وو ... په دې کور کې یې غوره اخلاق ، ښکلی سیرت او ددنیا او آخرت د ښېګڼې اعمال زده کړل .. دا مېرمن ( زینب بنت جحش رضی الله عنها ) نومیږي ... همدا ویاړ یې بس دی چې ، نوموړې په ولایت او استازیتوب کې تر نورو ټولو ښځو کریمه مېرمن ګڼل کیږي .

دا مېرمن ( زینب بنت جحش بن رئاب بن یعمر الاسدیه ) نومیږي . د بنو اسد بن خزیمة المضري له کورنۍ څخه ده .

د نوموړې مور ( امیمة بنت عبدالمطلب ) د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترور ... زینب بنت جحش رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیکه عبدالمطلب لمسۍ ده .. .. د کیسې لومړي فصلونه یې له هجرت وروسته په مدینه منوره کې پیلیږي ... رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې د مهاجرینو ترمنځ د ورورولۍ تړونونه وکړل ، په دې کار سره یې د جاهلیت ددورې تعصب له منځه یوړ .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل خادم زید بن حارثه او د خپل تره حمزة بن عبدالمطلب ترمنځ د ورورولۍ تړون وکړ .... په دې کار سره یې خلکو ته د نوي دین پیغام ورکړ چې اسلام د خلکو ترمنځ د عدالت غوښتنه کوي .. کله چې زید رضی الله عنه د واده عمر ته ورسیده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې داسې مېرمن ورته انتخاب کړي ترڅو دا ثابته کړي چې نوموړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډېر نږدې دی او خلکو ته وښايي چې دا امتیاز په دې خاطر ورکړل شو چې نوموړی له هغو کسانو څخه دی چې د اسلامي دعوت په لومړیو کې مسلمان شوی وو . . . رسول الله صلی الله علیه وسلم تل دا خلکو ته ښودلې وه چې زید د هغه د ځوی پرځای دی . دهغه لپاره یې د ژوند ملګرې خپله د ترو ر لور زینب بنت جحش انتخاب کړه ... خو په پیل کې زینب رضی الله عنها له دې واده انکار وکړ او ویې ویل :

(( زه دا نکاح نه غواړم ، زما تر هغه د غوره کورنۍ خاونده یم .. ))

د زینب رضی الله عنها ورور عبدالله بن جحش هم دا نه غوښته چې خور یې دزید په څېر یو کس ته واده شي ، ځکه زید رضی الله عنه که څه هم په اصلیت کې عربي وو ، خو په ماشومتوب کې د غلام په توګه پلورل شوی وو . . .دا په داسې حال کې ده چې زینب رضی الله عنها د مضر د قبیلې یوه اصیله ښځه ده . او له غوره قبیلې او نسب خاونده ده . . . رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې انکار سره یوڅه تم شو او ویې ویل :

((هو ، نکاح یې کړه .. ))

خو زینب بنت جحش رضی الله عنها وویل :

(( ای دالله رسوله ! زه به اوس ده ته کښېنم ! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې الله جل جلاله دا آيت رانازل کړ :

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾

زينب بنت جحش رضی الله عنها د الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم امر ته غاړه کېښوده ، او له زيد بن حارثة رضی الله عنه سره يې واده کولو ته غاړه کېښوده . په دې واده سره يې خلکو ته دا ثابته کړه چې ، هيڅ عربي پر اعجمي هيڅ غوره ووالی نه لري . د غوره والي معيار يې يوازې تقوا دی ... ... خو ددوی د ژوند چارې له کشمکشونو او شخړو ډکې وې .. د زينب بنت جحش رضی الله عنها هم خپل اصليت نه هېرېده ، تل به يې دا ويل چې زه خو يوه قريشي او د غوره نسب خاونده يم ... زيد بن حارثه رضی الله عنه له دې حالته ډېر تنګ شو او هيڅ ورته د زغم وړ نه وو ... . تل به يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د کورني ژوند د ترينګلتيا او له شخړو سر ټکاوه ..دا شکايت به يې ورته کاوه چې مېرمن يې په خپل نسب تر دومره بريده وياړ کوي چې په خبرو يې ورته زيان رسوي .. خو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د صبر او زغم مشوره ورکوله، هغه په دې هم پوهيده چې پر زيد رضی الله عنه څه حالت تيرېږي .. جبريل عليه السلام رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او خبر يې کړ چې له زينب رضی الله عنها سره دې واده وکړي .. محمد صلی الله عليه وسلم په دې کار ډېر زيات حيران شو .. او پوښتنه ورسره پيدا شوه چې :

څنګه له خپل ځوی سره واده وکړم ، دا خو ما ته حرامه ده ؟ !!!

په دې خبره رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېر ورخطا شو .. .. خو دا خبره يې له ځان سره پټه وساتله ... کله به چې ورته زيد د شکايت لپاره راتللو د صبر مشوره به يې ورکوله ، او ورته به يې ويل :

(( ښځه دې درسره وساته ، او له الله جل جلاله وويرېږه !!! ))

خو د زيد او زينب رضی الله عنهما حالت تر يو کال پورې همداسې روان وو .. اخير د زيد بن حارثه رضی الله عنه کرامت هم هغه ته اجازه نه ورکوله چې له داسې مېرمنې سره ژوند ته ادامه ورکړي چې ورسره خوښه نه ده ... هماغه وو چې د طلاق په ورکولو سره يې دې واده ته چې هيڅ مينه او مهرباني ورکې نه وه موجوده ، د پای ټکی کېښود ..

کله چې د زينب بنت جحش او زيد بن حارثه رضی الله عنهما ترمنځ طلاق پېښ شو ، څو مياشتې تېرې شوې ... زينب رضی الله عنها د طلاق د عدت شپې ورځې پای ته ورسولې ...دا مهال رسول الله صلی الله عليه وسلم د زينب بنت جحش رضی الله عنها د غوښتلو لپاره مرکه وليږله .. زيد ته يې وويل :

ما ورته ياد کړه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ورته زید رضی الله عنه راغی ، هغې خپل وړه اغېزل .. کله یې چې ولیده .. درنده ورته ښکاره شوه ، هیڅ یې ورته د کتلو زغم نه درلود ... .. زید ودرېده او شاه یې ورته واړوله ... او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیوالتیا یې ورته داسې روښانه کړه :

ای زینب ! رسول الله صلی الله علیه وسلم تا یادوي ...

زینب رضی الله عنها روښانه ځواب ورنکړ ، خو ویې ویل :

(( تر هغې چې الله جل جلاله راته امر نه وي کړی ، زه هیڅ نه کوم.... )) ...

په عبادتونو ، لمونځو یې پیل وکړ ، استخارې یې وکړې .... الله جل جلاله ته یې دعاء کوله چې الله دې ورته دا واده دخیر او برکت وګرځوي . . . جبریل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی ، او وحیه یې ورباندې رانازله کړه ... په دې آیت کې یې بشپړه کیسه بیان کړې ... الله تعالی فرمایي :

وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَأَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَىٰهُۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا زَوَّجۡنَٰكَهَا لِكَيۡ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ حَرَجٞ فِيٓ أَزۡوَٰجِ أَدۡعِيَآئِهِمۡ إِذَا قَضَوۡاْ مِنۡهُنَّ وَطَرٗاۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ مَفۡعُولٗا



مفسرین او مستشرقین د آیت دې برخې سره یوځه تم کیږي ، چې الله جل جلاله فرمایي : (وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَىٰهُ) ځینې مفسرین وایي چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم به زید ته امر کاوه چې خپله ښځه وساتي ... خو د زړه غوښتنه یې دا وه چې طلاقه یې کړي ، ځکه زینب یې په زړه کې ځای نیولی وو . خو ځینې نور مفسرین بیا دا غلط تفسیر ردوي ، ځکه دا ډول تفسیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سپیڅلو اخلاقو سره په بشپړه توګه په تناقض کې راځي . دوی زیاتوي چې ، الله جل جلاله وار له مخه خپل پیغمبر په دې خبر کړی وو چې زینب بنت جحش رضی الله عنها به یې ښځه جوړیږي .. خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زید له ښځې شکایت وکړ ،ورته یې وویل :

(( ښځه دې له ځان سره وساته او له الله وویریږه .. !! )) ځکه هغه ویریده چې خلک به بیا وایي چې ، دالله رسول دخپل ځوی لور سره واده وکړ .. په حقیقت کې الله جل جلاله خپل رسول ته امر کړی وو چې دا واده وکړي ، ترڅو د ځویولۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دود له منځه يوسي .... يو څوک په ځويولۍ نيول يو پخواني او ناوړه دود وو . ددې دود له مخې به د ځينو خلکو حقوق تر پښو لاندې کېدل .. او دهمدې حکمت له مخې الله جل جلاله په دې پېښه کې دا کار حرام کړ . او په دې مانا ، الله جل جلاله چې خپل رسول له څه خبر کړی وو ، هغه خبره يې په زړه کې پټه ساتلې وه .... رسول الله صلی الله عليه وسلم ته جبريل عليه السلام امر کړی وو چې د زيد له طلاق وروسته دې له زينب بنت جحش رضی الله عنها سره واده وکړي .

دا هم څه د حيرانتيا خبره نه ده چې ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې دا خبره د خلکو پوښتنې راوپاروي .. ډاکتره عائشه عبدالرحمن په خپل کتاب ( تراجم سيدات النبوة ) کې ليکي :

(( د رسول الله صلی الله عليه وسلم هيڅ واده د مدينې منورې ټولنه له پوښتنو سره نه ده مخامخ کړې ، څومره يې چې له زينب بنت جحش رضی الله عنها سره په واده کولو پوښتنې راپيدا کړې ، مؤمنان په دې واده باندې ډېر زيات خوشال شول ، خو له بل پلوه منافقانو پيل وکړ او په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې يې تورونه لګول او ويل به يې :

(( محمد د زوی ښځې حرامې کړي .. خو خپله يې د ځوی له ښځې سره واده وکړ ... ))

الله جل جلاله سپېڅلي آيتونه رانازل کړل ، په دې آيتونو کې يې په ځويولۍ نيولو په حراموالي ټينګار وکړ .. الله جل جلاله په خپل کتاب کې فرمايي :

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا



د زيد بن حارثه رضی الله عنه او زينب بنت جحش رضی الله عنها تر منځ شخړې او کشمکشونه د يو حکمت له مخې شوي وو ، دهمدې پېښې له ادرسه اسلام يوه ديني تشريع رامنځته کړه او په ځويولۍ نيول يې حرام کړل . رسول الله صلی الله عليه وسلم له زينب بنت جحش رضی الله عنها سره له شهوت او مينې له مخې واده نه دی کړی ، هغه منافقان چې زموږ په ګران پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم باندې دا ډول تورونه او داغونه لګوي ، دهغه په غوره اخلاقو ستر ګې پټوي ، او دايې هېر کړي چې زينب رضی الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ترور لور وه ،او مخکې تر دې چې خپل خادم زيد بن حارثه رضی الله عنه ته يې واده کړي ، وار له مخه يې پېژنده . بلکې دا واده د يو الهی حکمت له مخې ترسره شو ، هغه دا چې دهمدې پېښې وروسته اسلام د ځويولۍ ناوړه دود له منځه يوړ .... ماشومان په ځويولۍ نيول هغه ناوړه دود وو چې په ټولنيزه او ديني برخه کې يې ټول حقوق او اعتبارات تر پښو لاندې کول .

ددې تر څنګ چې له زينب بنت جحش رضی الله عنها سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم واده د ځويولۍ دود حرام کړ ، دا واده همدا راز د ګڼو قرآني آيتونو پورې هم تړاو لري ، او په دې لړ کې يو شمېر نور شرعي احکام هم رانازل شول . .. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له زينب رضی الله عنها سره واده وکړ ، خلک ورته مبارکۍ ته راغلل ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته هم وليمه وکړه .. کله چې د وليمې مراسم پای ته ورسيدل ، ځينې خلک ترې لاړل ، خو ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور ورسره پاتې شول ... رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې حالت سره تكليف شو ، او په دې شرمېده چې د وتلو امر ورته وكړي ...... په بل روايت كې له انس رضى الله عنه څخه روايت دى .. وايي چې دهغه مور ( ام سليم الانصارية ) ډوډۍ تياره كړې وه ، او هغه يې د انس رضى الله عنه په لاس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له زينب سره د واده په مناسبت د ډالۍ په توګه ورليږلې وه .. .. انس رضى الله عنه داډوډۍ ورسوله ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته امر وكړ چې ډوډۍ ځاى پرځاى كړي او ځينې كسان چې پيغمبر عليه السلام ورته په ګوته كړل ، هغوى دې راوبلي .. انس رضى الله عنه وايي چې محمد صلى الله عليه وسلم راته وويل چې ، زه چاسره مخامخ شوى وم ، هغوى راوغواړه . انس رضى الله عنه همداسې وكړل او بير ته راستون شو ... انس رضى الله عنه وايي چې كله راستون شوم ، كور له خلكو ډک وو ... رسول الله صلى الله عليه وسلم مې وليده خوړو په لوښي باندې يې لاس ايښى وو .... هلته يې خبرې كولې .. لس لس كسان به يې راغوښتل او له هغې به يې خوراک كاوه .. . او ورته به يې ويل : دالله نوم ياد كړئ ، او هرڅوک دې له خپلې مخې خوراک كوي ... كله چې ټول خلک ماړه شول .. ځينې كسان ترې ووېل ، او ځينې كسان پاتې شول خبرې اترې يې شروع كړې ... دهمدې كسانو په اړه الله جل جلاله دا آيت رانازل كړ :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾

درييم شرعي حكم چې له زينب بنت جحش رضى الله عنها سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په واده پورې تړاو لري ، هغه د مؤمنانو پر ميندو باندې د حجاب فرضيت وو .... . په يو روايت كې راځي چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم د واده له وليمې له مراسمو وروسته راووت او د خپلو مېرمنو په خونو باندې ګرځېده ، او خپلو ميندو ترې پوښتنه كوله ...

(( مېرمن دې څنګه وه ؟ ))

په دې وخت كې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره زيد بن حارثة هم ملګرى وو ... كله چې د زينب كور ته ننوت او زيد هم وغوښتل چې ورسره ننوځي... په زينب رضى الله عنها يې پرده راخپره كړه .. او په دې سره د حجاب آيت رانازل شو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓا۟ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾

زینب بنت جحش رضی الله عنها د هجرت په پنځم کال له ګرمو ولیمو په مراسمو کې نبوي کورنۍ ته راننوتله . . . .

ثابت له انس رضی الله عنه څخه روایت کوي ، وایي ... رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په زینب رضی الله عنها څومره ولیمه وکړه ، په بله کومه مېرمن یې داسې ولیمه نه وه کړې ! ! !

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له زینب بنت جحش رضی الله عنها سره واده کاوه ، د زینب عمر پنځه دېرشو کلونو ته رسیده .. نومورې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نورو مېرمنو باندې ځان ویاړمنه ګڼله او ویل به یې :

(( زه تر تاسو کریم ولي لرم ، او تر تاسو کریم استازی لرم ... تاسو کورنیو واده کړي یاست .. او زه الله له اووه اسمانونو پورته واده کړې یم . . . . )) . .

عائشې رضی الله عنها هم د نورو بنو په پرتله زینب بنت جحش رضی الله عنها ته ځانګړې نظر درلود ... .. ځکه همدا مېرمن ورسره په اصلیت ، نسب او ښکلا کې ورته وه .... همدا لامل وو چې له دې ښځې یې یوڅه سترګې سوځېده ، ځکه د زینب رضی الله عنها رتبه په دې هم پورته وه . . . . عائشه رضی الله عنها داسې وایې :

((د رسول الله صلی الله علیه وسلم په میرمنو کې له زینب بنت جحش رضی الله عنها پرته بله مېرمن تر ما د ښې رتبې خاونده نه وه . ))

خو ددې هرڅه سره سره ، عائشې رضی الله عنها د زینب بنت جحش رضی الله عنها د خیر ، برکت او تقوا یادونه کوله ...په دې اړه داسې وایې :

(( ما په دیانت ، تقوا ، رښتونولۍ ، خپلوۍ پالنه ، امانت او صدقې ورکولو کې تر زینب رضی الله عنها غوره مېرمنه نه ده لیدلې ))

ددې ترڅنګ چې زینب بنت جحش رضی الله عنها یوه تقواداره او با دیانته مېرمن وه ، یوه کسبکاره مېرمن هم وه . مرۍ او موشکنې به یې پیرلې .. او دالله په لاره کې به یې خیراتونه او صدقې کولې ..

یوه ورځ د محمد صلی الله علیه وسلم یوې میرمنې پوښتنه وکړه :

ای دالله رسوله ! په موږ کې به کومه یوه تا پسې ژر له دې دنیا کوچیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

په تاسو کې ژر ماپسې زما هغه مېرمن راځي چې لاس يې پراخ وي ...

او رښتیا هم ، له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته زینب بنت جحش رضی الله عنها ژر له دنیا ستر ګې پټې کړې ، ځکه زینب رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مېرمن وه چې لاس يې پراخ او ډېرې صدقې به يې کولې .

په صحیح حدیث کې راغلي ، چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه ورته ۱۲۰۰۰ دولس زره درهمه ورولیږل .... زینب رضی الله عنها داسې وویل :

الله په دې مال زما زړه مه نیسې ... ځکه دا فتنه ده !!

بیا يې ټول مال په اړو کسانو او خپلوانو باندې وویشه .. . عمر رضی الله عنه له دې خبر شو .... دروزاې سره يې ودریده او سلام يې ورولیږه او ويې ويل :

ستا له صدقې خبر شوم .. زه به درته زر درهمه راولیږم ..

کله يې چې ورته زر درهمه راولیږل ، هغه يې هم ټول دالله په لاره کې خیرات کړل ، يو درهم يې هم ځان ته پرې نه ښود .

زینب بنت جحش رضی الله عنها د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت په دوران کې دهجرت په شلم کال وفات شوه .... عمر رضی الله عنه يې د جنازې لمونځ اداء کړ .. او د مدینې ډېرو اوسیدونکو يې په جنازه کې برخه اخیستې وه . او بیا په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه . د زینب رضی الله عنها وروستی وصیت دا وو :

(( ما خپل کفن تیار کړی !!! او امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه به ماته کفن رالیږي .. . له دې دواړو بیا يو دالله په لاره کې صدقه کړئ !!! او که ومو کولی شو چې زما جامه خیرات کړئ ، دا کار وکړئ !! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صفية بنت حيي رضى الله عنها

دا د يهودو د مشر لور وه . . دا يې ستر ارمان وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته منسوبه ، او دهغه مېرمن شي ... دې ښځې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم په تياره شپه کې ځلانده سپوږمۍ ښکارېده ... فکر يې کاوه چې نوموړی يو کريم ، سخي او مهرباني قوماندان دی ..... عقيده يې درلوده چې پيغمبر عليه السلام د جګړو له بنديانو سره نرمي او وربانديې رحم کوي ... هماغه وو چې دا ښځه درسول الله صلى الله عليه وسلم د مېرمنو په ډله کې راغله ... دا مېرمن ( صفية بنت حيي رضى الله عنها ) نوميږي ..

د يهوديانو د مشر د لور ( صفية بنت حيي بن اخطب ) کيسه د خيبر د غزا له سهاره پيليږي .. د هجرت په پنځم کال د خندق په غزا کې يهوديانو د اسلام او مسلمانانو پر ضد خلک راپارول ..... په مدينه منوره کې د بنوقريظه او بنوالنضير يهوديانو قريش د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو پر ضد هڅول .. دا تړون يې ورسره کړی وو که قريش چيرته پر مسلمانانو حمله وکړي ، نو دوی به ورسره مرسته وکړي . د خندق په غزا کې مسلمانانو ته روښانه شوه چې ، بنوقريظه له قريشو سره لاس يو کړی او د مسلمانانو پرضد يې دسيسې جوړې کړې . ... د خندق له غزا او بريا وروسته ، مسلمانانو د بنوقريظه پر لور مخه کړه ، هغوی يې محاصره کړل او رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې خپل حکم پلی کړ .. ... د هجرت د اووم کال په پيل کې ، رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو پريکړه وکړه چې ، په بنو النضير يهودي قبيله باندې غوڅه حمله وکړي او په خيبر کې يې محاصره کړي ... صحابه کرامو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مشرۍ د يهودو استوګنځای او د خيبر کلا محاصره کړه ... مسلمانانو د يهوديانو د ايتلاف کوونکو مخه ونيوه ترڅو ورته مرستې ونه رسوي ... ډېرو قبيلو چې په سر کې يې د ( بنو غطفان ) قبيله راځي ، هڅه وکړه ترڅو د يهودو مرسته وکړي . خو هغوی ويرېدل که خپلې کورنۍ او مالونه پريږدي ، مسلمانان به پرې حملې وکړي او له منځه به يې يوسي ... هماغه وو چې په خپلو کليو کې يې د پاتې کېدو پريکړه وکړه .. . په دې کار سره ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته زمينه برابره شوه چې د خيبر له خلکو غچ واخلي .... يهود په دې سيمه کې هغه لوی خطر وو چې تل به يې د مسلمانانو او اسلام پر ضد توطيئ او دسيسې جوړولې ... .. د خيبر غزا ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سختو غزاګانو څخه وه .. محمد صلى الله عليه وسلم د هجرت د اووم کال د محرم د مياشتې په نيمايي کې د خيبر پر لور روان شو .. کله چې له خپلو لښکرو سره د خيبر کلاګانو ته ورسيده ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ودرېده او د مسلمانانو د بريا وړاندوينه يې وکړه ... داسې يې وفرمايل :

(( الله اکبر .. خيبر له منځه لاړ .. کله چې د قوم سيمې ته ورسيدو ، ماښام به يې له ناکامۍ سره مخامخ شي )) ..

مسلمانان د شپې لخوا خيبر ته ورسيدل ، سمدلاسه يې محاصره کړ .. کله چې يهوديانو وغوښتل چې سهار خپلو کارونو پسې راووځي ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د صحابه کرامو له محاصرې سره مخامخ شول ... بيرته خپلو کلاګانو ته ستانه شول او ځانونه يې ورکې پټ کړل . او د کلا د ديوالونو تر شاه يې پر مسلمانانو باندې ګوزارونه پيل کړل ... مسلمانان هم له سخت مقاومت سره مخامخ شول ... له ډېرې سختې مقابلې وروسته کلا ته ننوتل ، ډېر يهوديان ورکې ووژل شول او ډېرې ښځې يې ونيول شوې ... له دې ډلې يوه ښځه دهغوی د مشر لور ( صفية بنت حيى بن اخطب ) وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مهال صفية رضی الله عنها لا د اوولس کلنۍ عمر نه وو بشپړ کړی .. که څه هم نوموړې د عمر له پلوه کوچنۍ وه ، خو بيا هم دوه ځله يې واده کړی وو . لومړی واده يې د خپل قوم له يو اتل او شاعر ( سلام بن مشکم القرظی ) سره کړی وو . او دويم واده يې د ( قبوس ) په نوم د خيبر د غښتلې کلا له قوماندان ( کنانة بن ربيع بن حقيق النضري ) سره کړی وو ... د صفيې رضی الله عنها له خاوند ( کنانة بن ربيع بن حقيق ) سره د بنو النضير د قبيلې خزانه موجوده وه ، نوموړی په دې جګړه کې ونيول شو ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ترې پوښتنه وکړه ، هغه ورته د خزانې له شتون څخه انکار وکړ . بيا ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :

که تاسره مو پيدا کړ ، بيا به دې وژنم ؟ !!! ... کنانة ورته وويل چې ، هو ومې وژنئ !! ..

کله چې مسلمانانو له هغه سره خزانه پيدا کړه ... رسول الله صلی الله عليه وسلم خزانه ( محمد بن مسلمة الانصاري ) ته وسپاره ، هغه يې څټ ووهه او ويې واژه .. په دې سره يې محمد بن مسلمه د خپل ورور ( محمود بن مسلمة ) غچ واخيست چې يهوديانو د جګړې په پيل کې وژلی وو .

د خيبر ښځې وينځې شوې ، چې يوه يې د کنانه مېرمن ( صفية بنت حيي بن اخطب ) او د هغې د تره لور وه .. دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم مؤذن بلال رضی الله عنه سره وو . دوی د يهوديانو په داسې يوه سيمه تېر شول چې دهغوی له مړو ډکه وه ... صفيې رضی الله عنها اراده وکړه چې چيغه کړي ، خو اواز يې په زړه کې بند پاتې شو او چيغه يې نه کړه .. خو دتره لور يې د مړو له ليدو سره سم چيغې پيل کړې ... .. کله چې دوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوړل شول .. په ډېرې نرمۍ سره يې ورسره چلند وکړ او بلال ته يې وويل :

(( بلاله ستا له زړه رحمت ووا‌ته چې ، دوی د خپلو نارينه وو په مړو باندې ګرځوې ؟ ))

د صفيې رضی الله عنها د تره لور چې وينښتان يې ګډوډ ، او په ګردونو باندې پوښل شوي وو او سختې چيغې يې وهلې .. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغې دا حالت وليده ، مخ يې ترې واړاوه او ويې ويل :

((دا شيطانه راڅخه پناه کړئ ! ))

خو صفيه رضی الله عنها ددې مړو په ليدو سره په ډېره چوپتيا او زغم سره دا حالت په زړه تيروي ... رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغې د خپګان کچه باندې پوهيږي او رحمورباندې کوي ، بيا امر کوي ، او خپل پاک څادر پرې اچوي ... دا په دې مانا وه چې محمد صلی الله عليه وسلم د ځان لپاره غوره کړه ...

له انس رضی الله عنه څخه روايت دی ، وايې چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم صفية بنت حيی واخيسته .. ورته يې وويل :

(( آيا ما غواړې ؟ ))

هغې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ای دالله رسوله ..د شر ک په حالت مې دا هیله وه ... نو اوس چې الله په اسلام کې په لاس راکړې نو ولې به دې نه غواړم ؟ ! )

رسول الله صلی الله علیه وسلم آزاده کړه . او بیا یې ورسره واده وکړ ..... همدا آزادي یې ورته مهر وټاکه .. بیا یې ( ام سلیم ) ته وسپارله ترڅو یې تیاره کړي ..... کله چې حالات یوڅه آرام شول ، وېره یې راکمه شوه ... ځان پسې یې سپره کړه او روان شول .. او له خیبر څخه شپږ میله لیرې یې په یوځای کې واړول .... رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته وغوښتل چې ورسره یوځای شي .. خو صفیې رضی الله عنها یې ممانعت او انکار وکړ .. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم پرېښوده ، او خپلو لښکرو سره یو ځای د مدینې منورې پر لور روان شو ... کله چې له خیبر څخه لیرې د ( صهباء ) سیمې ته راورسېدل .... هلته یې واړول او دمه یې وکړه .... رسول الله صلی الله علیه وسلم درک کړه چې صفیه واده ته تیاره ده .... کله چې ورسره رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته یوځای کېده ، بیایې هم د لومړي ځل د ملاقات ځینې یوښتنې زړه ته راغلې ... کله یې چې مر کې پیل کړې ، محمد صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه :

(( ولې دې د لومړي ځل لپاره انکار وکړ ؟ ))

صفیې رضی الله عنها ورته ځواب ورکړ :

(( د یهودیانو له نږدې والي درباندې وویریدم ))

په دې خبرې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې پوښتنې ځواب شوې ...

په کومه ګومبزه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له صفیې رضی الله عنها سره یوځای کېده ، د ابو ایوب خالد بن زید په نوم یو انصاري ټوله شپه د ګومبزې دباندې تېره کړه ، توره ورسره په لاس او ګرده شپه یې د ګومبزې چاپېره د په داسې حال کې ګرځې وهلې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه وو خبر .. . کله چې سهار شو د ابوایوب حر کت یې واورېده او دهغه حالت ته متوجې شو ... پوښتنه یې ترې وکړه :

څه کوې ابو ایوبه ؟

ابو ایوب رضی الله عنه ځواب ورکړ :

( ای دالله رسوله ! زه درباندې له دې ښځې ډارېدم .. پلار ، خاوند او قوم دې ورته وواژه ... ټول عمر یې کفر کې تېر کړی ... ویریدم چې زیان درته ونه رسوي ... )

ویل کیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دا دعاء وکړه :

(( ای الله ، لکه څنګه چې زه ابو ایوب وساتلم ، ته یې همداسې ساتنه وکړې ! ! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم صفیې رضی الله عنها ته د نورو ښځو په خونو کې ځای ورنکړ ... بلکې له اسامه سره نږدې یې ورته یو کور په کرایه ونیوه ... هلته یې ورته خپل هغه ارمان بیان کړ چې نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د واده کولو لپاره درلود ... داسې یې وویل :

له کنانة بن الربیع سره مې د واده په شپه خوب ولیده .. په خوب کې یوه سپوږمۍ زما په خونه کې راپرېوځي ... کله چې له خوبه راپاڅېده ، خوب مې خپل خاوند کنانه ته بیان کړ ... هغه ډېر زیات غوسه شو او ویې ویل :

( ددې خوب مانا خو داده چې ستا د حجاز پاچا محمد په زړه راوړیږي !!! )

ددې خوب بیانېدو سره سم یې ورته مخ په یوه قوي څپېړه وواهه ، چې لا تر اوسه یې نښه پر مخ پاتې ده ..

صفیې رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یهودو ټولې هغه خبرې بیان کړې چې هغوی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت او راتګ په اړه کولې .... هغه حقیقتونه یې ورته روښانه کړل چې دوی به خپلو کتابونو کې لوستل .. همدا راز د یهودو هغه کینه او غوسه یې هم ورته بیان کړه چې ، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته راتللو او د مدینې خلکو یې تود هرکلی وکړ ... نوموړې ورته هغه ورځ یادوي چې ، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راورسیده او په قباء کې یې واړول ... د خپل پلار او تره کیسه یې ورته بیان کړه چې ، ټوله ورځ هغوی مالوم نه شول ... او د لمر تر پرېوتلو وروسته کورونو ته راغلل ... هغه وایې :

د شپې راغلل او ډېر ورخطا وو .. زه دعادت له مخې ، ورپاڅېدم .. ... قسم په الله ، له ډېر مصیبت لامله راته دې دواړو هیڅ راونه کتل ... .. زما تره ابویاسر زما پلار ته ویل :

(( هغه همدا دی ؟ ))

زما پلار ورته وویل :

(( هو قسم په الله .. ))

زما تره ورته وویل :

(( آیا ته یې پېژنې ؟ ))

ویې ویل : ( هو . )

ویې ویل : ته یې په اړه څه وایې ؟

زما پلار ځواب ورکړ :

(( تر کومه چې ژوندی یم ، دښمني به یې پرې نږدم . ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مدینه منوره کې مهاجرې او انصارې مېرمنې له دې کیسې خبرې شوې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له صفیه بنت حیي رضی الله عنها سره واده کړی ... ټولې د هغې د ښکلا نندارې ته راغلې ...

واقدي ، ام سنان الاسلمیه ته یو روایت منسوبوي ، هغه فرمایي :

کله چې موږ له خیبر وروسته مدینې ته راورسیدو ، خپلو کورونو ته لا نه وو داخل شوي ، چې صفیه رضی الله عنها مو کور ته ورسوله .. د مهاجرینو او انصارو مېرمنې له دې کیسې خبرې شوې .. ټولې راغلې ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم څلور مېرمنې مې په حجاب کې ولیدې ... ( زینب بنت جحش ، حفصه ، عائشه او جویریة ) .. ما واورېدل چې زینب رضی الله عنها جویریې ته داسې ویل :

( زه خو وایم چې دا ښځه به تر موږ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې غالبه کیږي ... )

جویریې ورته وویل :

( هیڅکله نه ، دا له هغو ښځو څخه ده چې ډېر کم وخت خاوندانو سره پاتې کیږي .. )

کله چې صفیه رضی الله عنها د نبوت کورنۍ ته راننوتله ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو ښځو د غیرت سره مخامخ کیږي ... خو دهغې ښکلا او غوره اخلاق ددې لامل شول چې د مؤمنانو د ټولو میندو زړونو ته یې لاره پیدا کړه او ټولو ته نږدې شوه .... هیڅکله یې چاسره دښمني او کینه نه ده کړې .. نوموړې همدا راز د ډېرې مینې او صمیمیت له مخې د سرو زرو یو کالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ( فاطمة الزهراء رضی الله عنها ) ته هم ډالۍ کړ .. .. خو ددې هرڅه سره سره به ، کله نا کله صفیې رضی الله عنها ته پیغور ورکول کېده چې ګویا د یهودي نسب څخه ده او قوم یې اسلام سره ډېره دښمني کړې ده .. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل د صفیې رضی الله عنها ملاتړ کاوه ... په ځانګړې توګه هغه مهال چې کله به د مؤمنانو نورو میندو دا ویاړ څرګندولو چې ګویا دوی له غوره عربي قبیلو یا له قریشو څخه دي ... په داسې حال کې به محمد صلی الله علیه وسلم له صفیې سره ودرېده ... یوه ورځ ورته صفیه رضی الله عنها له دې پیغورونو ډېره تنګه او په ژړا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله ، هغه ورته وفرمایل :

(( ځواب به دې ورکړی وای چې ، تاسو څنګه له ما غوره کیدای شئ ؟ !! .. محمد مې خاوند دی ، پلار مې هارون دی .. تره مې موسی علیه السلام دی !! ))

په دې کې اشاره ده چې صفیې رضی الله عنها نسب د موسی علیه السلام ورور هارون علیه السلام ته رسیږي ... صفیه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبرو ډېره آرامه او خوشاله شوه .... رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو میرمنو په منځ کې د صفیې غربت ته متوجې وو .. . هروخت به چې ورته فرصت په لاس ورغی او یا به اړتیا پیدا شوه ، نو له صفیې رضی الله عنها څخه به یې دفاع کوله ... .. صفیة بنت حیی رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند تر وروستۍ شېبې هم د هغه له ملاتړ او دفاع څخه نه وه بې برخې ... .. ویل کیږي چې د محمد صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه وسلم ټولې مېرمنې دهغه د وروستی ناروغی پرمهال دهغه په بستر باندې راټولې شوې وې ... صفیې رضی الله عنها وویل :

(( قسم په الله ، کاش چې دا ستا درد پر ما وای ... )) .. ددې خبرې سره سم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو میرمنو یوې او بلې ته په ستر ګو اشارې وکړې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم سمدلاسه وویل :

(( اشارې وکړئ !! ))

ټولو په حیرانتیا پوښتنه وکړه :

( ولې دالله رسوله ! ؟ )

ویې ویل : (( تاسو ولې ورپسې ستر ګکونه ووهل ... قسم په الله دا رښتونې ده ))

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په یوولسم کال وفات شو ، صفیې رضی الله عنها یو ستر ملاتړی له لاسه ورکړ .. .. د ځینو خلکو بیا هم دا خبره لا زړه نه وه وتلې چې ، نوموړې د یهودي نسب خاونده ده ، او قوم یې تل د مسلمانانو او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمني کړې او تل یې ورته دسیسې جوړولې او تړونونه یې ورسره مات کړي ...

دعمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت په دوره کې هغه ته یوه وینځه راغله او ویې ویل :

( ای امیر المؤمنین .. صفیه د شنبې ورځ خوښوي ، او د یهودو سره اړیکې ساتي.. )

عمر رضی الله عنه سمدلاسه صفیې ته ځواب ولیږه او دا پوښتنه یې ترې وکړه ، هغې وویل :

(( له کومې ورځې چې راته الله جل جلاله د جمعې ورځ راکړې ، د شنې ورځ مې نه ده خوښه کړې ... او دیهودو سره د اړیکو په اړه ، زه هلته خپلوی لرم ، او تل به خپلوی پالم او اړیکې به ساتم .. ))

بیا عمر رضی الله عنه هغه وینځه راوغوښته چې دا تور یې ورته راوړی وو ، او د صفیې کیسه یې ورته بیان کړه ... ښځې په ډېرې پښېمانتیا او خپګان ځواب ورکړ :

(( شیطان ! .. ))

صفیې رضی الله عنها ورته بیا وویل :

(( لاړه شه ، ته آزاده یې ! ))

صفیة بنت حیی رضی الله عنها تر ډېرو کلونو ژوندی وه ... دا ښځه د یوې داسې یهودی هغه غوره نمونه ګڼل کیږي چې ، اسلام یې قبول کړ او الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې د زړه له خلاصه مینه وکړه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن سعد په خپلو طبقاتو کې روایت راخیستی هغه فرمایې چې ، صفیې رضی الله عنها د خپل کور او د عثمان رضی الله عنه د کور په منځ کې د تېرېدو راتېرو لاره پرېښې وه ... کله چې عثمان رضی الله عنه محاصره وو ، نو صفیې رضی الله عنها به ورته خوراک او څښاک وروړلو ...

صفیه رضی الله عنها د عثمان رضی الله عنه له شهادت وروسته هم ژوندۍ وه ، او د ډېرو پېښو شاهده وه ... نوموړې د معاویة بن ابی سفیان په وخت کې د هجرت په ۵۰ کال کې وفات شوه .. په بقیع هدیره کې له سترو صحابه کرامو او د مؤمنانو له میندو سره خاورو ته وسپارل شوه ... دهغې ژوند د غوره ایمان ، غښتلې عقیدې ، رښتوني ایمان او د اسلام په نرمۍ او عدالت باندې د پیاوړي یقین په برخه کې نمونه او بېلګه ګڼل کیږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ام حبيبة رملة بنت ابى سفيان رضى الله عنها

دې ښځې په حبشه کې د مهاجرت شپې ورځې تيرولې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځان لپاره وغوښته .. د محمد صلى الله عليه وسلم هدف دا وو چې د دې ښځې د غربت دردونه راکم کړي ... له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د نکاح په تړلو باندې د حبشې پاچا نجاشي هم ګواه وو ... نجاشي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په استازيتوب دې ښځې ته مهر اداء کړ ...دا ښځه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ډېره ليرې وه .. د ( **ام حبيبه ، رملة بنت ابى سفيان رضى الله عنها** ) کيسه ، دهغې په ژوند کې يوه عجيبه کيسه ده ، او په دې ارزي چې د نوموړې په تاريخ او دسيرت په کتابونو کې د عبرت او درس لپاره ولوستل شي .

دا مېرمن ( **رملة بنت ابى سفيان بن صخر بن حرب بن امية** ) نوميږي ، نوموړې د مکې د مشر ابوسفيان لور او د معاوية بن ابى سفيان سکه خور وه . .. لومړی يې د محمد صلى الله عليه وسلم د ترور له ځوی ( عبيدالله بن جحش) سره واده وکړ . خاوند يې د اسلامي دعوت په پيل کې په مکه مکرمه کې مسلمان شو .. . مېرمنې يې هم پلوي وکړه او اسلام يې راوړ .. دا چې پلار يې د اسلامي دعوت له سترو دښمنانو څخه وو ، وويرېده چې زيان به ورته ورسوي .... له خپل خاوند عبيدالله سره يې يو ځای هوډ وکړ چې حبشې ته د دويم هجرت په ترڅ کې مهاجر شي .... کله يې چې هجرت کاوه نوموړې حامله هم وه .. کله چې د رملة پلار ابوسفيان د خپلې لور له اسلامه خبر شو ، ډېر زيات غوسه او په قهر شو ... په ځانګړې توګه کله چې له دې خبر شو چې لور يې ورته مکه هم پرېښې او حبشې ته يې هجرت کړی ، له غوسې يې نږدې وو چې رګونه شکېدلي وای ، ځکه د رسيدلو وس يې ورته هم نه درلود .... کله چې د مکې مهاجرين حبشې ته ورسيدل ، د حبشې پاچا نجاشي ورته ځای ورکړ او هغوی ته يې ددين په برخه کې د امان ډاډ ورکړ ... مسلمانانو هم په خلاص زړه عبادتونه کول او له هيڅ يې د ويرې احساس نه کاوه . .. په همدې وختونو کې ، رملة بنت ابى سفيان رضى الله عنها خپله لور ( حبيبة بنت عبيدالله ) وزيږوله .. نوموړې هم بيا په ( ام حبيبه ) کنيه باندې مشهوره شوه... . هغې ګومان کاوه چې ګويا له کوچنۍ کورنۍ سره به حبشه کې د تل لپاره اوسيږي ...... ام حبيبې رضى الله عنها په حبشه کې د مهاجرت سختې شپې ورځې تېرولې ... يوه شپه يې خپل وطن ډېر په زړه راوورېده ... خوب يې وليده او په خوب کې ډېره نا آرامه شوه ... ناڅاپي په خوب کې په وېره او ورخطايي راپاڅېده ... په خوب کې يې خپل خاوند عبيدالله په ډېر بد حالت کې وليده ... کله يې چې خاوند ته خوب بيان کړ ، هغه ورته هيڅ توجو ونکړه ...... لکه څنګه يې چې خپل خاوند په بد حالت کې ليدلی وو ، هماغسې پېښ شول او خاوند يې د اسلام له سپيڅلي دين څخه مرتد شو او د حبشيانو ددين نصرانيت پلوي يې وکړه ... خاوند يې ډېره هڅه وکړه چې خپله مېرمن هم له اسلام څخه واړوي ، خو هغې صبر وکړ او په خپل دين پاتې شوه... او په ډېر زغم سره يې د خپل خاوند د ارتداد غم په زړه تېراوه ... د ام حبيبې رضى الله عنها غم هله زيات شو چې کله يې خاوند د شرابو ښناک ته مخه کړه ..... د شرابو په څښکلو دومره روږدی شو چې له همدې امله بيا هلاک شو ..... د خاوند له وفات وروسته ام حبيبه رضى الله عنها په کور کې يوازې پاتې شوه ، هم له کور کلي او هم له خاونده جلا شوه ... د صبر د تلقين او تسليت لپاره يې له غښتلي ايمان پرته د مهاجرت په سيمه کې بل هيڅوک نه درلود ... غښتلی ايمان چې له امله يې خپل کور کلی پرېښی وو ، او هغه کسان چې له کور کلي ورسره په هجرت وتلي وو د ام حبيبې رضى الله عنها د تسليت يوازينۍ مرجع ګڼل کېده .. ورځې تېرېدې او ام حبيبې رضى الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنها د بېلتون شپې ورځې تېرولې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم په حبشه کې د مهاجرینو حالات څارل او دهغوی په اړه به یې پوښتنې کولې ... د عبیدالله بن جحش په ارتداد ډېر زیات خپه شو ... هوډ یې وکړ چې د ام حبیبې رضی الله عنها غم په خوشالۍ او بیلتون یې په ښکلې ډالۍ جبران کړي ... هماغه وو چې د هجرت په شپږم کال یوه ورځ د ام حبیبې رضی الله عنها د کور دروازه ټک ټک شوه ... چې کله راووتله ، د نجاشي یوې خادمې ورته یو پیغام راوړ او ورته یې وویل :

پاچا درته وایې چې ، یو څوک د وکیل په توګه وټاکه چې د عربانو پاچا ته دې واده کړو ..... ځواب یې رالیږلی او ترڅو تا هغه ته وغواړي ... !!

ام حبیبه رضی الله عنها د لیک په محتوی په بشپړه توګه پوه نه شوه ... هغه لیک چې د خوشالیو له پیغامونو او زیرو ډک وو ، په کره توګه یې ترې مفهوم وانه خیست ... له خادمې یې د نورو مالوماتو پوښتنه وکړه .. هغې ورته ټینګار وکړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې پاچا نجاشي ته ځواب لیږلی چې ام حبیبه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره وغواړي . . کله یې چې دا زیری واورېده .. سمدلاسه یې د سپینو زرو دوه بنګړي راوویستل او د نجاشي خادمې ته یې ورکړل .... بیا یې د خپل قوم بنو امیة څخه د مهاجرینو یو مشر ( خالد بن سعید بن العاص بن امیة بن عبدشمس ) ته ځواب ولیږه ، هغه یې په خپل واده کې د وکیل په توګه ونیوه ... ماښام مهال ، نجاشي مسلمانان راوغوښتل ، دوی د محمد صلی الله علیه وسلم د تره د ځوی جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه په مشرۍ راغلل .. خالد بن سعید د رملة بنت ابی سفیان رضی الله عنها وکیل هم راغی ... نجاشي پاڅېده .. او داسې یې وویل :

محمد بن عبدالله راته لیک رالیږلی وو چې ، ام حبیبه بنت ابی سفیان ورته واده کړم .. څوک یې وکالت کوي ..؟

خلکو ورته ځواب ورکړ چې ،

خالد بن سعید ..

نجاشي خالد بن سعید ته مخ کړ او ورته یې وویل :

خپل پیغمبر ته یې واده کړئ ، دهغه پر ځای به زه څلور سوه دیناره مهر ورکړم ... او ویل کیږي چې ... څلور زره دیناره یې ورکړل ..

خالد بن سعید پاڅېده او ویې ویل :

زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتنه منم ، او ام حبیبه ورته واده کوم .... له دې وروسته یې ترې مهر واخیست ..

نجاشي د محمد صلی الله علیه وسلم ددې نکاح ولیمه وکړه او ویې ویل :

کښېنئ ... کله چې پیغمبران واده کوي ، دا یې سنت دی چې د واده ډوډۍ خلکو ته ورکوي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د  ام حبیبې رضی الله عنها کور ته راغلل او هغې ته یې مبارکي وویله ... له بل پلوه عثمان بن عفان رضی الله عنه په مدینه منوره کې ددې واده په خوشالۍ غوبنې او ماته ډوډۍ د ولیمې په توګه ورکړې ... .. دا هغه واده وو  چې له مخې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم زرګونه میله لیرې د یوې غمجنې ښځې زړه ټکور کړ او لاس یې ورته ورکړ .... دا هغه ښځه وه چې د اسلام لپاره یې خپل کور ، کلی ، خپلوان او پلار پرېښی وو او دالله په لاره کې یې قربانیو ته ملا تړلې وه .

د نجاشي خادمې د خپلې کورنۍ ډالۍ ، عطرونه او خوشبویانې ام حبیبې رضی الله عنها ته ورسولې .. او ویې ویل :

پاچا خپلو ښځو ته امر کړی چې ، تاته خپل ټول ښکلي عطرونه راولیږي .... او یوې ښځې ته یې امر کړی چې د ام حبیبې رضی الله عنها لپاره د واده جامې تیارې کړي ...  او بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ولیږي .... له دې وروسته ام حبیبة بنت ابی سفیان رضی الله عنها د مؤمنانو د میندو په کتار کې راغله .. .. الله جل جلاله هم د ام حبیبې رضی الله عنها ټول غمونه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په واده کولو باندې جبران کړل ..

ابوسفیان چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترو او سختو دښمنانو څخه وو ،  کله چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خپلې لور له واده خبر شو ویې ویل چې ، زه دده مخه نه شم نیولی ..

میاشتې او ورځې تېرې شوې ، ام حبیبه رضی الله عنها په حبشه کې له مهاجرینو سره یوځای شپې ورځې تیروي ..... کله چې په مدینه منوره کې  رسول الله صلی الله علیه وسلم ځای پرځای شو ..  ( عمرو بن امیة الضمري ) یې نجاشي ته ولیږه   ترڅو په حبشه کې پاتې مسلمانان مهاجر مدینې منورې ته راستانه شي ...  ( عمرو بن امیة ) دوی په سمندر کې په دوه کښتیو کې راسپاره کړل او مدینې منورې ته یې راورسول .. .. ام حبیبه رضی الله عنها مدینې منورې  د هجرت په اووم کال کې راورسیده ...  دا مهال د خیبر غزا  په سختو شپېو کې روانه وه ..... .. کله چې مسلمانانو او رسول الله صلی الله علیه وسلم  په خیبر غزا کې بریا لاسته راوړه ،  یوه  خوشالي پر دوه خوشالیو بدله شوه ..... دا ځل له رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام حبیبې رضی الله عنها ملاقات تر نورو ملاقاتو بدل وو .. .. دا ځل محمد صلی الله علیه وسلم دهغې په اړوند یوازې یو پیغمبر ، لارښود او معلم نه وو ... ... بلکې له دې وروسته یې  محمدصلی الله علیه وسلم  یو خاوند او خپله ام حبیبه د مؤمنانو له میندو څخه وګرځیده ..

رملة بنت ابی سفیان رضی الله عنها له غښتلي ایمان او قوي عقیدې سره د نبوت کورنۍ ته داخله شوه .... دا چې نوموړې د ابوسفیان لور وه ، او د یو پیاوړي نسب خاونده وه ، همدا لامل وو چې  دمحمد صلی الله علیه وسلم له نورو میندو سره یې اړیکې هم ښې وې ...  هغوی هم د ام حبیبې رضی الله عنها دې نسب ته  د احترام په سترګه کتل .... له بل پلوه ، دواده پر مهال نوموړې د څلوېښت کلنۍ په عمر کې وه .. ... خو  ام حبیبې رضی الله عنها  د نسب غښتلتیا  د غوره والي معیار نه باله ....  د اسلام ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم پر ام حبیبې رضی الله عنها او دهغې لور ته ځانګړې پاملرنه کوله .... رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په څنګ کې ، ام حبیبې رضی الله عنها هم سکون او آرامتیا پیدا کړه  او ټول غمونه یې هېر کړل ...  .. خو یو ټکی چې نوموړې به یې تل په غم کې اچولې وه ، هغه دا چې پلار یې بت پرست او د ګمراهۍ په تیارو کې پټ وو ... له خپل خاوند او پلار ترمنځ پرله پسې نښتو او جګړو به نوموړې ډېره دردوله .... کله چې مسلمانانو له مشرکینو سره د حدیبیې سوله وکړه ، او بیا دا سوله د مشرکینو لخوا ماته شوه ...او  ابوسفیان له مکې مکرمې  څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدينې منورې ته د سولې د تړون د غزولو لپاره راغی ، دا مهال د ابوسفيان د لور ام حبيبې رضی الله عنها د ريځ ډېر روښانه ، له ايمانه ډک او غښتلی وو .. ابوسفيان په خپله ځير کتيا په دې پوه وو چې ددښمن په کور کې يې لور شپې ورځې سبا کوي ... ښايې هغه ورته سفارش وکړي .. هماغه وو چې ابوسفيان د خپلې لور ام حبيبې رضی الله عنها کور ته لاړ ...ډېره موده دوی سره يو بل نه وو ليدلي ... ... ام حبيبه رضی الله عنها د خپل پلار په راتګ ډېره حيرانه شوه .. مخامخ ورته ودرېده ... نه پوهيده څه وکړي او يا ورته څه ووايې !!! دومره ترې لاره ورکه شوه چې خپل پلار يې کور ته د راننه ايستلو لپاره هم دعوت نه کړ!!! ... ابوسفيان په خپل سر کور ته راننوت ، او اراده يې وکړه چې په بستره باندې کښېني ... کله چې ام حبيبې رضی الله عنها دا حالت وليده ، ژر يې بستره ټوله کړه او اجازه يې ورنکړه چې پلار يې پرې کښېني ... ابوسفيان په ملامتيا له خپلې لور پوښتنه وکړه ...

لورې دا بستره څه تر ما غوره وه چې ور غبرګه دې کړه !!! ؟

ام حبيبې رضی الله عنها ورته ځواب ورکړ ...

دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم بستره ده ، او ته يو مشرک انسان .. ..نه غواړم چې ته پرې کښېنې ...

ابوسفيان په ډېر دردېدلي غږ وويل :

له ما وروسته تاته ډېر شر در رسيدلی دی ... !! ... په ډېره غوسه يې له کوره ووت ...

ام حبيبې رضی الله عنها د اسلام او د نبوت له کورنۍ سره ډېره وفاء څرګنده کړه ..... او دا يې ثابته کړه چې ، د شرک نجاست هرڅومره نږدې انسان کې هم وي ، بايد مخه يې ونيول شي او په اسلامي ارزښتونو باندې ورته غوره والی ورنکړل شي ...

د هجرت په اتم کال د مکې فتحه ستره بريا وه .... له دې وروسته د اسلام ستنې لا غښتلې او اسلامي دعوت لا پراخ شو .. خو ا م حبيبې رمله رضی الله عنها داسې فکر کاوه چې د مسلمانانو لس زره لښکرې چې له مدينې منورې څخه د مکې مکرمې پر لور ووتلې ، ګومان يې کاوه چې دا لښکرې به يې قوم له منځه يوسي ... دا حالت هغې ته ډېر سخت او دردناک مالومېده .. .ګومان يې کاوه چې ، د محمد صلی الله عليه وسلم او دهغه د لښکرو بريا دا مانا لري چې دهغې قوم ، پلار او ټبر به يې له منځه ځي او له هلاکت سره به مخامخ کيږي ... .. د ام حبيبې رضی الله عنها په ذهن کې له دومره احساساتو د راپيداکيدو سره سره ، بيا هم هغې داسې کار او خبره نه کوله چې الله جل جلاله او رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې خپه شي ... هغې به تل دا دعاء کوله چې ، الله جل جلاله يې پلار ته داسلام هدايت وکړي ... .. خو د مکې د فتحې ورځ ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مهربانۍ ، نرمۍ ، عدالت او انصاف يوه نمونه وګرځېده ... د ام حبيبې رضی الله عنها د پلار ابوسفيان وياړ ، فخر او لويي ډېره خوښيده ، ام حبيبې رضی الله عنها هم غوښتل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دې پلار ته يو څه ځانګړنه او وياړ وروبخښي ..د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا دا فرمان صادر کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( څوک چې د ابوسفیان کور ته داخل شي ، هغه به په امن کې وي ... ... او چا چې ځان پسې دروازه بنده کړه ، هغه به امن کې وي .. او څوک چې مسجدالحرام ته داخل شي ، هغه به امن کې وي ! ! ))

کله چې ام حبیبه رمله رضی الله عنها د خپل پلار د اسلام راوړلو خبره شوه ، ډېره زیاته خوشاله شوه ... په دې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ام حبیبې د پلار ترمنځ هغه اوږد کشمکش پای ته ورسیده چې نوموړې یې له خپلې کورنۍ او کلي محرومه کړې وه ....

ام حبیبې رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه سره له څلورو زیات کلونه تېر نکړل .. . د هجرت په یوولسم کال یې مهربانه خاوند د اسلام ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم وفات شو .. د محمد صلی الله علیه وسلم په وفات کېدو سره یې خاوند ، د ژوند ملګری او ملاتړ له لاسه ورکړ ..... هغه خاوند یې له لاسه ورکړ چې د غربت په دردېدلو شپږو کې یې ورته له زرګونه میله لیرې ځایه د مرستې ، تسلیت او ډاډ لاس ورکړ .... داسې لاس یې ورته ورکړ چې په حبشه کې یې د خپل لومړي خاوند بې دینې، ارتداد او ظلمونه هېر کړل ...

ام حبیبې رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځه شپیته حدیثونه روایت کړي ...

د محمد صلی الله علیه وسلم پر کتهې ( حبیبې رضی الله عنها ) او دهغې وراره ( عبدالله بن عتبة بن ابی سفیان رضی الله عنه ) او خوریین ( ابوسفیان بن سعید بن المغیره رضی الله عنه ) له ام حبیبې رضی الله عنها څخه بیا ځینې حدیثونه روایت کړي دي ...

ام حبیبه رضی الله عنها له اویا کلونو په زیات عمر ، دهجرت په ۴۴ کال کې وفات شوه ... .. کله چې ام حبیبه رمله رضی الله عنها وفات کېده ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولې مېرمنې او خپلې بنې یې راوغوښتې او له هغوی یې بخښنه وغوښته ... عائشې رضی الله عنها ته یې وویل :

(( زما او ستا ترمنځ به هغه څه پېښ شوي وو چې عموما د بنو ترمنځ پېښیږي ... الله جل جلاله دې ما او تاته بخښنه وکړي ))

عائشې رضی الله عنها ورته بخښنه وکړه ، چې له ورایه یې پر مخ د خوشالۍ نښې راښکاره شوې .. په ډېرې خوشالۍ یې وویل :

(( خوشاله دې کړم ، الله دې تا خوشاله کړي ! ! ))

همداسې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بلې میرمنې ( ام سلمې ) رضی الله عنها سره هم وکړل .. هغې هم ورته بخښنه وکړه .. له دې وروسته په ډېرې خوشالۍ ام حبیبې رملة بنت ابی سفیان رضی الله عنها له دنیا سترګې پټې کړې .... نوموړې په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه ... .. ام حبیبې رضی الله عنها له ځان سره د غوره نسب ، غوره خاوند ، غښتلي ایمان ، قوي عقیدې او دالله په لاره کې د هجرت ویاړونه له ځان سره یوړل ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ميمونة بنت الحارث رضى الله عنها

دا وروستۍ مېرمن وه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره واده وكړ .. ددې ښځې واده د حديبيې د سولې په پلي كېدو پورې تړاو درلو .. رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې ښځه ( ميمونه ) نوم ايښی وو .. ځكه دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم تمنا او ارزو وه چې سوله رامنځته شي او خلک هدايت ومومي ، نه دا چې جګړه پېښه شي او وينې توی شي .. دا مېرمن ( **ميمونة بنت الحارث رضى الله عنها** ) نومېده .. نوموړې خپل ځان رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډالۍ كړی وو ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم وروستۍ مېرمن وه ..

د ميمونې رضى الله عنها بشپړ نوم ( **برة بنت الحارث بن جبير العامرية الهلالية** ) وو .... نوموړې يوه له هغو خويندو څخه وه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه ويلي وو ( مؤمنې ميندې ) .. په داسې حال كې چې په مدينه منوره كې د اسلامي دولت بنسټونه كېښودل شول او مخ په جوړېدا شو ، دوی په مكه مكرمه كې د اسلام د سپيڅلي دين لپاره كار كاوه . . . كله چې د هجرت په اووم كال مسلمانان د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مشرۍ په يهودو باندې د خيبر په غزا كې بريالي شول ، ميمونة رضى الله عنها په مكه مكرمه كې د ( مسعود بن عمرو ) مېرمن وه . د ميمونې رضى الله عنها خاوند ( مسعود ) هغه كس وو چې كله په خيبر كې د مسلمانانو له بريا خبر شو ، ډېر خپه او په پښېمانتيا خپل كور ته ستون شو .. دا په داسې حال كې وه چې مېرمن يې د مسلمانانو په بريا او د يهودو په ماتې خوشالي ښكاره كړه .. ددوی اختلافات زيات شول ، هماغه وو چې بيا يې طلاقه كړه . . ميمونه رضى الله عنها له طلاق وروسته د خپل خاوند له كوره ووتله ، او د خپلې خور ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تره عباس بن عبدالمطلب مېرمنې ( ام الفضل ) كور ته لاړه ... دلته تر هغې ورځې پاتې شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو صحابه كرامو سره يوځای د حديبيې د سولې د تړون د پوره كيدو په خاطر د عمرې د اداء كولو لپاره راغلل . . . دا مالومه وه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت په شپږم كال د ذی القعدې په مياشت كې له سلګونو مهاجرينو او انصارو سره مكې مكرمې ته د عمرې د اداء كولو په تكل وتلی وو .... ددې لپاره چې خلكو ته روښانه كړي چې دوی د جګړې لپاره نه دي راغلي ، له ځانونو سره يې دقربانۍ مالونه واخيستل او احرامونه يې وتړل . خو قريشو په ډېر كبر سره ددوی مخه ونيوه او ويې ويل چې ، قسم په الله كه رانه په زور راداخل شي ... اجازه نه وركوو چې سبا راپسې عربان بيا خبرې كوي ! ! ! له اوږدو خبرو اترو او مذاكراتو وروسته ، د قريشو او رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې تړون وشو چې ، سږ كال به رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرام بيرته ستنيږي او مكې ته به نه داخليږي ... په راتلونكي كال كې به مسلمانان مكې ته داخليږي ، هلته به درې ورځې تيروي ... او يوازې د يوې سپرلۍ وسله به له ځان سره لري ، خو په داسې حال كې به داخليږي چې قريش به ټول له مكې وتلي وي ..... د حديبيې په سوله كې راغلي وو چې د لسو كلونو لپاره به جګړې او جنګونه نه كوي .. او هغه څوک چې د محمد صلى الله عليه وسلم په تړون او ايتلاف كې داخليږي ، مخه به يې نه نيول كيږي .... .. د هجرت په اووم كال رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو صحابه كرامو سره يوځای مكې مكرمې ته د عمرې داداء كولو په موخه راغی .... د رسول الله صلى الله عليه وسلم په همدې راتګ سره ، د ميمونې رضى الله عنها په ژوند كې ستر بدلون راځي او د مؤمنانو مور جوړيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په مکه مکرمه کې د عمرې مراسم اداء کول ، او له کعبې شریفې څخه یې طوافونه کول ، میمونې رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دواده خبره له خپلې خور ( ام الفضل رضی الله عنها ) سره شریکه کړه . ... ام الفضل رضی الله عنها دا خبره خپل خاوند عباس بن عبدالمطلب ته ورسوله ... هغه بیا خپل وراره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او دا وړاندیز یې ورته بیان کړ .. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې وړاندیز ته غاړه کېښوده او د مرکې لپاره یې جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه ولیږه .... میمونه رضی الله عنها لومړی ( برة ) نومېده ، بیا ورباندې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ویاړ میمونه نوم کېښود . ... د حدیبیې د سولې د تړون پر بنسټ ، کله چې درې ورځې تېرې شوې ، قریشو رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو ته ځواب ولیږه ترڅو له مکې ژر تر ژره ووځي ... داسې یې ورته ویل :

(( ای محمده ! له موږ لاړ شه !! نن دې وروستی شرط دی ! ...))

رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې مهلت ترې واخلي ، ورته یې وویل :

((څه به وشي چې لږ مې پرېږدئ ... ستاسو مخامخ به واده وکړم ... ډوډۍ به درته تیاره کړم ، تاسو به هم ورته راشئ !! ))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې موخه داوه چې ددوی ترمنځ خبرې اترې تبادله شي ، ښایې ددې خبرو اترو د اوږدالي لامله ورته الله جل جلاله د حق هدایت وکړي .

خو قریشو په ډېرې سختۍ ځواب ورکړ او ورته یې وویل :

(( موږ ستا ډوډۍ ته اړتیا نه لرو ، له موږ لاړ شه !! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو صحابه کرامو سره د تړون پر بنسټ له مکې مکرمې ووت ، .. له ځان سره یې خپله نوې مېرمن ( میمونة بنت الحارث رضی الله عنها ) هم یوړه .... رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلې مېرمنې سره د مکې او مدینې د لارې په منځ کې د ( وادي سرف ) په نوم ځای کې یوځای شو .. دا دمؤمنانو وروستۍ مور وه چې نبوي کورنۍ ته داخلیږي ..

میمونة رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته ډېر کلونه ژوندۍ وه .... خو دهغې شپې یاد چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره د مکې او مدینې د اوږدې لارې په منځ کې یوځای شوی وو ... دا یاد ورسره د تل لپاره پاتې وو ... هماغه وو چې بیا یې وصیت وکړ چې له وفات وروسته دې په همدې سیمه ( وادي سرف ) کې خاورو ته وسپارل شي .. د میمونې رضی الله عنها قبر په دې سیمه کې نن هم ټولو ته مالوم دی ..

د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستۍ مېرمن او د مؤمنانو مور میمونة بنت الحارث رضی الله عنها د هجرت په ۵۱ کال وفات شوه .. او ویل کیږي چې د مړینې پرمهال یې عمر د اتیا کلنۍ په درشل کې وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مارية القبطية رضی الله عنها

دا يوه مصري مېرمن وه ، له ليرې هيواده راغلې وه ... رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلو مېرمنو ځای ورکړی وو ، خو د ( ام المؤمنين ) دلقب وياړ يې ترلاسه نه کړ ... خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو ځوی د مور وياړ يې له ځان سره درلود .. دا مېرمن د ابراهيم مور وه ... او ډېره نېکه او صالح ښځه وه .. . دا مېرمن ( مارية القبطية ) نوميږي .

د هجرت د شپږم کال په وروستيو کې ، او هغه مهال چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له قريشو سره د حديبيې د سولې تړون وکړ ... د هيوادونو پاچاهانو ته يې استازي وليږل ،او هغوی يې اسلام ته راوبلل .... د دغو پآچاهانو له ډلې په مصر کې د قبطيانو مشر ( مقوقس ) هم وو ... دا هغه کس وو چې په اسکندريه کې يې خپل استوګنځای جوړ کړی وو . نوموړي ته رسول الله صلی الله عليه وسلم يو ليک ليږلی وو او داسې يې ورکې ليکلي وو :

(( بسم الله الرحمن الرحيم .. له محمد بن عبدالله څخه ، د قبطيانو مشر مقوقس ته ! د هدايت پر پلويانو دې سلام وي ! ! خبره دا ده چې ، زه دې اسلام ته رابولم .. مسلمان شه په امان کې به شي !! الله جل جلاله به درته دوه ځله اجر درکړ ، که انکار دې وکړ ،نو د قبطيانو ګناه هم ستا پر غاړه ده ! .. ))

مقوقس او دهغه قوم د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت ونه مانه او نه يې اسلام ته غاړه کېښوده .. خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د استازي يې ډېر تود هرکلي وکړ .. ښه مېلمستيا يې ورکړه او بيا يې خپل ليکوال راوغوښت او د ليک ځواب يې ورته وليکه :

(( ما ستا ليک ولوست ، او پوه شوم چې ته څه ته دعوت کوې .. زه پوهيدم چې يو پيغمبر پاتې دی ، خو ما ګومان کاوه چې په شام کې به مبعوث کيږي ... ما ستا د استازي ډېر عزت وکړ ... تاته مې دوه نجونې درولېږلې .. دوی په قبط کې ډېر لوی ځای لري ... جامې او د سپرېدا لپاره مې درته سپرلي هم درولېږله .. پر تا دې هم سلامتيا وي ..))

مقوقس د رسول الله صلی الله عليه وسلم استازي ( حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه ) ته ګڼې ډالۍ ورکړې چې ، په ترڅ کې يې دوه قبطي نجونې هم وې .. يوه ( مارية ) او بله يې خور ( سيرين ) يادېده .

( مارية بنت شمعون ) له قبطي پلار او مسيحي رومي مور څخه د مصر په هيواد کې زيږېدلې ده .. مخکې ددې چې مارية له خپلې خور سره د مدينې منورې پر لور اوړده لاره ووهي ، دوی د ځوانۍ په عمر کې د مقوقس دربار ته تللې وې ... .. په دې اوږده لاره کې چې مارية او دهغې خور سيرين ورکې له خپل هيواد او کورنۍ څخه مخ په ليرې کېدو وو ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم استازي ( حاطب بن ابی بلتعه ) ورته د رسول الله صلی الله عليه په اړه کيسې کولې ، د اسلام ددين او نوي رسالت په اړه يې ورته مالومات ورکول .. دهغه په خبرو ددواړو نجونو زړونه ټکور او يو څه يې دغربت وحشت راکم شو .. او همدا لامل وو چې څنګه ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم اسلام وړاندې کړ ، سمدلاسه مسلمانانې شوې .. . محمد صلی الله عليه وسلم ( سيرين ) خپل شاعر ( حسان بن ثابت رضی الله عنه ) ته ډالۍ کړه ، هغه ورسره واده وکړ او له هغې يې بچيان وزيږېدل .. او مارية يې دخپل ځان لپاره غوره کړه ، او په ( ملک اليمين )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره یوځای شو .. رسول الله صلی الله علیه وسلم ماریې ته د نورو مېرمنو په خونو کې ځای ورنکړ ... بلکې نبوي جومات ته نږدې یې د ( حارثة بن النعمان الانصاري ) په کور کې ځای پرځای کړه ..

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نورو کورونو ته دا خبر ورغی چې ، یوه ښکلې مصري نجلۍ او د کروړو ویښتانو خاونده، د نیل له څمکې راغلې او یو چا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ډالۍ په توګه رالیږلې ... دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته ډېر راتللو او دې کار د هغه د نورو مېرمنو غیرت راوپاروه ، هغه اړ شو او دمدینې منورې ختیځ کې یې په عالیه کې ورته کور جوړ کړ .

واقدي د عبدالله بن عبدالرحمن بن ابی صعصعه څخه روایت کوي ، وایې : د رسول الله صلی الله علیه وسلم ماریة القبطیة ډېره خوښېده ، نوموړې ډېره ښکلې ، سپینه او کروړه ویښتان یې درلودل .. هغه او خور یې د ام سلیم بنت ملحان سره ځای پرځای کړې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ورغی او اسلام یې ورته وړاندې کړ... په دعوت سره دواړه مسلمانانې شوې . هغه یې په عالیه سیمه کې یو کور ته انتقال کړه ... او دهغې خور ( سیرین ) یې حسان بن ثابت رضی الله عنه ته ډالۍ کړه ...

ماریه القبطیه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خوشاله ژوند درلود ، محمد صلی الله علیه وسلم هم ورته دومره مینه او مهرباني ورکړه چې د هیواد څخه غربت او لیروالی یې ترې هېر کړ .

رسول الله صلی الله علیه وسلم له اوسیدو په دویم کال ، په ماریة القبطیه د حمل نښانې ښکاره شوې .. . نوموړې لږه شکمنه وه ځکه یې دوه کاله خپل حمل پټ ساتلی وو . بیا مخکې تر دې چې زیری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړي ، خپلې خور سیرین یې له دې حالته خبره کړه .... کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې خبر شو ، په دې کار سره یې د لور زینب ، او له هغې وړاندې د رقیې ، او ام کلثوم رضی الله عنهن مړینه یوڅه هېره او تسلیت یې ورته ورکړ .

ابن سعد د واقدي له لارې روایت راخیستی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماریة پټه وساتله ، دا کار دهغه په نورو مېرمنو سخت او غیرت یې راوپارېده ... رسول الله صلی الله علیه وسلم به په ماریه باندې ډېر پام کاوه ، شپې به یې ورسره ویښې تېرولې او خدمت به یې کاوه .. دهجرت داتم کال د ذوالحجې په میاشت کې یې د ابورافع مېرمن قابله ( سلمی ) راوغوښته ، او خپله د کور په یوه څنډه کې ودرېده ، دعاګانې او لمونځونه یې کول ... .. کله چې ورته د ابورافع مېرمنې زیری راوړ ، هغه یې ډېره ونازوله ... بیا ماریې ته لاړ او هغې ته یې مبارکي ورکړه ، چې په دې سره نوموړې له وینځتوب هم آزاده شوه .. کله یې چې خپل ځوی په غېږ کې ونیوه ، ډېر ورته خوشاله شو او ( ابراهیم ) نوم یې پرې کېښود ، هغه خوښه ګڼله چې د ځوی نوم یې د پیغمبرانو د نیکه نوم وي ، ځکه یې پرې ابراهیم نوم کېښود ... رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې پر فقیرانو صدقې وکړې او د ماشوم د ویښتانو د وزن په کچه یې سره زر خیرات کړل . د انصارو مېرمنو خپلو کې سیالي کوله چې کومه به یې د رضاعت ویاړ له ځان سره ولري ... هغوی غوښتل چې ماریه پیغمبر علیه السلام ته اوزګاره کړي ،ځکه هغوی پوهیدې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ډېره مینه لري .. محمد صلی الله علیه وسلم د ځوی لپاره ښځه پیدا کړه چې شیدې ورته ورکړي .. او یوه اوزه یې ورته ورکړه که چېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځې شیدې کمې شي د اوزې له شیدو دې ګټه واخلي . . . . رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځوی روزنه او ساتنه کوله ، دهغه لوییدو ته ډېر خوشال وو ، د ابراهیم د مور ماریې د غربت وحشت هم له خپل ځوی سره له یاده ووت ..

رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل د خپل ځوی ابراهیم ملاقات ته ورتللو ، هلته به یې د ابراهیم او دهغه مور سره یوه شېبه تېروله ، لوبې به یې ورسره کولې ، سات به یې ورسره تېراوه او مینه او محبت به یې ورکاوه . خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوشالي ، او د مور خوشالي چې خپل ماشوم ورته آزادي وربخښلې وه ادامه ونکړه ... د ابراهیم په زوکړې څه دپاسه یو کال تېر شو ، چې له سختې ناروغۍ سره مخامخ شو ... ماریه پرې ډېره زیاته وردرېده ، خپله خور سیرین یې پرې راخبره کړه ، دواړو به په ګډه د ابراهیم لپاره شپې په ویښه تېرولې ، شپه او ورځ یې پر ځانونو یوه کړې وه ... او دهغه خدمت ته یې ځان وقف کړی وو ..

د ابراهیم پلار محمد صلی الله علیه وسلم راغی ، ډېر زیات پرې خپه شو ، ځوی یې راواخیست په خپله غېږ کې یې کېښود ، په دردېدلي زړه یې غېږې ته رانږدې کړ ... او په ډېرې غمګین غږ به یې ویل :

(( ابراهیمه موږ له تا دالله پرېکړې نه شو لیرې کولی !!! ))

د محمد صلی الله علیه وسلم یوازینی ځوی له سختې ناروغۍ رنج وړي ، نوموړی د مرګ په وروستیو شېبو کې وو ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترګو پرې مبارکې اوښکې راتوی شوې ... د هغه د زنکدن آوازونو یې زړه ډېر ودردولو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له ډېره غمه داسې وویل :

(( سترګه اوښکه کوي ، او زړه خپه کیږي ، او هغه څه وایو چې ، زموږ رب پرې خوشالیږي ... ابراهیمه موږ ستا په بېلتون ډېر خپه یو . ))

او په بل روایت کې راځي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( ای ابراهیمه ، که دا حق کار نه وی ، او رښتونې وعده نه وی .. او دا چې زموږ وروستي پخوانیو پسې روان دي ... نو موږ به دربانديې دومره خپه شوی وای چې ، تر دې به زیات وای ..... موږ ابراهیمه پر تا باندې ډېر خپه یو ))

د محمد صلی الله علیه وسلم ځوی د هجرت په ۱۰ کال د ربیع الاول په لسمه نېټه وفات شو ... په کوچني کټ کې هدیرې ته یوړل شو ، او خپل پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې د جنازې لمونځ اداء کړ .. څلور ځله یې تکبیر ووایه ... بیا یې په مدینه منوره کې د بقیع هدیرې ته یوړ ، او په خپلو مبارکو لاسونو یې په قبر کې کېښود ..

خلک د ابراهیم په مړینه ډېر خپه وو ، اسمان کې وریځې خپرې شوې ، لمر هم خپله رڼا تته کړه کړه او کسوف پرې راغی ... ځینو خلکو وویل :

(( لمر د ابراهیم د مړینې په خپګان تت شو ... ))

دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیده ، د کسوف لمونځ یې اداء کړ .. او داسې خطبه یې وکړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( لمر او سپوږمۍ دالله دوه معجزې دي ... هغه د چا د مرګ او ژوند په خاطر نه کمزورې کیږي ... که دا حالت مو کله ولیده ، الله جل جلاله ته دعاء ګانې وکړئ ، تکبیر ووایاست او صدقې ورکړئ !!! ))

کله چې د ماریة القبطیة ځوی ابراهیم وفات شو ، د محمد صلی الله علیه وسلم مهرباني هم پر ماریې باندې زیاته شوه ... تل به یې پوښتنه کوله ، پام به یې پرې کاوه او ډېره مینه به یې ورکوله...... خو د هجرت په یوولسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته ، او د هغه د ځوی ابراهیم له مړینې یو کال وروسته ... ماریة القبطیه د پنځه کلونو لپاره له خلکو جلا او ګوښه واوسیده ... نوموړې به یوازې د حسان بن ثابت رضی الله عنه له مېرمنې او د خپلې خور سیرین ملاقات ته ورتلله ، او کله نا کله به د محمد صلی الله علیه وسلم او د خپل ځوی ابراهیم د قبر زیارت ته راوتله .. کله چې نوموړې د هجرت په ۱۶ کال وفات شو ، امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه خلک د جنازې لمانځه ته راټول کړل ... مسلمانانو پرې د جنازې لمونځ اداء کړ او په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې د مؤمنانو د نورو میندو سره یوځای خاورو ته وسپارل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زینب بنت محمد صلی الله علیه وسلم

د غوره او کریم انسان محمد صلی الله علیه وسلم لور ده ... او د نړۍ د ښځو د سردارې خدیجة بنت خویلد رضی الله عنها لور ده .. د نبوت په سپیڅلي کور کې ستره شوې ... د اسلامي رسالت او وحیې د رانازلیدو او د نورو سترو پېښو شاهده ده ... ددې سترو ویاړونو او ځانګړنو سره سره ، دې ښځې ډېر سخت او توپاني ژوند کړی ... ژوند یې ستړی او شیندلی وو .... خپل زړه یې له غښتلي ایمان او قوي عقیدې ډک وو ، خو دداسې خاوند مېرمن وه چې ډېر عمر یې په ګمراهۍ او د اسلام په دښمنۍ کې تېر کړی دی ... دا مېرمن ( زینب بنت محمد صلی الله علیه وسلم ) نومیږي . نوموړې په ( زینب الکبری ) نوم هم یادیږي . ځکه ترټولو مشره او ددې مبارک او سپېڅلي نسل لومړۍ مېوه وه ...

له خدیجې بنت خویلد رضی الله عنها سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د واده لومړۍ مېوه زینب رضی الله عنها وه .. او ځینې تاریخي سرچینې وایې چې ، نوموړې له بعثت دولس یا دیارلس کلونه وړاندې زیږېدلې ده .. کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ماشومه پیدا شوه ، په ډېرې خوشالۍ یې هرکلی وکړ ... په داسې حال کې یې د لور د زیږېدنې خوشالي وکړه او په دې مناسبت یې مناسبت مالونه حلال کړل چې په ټولنه کې د لور زیږېدنه ستر پیغور ګڼل کیده او د ژوندۍ خښولو دود ورکې ډېر عام وو ... د جاهلیت په دوره کې به چې د عربانو لوڼې وزیږېدلې ، هغوی به یې ژوندۍ خښولې ... .. د اسلام له راتګه وړاندې د لوڼو ژوندۍ خښول یو وحشیانه او ډېر ناوړه دود وو ... او ویل کیږي چې ، د لوڼو ژوندي خښول د پخواني عبادتونو څخه یو وروسته پاتې دود وو ، ددې دود له مخې به ښځینه خدایانو ته د قربانۍ په توګه وړاندې کېدې ... او داسې هم ویل کیږي چې هغوی به کمزورې او ناروغه نجونو پورې بد پال نیوه ، هغوی سره به یې واده کول د مایوسۍ نښه بلله ، نو ځکه به یې داسې نجونې ژوندۍ خښولې . او ځینو نورو به خپلې لوڼې د شرم او پیغور له امله ژوندۍ خښولې .. او ځینو به په دې لامل لوڼې ژوندۍ خښولې چې هغوی به پرې د وینځتوب له پیغوره او د مناسب او وړ خاوند د نه پیدا کیدو ډارېده .... که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مهال لا پیغمبر شوی نه وو ، او نه پرې وحیه رانازله شوې وه ، خو ددې ټولو دودونو خلاف کار یې وکړ ... هغه په سلوکو او پلارتوب کې د مینې ، مهربانۍ او رحمت بې سارې بېلګه ګڼل کیږي ... د بعثت هدف یې همدا وو چې غوره اخلاق او نرمي په ټولنه کې خپره کړي . ..... د محمد صلی الله علیه وسلم لور زینب رضی الله عنها په غوره کور کې ستره شوې ده ،او د پلار او مور د ساتنې او پاملرنې تر چتر لاندې یې ژوند کړی ..... دا چې د زینب رضی الله عنها پلار محمد صلی الله علیه وسلم له بعثت وړاندې په امانت او رښتونولۍ مشهور وو ، او مور خدیجه رضی الله عنها یې هم په غوره نسب او اصلیت باندې مشهوره وه، همدا لامل وو چې کله یې لور زینب ځوانه شوه ، د قریشو د ډېرو ځوانانو پام یې ځان ته راواړولو .....د زینب رضی الله عنها د ترور ځوی ابوالعاص بن الربیع یو له هغو کسانو څخه وو چې د زینب رضی الله عنها غوښتنه یې وکړه . نوموړی په قریشو کې یو تکړه ځوان ، زړور او باثباته انسان وو او د خدیجې رضی الله عنها ددې ځانګړنو له مخې خوښ شو ... کله چې ابوالعاص د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لور مرکې ته راغی ، ویې ویل :

(( غوره زوم وړ او جوړ سړی وي ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وخت ورکړ ترڅو په دې اړه له خپلې لور سره مشوره وکړي . هغه غوښتل چې لومړی د خپلې لور موافقه واخلي . بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې لور ته وویل :

(( زینب لورې ! ستا د ترور ځوی عاص بن الربیع ته یاده کړې یې .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو شېبه تم شو ، ترڅو د لور ځواب واوري . خو هغه غلې پاتې شوه .. په چوپتیا کې یې د موافقې نښانې ترسترګو شوې ...سمدلاسه له هغې راووت او ابوالعاص ته راغی .....روغبړ یې ورسره وکړ او مبارکي یې ورته وویله ...

له زینب رضی الله عنها سره د ابوالعاص بن الربیع په مکه مکرمه کې خوشالي خپره کړه ، په دې خوشالۍ کې یې ډېر مالونه حلال کړل ... خو دا واده د زینب رضی الله عنها د یون تګلاره بدلوي ..... د زینب رضی الله عنها خاوند چې یو ستر سوداګر وو ، خوشاله او آرام ژوند یې ورسره درلود .... یوازې د ژوند هغه شېبې به یې یو څه تراخې وې چې کله به یې خاوند په لیرې سوداګریز سفر وتلو ، او د یوې مودې لپاره به ترې جلا کېده ..... له زینب رضی الله عنها د ابوالعاص څخه د ( علي بن العاص ) په نوم ځوی ، او د ( امامة بنت ابی العاص ) په نوم لور پیدا شوه . د زینب رضی الله عنها دا دوه ماشومان د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړي لمسیان وو .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شو ، او وحیه ورباندې رانازله شوه ... زینب رضی الله عنها دخپل پلار په رسالت ایمان راوړ ... کله چې د زینب رضی الله عنها خاوند له سوداګریزو سفرونو څخه راستون شو ، مېرمنې ورته د خپل پلار او بعثت کیسې بیان کړې ، ورته یې وویل :

(( یا م چې د قوم خبرې دې حق ته د پلوۍ مخه ونه نیسي ! ! زه مسلمانه شوې یم ! ! ))

ابوالعاص ورته وویل :

(( تا چې کله د پلار ددین پیروي کوله ، فکر دې کړی که زه د خپلو پلرونو په دین باندې پاتې شم .. ؟ ))

زینب رضی الله عنها سر وخوراوه او ځواب یې ورکړ :

(( هیڅکله نه د ترور ځویه !زما دا هیله ده چې ته به هم مسلمان شې ، لکه ستا د قوم څخه چې ، ستا د تره ځوی ، عثمان ، او دترور ځوی زبیر مسلمانان شوي دي ))

ابوالعاص په دې خبرو مېرمنې ته شا کړه ، او ( دارالندوه ) ته راووت . بیا د شپې په تیاره کې کور ته راستون شو ، خپلې مېرمنې زینب رضی الله عنهاته یې وویل :

(( نن دې پلار سره په کعبه کې مخامخ شوم ، اسلام ته یې رادعوت کړم ... )) له دې هاخوا یې نور څه ونه ویل .

زینب رضی الله عنها د خپل خاوند له دې دریځ څخه ډېره په تکلیف وه ، دهغه کفر یې نه شو زغملی ، هماغه وو چې یوه ورځ ورته خپل خاوند ابوالعاص وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ای زینب ! قسم په الله ستا پلار ماسره تورن نه دی ، زه دا خوښه ګڼم چې تاسره په یوه دره کې ملګری یم ... خو دا نه شم زغملی چې خلک ووایې : ستا خاوند قوم پرېښود .. . او دښځې د خوشالی لپاره یې د خپلو پلرونو دین پرېښود ))

د زینب رضی الله عنها خاوند او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم د جاهلیت تعصب پسې روان شو .. او د حق او توحید په رسالت یې ایمان رانه وړ ... دا په داسې حال کې وه چې زینب رضی الله عنها دداسې خاوند تېرې وه چې په ایمان او عقیده کې ورسره شریکه وي او په ګډه په رڼا کې ژوند وکړي .

د زینب رضی الله عنها ایمان لا غښتلی شو چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک نوي دین او توحید ته رابلل ، او د مکې خلک او خاوند یې د ګمراهۍ په تیارو او د بتانو په عبادت کې شپې ورځې تېرولې . .. دا چې ابوالعاص د خپلې ترور لور او مېرمنې سره مینه لرله ، دهغې ددین احترام به یې کاوه ... دواړو تر یو چتر لاندې ژوند کاوه ، په داسې حال کې چې دوی د هدایت او ګمراهۍ په واټن کې سره لیرې پراته وو ...

زینب رضی الله عنها د ټولو هغو سترو پېښو شاهده وه چې اسلامي دعوت پرې په پیل کې تېر شو ، پلار ته یې د قریشو لخوا ډېر تکلیفونه ورسیدل ، بنوهاشم قبیله کلونه کلونه محاصره شوه او مور خدیجه رضی الله عنها یې وفات شوه چې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو پرله پسې هجرت وکړ او زینب رضی الله عنها د بیلتون شپې ورځې په مکه کې تیرولې .... نوموړې ټول هغه کشمکشونه لیدل چې د پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خاوند ابوالعاص ترمنځ یې روان وو ..... چې بیا د هجرت په دویم کال کې د بدر غزا پېښه شوه .. . دا د عربو په جزیره کې هغه ستره جګړه وه چې د مسلمانانو او د قریشو د مشرکینو ترمنځ پېښه شوه... کشمکش هغه مهال خپل اوج ته رسیدلی چې د بدر په لومړۍ ستره جګړه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم د زینب رضی الله عنها خاوند ابوالعاص ورکې د مسلمانانو په لاس بندي کیږي ...

د زینب رضی الله عنها خاوند ابوالعاص د ډېر مال خاوند وو ، دهغه کورنۍ وغوښتل چې مال یې فدیه کې ورکړي او له بنده یې راخوشې کړي ... خو زینب رضی الله عنها وغوښتل چې د خپلې هغې غاړه کۍ په مقابل کې یې راخوشې کړي او په فدیه کې یې ورکړي چې مور یې ورته د ابوالعاص سره د واده پر مهال ډالۍ کړې وه . . . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا غاړه کۍ ولیده ، ډېر ورته خپه شو او خپلو صحابه کرامو ته یې وویل :

(( که غواړئ چې بندي یې ورخوشې کړئ ، او مال یې بیر ته ورکړئ ... دا کار وکړئ !! )) ..

رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوالعاص بن الربیع په دې شرط خوشې کړ چې مکې ته له رسیدو سره سم به یې لور زینب رضی الله عنها خوشې کوي تر څو مدینې منورې ته هجرت وکړي . کله چې ابوالعاص مکې مکرمې ته راورسیده په خپله ژمنه یې وفاء وکړه او زینب رضی الله عنها یې خوشې کړه .... .. دا چې د قریشو مشرکینو د بدر په غزا کې سخته ماتې خوړلې وه او له مسلمانانو سره یې نفرت څو برابره شوی وو ... کله چې دوی د زینب رضی الله عنها څخه خبر شو چې مدینې منورې ته ځي ، دهغې مخه یې ونیوه .... په ځانګړې توګه کله چې هند بنت عتبه له دې حالته خبره شوه ، ډېره راوپارېده .. قریش یې غچ اخیستلو ته هڅول او په هغوی کې یې د کینې لمبې لا راتازه کولې... کله چې د زینب رضی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله عنها د سفر وخت راورسیده ... له خپل خاوند سره یې خدای په اماني وکړه .. د قریشو ځینې مشرکین راووتل ، او زینب رضی الله عنها یې د مکې مکرمې په څنډو کې په ( ذی طوی ) سیمه کې ونیوه .... د زینب رضی الله عنها د لېور ( کنانة بن الربیع ) په ملګرتیا ( هبار بن الاسود الاسدی ) یې مخه ونیوه ، او هغه یې په غشو او نیزو باندې وډاروله .. د نوموړې درې ورونه چې ټول د بدر په ورځ له منځه تللي وو ، دهغو غوسې راپاروليوو .. .. دې کار زینب رضی الله عنها ډېره ستړې او سخته خپه کړه .. خو د خاوند ورور ( کنانة بن الربیع ) زینب د قریشو له زیانه لیرې وساتله او ویې ویل :

(( هر کس چې راته رانږدې شو ، په غشي به یې وولم ! ! ))

په دې خبره ټول وروسته شول .... ابوسفیان لیرې ودرېده او ( کنانة بن الربیع ) سره یې د خپلې هوښیارتیا او چالاکی له مخې خبرې کولې ...

(( ښه کار دې ونه کړ ابن الربیعه ... ښځه دې د ټول قوم په وړاندې راوویستله ... او ته خو زموږ له مصیبت او غمه ښه خبر یې ... خبر یې چې محمد موږ سره څه څه وکړل ، خلک داسې ګومان کوي چې موږ ډېر ذلیل یو .... قسم په الله ، موږ اړ نه یو چې دا موږ له خپل پلار څخه منعه کړو ... خو ښځه بیرته مکې ته ستنه کړه ، ترڅو حالات آرام شي ، او خلک خبر شي چې موږ د محمد لور راوګرځوله ... بیا یې پټه راوباسه ، او پلار ته یې ورسوه ! ! ))

خو کنانة بن الربیع دا ونه منله چې ، زینب رضی الله عنها بیرته ستنه کړي ، او بیا یې پټه له مکې مدینې ته وباسي ... کله یې چې زینب رضی الله عنها ولیده چې وینې ترې بهیږي ... دې حالت مجبور کړ چې مکې ته یې بیرته ستنه کړي ... څه موده یې له خپل خاوند ابوالعاص سره تیره کړه ، پام یې پرې کاوه او څه موده یې خدمت وکړ .

کله چې زینب رضی الله عنها له ټپونو روغه شوه ، په مدینه منوره کې له خپل پلار رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای شوه ... کله چې خبر شو چې دوه کسانو یې د لور زینب رضی الله عنها مخه نیولې ، هغه یې ډارولې او ډېر زیان یې ورته رسولی ... په دې حالت ډېر زیات خپه شو ... هماغه وو چې دهغوی دواړو وینه تویول یې روا کړل ...

کلونه تېر شول ، د مسلمانانو او د قریشو د مشرکینو ترمنځ جګړو او نښتو ادامه وکړه .. خو ابوالعاص په یوه جګړه کې هم ونډه وانه خیسته . . . د هجرت په شپږم کال چې کله دهغه یو سوداګریز کاروان له شام څخه مکې ته روان وو ، د زید بن حارثه رضی الله عنه په مشرۍ د مسلمانانو یوه سل کسیزه ډله د کاروان مخې ته ورووتله ... مسلمانانو کاروان ونیوه ، خو ابوالعاص په تېښته بریالی شو ، او په مدینه منوره کې یې په پټه توګه زینب رضی الله عنها ته پناه یوړه . . . کله چې زینب رضی الله عنها د خپل خاوند غږ واوریده ډېره حیرانه شوه او ګومان یې وکړ چې ښایې خاوند یې مسلمان شوی وي .. خو ابوالعاص ورته د خپل سوداګریز کاروان کیسه بیان کړه چې له شام څخه مکې ته روان وو او د مسلمانانو لخوا پرې حمله وشوه ، او له زینب رضی الله عنها یې د پناه ورکولو غوښتنه وکړه .

زینب رضی الله عنها ابوالعاص کور ته ننه ایست .. بیا دروازې ته راغله او په لوړ اواز یې غږ وکړ :

(( ای خلکو ! ما ابوالعاص ابن الربیع ته پناه ورکړې ! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې د سهار لمونځ کاوه ، د زینب رضی الله عنها دا غږ یې واورېده .... خپلو صحابه کرامو ته یې بیا وفرمایل :

(( قسم په هغه ذات چې زما نفس دهغه په لاس کې دی ، زه له دې هیڅ شي نه وم خبر ، تاسو چې څه واورېدل ما هم اوس واورېدل ! ! ))

له لږ تم کېدو وروسته یې د میړانې او زړورتیا د دود د ټینګ ساتلو په خاطر وویل :

(( تر ټولو کمزوری مسلمان هم پناه ورکولی شي ... هغې چې چاته پناه ورکړې ، موږ هم ورکړې ! ! ))

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې لور ته ورغی . چې ګوري د زینب د ترور ځوی هم ورسره ناست وو ... کله یې چې خپل پلار ولیده ، په ډېرې زارۍ سره یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! ! که ابوالعاص نږدې شي ، خو د تره ځوی دی ... او که لیرې شي .. نو د ځوی پلار دی ... او ما ورته پناه ورکړې . ))

مهربانه پلار د خپلې لور غوښتنه ومنله او په ډېرې نرمۍ یې ترې غوښتنه وکړه چې احترام یې وکړي او ځای ورته ورکړي .....خو هغه یې په یو مشرک خاوند باندې حرامه کړه او ورته یې وویل :

(( ای لورې ! ! ښه احترام یې وکړه ... خو ځان ته یې مه پرېږده ! ځکه ته ورته حلاله نه یې ! ! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوالعاص ته د تجارت مالونه بیرته ورکړل ...او هغه یې خوشې کړ ... ابوالعاص خپل کاروان مکې مکرمې ته روان کړ .. کله چې ورسیده او قریشو ته یې د کاروان مالونه وسپارل .... ودرېده او په لوړ غږ یې وویل :

(( ای قریشو ! ایا دا چا راسره مال پاتې دی چې له ما یې نه وي اخیستی ؟ ! ! ))

ویې ویل چې ( نه )

بیا یې ورته وکتل او ویې ویل :

(( اشهد ان لا اله الا الله ، وان محمدا عبده ورسوله ))

سمدلاسه د دارالهجرت مدینې منورې پر لور روان شو ... او د امانتونو په سپارلو کې یې بې ساري بېلګه او نمونه پرېښوده .. په اسلام کې له داخلیدو سره سم یې د اسلام دا ستره ځانګړنه قریشو ته ثابته کړه .... .. کله چې ابوالعاص رضی الله عنه مسلمان شو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته خپله لور زینب رضی الله عنها بیرته په نوې نکاح تړلو سره ورکړه او ددوی د اوږدې مودې بېلتون یې بیا رایوځای کړ .. که څه هم دوی ډېره موده یو تر بل لیرې وو ، خو د مینې او محبت مزی یې لا نږدې وو ، او داسلام په راوړلو او ددوی په بیا یوځای کېدو ددوی د مینې او ایماني ژوند ادامه پیدا کړه ... له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو كال يا څه دپاسه يو كال له تېرېدو وروسته ، د هجرت په اتم كال زينب بنت محمد صلى الله عليه وسلم له دنيا په داسې حال كې سترګې پټې كړې چې د ښتې په اوږدو كې يې جنين سقط وكړ .. دامهال نوموړې له مكې مكرمې دباندې وه... د زينب رضى الله عنها خاوند ابوالعاص بن الربيع ورباندې دومره وژړل چې چاپېره خلک يې هم له ځان سره وژړول ... بيا پرې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل جومات كې د جنازې لمونځ اداء كړ ، او د مدينې منورې په سپېڅلې خاوره كې يې خاورو ته وسپارله .... د حق كلمې، خير ، دهدايت ، او د توحيد په لاره كې يې د مبارزې ، غښتلي ايمان ، صبر او مجاهدې تلپاتې نوم پرېښود ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رقیة او ام کلثوم رضی الله عنهما

دواړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لوڼې وې ، د غوره نسب او ښو اخلاقو خاوندانې وې ... دواړه یوځای اوسېدلې او یوځای سترې شوې ... ددواړو د ژوند چارې او تګلارې ډېرې سره ورته او حیرانوونکې اړیکې یې درلودې . دا دواړه ( رقیة او ام کلثوم رضی الله عنهما ) نومېدې .. دا دواړه هغه ستر جوهرونه وو چې د عثمان بن عفان رضی الله عنه کور ته په پرله پسې توګه ورغلې ... دهغه کور یې له رڼا ډک کړی وو .. همدا لامل وو چې عثمان رضی الله عنه په ( ذو النورین ) یانې ددوه رڼاګانو خاوند باندې مشهور شو ...

رقیة د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خدیجې بنت خویلد رضی الله عنها څخه دویمه لور وه ... کله چې رقیة رضی الله عنها د مور له شیدو جلا شوه ، خدیجې رضی الله عنها خپله درېمه لور ( ام کلثوم ) وزېږوله .. دا دواړه سکه خویندې لکه غبرګونې غوندې وې ... دواړو یو ځای د ماشومتوب دوره تېره کړه ، یوځای به یې لوبې او ساتیرۍ کولې .... رسول الله صلی الله علیه وسلم له دواړو لوڼو سره بې کچې مینه کوله ، پر دوی به یې پام کاوه او ښه روزنه به یې ورکوله ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا پاملرنه ثابتوي چې له ښځینه طبقې سره غوره چلند او نېکه رویه د اسلامي لارښوونو او اساساتو څخه ده ... هغه ټولنه چې له زامنو سره یې مینه زیاته وه ، خپلوانو او ځینو خلکو ګومان کاوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ددرېیمې لور په زېږېدنه خپه او خواشینی شي .... خو د غښتلي ایمان او قناعت خاوندان پلار او مور محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه مېرمن خدیجې رضی الله عنها دا درک کړې وه چې ، دا هر څه دالله جل جلاله له لورې څخه دي ، او دوی هیڅکله دالله د نعمت انکار نه کوي . کله چې ورته الله جل جلاله درېیمه لور ورکړه ، شکر یې اداء کړ او خوشالي یې پرې وکړه . همدا راز ددرېیمې لور په راتګ سره یې دویمې لور رقیې رضی الله عنها ته هم په پام او توجو کې کوم کمی رانغی .. ...

کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور زینب رضی الله عنها له ابوالعاص بن الربیع سره واده شوه ، لږه موده وروسته ، د عبدالمطلب کورنۍ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې ، دوه لوڼې ، رقیة او ام کلثوم ورته نکاح کړي او خپلوي ورسره وکړي ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره عبدالعزی چې په ( ابولهب ) یې شهرت پیدا کړ ، د د رسول الله صلی الله علیه وسلم دواړه لوڼې ( رقیة او ام کلثوم ) یې دوه زامنو ( عتبه او عتیبه ) ته وغوښتې .....ددوی تره ابوطالب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې وویل :

(( وراره ، تا خپله لور زینب ابوالعاص بن الربیع ته ورکړه .. او هغه یو ښه زوم دی .. لکه څنګه چې دې د خدیجې له خوریین سره خپلوي کړې ، ستا د تره زامن هم له تا همداسې غوښتنه کوي ... هغوی هم په شرافت او نسب کې تر چا کم نه دي .. ))

محمد صلی الله علیه وسلم حق ته په نسب اعتراف وکړ او ځواب یې ورکړ :

(( رښتیا وایې کاکا ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې ددې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې لوڼې د تره زامنو ته ورکړي ، لاړ او خپلو لوڼو سره یې مشوره وکړه ترڅو له هغوی موافقه واخلي ... دواړه خویندې چې خبرې شوې زړه یې ونه منله ، او ژر روانې شوې .. او خدیجه رضی الله عنها هم چې له دې مرکې خبره شوه ، خوښه یې نه شوه ... ځکه د عبدالعزی د مېرمن ام جمیل سابقه یې رایاده کړه .... نوموړې په سخته رویه ، تېره ژبه ، او سخت زړه باندې مشهوره وه . خدیجې رضی الله عنها نه غوښتل چې داسې یوه سخته مېرمن یې خواښې شي ... خو له بل پلوه په دې هم ویریده که چېرته له دې نکاح انکار وکړي او خپلې لوڼې د ابولهب زامنو ته ورنکړي ، نو په دې به تورنه شي چې ګویا د محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه د خپلوانو ترمنځ د اړیکو شلولو هڅه کوي ... نو خوښه یې وګڼله چې انکار ونکړي ... او ټول اختیار یې خپلو لوڼو ته ورکړ ترڅو هغوی ځواب ورکړي ... ام کلثوم خپلې مشرې خور رقیې ته وویل :

(( ته پوهیږې چې زموږ پلار زموږ له مشورې پرته نه پرېکړه کوي ... ستا څه اراده ده ؟ ))

رقیې خپله خور وهڅوله او ورته یې وویل :

(( زه د پلار نافرماني نه کوم ، د خپلوانو او د خپل قوم وړاندې یې سخت دریځ کې نه ګېروم ))

په دې ځای کې د ام کلثوم او رقیې دریځ یوشان وو ... واده په داسې فضاء کې ترسره شو چې خپګان او ورخطایې هم ورکې یوڅه اغېزل شوې وه .....( رقیة )یې ( عتبة بن عبدالعزی ) ته ورکړه ، او ( ام کلثوم یې ) دهغه ورور ( عتیبة ) ته ورکړه .... رسول الله صلی الله علیه وسلم دا واده برکتي کړ ، دواړو لوڼو یې د ژوند شپې ورځې د ام جمیل کور ته انتقال کړې ، او خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت لپاره د حراء غار ته تللو راتللو ... د ورځو په تېریدو سره د عبادت او فکر لپاره د حراء غار ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم تګ راتګ زیات شو ... په همدې غار کې مبعوث شو او وحیه پرې رانازله شوه ... کله چې دا دعوت مخ په پراخېدو شو ، قریشو د محمد صلی الله علیه وسلم په خلاف دسیسې جوړې کړې ، ترڅو یې هدایت او اسلام ته له رابللو مخه ونیسي او له دې کاره یې منعه کړي ... خبره آن تر دې کچې ورسیده چې هغه یې د خپلو لوڼو په کور کې تر تعقیب لاندې نیولی وو .... دامهال د قریشو ځینو مشرانو وویل :

(( تاسو محمد له لوی غمه ساتلی ، لوڼې یې ورته بیرته ورکړئ او په هغوی باندې یې مصروف کړئ ))

سمدلاسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم درې واړو زومانو ته لاړل ، او هر یو ته یې وویل :

(( مېرمن دې خوشې کړه .. او په قریشو کې دې چې هره ښځه خوښیږي موږ به یې درته واده کړو ))

خو ابوالعاص د قریشو له دې وړاندیز انکار وکړ چې خپله مېرمن او د ترور لور زینب رضی الله عنها خوشې کړي ... خود ابولهب دواړه زامنو ( عتبه او عتیبه ) د قریشو او د خپلې مور ام جمیل دوزخی وړاندیز ته غاړه کېښوده . مور یې ورته وویل :

(( که د محمد لوڼې مو طلاقې نه کړې ، زما سر ستاسو له سره حرام دی ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام جمیل یوازې په دې بسنه ونه کړه چې د محمد صلی الله علیه وسلم لوڼې یې ورطلاقې کړې ، بلکې هغې او خاوند ابولهب یې یوځای محمد صلی الله علیه وسلم سره دښمنۍ ته متې راونغاړلې . دوی دواړو رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سخته دښمني پیل کړه ... له همدې امله الله جل جلاله ددوی په ګواښلو کې د ( المسد ) سورت رانازل کړ ، الله تعالی فرمایې :

تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾

وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍۭ ﴿٥﴾

د قریشو د مشرکینو پلان له ماتې سره مخامخ شو ، د محمد صلی الله علیه وسلم لوڼو محمد له دعوته مصروف نه کړ .... وخت لا تېر نه وو چې عثمان بن عفان رضی الله عنه د رقیه رضی الله عنها مرکې ته راغی .... رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مرکه باندې ډېر خوشال شو ... ځکه عثمان بن عفان رضی الله عنه د قریشو په ځوانانو کې د غوره نسب خاوند وو ... او د نسب د غوره والي سره سره ، نوموړی ښکلی ، شتمن او د غوره اخلاقو خاوند هم وو ... رسول الله صلی الله علیه وسلم دا واده برکتي کړ ... ویل کیږي چې هغه له عثمان او رقیة رضی الله عنهما ځخه ښکلې جوړه نه ده لیدلې ... او ویل کیږي چې په واده کې یې دا شعرونه ویل شوي :

احسن شخصین رأی انسان رقیة وبعلها عثمان

یانې دوه ښکلي انسانان ... رقیه او دهغې خاوند عثمان ...

کله چې داسلامي دعوت د پیل په کلونو کې پر مسلمانانو د قریشو ظلمونه زیات شول ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په پنځم کال خپلو صحابه کرامو ته حبشې ته دهجرت کولو امر وکړ ، ورته یې وویل :

(( که د حبشې ځمکې ته هجرت وکړئ ، نو هلته یو پاچا دی په چې په څنګ کې یې پر هیچا ظلم نه کیږي ... هغه د رښتونولۍ ځمکه ده .. تاسو لاړ شئ او الله جل جلاله به مو هلته له دې ستونزو خلاص کړي ))

عثمان بن عفان رضی الله عنه له خپلې مېرمنې رقیة رضی الله عنها سره یوځای له واده لږه موده وروسته د حبشې پر لور روان شو .. رقیة رضی الله عنها دخپلې کورنۍ ، دوستانو او د کور کلي یادونه له ځان سره حبشې ته یوړل ... د حبشې پاچا د مهاجرینو ډېر احترام وکړ ، او هغوی ته یې دالله جل جلاله د عبادت لپاره غوره او له وېرې خالي فضا برابره کړه . وخت لا تېر نه وو چې د مسلمانانو مهاجرینو نورې ډلې هم حبشې ته ورسېدې ، ددوی شمېره له ماشومانو پرته تر دري اتیا کسانو ورسیده .. کله چې رقیة رضی الله عنها د مهاجرینو په منځ کې خپل د تره ځوی جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه او دهغه مېرمن ( اسماء بنت عمیس رضی الله عنها ) ولیده ، ډېره ورته خوشاله شوه . .. په دې کې شک نشته چې د بیلتون او هجرت سختې تجربې د رقیه رضی الله عنها عزم لا ټینګ او له سختیو سره یې بلده کړه . همدا راز دې سختیو نوموړې ته د صبر درسونه ورکړل او ایمان یې لا غښتلی کړ .. ... په داسې حال کې چې رقیې رضی الله عنها له عثمان بن

(c) ketabton.com: The Digital Library

عفان رضی الله عنه سره په حبشه کې د مهاجرت شپې ورځې تېرولې ، دهغې خور ( ام کلثوم رضی الله عنها ) په مکه مکرمه کې د بنوهاشم په دره کې د قریشو په کلابندۍ او اقتصادي بندیزونو کې ګېره وه .. په دې کلابندۍ کې قریشو پر رسول الله صلی الله علیه وسلم ، دهغه پر پلویانو او بنو هاشم په کورنۍ باندې سخت اقتصادي او ټولنیز بندیزونه لګولي وو . کله چې قریش داسلامي دعوت په مخنیوي کې پاتې راغلل ، پرېکړه یې وکړه چې له بنو هاشم او بنو عبدالمطلب سره پرېکون اعلان کړي ... پرېکړه یې وکړه چې نه به ورسره واده کوي او نه به ترې واده کوي .. نه به پرې څه پلوري او نه به ترې څه پیري ... ... کله چې ټولو پر دې باندې هوکړه وکړه ، یوه صحیفه یې ولیکله او دکعبې په منځ کې یې په دې خاطر راوځړوله ترڅو ټول خلک ملزم شي او د تړون ملاتړ او عمل پرې وکړي . . .ابوطالب چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملاتړ به یې کاوه او له هغه به یې دفاع کوله ، بنو هاشم او بنو عبدالمطلب له هغه سره یوځای شول ... ټول یوځای د بنوهاشم په دره کې راټول شول ... ددوی له ډلې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابولهب بن عبدالمطلب قریشو سره یوځای شو او له هغوی یې ملاتړ اعلان کړ .. ( ام کلثوم ) له خپل پلار ، مور او د بنوهاشم له کورنۍ سره پاتې شوه او د قریشو له پریکون او اقتصادي بندیزونو تکلیفونه یې له هغوی سره یوځای د بنوهاشم په دره کې تېر کړل .... دواړه خویندې له سختو دردونو او ستونزو سره مخامخ شوې ... رقیه رضی الله عنها ه هیواده بهر د مهاجرت څپېړې ووهله ، او ام کلثوم رضی الله عنها له خپل پلار ، مور او قوم سره یوځای په مکه کې دننه د بنوهاشم په دره کې د قریشو د ظلمونو ښکار شوه ... الله جل جلاله د قریشو مشرکین مات کړ او اقتصادي بندیزونه پورته شول .. . مسلمانان او رسول الله صلی الله علیه وسلم له غښتلي ایمان او ټینګو ارادو سره له کلابندۍ راخلاص شول ... .. خو د کلابندۍ او اقتصادي بندیزونو اغیزې بیا هم پر خدیجې رضی الله عنها باندې پاتې وې .... له راوتلو سره سم نوموړې سخته ناروغه شوه او له دنیا یې سترګې پټې کړې ...

رقیه رضی الله عنها له خپل خاوند عثمان بن عفان رضی الله عنه سره په داسې حال کې بیرته له حبشې مکې مکرمې ته راستنیږي چې مور یې له دې دنیا کوچېدلې وه او په وروستي لیدو یې سترګې یخې نه شوې ... په مکه مکرمه کې دوی دواړو دومره وخت تېر نه کړ ... دوی دا ځل مدینې منورې ته د هجرت لپاره تیاری ونیوه ... خو مکې مکرمې ته د رقیې رضی الله عنها هجرت د دردونو د یون پای نه وه .... وخت لا تېر نه وو چې دعبدالله په نوم ځوی یې د چرګ د ټونګې لامله وفات شو ... رقیه رضی الله عنها د خپل ځوی په مړینه ډېره زیاته خپه شوه ، له همدې امله په سخته تبه اخته شوه ... خو د بدر په ستره پېښه کې چې مسلمانانو او مشرکینو ترمنځ ورکې لویه جګړه رامنځته شوه ، په دې پېښه کې عثمان بن عفان رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازه په کور کې پاتې شو او د خپلې مېرمنې رقیه رضی الله عنها خدمت یې کاوه ، هغه پوه نه وو چې له همدې ناروغۍ لامله یې مېرمن رقیه رضی الله عنها له دنیا کوچیږي . کله چې د بدر غزا د مسلمانانو په بریا پای ته رسیږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د لور د مړینې غم ګوري ... نوموړې د هجرت ددویم کال د روژې په میاشت کې د شل کلنۍ په عمر په داسې حال کې وفات شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ډېر زیات خپه کړ .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان بن عفان رضی الله عنه چې لا ځوانۍ په عمر کې وو ، او خپله ګرانه مېرمن رقیة بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له لاسه ورکړه ... له سخت تکلیف ، مصیبت او بېلتون له دردونو سره مخامخ شو... رسول الله صلی الله علیه وسلم د عثمان دردونه درک کړل ... پوښتنه یې ترې وکړه :

(( عثمانه ته راته خپه نه ښکارې ... ))

عثمان رضی الله عنه ورته په ځواب کې وویل :

(( زه چې له کوم مصیبت سره مخامخ شوم ایا بل چا به دومره مصیبت لیدلی وي ؟ !! .. درسول الله صلی الله لور وفات شوه ، زما ملا یې ماته کړه ، او زما او ستا ترمنځ د خپلوۍ تار وشلېده ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حالت ډېر خپه شوه ... پریکړه یې وکړه چې خپله لور ( ام کلثوم رضی الله عنها ) ورته واده وکړي ..... عثمان بن عفان رضی الله عنه په دې پرېکړه ډېر زیات خوشال شو ... .. د هجرت په درېم د ربیع په میاشت کې عثمان بن عفان رضی الله عنه له ام کلثوم رضی الله عنها سره واده وکړ ، څومره مهر چې د رقیة رضی الله عنها وو ، هماغومره مهر یې ام کلثوم رضی الله عنها ته هم وټاکه ...

ام کلثوم رضی الله عنها هغه کور ته داخله شوه چې له دې وړاندې یې ورته رقیه خور داخله شوې وه .... دا کور یې له مینې او محبت ډک کړ ، او خپل خاوند ته یې د ( ذو النورین ) لقب ورپه برخه کړ .... عثمان بن عفان رضی الله عنه چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوه لوڼو سره واده وکړ ، په دې لقب باندې یې شهرت پیدا کړ ..

ام کلثوم رضی الله عنها له خپل خاوند عثمان بن عفان رضی الله عنه سره شپږ د خوشالۍ ډک کلونه تېر کړل ... په دې موده کې ورته الله جل جلاله ماشوم نه وو لیکلی ... خو د آرامتیا ، ښې رویې او د غوره خاوند له سترو نعمتونو څخه برخمنه وه . . .

ام کلثوم رضی الله عنها د اسلامي دعوت د سترو بریاوو شاهده وه .... نوموړې د مکې هغه ستره فتحه هم ولیده چې د هجرت په اتم کال مسلمانانو ترلاسه کړه ... همدا راز نوموړې دهغه ویاړ شاهده هم وه چې ، کله یې خاوند عثمان بن عفان رضی الله عنه په خپل شخصي مال باندې د هجرت د نهم کال د رجب په میاشت کې د تبوک د غزا لښکرې تیارې کړې ... چې بیا له همدې یوه میاشت وروسته د شعبان په میاشت کې د هجرت په نهم کال وفات شوه ..

ام کلثوم رضی الله عنها په مدینه منوره کې خاورو ته سپارل کیږي ، نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستۍ لور وه چې دهغه په ژوندانه کې له دنیا سترګې پټوي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درة بنت ابی لهب رضی الله عنها

د قریشو یوه ستره شاعره وه ، دا ښځه د داسې پلار او مور لور وه چې د اسلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې سخته دښمني کړې ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې دومره زیان رسولی چې په اړه یې الله جل جلاله آیتونه هم رانازل کړي دي ، دوی یې سخت غندلي او په آخرت کې یې ورته د سخت عذاب ژمنه ورکړې .. خو دې بد نسب بیا هم ددوی لور ددې منعه نه کړه چې الله جل جلاله یې سینه خپل سپېڅلي دین ته پراخه کړي .... لور یې د اسلام دین ومانه او د الله په لاره کې یې هجرت وکړ .... دې ښځې د انصارو له یو شمېر مېرمنو سره څه کیسې هم لرلې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې ترڅنګ ودرېده او دفاع او ملاتړ به یې کاوه .. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلوۍ په پالنه ټینګار کاوه ، او دا کار به یې د مینې او تراحم مهم عامل باله . دا مېرمن ( درة بنت ابی لهب ) یا په بله وینا ( درة بنت عم محمد صلی الله علیه وسلم ) نومیږي .

نوموړې ( درة بنت عبدالعزی بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف ) یادېده . د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره لور وه . پلار یې د ( ابولهب ) په لقب باندې مشهور وو .. او مور یې ( اروی بنت حرب بن امیة ) د ابوسفیان خور وه . او د ( ام جمیل ) په کنیه باندې مشهوره وه . کله به چې نوموړې لرګي او اغزي بارول او درسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره کې به یې ایښودل د ( **حمالة الحطب** ) یا د لرګیو باروونکې لقب باندې مشهوره شوه . د ام جمیل خاوند ابولهب چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې خپل رسالت کې درواغجن باله او سخت زیان به یې ورته رساوه ، الله جل جلاله د ښځې او خاوند دواړو په اړه د ( المسد سورت رانازل کړ .

تَبَّتْ يَدَآ أَبِى لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾
وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍۭ ﴿٥﴾

( درة ) په جاهلیت کې له ( حارث بن نوفل بن الحارث بن عبدالمطلب ) سره واده کړی وو . له هغه یې درې زامن ( ولید ، عقبة او ابومسلم ) وزیږېدل .. کله چې د اسلام رڼا په مکه مکرمه کې وځلېده ، او په رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت رانازل شول ( وانذر عشیر تک الاقربین ) ژباړه : نږدې خپلوان دې ووېروه !

د دې آیت له رانازلیدو سره سم یې خپل خپلوان اسلام ته راوبلل ، له دې وروسته چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله کورنۍ اسلام ته راوبلله ، ( درة ) اسلام ومانه ، او الله جل جلاله د ابولهب د لور ( درة ) زړه له ایمانه ډک کړ . خو خاوند یې چې ( حارث بن نوفل ) نومېده ، په نوي دین کې یې له داخلېدو انکار وکړ ، او د خپلې کورنۍ په دین او بت پرستۍ باندې پاتې شو . . . د هجرت په دویم کال د بدر په غزا کې د ( درة ) خاوند ( حارث ) د قریشو په لیکو کې وو او د مسلمانانو خلاف جنګېده .. تر هغې وجنګېده چې په پای کې د اسلامي تورو ښکار او د کفر په حالت وفات شو . ( درة ) په مکه مکرمه کې بل لامل نه درلود چې له داسې پلار او مور سره پاتې شي چې تل یې له اسلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمني کوله .... د خاوند له وفات وروسته یې هوډ وکړ چې مدینې منورې ته هجرت وکړي او له رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو له کاروان سره یوځای شي .. ( درة بنت ابی لهب ) مدینې منورې ته هجرت وکړ .. رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په لیدو ډېر خوشال شو چې د بنوهاشم یوه ښځه د اسلام او دالله د کلمې د لوړوالي په خاطر هجرت کوي ... ( درة ) په مدینه منوره کې د ( رافع بن المعلی ) په نوم د یو انصاري په کور کې واوسېده .. بیا پرې ( دحیة الکلبي ) مرکه وکړه ، او له هغه سره یې واده وکړ . خو د ( بنو زریق ) ځینو مېرمنو دا وپیژنده ، کله به چې نومورې له کوره د کوم کار لپاره راوتله ، او ښځو به ولیده نو داسې به یې نه پرېښود ... بلکې هغې ته به یې په پلار ( ابولهب ) او په مور ( ام جمیل ) باندې پیغور ورکاوه . کله به چې نومورې په لاره باندې تېرېده چېغې به یې ورته وهلې او ورته به یې ویل :

(( آیا ته د ابولهب لور نه یې چې الله جل جلاله یې په اړه فرمایې : (( تبت یدا ابی لهب وتب .. )) ؟ او بلې به ورته راغبرګ کړ او ورته به یې ویل :

د ((حمالة الحطب ))لور یا په دوزخ کې د لرګیو بار وړونکې لور ده .. !!!

او درېیمې به بیا ورته راغبرګ کړ او ورته به یې وویل :

(( ستا هجرت تا ته هیڅ ګټه نه کوي ... )) ..

( درة بنت ابی لهب ) هڅه وکړه چې دې پیغورونو ته هیڅ پام ونکړي ... نومورې یوازې دالله جل جلاله لپاره هجرت کړی وو او په دې ټولو پیغورونو به یې صبر کاوه . ... خو اخیر یې د صبر کاسه ډکه شوه ، او خپل د تره ځوی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې شکایت وکړ ... فرصت یې پیدا کړ او محمد صلی الله علیه وسلم ته یې په دې اړه شکایت وکړ چې ښځې ورته د نسب په اړه پیغورونه ورکوي .. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې ډېر غوسه شو او ( درة بنت ابی لهب ) ته یې وویل چې ، کښېنه ! لمونځ یې اداء کړ او دیوې شېبې لپاره په منبر باندې کښېناست .. خطبه یې وکړه او ویې ویل :

(( ای خلکو ! ولې زما کورنۍ ته پیغور ورکول کیږي ؟ !! ولې خلک ماته زما په نسب او خپلوۍ کې زیان رارسوي ؟ .. خبر اوسئ ! هغه څوک چې زما نسب او خپلوانو ته په پیغور ورکولو زیان رسوي ، هغه ماته زیان رارسوي .. .. او څوک چې ماته زیان راورسوي ،، هغه الله ته زیان رسوي ! ) )

او په بل روایت کې راځي چې ویې فرمایل :

(( قسم په الله زما شفاعت زما په خپلوۍ ترلاسه کیږي ... صداء ، حکما او سلهما قبیلې به هم د قیامت په ورځ زما شفات ترلاسه کوي ... ( صداء ، حکما او سلهما ) هغه درې یمني قبیلې وې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډېرو پخوانیو نیکونو نسب ورته وسره یوځای شوی وو ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له ( درة ) څخه دفاع وکړ او خپلوي یې وپالله ، ډېره زیاته آرامه شوه .. له دې وروسته خلکو هڅه کوله چې هیڅ زیان ورته ونه رسوي ، او نه یې په خپلو خبرو او پیغورونو باندې تکلیف کړي .. کله چې الله جل جلاله په خپل کتاب کې وفرمایل :

(( ولا تزر وازرة وزر اخری )) یانې هیڅ ګناه نفس به د بل د ګناه بار پر اوږو نه وړي ... له دې بنسټ له اېښودو وروسته اسلام یو غوره اساس کېښود . په دې مانا چې هرڅوک د خپل کار مسؤول دی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې تره لور ( درة ) سره ډېره مینه او پاملرنه کوله . ( درة ) رضی الله عنها فرمایې :

(( زه له عائشې سره وم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم راننوت او ویې ویل : د اودس اوبه راته راوړئ ... ! ما او عائشې هڅه وکړه چې اوبه ورته راوړ .. لوټه ما راواخیسته ... او اودس یې پرې وکړ .. .. سترګې یې ماته راپورته کړې او ویې ویل : ... ته له ما ، او زه له تا څخه یم ))

( درة رضی الله عنها ) د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورنۍ سره ډېره نږدې وه .. او په ټولو کارونو او ویناوو کې به یې دهغه پیروي کوله . نوموړې همدا راز له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ځینې حدیثونه هم روایت کړي دي ...

له درة بنت ابی لهب څخه روایت دی ، هغه وایې چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( ژوندي ته دې په مړي زیان نه رسول کیږي ))

له ( درة رضی الله عنها ) څخه روایت دی وایې : یو سړی ودرېده او ویې ویل :

(( ای دالله رسوله ! کوم انسان غوره دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : غوره انسان هغه دی چې ډېر قرآن کریم لولي ، پرهېزګار وي ، خلک نېکو کارونو ته رابلي ، او له بدو کارونو یې منعه کوي ، او د خپلوۍ پالنه کوي )) دا حدیث احمد په خپل مسند کې روایت کړی دی .

درة رضی الله عنها په سخاوت او نېکو کارونو مشهوره وه .. تل به یې خلک نېکو کارونو ته رابلل او له بدو به یې منعه کول ....

د سیرت په کتابونو کې د درة رضی الله عنها د وفات په اړه څه نه دي ویل شوي .. خو له غیرت او ایمانه دهغې ډک او لنډ ژوند ، دهغه غښتلي ایمان بې سارې بېلګه څرګندوي چې ، د شرک او کفر د اغزو په منځ کې یې وده وکړه او د غښتلتیا تر بریده ورسېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمة بنت قيس الفهرية رضی الله عنها

دا قریشي مېرمن وه ، په مکه مکرمه کې مسلمانه شوه او مدینې منورې ته یې د مهاجرینو له ډلو سره هجرت وکړ ، دا هغه ښځه وه چې په اړه یې الله جل جلاله دهغې ښځې د طلاق حکم په شریعت کې صادر کړ چې بیا یې خاوند نه شي ښځه کولی .... دا هغه مېرمن وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هڅولې وه چې د زید بن حارثه رضی الله عنها له ځوی ( اسامة بن زید رضی الله عنه ) سره واده وکړي . دا مېرمن ( **فاطمة بنت قيس الفهرية رضی الله عنها** ) وه . هغه مېرمن وه چې له ښکلا وړاندې یې په هوښیارتیا او حکمت باندې شهرت پیدا کړی وو ...

دا مېرمن ( **فاطمة بنت قيس بن خالد الفهرية** ) نومیږي .. نوموړې د ستر صحابي ( ضحاک بن قیس ) مشره خور وه .. ضحاک له هغو سترو اتلانو څخه وو چې ددمشق په فتحه کې یې فعاله ونډه اخیستې وه ... او مور یې د کنانة له قبیلې څخه او ( امیمة بنت ربیعه ) نومېږي .

فاطمة رضی الله عنها له بعثت نږدې پنځه کاله وړاندې په مکه مکرمه کې زیږېدلې ده ... او کله چې د واده عمر ته ورسیده ، له ( ابوعمرو بن حفص بن المغیرة المخزومي ) سره یې واده وکړ .. فاطمه رضی الله عنها مسلمانه شوه او له نورو ګڼو مهاجرو سره یې یوځای مدینې منورې ته هجرت وکړ . خو خاوند یې وغوښتل چې ترې جلا شي .. هماغه وو چې یمن ته لاړ .. او له هغه ځایه یې ورته د طلاق پیغام راولیږه ... د دې د طلاق کیسه ډېره مشهوره ده ... په دې کیسه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دایمي طلاقې شوې مېرمنې په اړه شرعي حکم صادر کړ ... یانې د هغه طلاق حکم یې مشروع کړ چې بیا ورکې ستنېدل نشته .. ... فاطمة بنت قيس رضی الله عنها خپله کیسه داسې بیانوي :

(( زما خاوند ابوعمرو بن حفص بن المغیره راته د عیاش بن ابی ربیعة په خوله طلاق راولېږه .. او له هغه سره یې پنځه پیمانې خرما او پنځه پیمانې وربشې هم راولیږلې ... ما وویل : آیا له دې پرته نوره نفقه نه لرم ؟ !! او نه به ستاسو په کور کې د طلاق عدت تېروم ... ؟ ویې ویل چې ، ( نه ) ما ځان تیار کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم او پوښتنه مې ترې وکړه : راته یې وویل :

(( څو طلاقه یې در کړل ؟ ))

ما وویل چې ( درې طلاقه )

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( سمه ده ، ته نفقه نه لرې .. ... خو د خپل تره ځوی ( ابن ام مکتوم ) په کور کې د عدت موده تېره کړه . ځکه هغه ړوند دی . ... الله دې دې هلته مل شي .. کله چې دې د عدت موده پای ته ورسیده ، ما خبر کړه .. ))

فاطمة بنت قيس رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم امر ته غاړه کېښوده او د طلاق د عدت موده یې تېره کړه .. ... هغه ښځې چې په دایمي طلاق طلاقیږي ، په دې کیسه کې دداسې ښځې لپاره د نفقې د نشتوالي حکم مشروع شوی .. کله چې فاطمې رضی الله عنها د عدت میاشتې بشپړې کړې .. خلکو پرې مرکې وکړې ... چې ددوی له ډلې (

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاوية بن ابى سفيان او ابوالجهم ) هم وو .... خو فاطمې رضى الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مشوره وکړه ، هغه ورته وفرمايل :

(( معاوية دومره شتمن او دمال خاوند نه دی .. او ابوالجهم له ښځو سره يو څه سختي کوي .. )) او په بل روايت کې راځي چې ورته يې وويل : (( د هغه له سختې رويې درباندې ډارېږم )) ....

خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د ( اسامة بن زيد رضى الله عنه ) وړانديز وکړ او نورو دوه مرکه کوونکو ته يې وويل :

(( تاسو اسامة بن زيد ته کله رسيدای شئ ))

اسامه رضى الله عنه له بعثت دوه کاله وروسته زيږيدلی وو . دا چې اسامه بن زيد رضى الله عنه له فاطمة بنت قيس رضى الله عنها څخه کشروو ، او دهغه د شکل په اړه يې يوڅه نور عوامل هم درلودل ... نو ځکه د فاطمې رضى الله عنها کورنۍ په اسامه بن زيد باندې ډېر خوښ نه وو ..... خو فاطمې رضى الله عنها د خپل حکمت او پوخ فکر له مخې دا درک کړه چې ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له انتخاب پرته بل چا کې دومره خير نشته .... خپلې کورنۍ ته يې وويل :

(( هغه څوک چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راښودلی ، هغه سره به نکاح کوم .. ))

اسامة بن زيد رضى الله عنه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د ( حسن او حسين ) هومره رتبه يې ورکوله .. فاطمة بنت قيس رضى الله عنها ورسره واده وکړ ... فاطمه رضى الله عنها په هوښيارتيا او حکمت باندې مشهوره وه .. .. کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اسلامي لښکرې د فاطمې رضى الله عنها د خاوند اسامة بن زيد رضى الله عنه په مشرۍ شام ته ليږلې ... دامهال رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغ وو ، فاطمه رضى الله عنها وويريده او ژر يې خپل خاوند اسامه راخبر کړ ... ..... ابن سعد وايې :

(( فاطمة بنت قيس اسامه ته ليک وليږه .. ورته يې وويل چې ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغ شوی ... او زه نه پوهيږم چې څه به پيښيږي ... نوره ستا خوښه که هلته پاتې کيږې ، نو پاتې شه ... .. )) ... اسامه رضى الله عنه لا هلته وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو ..

کله چې اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضى الله عنه د هجرت په درويشتم کال د سهار په لمانځه کې د ابولؤلؤم المجوسي په لاس شهيد شو .... د شورا کسان د فاطمة بنت قيس رضى الله عنها راټول شول ترڅو د مسلمانانو خليفه وټاکي ... مخکې له دې چې په عثمان بن عفان رضى الله عنه باندې يې سلا راشي ، د فاطمې رضى الله عنها په کور کې ټولو خپر نظرونه او خطبې وړاندې کړې .. فاطمة بنت قيس رضى الله عنها په اسلامي تاريخ کې د يوې سترې پېښې شاهده وه ...

فاطمة بنت قيس له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ځينې حديثونه هم روايت کړي دي ... چې ځينې يې د زکات په اړه دي او ځينې يې د طلاق او نفقې پورې تړاو لري ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمة بنت قیس رضی الله عنها وایې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د زکات په اړه پوښتنه وکړه : هغه وفرمایل :

(( له زکات پرته په مال کې حق شته ... ))

له فاطمې رضی الله عنها روایت دی ، وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې یوه غاړکۍ راوړه چې اویا مثقالو سروزرو پورې وزن یې درلود .... ومې ویل :

ای دالله رسوله ! له دې حق واخله ....

رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې یو مثقال ، او درې ربعه مثقاله واخیستل ... ...

له فاطمة بنت قیس رضی الله عنها روایت دی ، وایې : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( هغه ښځه چې درې طلاقه کیږي ، هغه د نفقې او استوګنځای حق نه لري )) ...

او په بل روایت کې راځي چې ،رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( هغه مهال ښځه د نفقې او اوسیدو حق لري ، کله چې وربانديې خاوند د بیر ته ستنېدو حق ولري .. )) ..

دا حدیث مسلم ، نسائي ، دارقطني ، او احمد په خپل مسند کې روایت کړی دی ...

د مدینې منورې په غوره والي کې ، فاطمة بنت قیس رضی الله عنها څخه روایت دی ، وایې : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :

(( ای مسلمانانو ! مدینې ته دجال نه شي راننوتلی ... ))

او په بل روایت کې راځي .. ..

(( له ما وړاندې ټولو پیغمبرانو ، خپل امت له دجال ډارولی ... ای زما امته ، دجال به تاسو کې هم راښکاره کیږي .. هغه به له ( طیبه ) یانې مدینې منورې پرته په ټوله ځمکه ګرځي ... دا ( طیبه ) ده .. ))

همدا راز فاطمة بنت قیس رضی الله عنها د اسامة بن زید رضی الله عنه د غوره والي په اړه هم یو حدیث روایت کړی .... هغه وایې چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :

(( څوک چې ماسره مینه لري ، نو اسامة سره دې مینه وکړي .. ))

فاطمة بنت قیس رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نصیحت عمل وکړ ، اسامه رضی الله عنه یې خوښ او واده یې ورسره وکړ .... او هغه سره به کله مدینه او کله شام کې اوسیده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاویه بن ابی سفیان  په خپل وخت کې د  فاطمة بنت  قیس رضی الله عنها ورور  ( ضحاک بن قیس ) د کوفې والي په توګه ټاکلی وو ،  فاطمة بنت قیس رضی الله عنها به کله نا کله د خپل ورور ملاقات ته ورتلله ..   چې بیا د هجرت په پنځوسم ۵۰ کال په مدینه منوره کې وفات شوه ... .. فاطمة بنت قیس رضی الله عنهاپه مدینه منوره کې له صحابه کرامو او تابعینو سره د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هند بنت عتبة رضی الله عنها

دا د قریشو یوه غښتلې ، سخته او تېزه مېرمن وه ...دې ښځې ګڼ متناقض ښویونه درلودل .. هم یې سختي او هم یې نرمي درلوده .. کینه او محبت یې درلود ، لویوالی او زړورتوب یې درلود او په څنګ کې یې ورسره په تېروتنه او غلطۍ باندې داعتراف کولو ځانګړنه درلوده . په دې ښځه کې د جاهلیت د تعصب ریښې او د غچ اخیستلو غیرت موجود وو .. کله چې په اسلام کې داخلیږي دالله جل جلاله شکر کاږي چې په داسې دین کې یې داخلوي چې په نورو دینونو بریالی کیږي ... او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په توبه باندې بیعت کوي . ددې ښځې ځوی معاویة بن ابی سفیان یې په اړه داسې وایې :

(( دا په جاهلیت کې د ستر خطر خاونده وه ، او په اسلام کې د خیر خاونده ده .. ))

دا مېرمن ( هند بنت عتبه ) یادیږي .. نوموړې له اسلامه وړاندې هر ډول ناوړه ظلمونه ، زیانونه او تکلیفونه مسلمانانو ته رسولي وو ، خو الله جل جلاله ورته د اسلام راوړلو ویاړ ورپه برخه کوي ، او د مسلمانانو خدمت ته ملا تړي .

نوموړې ( هند بنت عتبة بن ربیعة بن شمس بن عبدمناف ) نومېږي ...دا یوه ښکلې مېرمن وه وه ، په فصاحت او بلاغت باندې مشهوره وه .. په جاهلیت کې یې له ( حفص بن المغیرة المخزومي ) سره واده کړی وو ، او له هغه یې د ( ابان ) په نوم ځوی پیدا شو .. او کله یې چې خاوند وفات شو ، دهغه ورور ( فاکه بن المغیره ) سره یې واده وکړ، او څه موده یې ورسره یوځای تېره کړه ، بیا یوې عجیبې پېښې دوی دواړه سره جلا کړل ...

فاکه بن المغیره یو مېلمستون درلود او خلک به ورته له اجازې پرته راننوتل .. یوه ورځ ترې دباندې وتلی وو او خپله مېرمن ( هند ) یې ورکې پرېښې وه .. کله چې کور خالي شو ، پر هند خوب غلبه وکړه او ویې ښتل چې آرام وکړي . کله چې ویده شوه ، میلمستون ته یو مېلمه راغی .... مېلمه چې کله هند په خوب ولیده ، بیرته په شا ستون شو ... دامهال یې په تصادفي توګه خاوند راننوت ، هند یې په پښه ووهله او راویښه یې کړه ... کله چې هند متوجې شوه ورته یې وویل :

(( دا له دې ځایه اوس څوک ووت ؟ ))

هند ورته وویل :

(( قسم په الله زه ویده وم ، اوس ایله تا راویښه کړم .... ماهیڅوک نه دی لیدلی ))

خاوند یې ورته وویل :

(( پلار کره دې لاړه شه !!! ))

له دې خبرې خلک هند له پلار کور ته لاړه ، او ټولو خلکو به دا کیسه یادوله ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

عتبة د هند خاوند ( فاکه ) ته وویل :

(( تا خو زما لور په لوی کار تورنه کړې ... یا به راته دا په ثبوت رسوې .. او یا راسره د یمن کاهنانو ته دا خبره سپیناوي ته یوسه !! ))

فاکه ورته وویل :

(( زه موافق یم .. ))

ټول دیمن پرلور روان شول ... کله چې د کاهن ځمکې ته ورسیدل ، د هند مخ بدل شو او یو څه وېره پرې راغله .. پلار یې ورته وویل :

(( ای لورې ! مخکې ترې چې زموږ له راتګه ټول خلک خبر شول داسې به دې کړي وای ... ))

هند ورته وویل :

(( ای پلاره !! قسم په الله په دې نه یم بدله شوې چې ما څه بد کار کړی .. خو تاسو داسې یو انسان ته روان یاست چې کله غلط وایې او کله سم وایې ... او ښایې زما په اړوند تېروتنه وکړي او په عربانو کې په بد نوم مشهوره شم .. ))

کله چې دوی کاهن ته ورسیدل .. ډېر اکرام یې وکړ او ډوډۍ یې ورته تیاره کړه .. بیا یې د هند پر سر لاس راښکه او له تور یې پاکه کړه ... او ورته یې وویل :

(( پاڅه ، تاهیڅ زنا او بد کار نه دی کړی ... او د ( معاویة ) په نوم یو پاچا به زیږوې .. .. ))

له دې خبرې وروسته یې خاوند راپاڅېده ، په بخښنې او زارۍ ویلو یې پیل وکړ او غوښتنه یې ترې وکړه چې بیرته ورسره کور ته لاړه شي ... خو هند ترې لاس راکش کړ او ورته یې وویل :

(( قسم په الله زه به هڅه کوم چې پاچا ځوی مې له تا پرته له بل چا راوړم ... ))

کله چې فاکه بن المغیره ( هند ) طلاقه کړه ، د پلار کور ته راغله او په پلار یې شرط کېښود چې ترهغې به واده نه کوي چې ترڅو یې دخپلې خوښې وړ انسان پرې مرکه نه وي کړي ، او د مرکه کوونکي ځانګړنې یې ورته نه وي بیان کړي ... همداسې وشول .. له ( صخر بن حرب ) سره یې واده وکړ .. نوموړی د ( ابوسفیان ) په کنیه باندې مشهور وو .... د بعثت په لسم کال دوی واده وکړ او د ( حنظله او معاویه ) په نومونو دوه زامن یې وزیږېدل . . .

په مکه مکرمه کې د اسلام رڼا وځلېده او محمد صلی الله علیه وسلم خلک اسلام او دحق دین ته راوبلل ، خلک یې له شرک او د بتانو له عبادته منعه کول ... خو ( هند ) او دهغې خاوند ابوسفیان دهغو کسانو په مشرانو کې راتلل چې داسلامي دعوت او محمد صلی الله علیه وسلم سره یې د سختې دښمنۍ اعلان وکړ .... کله چې قریشو بنو هاشم په دره کې کلابند کړل او اقتصادي او ټولنیز بندیزونه یې پرې ولګول ... ابولهب چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دين سره يې سخته دښمني لرله د مسلمانانو مخالفينو سره ودرېده .. نوموړی له بنوهاشم څخه قريشو ته راووت او له هغوی يې ملاتړ اعلان کړ ...

ابن اسحاق وايې چې، کله چې ابولهب خپل قوم پرېښود او دهغوی خلاف يې له قريشو خپل ملاتړ اعلان کړ ، هند بنت عتبة ورسره مخامخ شوه ، ابولهب ورته وويل :

(( ای د عتبه لورې ! ما د لات او عزی ملاتړ وکړ ، او هغه څوک چې ددوی دښمني کوي ، زه ترې جلا کيږم او دښمني ورسره کوم ... ))

هند ورته وويل :

(( هو ، ابوعتبة ، الله دې خير درکړي .. ))

خو د بعثت په لسم کال له بنو هاشم څخه اقتصادي بنديزونه پورته شو ... مسلمانان او رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حال کې له اقتصادي بنديزونو راووتل چې ايمان يې لا غښتلی او اراده يې لا قوي شوې وه . . . بيا مدينې منورې ته د مسلمانانو هجرت د اسلام په تاريخ کې يو ستر بدلون رامنځته کوي .. ... ډېر ژر الله جل جلاله پريکړه کوي ، او د هجرت په دويم کال د بدر په غزا کې مسلمانانو ته ستره بريا ورپه برخه کوي ... قريشو هوډ کړی وو چې د بدر سيمې ته لاړ شي او هلته له رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو سره وجنګيږي ... په دې لښکر کې د قريشو مشران او مخوو کسانو هم ګډون کړی وو . رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته وويل :

(( دادی مکې تاسو ته خپل ځګرونه رامخ ته کړي دي !! ))

دواړه لښکرې سره مخامخ شوې او الله جل جلاله مسلمانانو ته بريا ورکړه ... .. خو په دې ستره جګړه کې د هند بنت عتبه تلفات ، مصيبت او غم تر بل هر چا زيات وو . . . .

حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه د هند پلار ( عتبة بن ربيعه ) او دهغې تره ( شيبة بن ربيعه ) او سکه ورور ( وليد بن عتبه ) او د ( حنظلة بن ابی سفيان ) په نوم ځوی يې ورته ووژل ..... قريشو هم تلفات ورکړل ، او هم يې د ماتې پيغور له ځان سره يوړ ... دا هغه څه وو چې د هند بنت عتبه درد او کينه يې لا زياته کړه ... سمدلاسه يې په خپلو مړو باندې د غم او وير شعرونه او ستاينې پيل کړې ...

ابکی عميد الابطحين کليهما ۔ وحاميها من کل باغ يريدها

ابی عتبة الخيرات ويحک فاعلمی ۔ وشيبة والحامی الذمار وليدها

اولئک آل المجد من آل غالب ۔ وفی العز منها حين ينمي عديدها

د بدر له غزا وروسته د هند په ذهن کې د غچ اخيستلو لمبې ګرځېدې راګرځېدې ... خپل خاوند ابوسفيان ته يې قسم ورواچوه چې د هند او د قريشو د مړو غچ به اخلي ... پيل يې وکړ او د غچ اخيستلو لښکرې يې راټولولې او دمسلمانانو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضد يې خلک راهڅول .. . حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه د هند تره په بدر غزا کې وژلی وو ، هند له جبير بن مطعم سره خبرې وکړې ، او د ( وحشي ) په نوم خپل غلام يې په دې وګوماره چې حمزه رضی الله عنه ووژني .. د حمزه رضی الله عنه د وژلو په مقابل کې يې ورسره ژمنه وکړه چې له غلامۍ به يې آزاد کړي .. وحشي په غشي ويشتلو کې ډېر مهارت درلود ... ډېر کم وخت به يې ګوزار خطا تللو ..

دهجرت په دريم کال د شوال په مياشت کې قريش د ستر لښکر په ملګرتيا د مدينې پر لور په دې موخه روان شول چې د بدر د ماتې غچ واخلي ... د قريشو د لښکرو مشري د هند بنت عتبه خاوند ابوسفيان کوله . په دې غزا کې هند هم له ګڼو نورو ښځو سره د قريشو د لښکر په ملګرتيا وتلې وې ... دوی به په خپلو جنګياليو کې د جنګ حماس غښتلی کاوه او هڅول به يې چې له مسلمانانو غچ واخلي . هند بنت عتبه د قريشو له نورو ميرمنو سره په ګډه له نارينه وو شاته ډولونه وهل او له دې لارې يې هغوی هڅول .. هند به دا ترانې هم ويلې :

نحن بنات طارق　　نمشی علی النمارق

ان تقبلوا نعانق　　ونفرش النمارق

او تدبروا نفارق　　فراق غير وامق

د قريشو لښکرې د مدينې منورې پولو ته نږدې د احد غره ته رسيږي ... د احد جګړه د مدينې منورې شمال لورته د احد د غره په لمن کې پېښ شوه . . . د مسلمانانو لښکرې نږدې وې چې بريالي شي ، خو کله چې د ( رماة ) يا ويشتونکو غره باندې ځينو صحابه کرامو د مسلمانانو بريا وليده او دا يې غوره وګڼله چې غر پرېږدي او د جګړې ميدان ته ښکته شي ، د مسلمانانو بريا په ماتې بدله شوه .. کله چې د ( رماة ) په غره باندې خالد بن الوليد د مسلمانانو کمې لښکرې وليدې ، وربانديې راتاو شو او هغوی يې له منځه يوړل .. کله چې د جنګ تګلاره پر مسلمانانو بدله شوه ، هند بنت عتبه وحشي هڅولو ترڅو له حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه غچ واخلي .. وحشي هم د جګړې په جريان کې د حمزه څارنه کوله او هغه يې تر تعقيب لاندې نيولی وو .. هند به وحشي ته ويل :

(( ونيسه ابو دسمه ... زړه مې درمان کړه ... ))

هماغه وو چې وحشي فرصت پيدا کړ ، غشی يې پر حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه وربرابر کړ او شهيد يې کړ ... هند د حمزه رضی الله عنه جثې ته لاړ ، پوزه او غوږونه يې ورته پرې کړل .. خېټه يې ورته څيرې کړه او ځګر يې ترې راوويست او خوله يې پرې ولګوله او بيا يې ليرې کړ ... بيا يې له کينې ډک دا شعرونه وويل :

شفيت من حمزه نفسی با حد　　حين قرت بطنه من الکبد

اذهب عنی کل ما اجد　　من لذعة الحزن الشديد المعتمد

کله چې د احد په غزا کې د حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه جثه باندې تمثيل وشو ، هند په ( آکلة الکبود ) يانې د ځګرونو په خوړونکې باندې مشهوره شوه. په دې کلمه به د هند دغه سخت او ناوړه عمل تعبيرېده .. دا هغه ناوړه عمل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په دې زماني مقطع کې يوې ښځې ترسره کړې وو او له سختې دښمنۍ او نفرت ترجماني يې کوله .... د هجرت په اتم کال الله جل جلاله په رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو باندې مکه فتحه کړه .... د هند خاوند ابوسفيان د مکې مکرمې څنډو ته راوخوت او د مسلمانانو سترې لښکرې يې وليدې ... د رسول الله صلی الله عليه وسلم څواک او غښتلتيا ورته ثابته شوه ... سمدلاسه يې اسلام اعلان کړ او ګواهي يې ورکړه چې له الله پرته بل څوک معبود نشته ، او محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی . . . عباس بن عبدالمطلب رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په غوږ کې ووېل چې :

(( ای دالله رسوله ! ابوسفيان داسې يو سړی دی چې وياړ خوښوي ..... يوڅه امتياز ورکړه چې په خپل قوم باندې پرې ووياړي ... ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېل :

(( څوک چې د ابوسفيان کور ته داخل شي ، هغه به امن کې ، او څوک چې ځان پسې دروازه بنده کړي ، امن کې به وي ، او څوک چې جومات ته داخل شي ، هغه به امن کې وي .... ))

ابوسفيان قريشو ته راستون شو او ورته يې ووېل :

(( ای قريشو ! محمد دومره لښکرې راوستي دي چې مخه يې نه شئ نيولی ... څوک چې د ابوسفيان کور ته داخل شي، هغه به امن کې وي.. او څوک چې ځان پسې دروازه بنده کړي ، امن کې به وي ، او څوک چې جومات ته داخل شي ، هغه به امن کې وي .. ))

کله چې هند د خاوند اسلام وليده ، ډېره حيرانه او لاره ترې ورکه شوه ... ورته ودرېده او خاوند يې له برېتونو ونيوه .. د جاهليت غيرت ورکې راوپارېده او ويې ويل :

(( چاغ او څرب ووژنئ ... د قوم مشر دې ورک شي .. ))

خو ابوسفيان خپل قوم وويراوه او په مېرمن باندې يې داسې رد وکړ :

(( هلاک شئ .. ددې په خبرو باندې مو کبر وانخلي ... که نه داسې حالت سره به مخامخ شئ چې توان به يې ونه لرئ . ))

له دې خبرې وروسته خلک خپلو کورونو او جوماتونو ته خپاره شول ، او د ځانونو لپاره د امن غوښتونکي شول .. د امن هغو ځايونو ته يې پناه يوړه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اعلان کړي وو .. . خو هند بنت عتبة لړه تم شوه ، او ټولې هغه دښمنۍ چې له اسلام او رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې کړې وې هغه يې ځان سره رايادې کړې ... نوموړې هغه مېرمن وه چې تر بل هرچا يې له مسلمانانو سره سخته دښمني کړې وه او په دې لاره کې يې سختې او ظالمانه لارې وکارولې ... . د دويمې ورځې سهار مهال د هند بنت عتبه حالت بدل وو ... د خاوند اسلام يې زړه مات کړی وو او د مکې د فتحې نرمۍ او مهربانۍ حيرانه کړې وه .... له هغو کسانو سره يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم غيرت او غبرګون زړه رامات کړ چې دښمني يې ورسره کړې وه او هغه او مسلمانان يې له کوره ويستلي وو .. .. هند له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو کسانو ځخه وه چې وینه تویول یې روا شوي وو .. خو ویې غوښتل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخ شي او سفارش ورته وکړي .. هماغه وو چې له زبیر رضی الله عنه سره مخامخ شوه او ورته یې وویل :

(( زه غواړم چې محمد سره بیعت وکړم .. ))

هغه وویل :

(( تا خو پرون له دې خبرې انکار کاوه .. ))

ویې ویل :

(( قسم په الله ، له پرون شپې وړاندې مې په دې جومات کې دالله جل جلاله عبادت په حقه نه وو لیدلی .. قسم په الله دوی الله تعالی ته ټوله شپه په لمانځه ، قیام ، رکوع او په سجده تېره کړه ))

زبیر ورته دهغې سخته دښمني وریاده کړه او ورته یې وویل :

(( تا خو ډېر کارونه کړي دي ، له قوم ځخه دې یو کس له ځان سره بوځه . ))

هند په عمر رضی الله عنه پسې وګرځېده ، او ویل کیږي چې عثمان رضی الله عنه یې ولټاوه ... او هیله یې ترې وکړه چې په ځنګ کې ورسره ودریږي .. او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ورته سفارش وکړي ... کله چې هند دفتحې ورځې په سهار د صفا غونډۍ ته ورسیده ...نقاب یې اغوستی وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته یې وویل :

(( ای د الله رسوله ! دالله شکر چې هغه دین یې بریالی کړ چې تا د ځان لپاره غوره کړی وو ، او ستا له مهربانۍ برخمنه شم ، زه په الله او دهغه په رسول ایمان راوړم ... ))

بیا یې خپل نقاب پورته کړ او ویې ویل :

(( زه هند بنت عتبه یم .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( هر کله راشې ))

او له رسول الله صلی الله علیه وسلم یې وغوښتل چې بخښنه ورته وکړي ، او هغه فرمان چې دهغې د وینې د تویدو او روا کېدو په اړه یې صادر کړی وو ، دهغې د بیرته اخیستلو غوښتنه یې وکړه .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ورته بخښنه وکړه او فرمان یې واخیست . .. بیا یې وغوښتل چې لاس اوږد کړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاس ورکړی ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( زه له ښځو سره په لاس روغبړ نه کوم ))

هند بنت عتبة کور ته راستنه شوه ، او سمدلاسه یې په خپل کور کې بت ته مخه کړه ، اوسپنه یې راواخیسته او وربانديې یې ټوټې ټوټې کړ ...

د هند بنت عتبه بیعت د یو شمېر احکامو لپاره بنسټ کېښود ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هند ترمنځ ګڼې خبرې اترې تبادله شوې چې ټولې یې د سیرت او حدیثونو په کتابونو کې راغلي دي .. دا خبرې اترې د هند فصاحت موږ ته رابښايي ، د نوموړې هغه غښتلی شخصیت راته ثابتوي چې په پای کې یې سمه لاره وموندده او حق یې پیدا کړ .. رسول الله صلی الله علیه وسلم له هند او نورو سره په دې بیعت وکړ چې ، له الله جل جلاله سره به شرک نه کوي .....

له دې خبرې سره هند وویل :

(( پوه شوم که له الله پرته بل څوک وای ، نو موږ به یې ژغورلي وای . ))

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : غلاوې به هم نه کوئ ...

هند ورته وویل :

(( آیا آزاده ښځه غلا کوي ؟ .. خو دالله رسوله ... ابوسفیان تل لاس نیولی وي ، په کورنۍ باندې مصرف نه کوي .. کله دهغه په ناخبرۍ کې دهغه د بچیانو لپاره دهغه له مال څخه یوڅه اخلم ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( دهغه له مال دومره واخله چې تا او دهغه بچي ته بسنه وکړي . ))

ابوسفیان دا مهال حاضر وو ، ویې ویل :

(( تا چې څه اخیستي ، آزاده یې .. ))

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته وویل ، چې زنا به نه کوئ ...

هند وویل :

(( آیا آزاده ښځه زنا کوي ؟ ))

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل ، چې په نېکیو کې به زما نافرماني نه کوئ ..

هند وویل :

(( زما پلار او مور دې درنه قربان شي ، تا څومره ښکلې لارې ته دعوت کړی .... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

هند ژوندۍ وه ، او د هجرت په یوولسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات شاهده وه ... د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د خلافت په دوره کې هم ژوندۍ وه ... هنداو دهغې خاوند ابوسفیان د هجرت په دیارلسم کال د یرموک د غزا شاهدان هم وو او په هغې کې مهم رول اداء کړی وو . نوموړې د مسلمانانو په لیکو کې ولاړه وه او هغوی یې د روم سره جګړې ته هڅول ، لکه څنګه چې لس کاله وړاندې د قریشو په لیکو کې ولاړه وه او هغوی یې د مسلمانانو خلاف جنګ ته هڅول ..... د هجرت په دیارلسم کال چې په کومه ورځ ابوبکر الصدیق رضی الله عنه وفات شو ، په هماغه ورځ هند بنت عتبه هم له دې دنیا سترګې پټې کړې .... نوموړې هغه مېرمن وه چې تل به د جاهلیت تعصب راخیستې وه ، او د مسلمانانو سره یې د سختې دښمنۍ نمونه پرېښې وه ... خو له بل پلوه یې سیرت په غوره اسلام ، رښتوني ایمان ، غښتلي یقین او عقیدې پای ته رسیږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها

دا له هغو صحابياتو څخه وه چې داسلام کيسه يې د عذاب يوه ټوټه او د صبر يوه نمونه وه .. دا ښځه د شر ک او ګمراهۍ په کورنۍ يوه مؤمنه ، رښتونې او د پاکې عقيدې خاونده وه . دا هغه مېرمن وه چې د کورنۍ ځينې غړي يې په بت پرستۍ مړه شوي وو .... د حديبيې له سولې وروسته مدينې منورې ته ددې ښځې د هجرت کيسه د ايمان ، جهاد او په حق باندې د ثبات کيسه ده .. دا هغه مېرمن وه چې په خپل کتاب کې يې په دار الهجرت کې ددې د پاتې کېدو حکم رانازل کړ ..... دا مېرمن ( **ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها** ) نوميږي ... هغه مېرمن وه چې الله او رسول ته يې له ملاتړ او ملګري پرته هجرت کړی وو ، او د نبوت په زمانه کې يې له عبرت ته ډکه او د غښتلي ايمان کيسه په تلپاتې تاريخ کې پرېښوده ...

دا مېرمن ( **ام کلثوم بنت عقبة بن ابی معيط بن امية بن عبد شمس بن عبدمناف بن قصی** ) نوميږي ... او مور يې ( **اروی بنت رکيز بن ربيعة** ) د عثمان بن عفان مور وه ... په دې سره ، نوموړې د مور لخوا د عثمان بن عفان خور وه . د ام کلثوم رضی الله عنها کور په مکه مکرمه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کور سره نږدې وو . .. او ددې پلار ( عقبة بن ابی معيط ) د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سترو دښمنانو څخه وو او له هغو کسانو څخه وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې ډېر زيانونه رسول . لامل يې هم دا وو چې نوموړی درسول الله صلی الله عليه وسلم له خپلوانو او ګاونډيانو څخه وو ... په داسې وخت کې يې ورسره رسول الله صلی الله عليه وسلم د ګاونډيتوب شپې ورځې تېرولې چې مشر کانو ور کې نه د ګاونډي حقوق پيژندل او نه يې ور کې ګاونډيتوب پيژانده . دا چې د ام کلثوم رضی الله عنها پلار عقبة بن ابی معيط د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره سخته دښمني کوله او هغه به يې دروغجن ګاڼه ، قريشو له دې فرصت څخه ګټه پورته کړه او هغه يې له (نضر بن الحارث ) سره يوځای مدينې منورې کې يهودو ته وليږه ترڅو له هغوی درسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه پوښتنه وکړي چې آيا دهغوی په کتابونو کې يې په اړه څه راغلي او که نه ؟؟ يهودو ور ته وويل :

(( موږ چې در ته دري ټکي ښايو ، له هغې ترې پوښتنه وکړئ .. که ځواب يې در کړ ، نو بيا پيغمبر دی ... او که ځواب يې درنکړ ، نو بيا دروغ وايې ، او څه مو چې خوښه وي ، هغه ورباندې وکړئ ! ! ... لومړی پوښتنه ، دهغوی ځوانانو په اړه ده چې په لومړۍ زمانه کې تللي وو ، هغوی باندې څه وشول ؟ ځکه هغوی ډېره عجيبه کيسه لري ...... او دويمه پوښتنه ، دهغه کس په اړه ده چې د ځمکې ختيځونو او لويديځونو ته تللی وو ..... او دريمه پوښتنه د روح ( ارو ) په اړه ده .. ..

عقبة او نضر بن الحارث دا پوښتنې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وړاندې کړې ، الله جل جلاله ورته ددې پوښتنو ځواب د کهف په سورت کې رانازل کړ .. په دې سورت کې د کهف د هغو ځوانانو په اړه کيسه بيان شوې چې ، په لومړۍ زمانه کې تير شوي دي ... دا سورت يې د نبوت په رښتونولی باندې پيل کړ . الله جل جلاله فرمايي :

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ددې ټولو ځوابونو سره سره چې د شک هيڅ ځای ورکې نه پيدا کيږي ... د ام کلثوم رضی الله عنها پلار عقبة بن ابی معيط په خپل شرک او بت پرستۍ پاتې کيږي ... نوموړی په دې ټينګار کوي چې هغه پيغمبر چې د رسالت د رښتونولی په برخه کې په امتحان کې بريالی کيږي ، بيا هم هغه ته د زيان په رسولو ټينګار کوي . خو له بل پلوه دهغه لور ، ام کلثوم رضی الله عنها ته د نورې کورنۍ له غږو پر ته الله جل جلاله د اسلام هدايت کوي . مخکې له دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته هجرت وکړي ، اسلام راوړي او له بيعت ورسره کوي ... دا مهال نوموړې لا واده نه وو کړی ، له اسلام راوړلو وروسته په مکه مکرمه کې پاتې کيږي او د خپلې کورنۍ د سختو ظلمونو ښکار کيږي ... الله جل جلاله د هجرت په دويم کال د بدر په غزا کې مسلمانانو ته ستره بريا ورکوي او قريش له سختې ماتې سره مخامخ کوي ، لسګونه جنګيالي يې په دې جګړه کې وژل کيږي او ځينې يې د مسلمانانو په لاس بند کې پرېوځي . . د بدر په غزا کې د قريشو او مشر کينو له ډلې د ام کلثوم رضی الله عنها پلار او د اسلام سخت دښمن ( عقبة بن ابی معيط ) هم وژل کيږي ... په دې ترتيب ، ام کلثوم رضی الله عنها له يوې خوا د خپل پلار د مړينې غم ګوري او له بل پلوه يې دا حالت دردوي چې پلار يې د شرک په حالت وژل کيږي ... د بدر له بريا او له هغې راوروسته په نورو جګړو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پرله پسې برياوې ددې لامل کيږي چې ، د ام کلثوم رضی الله عنها کورنۍ پرهغې ظلمونه کوي .. د ام کلثوم په جسد کې چې کومه عقيده انځوريږي ، د کورنۍ په زړه يې نه ځاييږي او د زغم وس يې نه لري . خو دې حالت د ام کلثوم رضی الله عنها ايمان لا غښتلی کړ .... د کلونو په تېرېدو سره ، د ام کلثوم رضی الله عنها کورنۍ بيا هم په شرک او بت پرستۍ پاتې کيږي ... هماغه وو چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم له قريشو سره د هجرت د شپږم کال په وروستيو کې د حديبيې سوله کوي ، ام کلثوم رضی الله عنها پريکړه کوي چې خپله کورنۍ پريږدي او مدينې منورې ته د خپل دين د ساتلو په موخه هجرت وکړي . ... دا پريکړه له ځان سره پټه کوي ، او په يوازې ځان له مکې مکرمې څخه د مدينې منورې پر اوږده او له خطرونو په ډکه لاره خپل هجرت ته ادامه ورکوي او هلته د اسلام له ستر کاروان سره يوځای کيږي ..... خو کورنۍ يې په دې پريکړه راپاريږي .... کله يې چې کورنۍ دهغې په نشتوالي پوهيږي ، سمدلاسه يې دوه ورونه ( عماره او وليد ) پسې راوځي ترڅو يې پيدا او بيرته يې مکې ته راستنه کړي .. .. کله د ام کلثوم رضی الله عنها ورونه دهغې په لټه پسې ګرځي ، يوه ښځه يې خبروي چې هغه د مدينې منورې پر لور روانه وه ....

په دې اړه مختلف روايتونه دي چې د ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها کورنۍ په کومه طريقه دهغې پلټنه وکړه ... په ځينو روايتونو کې راغلي چې کله د ( عماره او وليد ) خور ام کلثوم مدينې منورې ته هجرت کاوه ، په لاره کې يې پيدا کړه ... دواړو هڅه وکړه چې کور ته يې وګرځوي ، خو هغې خپلې تګلارې باندې ټينګار کاوه .... او په بل روايت کې راځي ، چې ام کلثوم رضی الله عنها مدينې منورې ته ورسيده خو ورونه يې پر دې ونه توانېدل چې ويې نيسي او له لارې يې ستنه کړي ... ويل کيږي چې دواړه ورونه يې مدينې منورې ته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلل او غوښتنه يې ترې وکړه چې خور يې بيرته مکې ته وليږي ..... که څه هم روايتونه مختلف دي ، خو دا يقيني خبره ده چې د ام کلثوم رضی الله عنها ورونه دواړه مدينې منورې ته روان شوي وو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلي وو او له هغه يې په تړون باندې د ودرېدو غوښتنه کړې وه ... هغه تړون چې د حديبيې په سوله کې شوی وو ... .. په دې تړون کې يادونه شوې وه چې څوک مسلمانانو ته د ولي له اجازې پر ته مسلمان راځي ، بير ته به هغوی ته سپارل کيږي ...... خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ام کلثوم رضی الله عنها په دې خبره شوه چې ورونه يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم د بير ته ستنولو غوښتنه کوي ، مکې مکرمې ته يې له بيرته تللو انکار وکړ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل :

(( ای دالله رسوله ! زه ښځه يم ، او پوهيږې چې ښځې کمزورې دي ، که کافرانو ته مې وسپارې ، ماته به زما په دين عذاب راکړي ، خو زه د صبر وس نه لرم .. ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويريده که چيرته ام کلثوم رضی الله عنها خپلې کورنۍ ته وسپاري نو شکنجه به يې کړي او له سخت عذاب سره به يې مخامخ کړي . او په دې هم پوهيده ، که چيرته يې له ځان سره پريږدي او بيرته يې مکې ته ونه سپاري ، نه د سولې د تړون له شرط څخه به دا سرغړونه وي ... ددې خبرو په تعقيب الـهی حکم راځي او دې ستونزې ته دپای ټکی ږدي، ښځو باندې د رحمت لارښوونه کوي او هغوی له دې تړون څخه مستثنی کوي .. الله جل جلاله د ( ممتحنه ) په سورت کې فرمايې :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ مُهَـٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَـٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ ۖ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

رسول الله صلی الله عليه وسلم د ام کلثوم رضی الله عنها او له هغې وروسته د نورو ښځو ايمان امتحان کړ .. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې :

(( قسم په الله تاسو يوازې دالله ، رسول او داسلام په مينه راوتلي ياست ... تاسو دخاوند او مال لپاره نه ياست راوتلي ...))

که داسې به يې وويل .. پاتې به شوې او خپلو کورنيو ته به نه بيرته نه ورکول کيدې.. . . ام کلثوم رضی الله عنها دا خبرې په ډاګه وکړې او په خپل عمل کې يې ښکاره کړې ... هماغه وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ام کلثوم رضی الله عنها ورونو ( وليد او عماره ) ته وويل :

(( تاسو ته مالومه شوه چې الله جل جلاله د ښځو په اړوند هغه تړون مات کړی ، تاسو لاړ شئ!! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دې سره د ام کلثوم رضی الله عنها ستونزه هواره شوه ... او رسول الله صلی الله علیه وسلم قریشو ته ونه سپارله ..... نوموړې مېرمن د حدیبیې له سولې وروسته مدینې منورې ته لومړۍ مهاجره وه .... دا هغه ستره صحابۍ وه چې دهجرت کیسه یې په قرآن کریم کې نازله شوې ده ..

ام کلثوم رضی الله عنها په مدینه منوره کې لا ډېر وخت نه وو تیر کړی چې ، څلورو سترو صحابه کرامو رضوان الله علیهم ورباندې مرکه وکړه او دنکاح غوښتنه یې ترې وکړه . ( زبیر بن العوام ، عبدالرحمن بن عوف ، زید بن حارثه او عمرو بن العاص رضی الله عنهم ) پرې مرکه وکړه ... ام کلثوم رضی الله عنها په دې څلورو صحابه کرامو کې حیرانه شوه چې له چا سره واده وکړي ... هماغه وو چې له خپل ناسکه ورور ( عثمان بن عفان رضی الله عنه ) سره یې مشوره وکړه .. هغه ورته مشوره ورکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړه شي او هغه ورته له دوی څخه یو خاوند وټاکي .. ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د زید بن حارثه رضی الله عنه وړاندیز وکړ ... دامهال نوموړي خپله مېرمن ( زینب بنت جحش رضی الله عنها ) طلاقه کړې وه . .. ام کلثوم له زید سره واده وکړ .. او د زید او رقیة په نوم دوه بچیان یې ترې وزیږېدل . خو زید لا ماشوم وو چې وفات شو ، او ورپسې یې ( رقیة ) خور هم په ماشومتوب کې وفات شوه .

په روایتونو کې راځي چې کله زید بن حارثه رضی الله عنه د هجرت په اتم کال د مؤته په غزا کې د مسلمانانو د لښکرو مشري په غاړه لرله او هلته شهید شو ، دهغه میرمن ام کلثوم رضی الله عنها ترې کونډه پاتې شوه ... نو په دې سره ، ام کلثوم رضی الله عنها له زید بن حارثه رضی الله عنه سره له دوه کلونو ډېر وخت تېر نه کړ . ... زبیر بن العوام رضی الله عنه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور ځوی وو او په دنیا ورته د جنت زیری ورکړل شوی وو ، د ام کلثوم رضی الله عنها د عدت له پای ته رسیدو خبر شو ... مرکه یې پرې وکړه ، هغې هم ورسره موافقه وکړه او واده یې ورسره وکړ .... دا چې زبیر بن العوام رضی الله عنه له ښځو سره په چلند او رویه کې سخت وو ، ام کلثوم رضی الله عنها هغه سره داوږده پاتې کیدو زغم پیدا نه کړ ، او د طلاق غوښتنه یې ترې وکړه .. نوموړې په طلاق ټینګار وکړ .. هماغه وو چې زبیر بن العوام رضی الله عنه یې هم غوښتنه ومنله او په داسې حال کې یې طلاقه کړه چې د ماشوم د زیږېدنې وخت یې رانږدې وو ... او له هغه یې د زینب بنت الزبیر په نوم لور پیدا شوه .... ام کلثوم رضی الله عنها له زبیر بن العوام رضی الله عنه څخه جلا شوه ...... بیا پرې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه مرکه وکړه ..... نوموړی هم له هغو کسانو څخه وو چې په دنیا ورته د جنت زیری ورکړل شوی وو ، او پخوا یې هم پرې مرکه کړې وه ..... ام کلثوم رضی الله عنها ورسره واده وکړ . او له هغه یې درې زامن پیدا شول ... .. درې زامن یې د ( ابراهیم ، اسماعیل او حمید ) په نومونو یادېدل . ددوی ترڅنګ یې ترې دوه لوڼې هم وزېږېدې ، چې د ( حمیده او امة الله ) په نومونو یادېدې .

ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها له عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه سره خوشاله وخت تېر کړ .... ترهغې وخته ورسره وه چې خاوند یې د هجرت په دوه دېرشم کال وفات شو ... له ده وروسته څلورم مرکه کوونکی ، ستر صحابي عمرو بن العاص رضی الله عنه چې پخوا یې هم پرې مرکه کړې ، بیا یې د ام کلثوم رضی الله عنها د نکاح غوښتنه وکړه ... واده یې ورسره وکړ ... خو د ډېرو روایتونو پر بنسټ ، له عمرو بن العاص رضی الله عنه سره یې ژوند ډېره ادامه ونکړه . او لږه موده وروسته وفات شوه ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام کلثوم رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم ګڼ حدیثونه روایت کړي ، نوموړې له هغو مېرمنو څخه چې د دیني احکامو په زده کړې ډېره لېواله وه او هڅه یې کوله چې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتو باندې ځان پوه کړي .

ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها له نبوي کورنۍ سره ډېرې اړیکې درلودې .. همدا لامل دی چې د امهات المؤمنین رضی الله عنهن څخه یې ګڼ حدیثونه روایت کړي دي . له دې جملې څخه یو دا چې ، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له ام سلمې رضی الله عنها سره واده وکړ ورته یې وویل :

(( ما نجاشي ته یو اندازه عطر او زېورات ډالۍ کړي دي ، او زه ګومان کوم چې هغه به وفات شوی وي ، او ګومان کوم چې کومه ډالۍ چې ما ورکړې ، بیرته به ماته راولېږل کیږي ، که ماته یې راولېږله ، تاته یې درکوم ))

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي وو ، نجاشي وفات شوی وو ، او ډالۍ یې ورته بیرته راولېږل شوه ... ټولو مېرمنو ته یې خوشبویې ورکړه ، او د زېوراتو په ګډون یې پاتې نور ام سلمې رضی الله عنها ته ورکړل .

ام کلثوم رضی الله عنها د قرآني آیتونو د فضیلت او همدا راز د زکات د فضیلت په اړه ګڼ حدیثونه روایت کړي دي ..

له ام کلثوم رضی الله عنها روایت دی ، وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ( قل هو الله احد ) د قرآن کریم درېمې برخې سره برابر دی ..

او له ام کلثوم رضی الله عنها څخه بل روایت دی ، وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

(( غوره صدقه هغه ده چې ، کینه کښ دښمن خپلوان ته ورکول کیږي .. ))

له ام کلثوم رضی الله عنها څخه روایت دی ، وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې په درې حالاتو کې ددرواغو اجازه ورکړې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل ، دا درواغ نه دي چې ،

(( یو کس د خلکو ترمنځ سوله کوي ، او داسې خبره کوي چې په هغې باندې د خلکو ترمنځ اصلاح رامنځته کیږي . او بل هغه کس چې په جنګ کې یې وایې ، او بل هغه نارینه چې ښځې ته یې وایې او یا یې ښځه خاوند ته وایې ... ))

او په بل روایت کې راځي چې ، هغه کس درواغجن نه دی چې ، دخلکو ترمنځ د سولې لپاره ، د خیر خبره وکړي ، یا د خیر خبره یو بل ته یوسي ...

ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها د خپل ناسکه ورور عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت په دوران کې وفات شوه . په اغلب روایت سره ، نوموړې د هجرت په ۳۳ کال له دې دنیا رحلت وکړ .. خو د سیرت کتابونو یې دعمر په اړه څه نه دي لیکلي . همدومره مالومه ده چې د حدیبیې له سولې وروسته نوموړې له مکې څخه مدینې منورې ته په یوازې ځان هجرت وکړ ، خپله کورنۍ ، کور ، او خاپوړو ټاټوبی یې دالله او رسول لپاره پرېښود . ... ام کلثوم رضی الله عنها په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي تلپاتې تاریخ کې خپل نوم ژوندی پرېښود ، هغه کسان چې دنوموړې مېرمنې سیرت لولي ، هغوی ته د نبوت د وخت د یوې سترې ، ویاړمنې ، مؤمنې ، صابرې ، او مهاجرې مېرمنې نمونه وړاندې کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسماء بنت یزید الاوسیة رضی الله عنها

دا د انصارو یوه میرمن وه ، دا مېرمن یو له هغو مېرمنو څخه وه چې مدینې منورې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له راتګ وروسته یې ورسره تر ډېرو وړاندې بیعت کړی وو .... دا مېرمن په فصاحت او بلاغت او ښکلي بیان باندې مشهوره وه .. هغه مېرمن ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه اعتراف کړی وو ، او د ( خطیبة النساء ) لقب یې خپل کړی وو . یانې د ښځو خطیبه .. ښایې ددې مېرمنې دتاریخ په اړه کم مواقف د سیرت په کتابونو کې راغلي وي .. خو ددې مواقفو معناګانې د اسلام په پیل کې د یوې مؤمنې ښځې د شخصیت او کرکتر په جوړولو کې مهم رول لوبوي .. ددې ښځې شخصیت په څو کرښو او کلمو کې نه شي رالنډېدای .. دا مېرمن ( **اسماء بنت یزید الاوسیة رضی الله عنها** ) یا ( **ام سلمة الانصاریة رضی الله عنها** ) نومیږي . چې په ( خطیبة النساء ) لقب باندې مشهوره وه .

نوموړې ( **اسماء بنت یزید بن رافع بن امرئ القیس بن یزید بن عبدالاشهل** ) نومیږي .. په مدینه منوره کې د اوس له وتلې قبیلې څخه وه . اسماء رضی الله عنها د ستر صحابي ( سعد بن معاذ رضی الله عنه ) د تره لور وه . مور یې ( ام سعد بنت خزیم ابن مسعود بن عبدالاشهل ) نومېږي . اسماء رضی الله عنها د ( فکیهة ) په نوم یو بل نوم هم لري . او کنیه یې ( ام عامر الاشهلیه ) ده . همداراز نوموړې د ( ام سلمه الانصاریة ) رضی الله عنها په کنیه باندې هم مشهوره وه . چې د ( انصاریة ) نوم سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مېرمنې او ام المؤمنین ( ام سلمه رضی الله عنها ) څخه بیلیږي .

( اسماء بنت یزید رضی الله عنها ) په مدینه منوره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفیر مصعب بن عمیر رضی الله عنه په لاس مسلمانه شوې ده . مصعب بن عمیر رضی الله عنه هغه صحابي وو چې له لومړۍ عقبې له بیعت وروسته مدینې منورې ته راغی ، ترڅو د مدینې منورې خلکو ته اسلامي احکام ورزده کړي او په قرآن کریم یې پوه کړي او خلک اسلام ته راوبلي . اسماء بنت یزید رضی الله عنها د خپل تره ځوی ( سعد بن معاذ رضی الله عنه ) له اسلام څخه الهام واخیست او دهغه خبرو پرې اغیز وکړ .. کله چې سعد بن معاذ رضی الله عنه مسلمان شو خپل قوم ته یې وینا وکړه او ویې ویل :

(( ای بنو عبدالاشهل !! ترهغې راباندې ستاسو د نارینه او ښځینه خبرې حرامې دي ، چې په الله او رسول مو ایمان نه وي راوړی !! ))

نو په دې توګه ویلی شو چې ، اسماء بنت یزید رضی الله عنها د خپل قوم د هغو کسانو په سر کې راځي چې اسلام یې تر ډېرو نورو ژر ومانه ، او د خپل قوم د مشر سعد بن معاذ رضی الله عنه خبرو او د مصعب بن عمیر رضی الله عنه دعوت او خبرو پرې اغیز وکړ . راویان وایې چې :

(( د ماښام په راتلو سره ، د بنوعبدالاشهل په کورنۍ کې ټول نارینه او ښځینه مسلمانان شول ))

د هجرت په لومړي کال کې ، اسماء بنت یزید رضی الله عنها له نورو ښځو سره یوځای رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بیعت کولو لپاره راغلې وې . او ویل کیږي چې ( ام سعد بن معاذ رضی الله عنها ) او ( ام عامر الاشهلیة عنها ) یانې ( اسماء بنت یزید بن السکن عنها ) او ( حواء بنت یزید بن السکن رضی الله عنها) لومړۍ مېرمنې وې چې له رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم سره یې بیعت وکړ . .. اسماء بنت یزید رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیعت د کیفیت په اړه له یو حدیث څخه زیات حدیثونه روایت کړي دي . هغه وایې :

زه ، ( لیلی بنت الخطیم ) او ( حواء بنت یزید بن السکن ) یوځای د ماښام او ماخوستن مهال منځ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او سرونه مو پټ کړي وو ... سلام مې ورباندې واچاوه .. د نسب پوښتنه یې وکړه ، ورته مې بیان کړ . بیا یې زما له ملګرو د نسب پوښتنه وکړه هغوی ورته خپل نسب بیان کړ ..... هر کلی یې راته ووایه ، بیا راته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( تاسو څه اړتیا لرئ ؟ ))

ورته مو وویل :

(( ای دالله رسوله ! موږ راغلي یو او تاسره په اسلام بیعت کوو .. موږ تا رښتونی ګڼو ، او ګواهي ورکوو چې تا څه راوړي هغه حق او رښتیا دي ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( دالله شکر چې اسلام ته یې درته هدایت وکړ .. )) بیا یې وفرمایل :

(( ما درسره بیعت وکړ ))

اسماء بنت یزید رضی الله عنها فرمایې چې زه ورته نږدې شوم .. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( زه له ښځو سره په لاس روغبړ نه کوم ... زرو مېرمنو ته زما خبره ، داسې ده لکه یوې ښځې ته ))

او د اسماء رضی الله عنها په بله وینا کې راغلي چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس باندې څادر راتاو کړ او د څادر پاسه یې ښځو سره بیعت وکړ .

اسماء بنت یزید رضی الله عنها به تل د بیعت هغه کلمې بیانولې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ویلې وې . رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې هغه بیعت اخیستی وو چې ، الله جل جلاله ورته په دې آیت کې اشاره کړې :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ ۙ فَبَايِعْهُنَّ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد په خپل مسند کې د اسماء بنت یزید رضی الله عنها د بیعت په اړه نور تفصیلات هم یاد کړي چې په کومه طریقه ورسره رسول الله صلی الله علیه وسلم بیعت کړی وو. د اسماء په یو روایت کې راځي، هغه وایې :

(( زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بیعت لپاره راغلم، ما د سروزرو دوه بنګړي اغوستي وو، زه ورته ورنږدې شوم. د بنګړو په اواز پوه شو او بیا یې وویل :

(( اسماء بنګړي دې لیرې کړه ! ،نه ویرېږې چې الله به درته د اور بنګړي واچوي ... ؟ ))

اسماء رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر سره سم، بنګړي لیرې کړل .....

هغه بیعت چې اسماء بنت یزید رضی الله عنها او نورو مېرمنو ترسره کړ، د ښځو په ارزښت باندې د اعتراف کولو یوه بېلګه ده . او په دې دلالت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو د رول ډېر احترام کاوه . ... هغه تړونونه چې ښځو به له رسول الله صلی الله علیه وسلم کول، دهغوی پر واجباتو او مسؤولیتونو باندې دلالت کوي ، په دې مانا چې هغوی د اسلامي دعوت په پیل کې پاڅون وکړ او د اسلام لپاره یې کار او خدمت وکړ .

اسماء بنت یزید رضی الله عنها په فصاحت او ښکلو او واضح خبرو باندې مشهوره وه . دا چې نومورې په پوښتنه کولو کې ځانګړې زړورتیا او د نظر په ښکاره کولو کې یې غوره فصاحت درلود، همدا لامل وو چې په ( خطیبة النساء ) یانې د ښځو خطیبې په لقب باندې مشهوره شوه .

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو صحابه کرامو سره ناست وو، اسماء بنت یزید رضی الله عنها ورته راغله، یوه تاریخي خطبه یې ورته پیل کړه چې په ترڅ کې یې دښځو فضیلت او غوره والی بیان کړ ،داسې یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! زما پلار او مور دې درنه قربان شي، د ښځو په استازیتوب درته راغلې یم، الله جل جلاله ته ښځو او نارینه وو ته رالیږلی یې .. موږ پر تا او ستا په الـــــه باندې ایمان راوړی ... او موږ ښځې بندې یو، ستاسو په کورنو کې ناستې یو، ستاسو غوښتنې پوره کوو، او بچیان درته زیږوو . او تاسو نارینه راباندې د جماعت د لمانځه په اداء کولو، د ناروغانو په عیادت ، په جنازو کې په ګډون ، او په حجونو اداء کولو کې غوره والی لرئ.... او تر دې ټولو غوره ، دالله په لاره کې جهاد کول ... ... او کله چې له تاسو یو سړی حج ته لاړ شي او یا جهاد ته ووځي، موږ درته مالونه ساتو، جامې درته ګنډو او بچیان درته روزو ... آیا موږ به درسره اجر کې شریکانې نه یو ؟ !! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د اسماء بنت یزید رضی الله عنها خطبې ډېره اغیزه وکړه، او خپلو صحابه کرامو ته یې مخ واړولو او ویې ویل :

(( آیا تر اوسه مو د دین په مسایلو کې له کومې ښځې تر دې غوره خبرې اوریدلي دي ؟ ))

هغوی وویل :

(( ای دالله رسوله ! ګومان نه کوو چې د کومې ښځې به دې ټکو ته پام وو .. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم اسماء بنت یزید ته مخ کړ او ورته یې وویل :

(( ای ښځې پوه شه! او نورې ښځې هم خبرې کړه ..چې د خاوند اطاعت کول ، او له هغه سره ښه رویه کول ، او دهغه خوشالۍ لپاره کار کول..ددې ټولو ثواب سره برابریږي .. ))

اسماء رضی الله عنها په ډېرې خوشالۍ روانه شوه ، ژر یې ځان نورو ملګرو ته ورساوه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ټولې خبرې یې ورته ورسولې ... چې اسلام د ښځو کرامت په ساتلو ټینګار کوي ، او دهغوی په حقونو باندې اعتراف کوي .

په مدینه منوره کې د اسماء بنت یزید رضی الله عنها نوم وځلیده ، هغه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېرمنو کورونو ته ورتلله ... او هغې به دا خپل ویاړ باله چې دهغوی اړتیاوې پوره او خدمت یې وکړي . ددې ترڅنګ به یې په دې سپېڅلي کور کې د دین او دنیا زده کړې کولې او ځان به یې په دین باندې پوهولو . له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه به یې ګڼ دیني احکام زده کول ، او هغه به یې نورو ښځو ته د خپل غښتلي فصاحت او بیان له مخې ورزده کول .

د سیرت کتابونه د اسماء بنت یزید رضی الله عنها ستاینه کوي او لیکي چې نوموړې ددې قاعدې پر بنسټ چې ( په دین کې حیاء نشته ) د دین د احکامو د دزده کولو لپاره له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په پوښتنو کولو کې ډېر جرأت درلود . او دا جرأت ددې لامل شو چې ډېر دیني احکام ددې له خولې دې امت ته روښانه شول .

ابن عبدالبر د اسماء بنت یزید رضی الله عنها په اړه وایي :

(( اسماء د عقل او دین خاونده وه ))

اسماء بنت یزید رضی الله عنها یوه له هغو ښځو څخه وه چې د عائشې رضی الله عنها د واده د شپې لپاره یې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تیاره کړې وه . له هغې روایت دی ، وایې چې ، ما عائشه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ښکلې کړې وه . یانې د واده لپاره مې ورته تیاره کړې وه . په بل روایت کې راځي ، هغه فرمایي ، چې زه له هغو میرمنو څخه وم چې عائشه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جوړه کړې وه . بیا راته رسول الله صلی الله علیه وسلم شیدې راوړې .. او په بل روایت کې راځي ، چې ډوډۍ یې راوړه ... موږ ورته وویل چې ، زموږ اشتهاء نشته .. ... رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( درواغ او ولږه مه یوځای کوئ ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبره دا بنسټ کېښود چې ، انسان باید دومره کښنونه ونکړي چې د درواغو تر بریده ورسیږي ..

اسماء بنت یزید رضی الله عنها به په دې ویاړ کاوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دهغوی ملاقات ته د بنوالاشهل کورنۍ ته ورتللو ، هغه فرمایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ کورونو ته راتللو ویل به یې ، په دې کورونو کې کوم خیر نشته .. دا د انصارو تر ټولو غوره کور دی .. .. ))

ربښتیا هم الله جل جلاله په دې کورنۍ باندې د خیر انعام کړی وو . . . . اسماء بنت یزید رضی الله عنها دهغه پېښې روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ دهغوی ډوډۍ بر کتي کړې وه او د څلوېښتو کسانو لپاره یې بسنه وکړه . هغه فرمایې :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم مې ماښام مهال په خپل جومات کې ولیده ، ما له غوښې ډک هډوکی او ډوډۍ راوړه .. ومې ویل : زما او پلار دې درنه قربان شي ، موږ سره ډوډۍ وخوره ... رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو ته وویل : .. دالله په نامه یې وخورئ .... صحابه کرامو او رسول الله صلی الله علیه وسلم او د کورنۍ غړو ډوډۍ خوراک پیل کړل ... .. قسم په الله ، ځینې غوښن هډوکي خو لا داسې وو چې هماغسې ډک پاتې شول .... او د خلکو شمېر هم څلوېښتو کسانو ته رسیده .. ))

د خطابت او بیان له ډګره راتیریږو او د جنګ او جګړې ډګر ته اوځو ... اسماء رضی الله عنها په ډېرې میړانې په جهادي تګلاره کې خپل رغنده رول ثابت کړی دی ..

ابن سعد په خپلو طبقاتو کې روایت بیان کړی چې ، اسماء رضی الله عنها له مسلمانانو سره په ډېرو غزاګانو کې ګډون کړی ، وږو کسانو ته به یې اوبه ورکولې ، ټپونه به یې پټۍ کول ، او لښکرو ته به یې خواړه تیارول ...

نوموړې درسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته او د هجرت په یوولسم کال د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه دخلافت په دوران کې هم په جهاد او جګړو کې ډېر ګډون کړی وو . اسماء بنت یزید رضی الله عنها به له هغو مجاهدینو سره ملګرې وه چې د شام پر لور به تلل .. او د هجرت په دیارلسم کال د یرموک په غزا کې یې رغنده رول اداء کړی وو ، تاریخپوهان ددې رول له مخې دهغې په مېړانه او زړورتیا باندې اعتراف کوي .... اسماء رضی الله عنها د خپلې خېمې لرګی په لاس کې نیولی ، او هر رومي به چې د ښځو خیمو ته رانږدې کېده هغه به یې پرې واهه ، او نږدې به یې نه پرېښودل . اسماء بنت یزید رضی الله عنها په دې طریقه نهه رومي لښکرې وژلې وې .

اسماء بنت یزید رضی الله عنها ګڼ احادیث روایت کړي دي ، نوموړې په انصارو کې تر نورو هغو ډېر حدیثونه روایت کړي دي ... اسماء رضی الله عنها یو اتیا حدیثونه روایت کړي ، ابن ماجه ، نسائي ، ابوداؤد ، ترمذي ، شهر بن حوشب ، مجاهد بن جبیر ، او دهغې خوریین محمود بن عمرو الانصاري هم له اسماء رضی الله عنها څخه بیا حدیثونه روایت کړي دي . . .

اسماء رضی الله عنهاځینې حدیثونه د ښځو د سلوکو او هغو دودونو په اړه روایت کړي چې د جاهلیت په زمانه کې دهغوی ټولنې ته را داخل شوي وو . . . له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې په مړو باندې د ستاینې او ډېرې ژړا څخه د منعې حدیث روایت کړی دی .. فرمایې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( مه ژاړئ ، همدا راز جامې مه شلوئ ، او مه سورې وهئ ، او مه مو مخونه ځیرې کوئ ، او مه بې ځایه خبرې کوئ ، همدا راز له نارینه وو سره یوازې مه کښېنئ ، تل له ځان سره محرم ولرئ .. ))

اسماء رضی الله عنها فرمایې ،

(( ای دالله رسوله ! پلانکي قوم راسره زما د تره په مړینه کې په ژړا کې برخه واخیسته ، یانې غم یې راسره شریک کړ ... زه هم مجبوره یم چې ورسره وژاړم ... رسول الله صلی الله علیه وسلم راسره ونه منله ، ما څو ځله دا خبره تکرار کړه .. بیا یې راته اجازه راکړه ، بیا له هغې وروسته ما هیڅ ونه ژړل ..خو له ما پر ته نورو ټولو ښځو په مړي باندې بیا ډېر وژړل .))

کله چې د هجرت په لسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځوی ابراهیم وفات شو ، اسماء رضی الله عنها ورسره په څنګ کې ولاړه وه .. له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې په ژړا ، چیغو وهلو او ستاینې کولو کې روایتونه هم کړي دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث یې روایت کړی ، چې فرمایې :

(( سترګه اوښکه کوي ، زړه خپه کیږي ، او موږ هغه څه نه وایو چې رب مو پرې غوسه کیږي .. که دا رښتونې وعده نه وای ، او دټولو مسیر نه وای ، او وروستي پخوانیو پسې نه تللی ... نو موږ به ابراهیمه په تا باندې ډېر زیات دردیدلي وای .... موږ ابراهیمه په تا باندې ډېر خپه یو ))

له اسماء بنت یزید رضی الله عنها څخه روایت دی ، وایې چې کله سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شو ، مور یې چیغه کړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( آیا ستا اوښکه نه ودریږي او خپګان دې نه ختمیږي .. ؟ ستا ځوی یوازینی کس دی چې الله جل جلاله ورته وخندل .. او عرش ورته ولړځېده .. ))

اسماء بنت یزید رضی الله عنها نور حدیثونه هم روایت کړي دي ، دا حدیثونه د مسلمان د سلوکو او اخلاقو په اړه راڅرخي . په ځانګړې توګه ، ګڼ روایتونه یې په دې اړه دي چې یو ورور په غیابت کې د بل ورور څخه دفاع کوي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( څوک چې د خپل ورور څخه په غیابت کې له هغه دفاع وکړي ، په الله یې حق دی چې هغه به له اور څخه خوندي ساتي . ))

له نوموړې روایت دی ، وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( آیا غوره کس درته ونه ښایم ..؟ ))

صحابه کرامو وویل چې ولې نه دالله رسوله !

ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( هغه کسان چې تل یې ګورئ ، دالله ذکر به کوي . ... بیا یې وویل چې ، آیا بد انسان در ته ونه ښایم ... ) )

ویې ویل چې ولې نه دالله رسوله !

ویې ویل :

(( هغه کسان چې دیو بل خبرې د شر لپاره انتقالوي ، او د خلکو تر منځ نفرت خپروي ، اوخلکو کې عیب لټوي ))

اسماء بنت یزید رضی الله عنها د عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت په دوران کې د هجرت په دېرشم کال کې وفات شوه ، او په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه . نوموړې د نبوت د وخت د ښځو په کتاب کې د رڼا په حرفونو د ټینګ عزم ، او غښتلي ایمان او قوي عقیدې په برخه کې خپل نوم ژوندی پرېښود ... نوموړې یوه فصیحه مېرمن وه ، د غښتلي بیان خاونده وه ، په پوښتنه ، کار او خبرو کولو کې تر بل هرې ښځې مېړانه او زړوره وه . .

یوه ورځ اسماء رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د حیض او جنابت د غسل په اړه پوښتنه کړه ، کله چې عائشه رضی الله عنها ددې جرأت ولیده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

(( د انصارو مېرمنې ډېرې غوره مېرمنې دي ، حیاء دوی له دې نه منعه کوي چې په دین باندې ځان پوه کړي . )) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امامة بنت حمزه رضی الله عنها

دا د قریشو له قبیلې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کورنۍ یوه نجلۍ وه ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره د ځوی او رضاعي وررور لور وه .. . دا د شهیدانو د سردار لور وه ..... هغه مهال چې پلار یې په مدینه منوره کې شهید شو ، دې نجلۍ په مکه کې د مشرکینو په منځ کې ژوند کاوه .... دې نجلۍ په مکه مکرمه کې ډېر وخت تېر کړ او تل یې دا هیله وه چې مدینې منورې ته لاړه شي او د پلار د شهادت ځای او قبر وګوري ... دا کومه د حیرانتیا خبره نه ده ، ددې نجلۍ پلار ، حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه وو .. دا هغه انسان وو چې له شهادت وروسته ورباندې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه اویا ځله د جنازې لمونځ اداء کړ . دا نجلۍ ( امامة بنت حمزة ) نومیږي او په ( ام الفضل ) باندې شهرت لري . دا هغه مېرمن وه چې علي کرم الله وجهه یې په اړه ویلي وو چې :

(( دا په قریشو کې تر ټولو غوره نجلۍ ده . ))

دا نجلۍ ( امامة بنت عبدالمطلب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصي ) نومېده ... او ویل کیږي چې نوموړې ( امة الله ) نومېده او ځینې وایې چې نوموړې ( عمارة ) نومېده . خو په هر صورت ، دا نجلۍ د حمزة رضی الله عنه لور وه .. ځکه د حمزه رضی الله عنه له دې پرته بله لور نه وه . د ( امامة ) رضی الله عنها مور ( سلمی بنت عمیس رضی الله عنها ) نومېده ، دا هغه مېرمن وه چې پخوا یې له خپل خور او د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه له مېرمن( اسماء بنت عمیس رضی الله عنها ) سره یوځای ایمان راوړی وو . .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته مدینې منورې ته د هجرت امر وکړ ، حمزة رضی الله عنه له سلمی رضی الله عنها سره واده وکړ . .. حمزه رضی الله عنه مدینې منورې ته هجرت وکړ ، او خپله مېرمن سلمی او امامة یې په مکه مکرمه کې پرېښودل . دا کار ډېرو نورو مهاجرینو هم کړی وو ، هغوی خپل زامن یا خپلې مېرمنې په مکه مکرمه کې له کورونو او مالونو سره پرېښې وو . امامة رضی الله عنها له خپلې مور سلمی بنت عمیس رضی الله عنها سره په مکه کې پاتې شوه . خو زړه یې په مدینه منوره کې له مسلمانانو سره وو ، په دې به ډېره خوشالیده چې مسلمانان په مدینه منوره کې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای دی او بریاوې لاسته راوړي . د سترې بریا زیری هغه وو چې کله مسلمانانو د هجرت په دویم کال د بدر په غزا کې قریشو ته سخته ماتې ورکړه .... خو د هجرت په دریيم کال د احد په غزا کې د حمزه رضی الله عنه شهادت د امامة او سلمی رضی الله عنهما لپاره لویه غمیزه او ستر ټکان وو . د حمزه رضی الله عنه شهادت دهغوی په زړونو کې داسې ټپ پرېښود چې تل به یې درد احساساوه . .....د انتظار هغه شېبې چې لور او مور به ددې لپاره ویستلې چې له خپل پلار او خاوند سره به وګوري ... په یتیمۍ او کونډتوب باندې بدلې شوې .... لور یې یتیمه شوه او مور یې کونډه شوه ، او دا تمه یې هم قطعه شوه چې په مدینه منوره کې به ټول په ژوند سره یوځای شي .

امامة رضی الله عنها په مکه مکرمه کې له خپلې مور سلمی بنت عمیس رضی الله عنها سره په مکه کې اوسیده ، کله یې چې د مور د عدت موده پای ته ورسیده ، له ( شداد بن الهادی اللیثي ) سره یې واده وکړ . له هغه یې د عبدالله او عبدالرحمن په نومونو زامن پیدا شول .... هغه هم په مکه کې پرېښوده او مدینې منورې ته یې هجرت وکړ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای شو ، هلته یې د خندق او نورو غزاګانو کې برخه واخیسته .... وخت لا تېر نه وو چې (

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلمی بنت عمیس رضی الله عنها ) هم وفات شوه ، په کور کې يې يوازې درې بچيان پرېښودل چې مشره يې ( امامة رضی الله عنها) وه ، هغه نجلۍ چې څو کلونه وړاندې يې پلار له لاسه ورکړی وو خو اوس يې خپله مور له لاسه ورکړه . . له دې وروسته يې د غربت احساس زيات او هجرت ته يې ليوالتيا ډېره زياته شوه . .

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې مکرمې ته د عمرة القضاء اداء کولو لپاره لاړ ، امامة رضی الله عنها وغوښتل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خپلو ترونو زامنو او لوڼو سره وګوري ..... د مکې په کوڅو کې ګرځېده ، هر يو ته يې په نوم نوم غږ کاوه ...... ای د کاکا ځويه !! .. علي بن ابی طالب کرم الله وجهه يې غږ واورېده ...هغه يې له ځان سره خپلې مېرمنې فاطمې رضی الله عنها ته بوتله . او ورته يې وويل :

(( دادی د پلار د تره لور مې درته راوسته ))

علي رضی الله عنه په مکه مکرمه کې دهغې په يوازې اوسيدو باندې ډېر غوسه وو .. په دې اړه يې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره هم خبرې کړې وې ، هغه ته يې ويلي وو :

(( ولې خپله د تره لور يتيمه د مشرکينو په منځ کې يوازې پرېږدو ؟ ))

بيا چې کله دوی مدينې منورې ته راستنېدل ، له ځان سره يې راوستله .

امامة رضی الله عنها مدينې منورې ته د خپل پلار له شهادت څخه څلور کاله وروسته رانوته ... کله چې نوموړې مدينې منورې ته راورسيده ، لومړی کار يې دا وکړ چې د پلار د قبر پوښتنه يې وکړه ... سمدلاسه يې زيارت ته ورغله ...

کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم شاعر ( حسان بن ثابت رضی الله عنه ) په دې حالت خبر شو ، دا شعر يې ووايه :

| | |
|---|---|
| تسأ ل عن قرم هجان سميدع | لدی البأس مغوار الصباح جسور |
| فقلت لها : ان الشهادة راحة | ورضوان رب يا امام غفور |
| دعاه اله الخلق ذوالعرش دعوة | الی جنة فيها رضا وسرور |

امامة بنت حمزة رضی الله عنها په مدينه منوره کې پاتې شوه .. دا هغه ټاټوبی دی چې د پلار سپېڅلی بدن يې ورکې خاورو ته سپارل شوی دی ....

دا چې د امامة رضی الله عنها پلار حمزة رضی الله عنه په مدينه منوره کې د خلکو په زړونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې د خاص ځای خاوند وو ، درې صحابه کرامو دا سيالي کوله چې د امامة بنت حمزه رضی الله عنها د روزنې او ساتنې وياړ ترلاسه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن سعد له ابن عباس څخه روايت راخلي ، زيد بن حارثه رضی الله عنه هغه ياده کړه ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم چې کله د مهاجرينو او انصارو ترمنځ د وروروليږ تړونونه کول ، د زيد او حمزه رضی الله عنه ترمنځ يې د وروروليږ تړون کړی وو .... زيد رضی الله عنه وويل :

(( لومړی زما حق دی ، زما وريره ده !! ))

کله چې جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه دا خبره واورېده ، ويې ويل :

(( ترور خو مور وي ، دا چې اسماء بنت عميس ددې ترور او زما مېرمن ده ، نو لومړی زما حق دی چې ويې روزم ))

علي کرم الله وجهه وويل :

(( تاسو ولې زما د تره لور په اړه لانجې او شخړې کوئ ؟ همدا ما د مشرکينو له مينځه راوويستله .. زما ورسره نسب شريک دی ، له تاسو پر ما ډېر حق لري .. ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :

(( زه به مو پرېکړه وکړم ، زيده ته ، دالله او رسول مولی او خادم يې ... او علي ته ، زما ورور او ملگری يې ... او جعفره ته ، ماته په خلقت او اخلاقو کې ورته يې ... جعفره لومړی حق ستا دی ، ترور يې له تاسره ده .. .. او نجلۍ په خاله او عمه باندې نه نکاح کيږي ..... ))

په دې توگه امامه بنت حمزه رضی الله عنه جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه ته ورکړل شوه ..

د حمزه رضی الله عنه لور ام الفضل رضی الله عنها په مدينه منوره کې له خپلې ترور او د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه له مېرمنې اسماء بنت عميس رضی الله عنها سره واوسېده . له دوی سره يې د مينې ، محبت او نرمۍ په فضا کې ژوند تېر کړ ..

يوه ورځ علي کرم الله وجهه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل :

(( آيا د تره لور حمزه رضی الله عنه سره واده نه کوې ... دا په قريشو کې ترټولو غوره نجلۍ ده .. ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل :

(( ای علي ... خبر نه يې چې حمزه زما رضاعي ورور دی ... او الله جل جلاله چې په نسبي تړون څوک حرام کړي ، په رضاعت هم حراميږي .. ))

د حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه مور ( هالة بنت اهيب ) رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شيدې ورکړې وې .. نو په دې توگه رسول الله صلی الله عليه وسلم د حمزه رضی الله عنه رضاعي ورور وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله وربړه هېره نه کړه ... بلکې هغې ته يې د غوره خاوند په پيدا کيدو کې فکر وکړ .. هماغه وو چې د خپلې مېرمنې ام سلمه رضی الله عنها ځوی ( سلمه ) رضی الله عنه يې ورته وټاکه .. ..

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم امامة بنت حمزه رضی الله عنها ( سلمه بن ام سلمه ) رضی الله عنه ته واده کړه ، د سيرت په کتابونو کې د هغې د پاتې ژوند په اړه ګڼ او مختلف روايتونه راغلي دي ..

ځينې وايې :

(( سلمه رضی الله عنه د عبدالملک بن مروان تر خلافته ژوندی وو ، او امامة رضی الله عنها مخکې ددې چې سلمه رضی الله عنه ورسره يوځای شي ، وفات شوه . ))

او ځينې نوربيا وايې :

(( سلمه رضی الله عنه مخکې ددې چې امامه رضی الله عنها سره يوځای شي ، وفات شو . ))

خو په هر صورت ، د امامة رضی الله عنها د ژوند تګلاره ، هجرت او غوره اسلام د يو غوره انسان په نسل کې د پاکې مېرمنې سپېڅلي ياد پاتې شو ...دا هغه سپېڅلی ياد دی چې په اسلامي تلپاتې تاريخ کې يې پرېښود... له حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه سره يې ياد له غښتلی کيږي ....

همدا راز د امامة رضی الله عنها ژوند په ځينو اسلامي احکامو پورې هم تړاو پيدا کوي .. لکه رضاعي حرمت.. او دا چې ښځه په عمه او خاله باندې نه نکاح کيږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاطمة بنت الحارث رضی الله عنها

دا مېرمن د بنو مخزوم له قبيلې ځخه وه ، ډېره موده په شرک پاتې شوه ، چې بيا الله جل جلاله په رسول الله صلی الله عليه وسلم او مؤمنانو باندې د مکې د فتحې انعام وکړ ، او دا مېرمن هم مسلمانه شوه . په دې ستره ورځ چې کله دا ښځه مسلمانېده ، يوه مشهوره کيسه لري .. . کله به د پلار په غم کې وه ، او کله به د خاوند په غم ډوبه وه ... ډېره هڅه يې وکړه چې خپل خاوند اسلام ته را داخل کړي .. ... هماغه وو چې خاوند يې بيا د يرموک په جګړه کې شهيد شو ، بيا يې له هغه وروسته بل واده وکړ هغه هم شهيد شو ... وروسته يې درېم خاوند سره واده وکړ ، هغه هم شهيد شو . نو په دې سره ( **فاطمة بنت الحارث رضی الله عنها** ) د درې شهيدانو مېرمن وه ..

دا مېرمن ( **فاطمة بنت الحارث بن هشام بن المغيره** ) نومېده او د بنو مخزوم له قبيلې ځخه وه . مور يې ( فاطمة بنت الوليد ) د الله د تورې خالد بن الوليد رضی الله عنه خور وه .. .. ام حکيم رضی الله عنها په جاهليت کې له خپل تره ځوی ( عکرمة بن عمرو بن هشام بن المغيره ) سره واه کړی وو ... يا په بله وينا ، د ابوجهل دځوی مېرمن وه . کله چې د اسلام رڼا وځلېده ، او جبريل عليه السلام په رسول الله صلی الله عليه وسلم وحيه رانازله کړه ... د ام حکيم رضی الله عنها خوسر ابوجهل د الله ددين او رسول الله صلی الله عليه وسلم له سترو دښمنانو ځخه وو ، نوموړی د هغو کسانو په سر کې يادېده چې مسلمانان به يې له سختو شکنجو سره مخامخ کول .. ... کله چې د هجرت په دويم کال ابوجهل د بدر په غزا کې ووژل شو ، او دهغه ځوی عکرمه د خپل پلار ابوجهل ناوړه پايله وليده ... له رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو سره يې کينه او نفرت لا زيات شو ..... نوموړی له خپلې مېرمنې ام حکيم او له خپل تره حارث بن هشام سره په شرک پاتې شو ، او له رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو سره يې دښمنۍ ته ادامه ورکړه .. هماغه وو چې هجرت په اتم کال د سترې فتحې ورځ يانې د مکې د فتحې ورځ راورسيده .. .. کله چې مکه فتحه شوه ، ام حکيم دې پايلې ته ورسېده چې د کفر دولت له ماتې سره مخ شو .. او د شرک او بت پرستۍ زمانه پای ته ورسيده .. کله چې نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نرمي ، رحمت او شفقت وليده ، سمدلاسه ام حکيم پريکړه وکړه چې داسلام په سپيځلي دين کې داخله شي ..... دا هغه فتحه وه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورکې قريشو ته امان ورکړ ، نه يې ځوک وواژه ، نه يې غچ واخيسته او نه يې وينه توی کړه ..... بلکې د مکې خلکو ته يې اعلان وکړ چې :

(( ځوک چې د ابوسفيان کور ته ننوځي ، امن کې دی ، او ځوک چې ځان پسې دروازه بنده کړي ، امن کې دی .. او ځوک چې جومات ته داخل شي ، هغه امن کې دی . ))

مخکې ددې چې ام حکيم خپل اسلام اعلان کړي ، لومړی يې خپل خاوند عکرمة بن ابی جهل ته وړانديز وکړ ترڅو يې غوښتنه ومني او په اسلام کې يوځای داخل شي ... خو هغه انکار وکړ ، او د مسلمانانو له لښکرو ويرېده او جنوب ته د يمن پر لور وتښتېده ..... او د ام حکيم پلار ، حارث بن هشام ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره لور له ( ام هانئ ) رضی الله عنها سره پناه وغوښته ... کله چې علي بن ابی طالب کرم الله وجهه خبر شو ، غوښتل يې چې ويې وژني .... ځکه نوموړی له هغو کسانو ځخه وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې وينه روا کړې وه .. خو ( ام هانئ رضی الله عنها ) له رسول الله صلی الله عليه وسلم ځخه اجازه وغوښته او هغه ته يې پناه ورکړه .. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ام هانئ، تا چې چاته پناه ورکړې ، موږ هم پناه ورکوو .. ))

کله چې ام حکیم ( ام هانئ رضی الله عنها ) ولیده چې څنګه یې دهغې پلار ته پناه ورکړې ده ... او څنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام هانئ رضی الله عنها دې وړاندیز ته غاړه کېښوده او دهغې پلار یې له وژلو وژغوره ..... د خپل خاوند عکرمه په اړه یې فکر وکړ ، او دا تمه ورسره پیدا شوه چې ښایې هغه هم وژغورل شي ...... له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې د خپل خاوند لپاره امان وغوښت ، هغه ورته امان ورکړ ..... عکرمه چې د یمن پر لور تښتېدلی وو ، ام حکیم ورپسې سمدلاسه د جنوب پر لور روانه شوه ترڅو یې راپیدا کړي ... د تهامه په ساحل کې یې پیدا کړه او غوښتل یې چې له سمندر تېر شي ..... په ډېرو ژورو کلمو یې ورته چیغې کړې ...

(( ای د تره ځویه !! له ډېر خپلوۍ پال ، نېک او غوره انسان لخوا درته راغلې یم.. ځان مه هلاکوه !! .. ما درته ترې امان غوښتی ، او هغه درته امان درکړی ... ))

عکرمه وویل :

(( دا کار تا وکړ ؟ ))

هغې وویل چې ، هو ... زه ورسره وغږېدم نو ځکه یې درته امان درکړ ...

عکرمه له خپلې مېرمنې ام حکیم سره مکې ته راننوت ، او سمدلاسه د مسجدالحرام پر لور روان شو ... هلته له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شو ... کله یې چې ولیده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې ډېر خوشال شو ...

مصعب الزبیري دا ملاقات په دې ټکو بیانوي :

(( کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده له خوشالۍ ورته ودرېده ، غاړه یې ورته ورکړه او ویې ویل : ( مهاجر دې په خیر راشي ) رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب لیدلی وو چې هغه جنت ته ننوتی وو ، هلته یې د ډېرو ځانګو خاښ لیدلی وو .. ځواب یې ورکړ او ویې ویل : دا د چا دی ؟ ورته وویل شو چې د ابوجهل دی . دا ورته سخته ښکاره شوه او ویې ویل : ابوجهل چیرته او جنت چیرته ؟ ... قسم په الله هیڅکله به ورته داخل نه شي .. کله چې ورته عکرمه مسلمان راغی ،ډېر ورته خوشال شو او هغه خاښ یې د عکرمه لپاره تعبیر کړ ... ))

عکرمه رضی الله عنه له دې وروسته مدینې منورې ته راغی ، او ا م حکیم هم له خپل خاوند سره ، کله په مکه او کله په مدینه منوره کې واوسیده ، هغوی غوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نږدې وي ... کله چې ابوبکر رضی الله عنه خلیفه شو ، عکرمة بن ابی جهل د ردت په جګړو کې له سترو ګډونوالو څخه وو ، په عربي جزیره کې یې د مرتدینو خلاف په ډېره میړانه او زړورتیا جنګ وکړ .. بیا له فاتحینو سره د شام پر لور روان شو .. نوموړی هلته یو له هغو شپږو قوماندانانو څخه وو چې شام ته د لښکر په مشرۍ وتلي وو . ام حکیم رضی الله عنها هم له خپل خاوند سره په دې جګړو کې ملګرې وه .. عکرمة بن ابی جهل په دې جګړو کې لویه وړتیا ثابته کړه ، ټول هغه ګناهونه او دښمنۍ یې چې له اسلام سره یې کړې وې ، په دې میړانې او غښتلي جهاد سره یې دهغې جبران راوړ .... نوموړی له سختې جګړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

میړانې وروسته د یرموک په جګړه کې شهید شو .. دا هغه لښکرې وې چې د الله دتورې خالد بن الولید رضی الله عنه د قوماندې په برکت مسلمانانو د هجرت په دولسم کال ستره بریا لاسته راوړه او روم یې ورکې له سختې ماتې سره مخامخ کړ .

د ام حکیم رضی الله عنها د عدت موده پای ته ورسیده ، بیا پرې خالد بن سعید رضی الله عنه د ځان لپاره مرکه وکړه ، کله چې د ( مرج الصفر ) پېښه رامنځته شوه ، ویې غوښتل چې ورسره یوځای شي .. ویې ویل :

(( تر هغې به دې صبر کړی وای چې الله جل جلاله دا لښکرې ماتې کړي ... ))

ویې ویل :

(( ماته داسې الهام کیږي چې زه وژل کیږم .. ))

ویې ویل :

(( نو بیا در ته اجازه ده ))

له قنطرې سره خالد بن سعید رضی الله عنه له خپلې میرمنې ام حکیم سره یوځای شو ، بیا وروسته دا سیمه د ( قنطرة ام حکیم ) په نوم یاده شوه ... کله چې سهار شو ، خالد بن سعید له روم سره سخته جګړه وکړه چې په پایله کې شهید شو . له ده وروسته ام حکیم رضی الله عنها ملا وتړله ، او هوډ یې وکړ چې دالله په لاره کې به جهاد کوي .. د جګړې ډګر ته ننوته ، او دهغه خیمې په لرګي چې له خپل خاوند خالد بن سعید رضی الله عنه سره ورکې یوځای شوې وه ، د روم اووه لښکرې یې پرې ووژلې ..

ام حکیم رضی الله عنها د خپل خاوند له شهادت وروسته مدینې منورې ته راستنه شوه ، امیر المؤمنین عمربن الخطاب رضی الله عنه پرې مرکه وکړه او دځان لپاره یې وغوښته .... واده یې ورسره وکړ ، او له هغه یې د فاطمې په نوم یوه لور پیدا شوه .. ام حکیم رضی الله عنها له عمر رضی الله عنه سره تر واده وروسته ډېره ژوندۍ پاتې نه شوه ، او نه یې د ابولؤلؤة المجوسي له لاسه د خپل خاوند عمر بن الخطاب رضی الله عنها شهادت ولیده .. خو د عمر رضی الله عنه په شهادت سره ، نوموړې دا ویاړ ترلاسه کړ چې ددرې داسې خاوندانو مېرمن وه چې ټول شهیدان شول ..

د نوموړې دا رول هیڅکله د پټېدو وړ نه دی چې د خپل لومړي خاوند عکرمة بن ابی جهل تګلاره یې بدله کړه ... هغه ته یې مکې مکرمې ته د راتګ او په اسلام کې دداخلیدو زمینه برابره کړه .... نوموړې هغه غوره مېرمن وه چې په خپل شجاعت ، میړانې او نېک تصرف باندې یې ددنیا او آخرت خیر پېژانده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خولة بنت حكيم رضی الله عنها

دا د قریشو له قبیلې او له هغو مېرمنو څخه ده چې د اسلام په پیل کې یې اسلام راوړی وو ... ډېر عمر یې له خاوند سره په مکه مکرمه کې تېر کړ ، او ډېر ځل یې هوډ وکړ چې د خدیجې رضی الله عنها له وفات وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د بلې مېرمنې مرکه وکړي . . . دا هغه ښځه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې ( سودة بنت زمعة رضی الله عنها ) او ( عائشة بنت ابی بکر رضی الله عنها ) غوښتې وه . او کله یې چې خپل خاوند وفات شو ، اراده یې وکړه چې خپل ځان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وبخښي او واده ورسره وکړي او د قیامت په ورځ یې د ښځو په کتار کې راپاځي ... دې ښځې تل د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کړی ، دا هغه ښځه وه چې د مکې د فتحې په ورځ او د حنین په غزا کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای وه او دهغه خدمت یې کاوه . دا مېرمن ( خولة بنت حکیم رضی الله عنها ) نومیږي .. هغه مؤمنه مېرمن وه چې خپل ځان یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وربخښلی وو .

دا مېرمن ( خولة بنت حکیم بن امیة بن الحارث بن الاقوس بن مرة ) نومېده .. نوموړې د ( خویلة ) په نوم هم یادې ده . د خولة رضی الله عنها کنیه ( ام شریک ) وه . . . . خولة رضی الله عنها له ستر صحابي د بنوجمح د قریشو له قبیلې څخه له ( عثمان بن مظعون رضی الله عنه ) سره واده وکړ . . . له هغه یې دوه زامن پیدا شول چې د عبدالرحمن او سائب په نومونو یادېدل . لکه څنګه چې دهغه پلار په دې کنیه باندې مشهور وو ، دا هم پرې مشهوره وه .

مخکې ددې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک په دارالارقم کې اسلام ته راوبولي ، خولة رضی الله عنها له خپل خاوند عثمان بن مظعون سره یوځای مسلمانه شوه .... دوی د هغو کسانو په کتار کې راځي چې د اسلام په لومړیو کې یې اسلام منلی وو . کله چې په مکه کې پر مسلمانانو د قریشو عذابونه او شکنجې زیاتې شوې ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته حبشې ته دهجرت اجازه ورکړه ، عثمان رضی الله عنه له خپل ځوی ( سائب ) سره یوځای حبشې ته هجرت وکړ . حبشې ته د خولة رضی الله عنها د هجرت په اړه مختلف نظرونه وجود لري ... ځینې په دې اند دي چې عثمان بن مظعون رضی الله عنه خپله مېرمن خولة رضی الله عنها په مکه مکرمه کې پرېښوده ، او یوازې له خپل ځوی سره یې هجرت وکړ ... او ځینې بیا په دې اند دي چې خولة رضی الله عنها هم له خپل خاوند او ځوی سره هجرت کړی وو ... ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې قاعده ایښې وه چې واده شوي کسان دې خپلې مېرمنې هم له ځانونو سره ملګرې کړي .... د علماوو دا دویم قول واقعیت ته نږدې دی ...

کله چې عمر بن الخطاب او حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنهما مسلمانان شول ، په حبشه کې مهاجرو ګومان وکړ چې په ټوله مکه کې اسلام خپور شوی دی ... نو ځکه یې ډېری بیر ته راستانه شول ... چې له دوی له ډلې د خولة بنت حکیم خاوند عثمان بن مظعون او دهغې ځوی سائب هم وو . دوی چې کله راغلل ، د ولید بن المغیره په ګاونډ کې یې واړول .

او د نبوي بعثت په لسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره ابوطالب له وفات لږه موده وروسته ، خدیجة بنت خویلد رضی الله عنها هم وفات شوه .... ددوی دواړو د وفات کال په ( عام الحزن ) یانې د خپګان په کال ونومول شو ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډېر وخت په خپل کور کې کښېناسته او ډېر کم وخت به دباندې وتلو .. خولة بنت حکیم رضی الله عنها په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د خپګان او مصیبت په نښو نښانو پوه شوه .. هماغه وو چې د واده اړوند خبرې یې ورسره وکړې او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! ګومان کوم چې د خدیجې په مړینه ډېر زیات خپه شوی یې ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : چې ، هو ..

(( هغه مې د ماشومانو مور او د کور روزونکې وه .. ))

خولة بنت حکیم رضی الله عنها ورته وویل :

(( بله ښځه درته ونه غواړم ؟ ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( ولې نه ... تاسو ښځې په دې ښې پوهیږئ .. ))

خولة بنت حکیم رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ( سودة بنت زمعة ) رضی الله عنها یاده کړه ... هغه یې حبشې ته د هجرت پر مهال د اوږدې لارې ملګرې وه ... کله چې هغوی مکې ته راستنېدل ، خاوند یې په لاره کې وفات شوی وو .. رسول الله صلی الله علیه وسلم د سودة رضی الله عنها حالت ته وکتل او دهغې په زړښت باندې د رحمت او مهربانۍ له مخې یې ورسره د واده کولو موافقه وکړه ... .. خولة رضی الله عنها د بنوعامر په دره کې د سودة بنت زمعه رضی الله عنها خوا ته ورغله او هغه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وغوښته ... همدا راز نوموړې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عائشه رضی الله عنها هم غوښتې وه . عائشه رضی الله عنها دامهال ډېره کوچنۍ وه .. . رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه د پلار په کور کې پرېښوده ، بیا یې چې کله مدینې منورې ته هجرت وکړ ، واده یې ورسره وکړ . دا په داسې حال کې ده چې ( سودة بنت زمعة رضی الله عنها ) د نبوت کور ته راننوتله ، د کور چارې به یې سمولې ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدیجې رضی الله عنها ددوه لوڼو ( ام کلثوم او فاطمې رضی الله عنهما ) خدمت او روزنه به یې کوله ...

نو په دې ترتیب ویل شو چې ، خولة رضی الله عنها ددې پاک اوسپیڅلي واده وساطت کړی وو ، نوموړې درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره مرکه کوونکې وه ... او درسول الله صلی الله علیه وسلم خپګان یې درک کړ ، په خپله ځیر کتیا یې هڅه وکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپګان له نړۍ راوباسي ..

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو پلویانو ته مدینې منورې ته د هجرت کولو اجازه ورکړه ، خولة بنت حکیم رضی الله عنها ، دهغې خاوند او زامن د لومړنیو مهاجرینو څخه وو .. د عثما بن مظعون ټولې کورنۍ ، ښځو او نارینه وو ، ټولو مدینې منورې ته هجرت وکړ ، او په مکه کې یې کورونه بند او هیڅوک ورکې پاتې نه شول .... رسول الله صلی الله علیه وسلم هم پر دوی احسان وکړ ، او دوی سره یې د ډېرې مینې له مخې په مدینه منوره کې ځانګړی ځای او جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونه ور کړل .. .. خولة رضی الله عنها له خپل خاوند عثمان رضی الله عنه سره په هغه کور کې واوسیده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته جلا کړی وو .... خو عثمان رضی الله عنه دې ته ډېر مایل وو چې له ښځو لیرې اوسي ، او کله یې چې نوي دین زړه د ایمان له خوږوالي ډک کړ ، دا به یې غوره ګڼله چې دنیا ته هم ډېر میلان ونکړي . نوموړی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! غواړم ځان خصي کړم ، او په ځمکه کې وګرځم ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( آیا زه تاته یوه غوره قدوه او لارښود نه یم ؟؟ ... زه ښځو ته نږدې کېږم ، غوښه خورم ، کله روژه نیسم او کله یې نه نیسم .... .. روژه نیول ښځو ته دانسان میلان کموي ... ))

عثمان رضی الله عنه وویل :

(( ای دالله رسوله ! ! زه خوښه نه ګڼم چې ښځه مې زما عورت وګوري .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( ولې ؟ ))

هغه وویل :

(( زه له دې شرمېږم او نه مې خوښیږي .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( الله جل جلاله در ته ښځه جامه ګرځولې ، او ته یې دهغې لپاره جامه ګرځولی یې ..زما اهل هم زما عورتویني ، او زه یې ګورم .. ))

عثمان بن مظعون ورته وویل :

(( آیا ته هم دا کار کوې دالله رسوله ؟ ))

هغه وویل چې ، ( هو . )

بیا یې وویل :

(( نو ستا له حیاء وروسته نوره حیاء نشته ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو عثمان رضی الله عنه به تل روژې نیولې او د شپې به یې لمونځونه کول او له دنیا سره به یې مینه نه لرله .. هماغه وو چې میرمنې خولة بنت حکیم حالت یې هم خراب شو ، هغې هم دنیا سره مینه پرېښوده . نه به یې ښکلا او نه سینګار ته پام کاوه . یوه ورځ نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مېرمنو ننوتله ، هغوی په ډېر بد حالت کې ولیده ... ورته یې وویل :

څه درباندې شوي ؟ ستا له خاونده خو قریشو کې بل شتمن نه وو ؟

خولة رضی الله عنها ورته وویل :

موږ ته یې هیڅ ګټه نه رارسیږي .. د شپې لمونځونه کوي ، او د ورځې روژې نیسي.. ..

دا مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم راننوت او ویې ویل :

د د خویلة بدن ولې داسې بد شوی دی ؟ !!!

مېرمنو یې ورته د خولې رضی الله عنها کیسه بیان کړه ... بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د خولة له خاوند سره مخامخ شو او ورته یې وویل :

(( ای عثمان بن مظعون ..!... ایا زه ستا لارښود نه یم ؟ ))

هغه ورته وویل : زما پلار او مور دې درنه قربان شي ولې نه یې ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

د ورځې روژه یې ،او د شپې لمونځونه کوې ... ..

ویې ویل : زه همداسې کوم ..

ځواب یې ورکړ : داسې مه کوه !! ... سترګې پر تا حق لري ، او بدن دې درباندې حق لري .. او اهل دې درباندې حق لري .. لمونځ هم کوه ، خوب هم کوه ... روژه هم نیسه او کله یې مه نیسه !!

راوي وایې : خولة بنت حکیم له دې وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمنو ته راغله ، او داسې ښکارېده لکه ناوې ... ورته یې وویل :

(( دا څنګه ؟ ))

هغې وویل :

(( موږ هم اوس د خلکو په څېر شو ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو عثمان بن مظعون رضی الله عنه له دې وروسته ډېر ژوندی پاتې نه شو ، د هجرت دېرش میاشتې وروسته د شعبان په میاشت کې وفات شو .... نوموړی لومړی مهاجر وو چې په مدینه منوره کې ومړ .. . رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې رانئوت او هغه د وفات پر حالت یې ښکل کړ .. عائشه رضی الله عنها فرمایې :**

**(( ما د پیغمبر علیه السلام اوښکې ولیدې چې د عثمان پر مخ ورتوی شوې ))**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې پر څنډو وګرځېده ، کله چې د بقیع خوا ته راورسیده ویې ویل :**

**(( ما د هدیرې لپاره دا ځای ټاکلی وو چې د ( خبخبة ) یا ( بقیع الغرقد ) په نوم یادیږي ))**

**عثمان بن مظعون رضی الله عنه لومړی کس وو چې له مهاجرینو په بقیع هدیره کې خاورو ته وسپارل شو .. رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې د جنازې لمونځ اداء کړ او د قبر په څنډه ورته ودرېده او بیا یې د سر سره تیږه ورته کېښوده او ویې ویل :**

**(( دا به یې د قبر نښه وي چې نور مړي به ورته خاورو ته سپارل کیږي . ))**

**خولة بنت حکیم رضی الله عنها د عثمان بن مظعون رضی الله عنه له مړینې وروسته په مدینه منوره کې اوسیده ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د امهات المؤمنین خدمت به یې کاوه .... یوه ورځ یې دا فکر وکړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د واده وړاندیز وکړي ، په دنیا کې یې مېرمن شي او د قیامت په ورځ دهغه د مېرمنو په کتار کې راپاڅي .... رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې ځان وبخښلو ، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته غاړه کېنښوده ، او دا ستره رتبه یې تر لاسه نکړه . عائشه رضی الله عنها فرمایې :**

**(( هغه مېرمنو به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ځانونه وربخښل ما ته به غیرت ودرېده او ویل به مې ، آیا ښځه نه شرمیږي چې سړي ته ځان وربخښي ؟ ... بیا الله جل جلاله دا آیت رانازل کړ :**

وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾

**که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم خولة رضی الله عنها سره د واده موافقه ونکړه ، خو بیا هم تل دهغه په خدمت بوخته وه ... هر وخت به ورسره وه . نوموړې ورسره د سترې فتحې ، یا د مکې د فتحې په ورځ او د حنین د غزا په ورځ هم وه . نوموړې هغه مېرمن وه چې په مسلمانانو کې د ګډوډۍ او وېرې د رامنځته کېدو پر مهال ثابته ودرېده او دبریا غږ یې وکړ ... خولة رضی الله عنها مسلمانانو سره دالله په بریا ډېره خوشالي وکړه .... کله چې رسول الله صلی الله علیه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم د ( طائف ) کلابندۍ ته مخه کړه چې بیا یې اوولس ورځې ادامه وکړه ... خولة رضی الله عنها هم د مسلمانانو له لښکرو سره یوځای لاړه او د کلابندۍ په ورځو کې یې پیره وکړه .

ابن هشام په خپل کتاب ( السیرة النبویة ) کې لیکي : خولة رضی الله عنها وویل :

(( ای دالله رسوله ! که الله درباندې طائف فتحه کړ ، د ( بادیة بنت غیلان بن سلمه ) یا د ( فارعة بنت عقیل ) ګاڼه راته راکړه .... دوی دواړه د ثقیف د ډېرې ښکلې ښځې وې .... رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(که ثقیف ته راته د ورتګ اجازه رانکړل شوه )...

خولة رضی الله عنها ووتله ، او دا خبره یې عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته یاده کړه . هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! هغه د خولة خبره څنګه ده ؟ ګومان کوي چې تا ویلي دي ..؟ ))

ویې ویل : ما ویلي دي ..

بیا یې وویل :

نو بیا د تګ اعلان ونکړم ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : هو . . .

له دې وروسته عمر رضی الله عنه د حرکت اعلان وکړ .

د خولة رضی الله عنها په اړه راغلي چې ، یوه ورځ تړي رسول الله صلی الله علیه وسلم د پور د اداء کولو غوښتنه وکړه ، احمد په خپل مسند کې له عائشې رضی الله عنها څخه روایت کړی ، وایې :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم له یو اعرابي څخه د عجوه خرماوې اخیستې وې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کور ته راوړې .. خرما یې وکتې خو پیدا یې نکړې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم اعرابي ته ورغی او ویې ویل : ای دالله بنده ! موږ درنه د عجوه خرما اخیستې وې ، په بدل کې مې درته خرما وکتلې خو پیدا مو نکړې .. اعرابي وویل :... داکوم خیانت دی !! خلکو اعرابي وټراټه او ورته یې وویل :

الله دې هلاک کړه ! آیا د الله رسول خیانت کوي ؟ !!!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

( پرېږدئ .. د حق خاوند خبره کولی شي ..... دا خبره یې دوه درې ځله تکرار کړه .. کله یې چې ولیده چې اعرابي په خبره پوه نه شو ... یو سړي ته یې وویل : خولة بنت حکیم بن امیة ته لاړ شه او ورته ووایه چې ، رسول الله صلی الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم درته وایې که تاسره د عجوة خرما وي ، موږ ته یې راکړه ، بیا به یې ان شاء الله موږ تاته بیرته درکړو .... سړی خولې رضی الله عنها ته لاړ ، بیرته راغی او ویې ویل : (( هو ، هغه ماسره دي دالله رسوله ! یو کس راولیږه چې وریې کړم ....)

رسول الله صلی الله علیه وسلم سړي ته وویل : دا درسره بوځه ، او ده ته خپل حق ور اداء کړه ، کله چې هغه خولې رضی الله عنها ته ورغی ، خپل حق یې ورته ورپوره کړ او درسول الله صلی الله علیه وسلم پور یې اداء کړ.... اعرابي په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې تیر شو ، هغه له خپلو صحابه کرامو سره ناست وو ، ویې ویل :

( الله دې درته خیر درکړي ... ماته دې پوره حق راکړ او له هغې دې هم ښې خرما راکړې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : (( د قیامت په ورځ هغه کسان الله جل جلاله ته تر ټولو غوره دي چې .... حق پوره اداء کوي او په ښه توګه یې اداء کوي ..) .... خولة بنت حکیم رضی الله عنها هم ددې حدیث لاندې راځي چې پوره او ښه حق یې اداء کړی وو..

دا چې خولة بنت حکیم رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم تل ملګرې وه ، دا هم طبیعي خبره ده چې هغه دې ګڼ حدیثونه روایت کړي ... له خولة بنت حکیم رضی الله عنها څخه روایت دی ، وایې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی هغه فرمایې : کله چې تاسو یوځای کې اړوئ ، نو داسې ووایاست :

(( اعوذ بکلمات الله التامات ، من شر ما خلق )) که دا دعاء مو وویله ، تر کومه چې هلته اوسئ ، هیڅ شی به درته زیان ونه رسوي .. . په بل روایت کې راځي چې ترهغې چې سفر ترې ونکړي ، څه به ورته زیان ونه رسوي .

له خولة بنت حکیم رضی الله عنها روایت دی وایې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ د لور یو ځوی په غیږ کړی وو او ویې فرمایل :

(( ځوی بخل ، ویره ، جهالت او خپګان پیدا کوي )) او په بل روایت کې راځي ، هغه وفرمایل : (( تاسو ویره راوړئ ، بخل پیدا کوئ او جهالت راوړئ .. او تاسو دالله تعالی ریحان ( کشمالي ) یاست .. دا حدیث ترمذی او طبرانی روایت کړی ، او احمد په مسند کې ترمذی او احمد روایت کړی .

دسیرت کتابونو د خولة بنت حکیم رضی الله عنها د وفات تاریخ نه دی یاد کړی ، همدا راز له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته یې هم په اړه پیښې نه دي یادې کړي . خو دومره ویل شوي چې د خولة رضی الله عنها ځوی ( سائب ) د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه دخلافت په دوره کې د ردت په جګړو کې برخه اخیستې وه . او دیمامه په جګړه کې د دېرش کلنۍ په عمر شهید شو .

خو تاریخ د خولة بنت حکیم رضی الله عنها تاریخ د نبوت پرمهال د سترو صحابیاتو د نوملړ په سر کې یادوي .. دا هغه مېرمن وه چې ځان یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وربخښلی وو ، او په هر حالت یې دهغه خدمت کاوه ... د نبي علیه السلام په شتون کې نوموړې مېرمن ، د غوره ادب، غوره اخلاقو او سلوکو خاونده وه او په ډېر اخلاص به یې هر کار سر ته رساوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام ایمن رضی الله عنها

دا یوه حبشي ښځه وه ، د اسلام په راوړلو سره د اسلام په صدر کې د سترو صحابیاتو په کتار کې راغله .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله مور له لاسه ورکړه ، دې ښځې رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغه وخته راهیسې پیژندلی او روزلی وو .... ددې په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :

(( دا زما د کورنۍ پاتې ده ))

دا مېرمن دهغو ښځو په کتار کې راځي چې داسلامي دعوت په پیل کې یې ایمان راوړی وو .. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ښځې ته د جنت زیری ورکړی وو ... خپلو صحابه کرامو ته یې وویل : (( که څوک غواړي چې د جنت له یوې مېرمنې سره واده وکړي ، نو له ( ام ایمن ) سره دې واده وکړي ))

دا مېرمن ( برکة بنت ثعلبة بن عمرو ) نومېده . نوموړې هغه مېرمن وه چې عبدالله بن عبدالمطلب خپل ځوی محمد صلی الله علیه وسلم ته پرېښې وه .. دمحمد صلی الله علیه وسلم چې کله شام ته هجرت کاوه ، وفات شو او خپله مېرمن ( آمنة بنت وهب ) یې حامله پرېښوده ، چې بیا له آمنې څخه محمد صلی الله علیه وسلم پیدا شو ... ( برکة رضی الله عنها ) هغه مېرمن وه چې لومړی یې محمد په غېږ کې ونیوه . او بیا یې مور په بنو سعد کې له ( حلیمة السعدیه ) سره پرېښود او هغې ورته شیدې ورکړې . ...

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته راغی ، روزونکې ( ام ایمن رضی الله عنها ) ورسره وه او دهغه روزنه او ساتنه به یې کوله .... کله چې آمنة بنت وهب په ( یثرب ) کې د خپل خاوند د قبر د زیارت په تکل روانه شوه ، له ځان سره یې خپل ماشوم ، او ( برکة رضی الله عنها ) هم ملګري کړل ، چې په لاره کې به یې د محمد صلی الله علیه وسلم ساتنه او خدمت کاوه . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم شپږ کلنۍ ته ورسیده ، مور ( آمنه بنت وهب ) یې هم وفات شوه .... نوموړې یثرب ته دتللو پر مهال وفات شوې وه ، بیا په ( ابواء ) سیمه کې خاورو ته وسپارل شوه .. دا هغه سیمه وه چې څو کلونه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوسیدو ځای ګرځي .

ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلې مور آمنة بنت وهب سره وو ، کله چې شپږ کلنۍ ته ورسېده ، مور یې خپلو ماماګانو ( بنو عدي بن النجار ) کره د زیارت لپاره لاړه .. په دې سفر کې ورسره ( ام ایمن رضی الله عنها ) هم ملګرې وه ، او محمد صلی الله علیه وسلم ساتنه او پاملرنه به یې کوله او په دوه اوښانو سپاره وو . .. د ( دارالنابغه ) په سیمه کې یې واړول او هلته یې یوه میاشت تېره کړه .. . آمنة بنت وهب وفات شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې پلار یې لا وار له مخه وفات شوی وو ، مور یې هم له لاسه ورکړه ... نوموړی بیا د ( برکة یا ام ایمن رض الله عنها ) په ملتیا مکې مکرمې ته راستون شو ... برکة رضی الله عنها له محمد صلی الله علیه وسلم سره دهغه د نیکه عبدالمطلب په کور کې اوسیده ، پاملرنه به یې پرې کوله او دهغه خدمت به یې کاوه . ام ایمن رضی الله عنها له آمنې څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره مور وه .... رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمایي :

(( ام ایمن ، زما له مور وروسته ، زما مور ده ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې ام ایمن رضی الله عنها تل د محمد صلی الله علیه وسلم روزنه او ساتنه کوله ، د ډېرو هغو پېښو شاهده هم ده چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په ماشومتوب او ځوانۍ کې تېرې شوي دي . ام ایمن رضی الله عنها له بعثت وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه ډېرې کیسې بیان کړي دي ... هغه وایې :

(( ما به رسول الله صلی الله علیه وسلم غېږ کې نیوه ، یوه ورځ ترې بې پروا شوم ، زه پوه نه وم چې ومې کاته عبدالمطلب مې سر ته ولاړ دی او راته وایې : ای بر که ! .. ما وویل : امر وکړه !!! .... ویې ویل :

( ته خبره یې چې ځوی مې چیر ته پیدا کړ ؟ )

ما وویل ، نه یم خبره ..

ویې ویل :

(( له بېرې سره څنګ کې له ماشومانو سره وو .... مه ترې بې پروا کېږه !! .. اهل الکتاب ګومان کوي چې دا به ددې امت پیغمبر وي ... او زه پرې له هغوی ډارېږم ... ))

له ام ایمن رضی الله عنها څخه روایت دی ، وایې .. تراوسه مې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی لیدلی چې ، یاې په ماشومتوب کې یا یې په لویوالي کې له تندې یا ولږې شکایت کړی دی ... کله به چې سهار شو ، نو د زمزم اوبه به یې څښلې ... کله به مو چې ورته د غرمې د ډوډۍ وویل ، هغه به ویل : زه موړ یم .. !! ..

له بعثت وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه ام ایمن رضی الله عنها نورې ګڼې پېښې بیان کړي ، نوموړې یوه کیسه داسې بیانوي :

(( په ( بوانه ) کې یو بت وو چې قریشو به ورته ډېر احترام کاوه .. قربانۍ به یې ورته وړاندې کولې او سرونه به یې ورسره خریيل .. او په کال کې به یې یوه ورځ تر شپې ورسره تېروله .. ابوطالب به هم له خپل قوم سره یوځای دلته راتللو .. او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې ویل چې دې اختر کې ورسره ګډون وکړي ، خو هغه به انکار کاوه . یوه ورځ ورته ابوطالب غوسه شو ... ما ولیده چې تروریانې یې هم ورته په دې ورځ ډېر غوسه شوې .... هغو به ویل :

(( موږ په دې ویریږو چې ته ولې زموږ له خدایانو ډده کوې ؟ !! )) ...

ترورریانو به یې ورته ویل :

(( محمده ته ولې د قوم په اختر کې ونډه نه اخلې ، او نه دهغوی په غونډو کې حاضرېږې ؟ )) هغوی ورباندې همداسې ټینګار کاوه ، محمد صلی الله علیه وسلم ترې ووت او د یوې مودې لپاره ترې پناه شو .. بیا بیرته په ډېره وېره موږ ته راستون شو ... ترورریانو یې ورته وویل : ... څه ویرولی یې محمده ؟

ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ویریږم چې لیونی شوی نه یم .. ))

هغوی وویل :

(( دا چې ته دومره ښکلې ځآنګړنې لرې ، نو الله دې له شیطان لیرې ساتي . . . څه درباندې شوي ؟ ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( زه به چې هر بت ته ورنږدې کېدم ، یو سپین اوږد سړی به راته تمثیل شو ، او چیغې به یې راته وهلې .. پام کوه محمده ! لاس ورنږدې نه کړې!!! ))

ام ایمن رضی الله عنها وایې ، چې د پیغمبرۍ تر ورځې بیا د قریشو اختر ته حاضر نه شو ...

ام ایمن رضی الله عنها ترهغې وخته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې بوخته وه چې له خدیجې بنت خویلد رضی الله عنها سره یې واده وکړ . بیا یې دهغې د احترام په خاطر او د ښو کارونو او احسانونو له لامله آزاده کړه . په جاهلیت کې ام ایمن رضی الله عنها له له یو خزرجي ( عبید بن زید ) سره واده کړی وو ، نوموړی د بنوالحارث له کورنۍ څخه وو . له هغه یې ( ایمن ) په نوم ځوی پیدا شو او همدې نوم ته منسوبه کنیه باندې هم مشهوره شوه ... نوموړې هغه مهال په له عبید بن زید سره واده کړی وو چې کله ام ایمن مدینې ته تللې وه ، او ویل کیږي چې عبید بن زید په مکه کې ژوند کړی وو ، او په مکه کې د اوسیدو پرمهال یې له ام ایمن رضی الله عنها سره واده وکړ . بیا ورسره یوځای یثرب ته لاړه ، او هلته یې د ( ایمن ) په نوم ځوی پیدا شو . کله چې هغوی دواړه سره جلا شول ، بیرته ترې مکې ته راستنه شوه . او دهغې ځوی ( ایمن ) رضی الله عنه هم له لومړنیو مسلمانانو څخه وو . . . نوموړی د اسلام په پیل کې مسلمان شو او په مکه او مدینه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګری وو ، لکه څنګه یې چې مور ( ام ایمن رضی الله عنها ) هم له آزادېدو وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې بوخته وه . رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته د ( مور ) خطاب کاوه . او کله به یې ویل چې (( دا زما له کورنۍ راپاتې ده .. ))

ام ایمن رضی الله عنها چې کله خپل لومړی خاوند له لاسه ورکړ ، ویې غوښتل چې یو خاوند ورته پیدا کړي ، یوه ورځ یې خپلو صحابه کرامو ته وویل چې ، که څوک غواړي چې د جنت له یوې مېرمنې سره واده وکړي ، نو له ام ایمن سره دې واده وکړي .... د رسول الله صلی الله علیه وسلم دې خبرې سره سمدلاسه دهغه خادم زید بن حارثه راپاڅېده ، او له ام ایمن رضی الله عنها سره یې واده وکړه ، نوموړی له ام ایمن رضی الله عنها څخه څو کلونه مشر هم وو . د بعثت په شپږم کال یې ترې د اسامه په نوم ځوی وزیږېد ، اسامة رضی الله عنه سره رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره مینه کوله لکه دخپلو لمسیانو حسن او حسین رضی الله عنهما ....

حبشې ته د ام ایمن رضی الله عنها د هجرت په اړه ګڼ روایتونه راغلي دي ، د سیرت ځینې کتابونه وایې چې ، نوموړې د لومړنیو مهاجرینو څخه وه ، خو مدینې منورې ته د ام ایمن رضی الله عنها هجرت مالوم وو ، هغه خپله د هغه کرامت بیان کوي چې الله جل جلاله به پرې د الله په لاره کې دصبر په پایله کې کړی وو . نوموړې په یوازې ځان مدینې منورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجرت کړی وو ، د هجرت په دوران کې ورسره یوازې دهغې اووه کلن ځوی اسامة بن زید رضی الله عنه ملگری وو او بس .. په دې اوږده او سخته لاره کې ام ایمن رضی الله عنها سره شته اوبه خلاصې شوې او له سختې تندې سره مخامخ شوه ، نوموړې روژه هم وه او نږدې وه چې وفات شوې وای . هغه خپله د هجرت کیسه داسې بیانوي :

کله چې لمر پرېوت ، چې ومې کاته سر سره مې یو لوښی راځوړند وو ، په سپینه رسۍ باندې له اسمان څخه راځړېدلی وو ، لوښی مې راونیوه او اوبه مې ترې وڅښکې ترڅو مې چې تنده ماته شوه .... نوموړې زیاتوي چې ، له دې وروسته زه بیا تږې نه شوم ... !! .. په هجر تونو کې مې چې روژه نیوه تږې کېدم به ، خو له هغه څښاک وروسته نه یم تږې شوې .. ما به په گرمه ورځ روژه نیوله ، خو زه به نه تږې کېدم ...

ام ایمن رضی الله عنها چې له دې وړاندې هم ډېر ځله مدینې منورې ته راتلله ، بیا هم په مدینه منوره کې مېشت شوه . هلته یې داسلامي دعوت غښتلتیا او پراختیا ولیده ... هغه ماشوم چې بنوالنجار کورنۍ ته به یې د ماماگانو ملاقات ته راوستلو ، اوس د مدینې مشر او د امت پیغمبر شو ... ام ایمن رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته ډېره نږدې وه ، په ډېرو خوشالیو او غمونو کې ورسره شریکه وه .. او رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې ډېر احترام کاوه او ډېره ښه رویه به یې ورسره کوله . له ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی ، هغه فرمایي :

(( یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوبه وڅښکلې ، ام ایمن هم ورسره ناسته وه ، ویې ویل چې ، ای دالله رسوله ، ماته هم اوبه راکړه ! ... ما ورته وویل : ته دالله رسول ته داسې وایې ؟ !!! ... هغې وویل : ما یې تر دې هم زیات خدمت کړی دی !! .... رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ام ایمن رښتیا وویل ... بیا یې ورته په مبارکو لاسونو اوبه ورکړې ... ))

ددې لپاره چې ام ایمن خوشاله وساتي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورسره کله کله ټوکې کولې .. یوه ورځ له سفره ډېره ستړې ورته راغله ، او له رسول الله صلی الله علیه وسلم یې سپرلي وغوښته او ویې ویل : سپرلي راته تیاره کړه !! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ټوکې کې وویل :

(( د اوښې په ځوی به دې سپره کړم !!! ))

ام ایمن رضی الله عنها گومان وکړ چې گواکې د اوښې په کوچني ځوی به یې سپروي ... ویې ویل :

(( ای دالله رسوله ، هغه ما نه شي وړلی او نه مې هغه په کار دی!!! ))

ویې ویل :

(( زه به دې خامخا د اوښې په ځوی باندې سپروم ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې ټوکې کولې ، هم رښتیا به یې ویل ... په دې مانا چې په ټوکو کې به یې هم درواغ نه ویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ام ایمن رضی الله عنها ژبه به نښتله ، کله به یې چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم سلام اچاوه ، او داسې به یې ویل چې : ( سلام علیکم ) نو د ( ع ) پر ځای به یې ( همزه ) ویله .... بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړه چې یوازې ( السلام ) ووایې ....

او د حنین په غزا کې ام ایمن رضی الله عنها له خپلو دواړو زامنو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نږدې وه ... او مسلمانانو ته یې د بریا او ثابت پاتې کېدو دعاء کوله ... هغې به ویل :

( سبت الله اقدامکم ) .... ( ث ) به یې نه شوه ویلی ... ددې جملې مانا به داسې راتله چې ( الله مو پښې ماتې کړه ) خو اراده به یې دا وه چې ، (( الله مو پښې غښتلې کړه )) ... رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ویل :

(( غلې شه ام ایمن ... ستا ژبه سخته ده ... ))

ام ایمن رضی الله عنها چې به څومره په نبوي کورنۍ کې حاضرېده ، په هماغومره اندازه به په غزاګانو او جګړو کې هم حاضرېدله ... نوموړې د احد د غزا په ورځ هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ونډه اخیستې وه ، دالله په لاره کې به یې تږو ته اوبه ورکولې او د ټپیانو درملنه به یې کوله ... بلکې له ډېرو هغو کسانو غښتلې وه چې د جنګ له میدان به وتل ... .. کله به چې کوم جنګیالی د جګړې له ډګره تښتېده ، ام ایمن رضی الله عنها به یې سترګو ته خاورې ورشیندلې ... او ورته به یې ویل :

(( دا ستنه واخله ، ګنډل پرې وکړه ، او توره دې ماته راکړه ))

د خیبر په غزا کې ام ایمن رضی الله عنها دهغو مېرمنو په کتار کې وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای وتلې وې ... او کله چې الله جل جلاله مسلمانان بریالي کړل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته غنیمت ورکړ ... او دهغې ځوی اسامه ته یې دوه سوه پیمانې او پنځوس خرماوې ورکړې ، او څلوېښت پیمانې غنم یې ورته ورکړل ....

ام ایمن رضی الله عنها په ډېره سختۍ باندې هم مشهوره وه .. همدا لامل وو چې ، کله یې ( ایمن ) ځوی د خیبر له غزا پاتې شو ، ام ایمن رضی الله عنها نوموړې ته غوسه او هغه یې سخت ملامت او ډارن یې معرفي کړ .. خو ایمن رضی الله عنه د خپلې مور په ملامتیا او ټرټنه ډېر وردردېده ، هغه له وېرې لامله له جګړې نه وو پاتې شوی ، بلکې دهغه آس چې د وربشو خمیره شوې اوبه یې څښکلې وې ، او بیا ناروغه شوی وو ، لامله یې نوموړی د خیبر له غزا پاتې شو ...

حسان بن ثابت هم په خپله شعري ژبه له ایمن رضی الله عنه څخه دفاع وکړه او ویې ویل :

| | |
|---|---|
| علی حین ان قالت لایمن امه | جبنت فلم تشهد فوارس خیبر |
| وایمن لم یجبن ولکن مهره | اضر به شرب المدید المخمر |
| ولولا الذی کان من شأن مهره | لقاتل فیهم فارسا غیر اعسر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام ایمن رضی الله عنها به تل خپل زامن جهاد ته هڅول ، او هغوی کې به يې د ميړانې او زړورتيا احساس راپيدا کاوه . .
ام ایمن رضی الله عنها خپلو زامنو ته تر دې بريده د ميړانې او زړورتيا درس ورکړی وو چې ، دهغې ځوی ایمن رضی الله عنه چې د حنين په غزا کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه سخته دفاع وکړه ، او ترهغې يې جنګ وکړ چې په پايله کې شهيد شو ... او خاوند يې (زيد بن حارثه رضی الله عنه ) د هجرت په اتم کال هغه مهال شهيد شو چې ، رسول الله صلی الله عليه وسلم د لښکر په مشرۍ د شام پر لور ليږلی وو .

او د هجرت په لسم کال ، رسول الله صلی الله عليه وسلم په ( مؤته ) کې د روم په خلاف يو بل لښکر تيار کړ .. او ددې لښکر مشري يې دهغې ځوی اسامة بن زيد رضی الله عنه ته وسپارله ، چې عمر يې لا شل کلنۍ ته نه وو رسيدلی .. رسول الله صلی الله عليه وسلم سخت ناروغ شو ، مسلمانان بيرته د اسامه بن زيد رضی الله عنه په مشرۍ راستانه شول ، ترڅو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره خدای په امانې وکړي ... ام ایمن رضی الله عنها دامهال راننوته او ويې ويل :

(( ای دالله رسوله ! که اسامه دې په لښکرګاه کې پرېښی وی چې ، روغتيا يې ليدلې وای .. که اسامه په دې حالت ووځي ، هيڅ ګټه به ونکړي .. ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :

(( د اسامه لښکر ضرور وليږئ ))

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو ، او د خلافت واګې ابوبکر الصديق رضی الله عنه لاس کې ونيوې .. او د رسول الله صلی الله عليه وسلم امر يې عملي کړ او د اسامه لښکرې يې شام ته وليږلې .. که څه هم ځينو صحابه کرامو نيوکه وکړه ، خو بيا هم هغه دلښکر مشري اسامه بن زيد رضی الله عنه ته وسپارله .

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې کله وفات شو ، ام ایمن رضی الله عنها پرې ډېر زيات وژړل ... نوموړې هغه ستر لارښود محمد صلی الله عليه وسلم پسې وژړل چې ټول مسلمانان يې وژړول ... نوموړې دهغه ګران ځوی پسې وژړل چې ماشوم يې غېږ کې نيولی وو ، روزنه يې کړې وه او راستر کړی وو ، د هغه د واده شاهده وه ، او کله چې پيغمبر شو پيروي يې وکړه او ايمان يې پرې راوړ ، او د خپل ځوی ددعوت په لاره کې يې څو ځله هجرتونه وکړل ... د ام ایمن رضی الله عنها ژوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند په مهمو پړاوونو پورې تړلی وو ..

او کله چې ابوبکر الصديق رضی الله عنه خليفه شو ، عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته يې وويل :

(( راځه چې د ام ایمن زيارت ته لاړ شو ، لکه څنګه به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغې زيارت ته ورتللو .. ))

کله چې دوی دواړه ورننوتل ، ام ایمن رضی الله عنها په ژړا شوه ... ابوبکر رضی الله عنه ورته وويل :

(( ولې ژاړې ام ایمن ، الله خپل پيغمبر ته خير غواړي ... ))

هغې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( قسم په الله زه پوهيدم چې دالله رسول به وفات کيږي ، خو هغه وحيه پسې ژاړم چې له اسمانه نوره قطعه کيږي .. ))

په دې خبره يې دواړه په ژړا کړل ..

ام ايمن رضی الله عنها د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په خلافت کې ژوندۍ وه ، کله چې عمر رضی الله عنه د سهار د لمانځه پر مهال د ابولؤلؤة المجوسي په لاس شهيد شو ... ام ايمن رضی الله عنها ډېره قوي خبره وکړه او داسې يې وويل :

(( اوس اسلام کمزوری شو ))

ډېرې ورځې لا تېرې نه وې چې ام ايمن رضی الله عنها د هجرت په ۲۳ کال له نوي کلنۍ څخه په زيات عمر کې وفات شوه . او له نورو صحابه کرامو او تابعينو سره د مدينې منورې په بقيع هديره کې خاورو ته وسپارل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صفية بنت عبدالمطلب رضی الله عنها

دا میرمن د قریشو له قبیلې او یوه ستره شاعره او د غښتلي بیان او تعبیر لرونکې مېرمن وه . دا مېرمن د محمد صلی الله علیه وسلم د نیکه عبدالمطلب لور وه ... په بشپړه مانا د نبوت دوخت شاهده وه ... او په خپله کورنۍ کې یې د میړانې او زړورتیا ارزښتونه غښتلي کړي وو ... دا مېرمن د یو پیاوړي جنګیالي خور ، د ستر اتل مېرمن ، او د غښتلي جنګیالي مور وه ... دا لومړۍ مېرمن وه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پلار په خپلوانو کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت ته غاړه کېښوده ... دا مېرمن د لومړي بیعت کوونکو څخه وه ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه ته تر ټولو نږدې ترور ( عمه ) وه . دا مېرمن ( **صفية بنت عبدالمطلب رضی الله عنها** ) وه ..

دا مېرمن ( **صفية بنت عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصي** ) نومېده . دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له شپږو ترورېانو څخه یوه ترور وه ... مور یې ( هالة بنت وهيب بن عبدمناف ) نومېده .. نوموړې د حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه یوازینۍ خور وه چې پلار او مور یې سره شریک وو . صفية بنت عبدالمطلب رضی الله عنها په جاهلیت کې د ابوسفیان له ورور ( حارث بن حرب بن امية بن عبدشمس ) سره واده کړی وو . له هغه یې د ( صفي ) په نوم یو ځوی پیدا شو .. خو حارث تر ډېره ژوندی پاتې نه شو ، بیا یې د خدیجې بنت خویلد رضی الله عنها له ورور ( عوام بن خویلد بن اسد بن عبدالعزی ) سره واده وکړ .... نوموړی په مکه کې مشهور ترکاڼ وو . د صفیې رضی الله عنها له ده درې زامن وزېږېدل ... دوی ( زبیر ، سائب او عبدالکعبة ) نومېدل .

زبیر بن العوام رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ځانګړي ځای خاوند وو ، هغه به یې ( حواري ) یاداوه .. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :

(( هر پیغمبر خپل حواري ( مرید ) لري .. او زما حواري ( زبیر ) دی . ))

زبیر رضی الله عنه یتیم وو ، دهغه پلار ( عوام بن خویلد ) په داسې حال کې وفات شوه چې زبیر لا ماشوم وو . بیا دهغه تره ( نوفل بن خویلد ) دهغه روزنه او ساتنه کوله .... خو دهغه مور د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترور صفیې رضی الله عنها غوښتل چې د یتیمۍ له تریخوالي او دردونو سره سره ، خپل ځوی زبیر رضی الله عنه غښتلی او زړور راستر کړي . هغه به یې واهه او سختې به یې ورسره کوله ، ددې لپاره چې ښه تمرین ورکړي ، کله به یې چې ورکې کمزورتیا ولیده ، نو سخت به یې ټرټلو ... همدا لامل وو چې یوه ورځ د زبیر تره صفیه رضی الله عنها ملامته کړه او ورته یې وویل :

(( ته ورسره کینه کوې )) هغې دا تور په شعري ژبه په ډېره میړانه او غښتلي احساس رد کړ او ورته یې وویل :

| | |
|---|---|
| من قال انی ابغضه فقد کذب | وانما اضربه لکی یلب |
| ویهزم الجیش ویأتی بالسلب | ولایکن لماله خب ء مخب |
| یا کل مافی الطل | من تمر وحب |

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفية بنت عبدالمطلب رضی الله عنها خپل وراره ته نږدې وه ... دهغوی ترمنځ یوازې د وینې او نسب تړاو نه وو موجود ، بلکې یو نسل ته د منسوبیدو تړاو یې هم درلود .. هغه هم تقریبا د محمد صلی الله علیه وسلم همزولې وه .. لکه څنګه چې ابن هشام په خپل کتاب ( السیرة النبویة ) کې اشاره کړې ، وایې چې ، صفیة رضی الله عنها ترې ایله یو یا څه دپاسه یو کال مشره وه . ... کله چې الله جل جلاله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم په اسلام دین مبعوث کړ ، او ددې آیت له مخې یې ورته امر وکړ چې :

(( فاصدع بما تؤمر )) چې دعوت دې ښکاره کړه ... !! او همدا راز خپل رسول ته یې امر وکړ چې خپل نږدې خپلوان دې وویروه !! ... رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅېده ، خپلې کورنۍ ته یې په نوم نوم غږ وکړ ،

(( ای صفیې ! د محمد ترورې !! ای فاطمې ! د محمد لورې !! .. ځانونه مودالله له عذابه وژغورئ ، زه دالله د عذاب په وړاندې تاسو سره هیڅ نه شم کولی !! ))

صفیې رضی الله عنها دا ستر او سپیڅلی غږ واورېده ... په دې دعوت کې یې رښتونولې او یقین ولیده ، ژر یې ورته زړه کې ځای ورکړ ... نوموړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کورنۍ لومړۍ مېرمن وه چې د اسلام دعوت یې ومانه ... او همداراز نوموړې د لومړي بیعت کوونکو څخه وه .

د صفیې رضی الله عنها ځوی ( زبیر بن العوام رضی الله عنه ) د پنځلس کلنۍ په عمر کې مسلمان شو ، نوموړی څلورم یا پنځم کس وو چې اسلام یې ومانه . د زبیر رضی الله عنه د اسلام راوړلو دهغه د تره نوفل بن خویلد سخته غوسه راوپاروله .. پرځای ددې چې پاملرنه به یې پرې کوله ، سختې او تنګې یې پرې شروع کړه ... صفیې رضی الله عنها به چې د ځوی حالت لیده چې تره یې بندي کوي ، دباندې یې نه پرېږدي او سختې ورسره کوي ترڅو یې له دینه واوړوي ، نوموړې به په دې حالت ډېره دردېده .. خو دې شکنجو د زبیر په دریځ کې هیڅ بدلون رانه واست .. بلکې په اسلام ټینګ پاتې شو ، اخیر یې تره هم مایوسه شو او په خپل حالت یې پرېښود ... .

یوه ورځ زبیر بن العوام رضی الله عنه په مکه مکرمه کې یوه آوازه واورېده چې ، ګواکې محمد ووژل شو ... توره یې راپورته کړه ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم په لټه پسې ووت ، کله یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې په لوړو کې ولیده ، زړه یې آرام شو .

د زبیر رضی الله عنه توره چې مور یې ورته د مېړانې او زړورتیا درس ورکړی وو ، لومړۍ توره وه چې په اسلام کې راویستل شوې وه ... او لومړۍ توره وه چې دالله په لاره کې ښکاره شوې وه !!!

الله جل جلاله خپل رسول ، محمد صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو ته ، یثرب ته د هجرت کولو اجازه ورکوي ... هماغه وو چې صفیه رضی الله عنها په ډېرې میرانې سره له خپل ځوی زبیر بن العوام او له خپل ورور حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه سره ښکاره هجرت کوي ...... کله چې صفیة رضی الله عنها مدینې منورې ته رسیږي ، نور صحابه کرام هم راټولیږي ، صفیه رضی الله عنها د مهاجرینو او انصارو ترمنځ د ورورولۍ تړونونه ګوري .... رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې د صفیې رضی الله عنها د ځوی زبیر او ( سلامة بن سلامة بن وقش رضی الله عنهما )ترمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروروليـ تړون کوي .. بيا د هجرت په دويم کال د روژې په مبارکه مياشت کې د بدر په ستره غزا کې د مسلمانانو ستره بريا ګوري او په دې خوشالیـ کې له مسلمانانو سره يوځای برخه اخلي ... خو د احد په غزا کې بيا نوموړې د نورو ښځو ، غمونو او خپګانونو سره مخامخ کيږي ... خو ددې هرڅه سره سره ، صفيه رضی الله عنها ،صبر کوي ، او ددټولو غمونو اجر له الله جل جلاله څخه غواړي ...

صفيې رضی الله عنها د احد په غزا کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره برخه اخيستې وه ، نوموړې به مسلمانانو ته اوبه ورکولې او د ټپيانو درملنه به يې کوله .. ... ځينو صحابه کرامو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر مخالفت وکړ ، او په دې موخه له غره راښکته شول ترڅو غنيمتونه راټول کړي ... مشرکان پرې له شا راتاو شول ، او د جګړې مسير يې بدل کړ او په مسلمانانو کې يې سخته ګډوډي خپره کړه ... خلک له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه خپاره شول ... صفيه رضی الله عنها په لاس نېزه نيولې راپاڅيده ، له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې دفاع شروع کړه ، او په ډېره ميړانه يې دهغوی مخه نيوله ، خلکو ته به يې چيغې وهلې چې ، دالله رسول مو پرېښود !!! ....

کله چې نوموړې رسول الله صلی الله عليه وسلم وليده ، وويرېده چې هسې نه چې د خپل ورور حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه مړي باندې يې سترګې ولګيږي ... ځکه حمزه رضی الله عنه وژل شوی وو ، او هند بنت عتبه يې بدن هم ټوټې کړی وو .... رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :

(( ای زبيره !! ښځه .. ښځه !! )) مطلب يې دا وو چې ( مور دې ليرې کړه !! )

زبير بن العوام ژر ژر ځان مور ته ورساوه او ورته يې وويل :

(( ای مورې !! دلته راشه ، دلته راشه !! دالله رسول درته امر کوي چې بير ته راستنه شه ))

صفيه رضی الله عنها دخپل ورور حمزه رضی الله عنه حالت وليده ، ويې ويل :

(( ولې ؟ .. زه خبره شوې يم چې زما د ورور بدن هم ټوټې شوی دی !! خو دالله لپاره داسې وشول ! موږ دالله په تقدير خوښ يو .. زه به صبر وکړم او اجر به يې له الله جل جلاله غواړم .. ))

زبير بن العوام رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او د خپلې مور صفيې رضی الله عنها کيسه يې ورته بيان کړه ... رسول الله صلی الله عليه وسلم په حمزه رضی الله عنه باندې د صفيې رضی الله عنها د درد ، غم ، صبر او ايمان باندې پوه وو .... بيا يې وفرمايل :

(( پرېږده يې ))

صفيه رضی الله عنها د خپل ورور حمزه رضی الله عنه جنټې ته لاړه ....کله يې چې خپل ورور په ټوټې حالت وليده ، زړه يې سخت ودرېده او ډېره زياته خپه شوه .. ويې ليده چې د ورور غوږونه يې پرې شوي .... خېټه يې ټوټې شوې .. په ځګر يې هند خوله لګولې وه ... او بيا يې پرځمکه غورځولی وو ... ... نوموړې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مخامخ کښېناسته .. کله به چې صفيې رضی الله عنها وژړل ، رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې هم له ځان سره وژړاوه .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمة الزهراء رضی الله عنها او چاپیره نورو مسلمانانو هم وژړل ..... کله چې فاطمې رضی الله عنها وژړل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وژړل او ویې ویل :

(( حمزه ستا غوندې غم به زه بیا ونه ګورم ! ! ))

صفیې رضی الله عنها د ورور لپاره بخښنه وغوښته ... او په ډېر صبر یې دا پېښه پر ځان تېره کړه .. .. رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې د جنازې لمونځ وکړ ، او امر یې وکړ چې د احد د نورو شهیدانو سره یوځای خاورو ته وسپارل شي ... کله یې چې حمزه رضی الله عنه خاورو ته سپاره ،رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

(( که په صفیې باندې نه سختېدای ، او له ما وروسته سنت نه جوړېدای ، ما به نه وای خښ کړی ترڅو د قیامت په ورځ د مرغانو له خولو او حیواناتو له خېټو را پاڅېدلی وی .. ))

د حمزه رضی الله عنه د بدن ځیرې کولو او شهادت صفیه رضی الله عنها ډېره زیاته خپه کړې وه ، هغه یې په کوچني کفن کې راونغاړه ، کله به یې چې ورته سر پټ کړ ، پښې به یې ښکاره شوې ... او کله به یې چې ورته کفن پر پښو راغزاوه ، سر به یې ښکاره شو . کله چې دهغه خور نوموړی په دې حالت ولیده ، سخت خپګان یې ورته راوپاراوه ، او په اړه یې پر حمزه رضی الله عنه د مرثیې او ویر شعرونه وویل :

دعاه اله الحق ذو العرش دعوة الی جنة یحیی بها وسرور

فذاک ما کنا نرجی ونرتجی لحمزة یوم الحشر خیر مصیر

فوالله ما انساک ما هبت الصبا بکاء وحزنا محضری ومسیری

علی اسد الله الذی کان مدرها یذود عن الاسلام کل کفور

فیالیت شلوی عند ذاک واعظمی لدی اضبع تعتادنی ونسور

اقول وقد اعلی النعی عشیرتی جزا الله خیرا من اخ ونصیر

صفیه بنت عبدالمطلب رضی الله عنها د خپل ځوی زبیر بن العوام په کور کې اوسیده .. دا کلونه یې په ډېر غم او خپګان تېر کړل ... دهجرت په پنځم کال چې کله مسلمانان د قریشو ، غطفان او د بنوقریظه د یهودو د یوځای کېدو څخه خبر شول چې غوښتل یې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې حمله وکړي او د ابوسفیان په مشرۍ باندې له مکې څخه ډلې ډلې کفري لښکرې په مدینه منوره باندې د حملې کولو په هوډ راووتلې ... رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې چاپیره کنده ووهله .. او امر یې وکړ چې ښځې او ماشومان دې په مدینه کې په کورونو او کلاګانو کې پاټې شي ... دا درسول الله صلی الله علیه وسلم نظر وو چې ښځې باید له دښمن څخه لیرې وساتل شي او هیڅوک ورته باید لاس رسی ونه لري . ... صفیې رضی الله عنها د حسان بن ثابت رضی الله عنه په کلا کې واړول ، دا په مدینه منوره کې یوه سخته او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غښتلې کلا ګڼل کېده . او په دې کلا کې د صفيې رضی الله عنها ددې ورځې کيسه تر نن ورځې بيانيږي او د هغې ميړانه او زړورتيا ثابتوي ، هغه فرمايي :

(( حسان بن ثابت موږ سره ، ياني له ښځو او ماشومانو سره وو .. پرموږ د يهودو يوکس تېر شو او له کلا چاپېره تاوېده راتاوېده ... بنوقريظه هم د مسلمانانو پر ضد راپاڅېدلي وو او له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې تړونونه مات کړي وو .. رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانان د دښمن مخې د خندق لور ته وروتلي وو ، اوهيڅوک نه وو چې زموږ دفاع يې ترې کړې وای ... که پرموږ هرچا حمله کړې وای ، هغوی موږ ته نه شو رارسيدلای .... ما وويل : ای حسانه ! ته ګورې چې دا يهودي په کلا باندې تاويږي راتاويږي ... او زه ويريږم چې دا به زموږ له حالته خبر شي او يهود به راباندې راخبر کړي ... او ته خو ګورې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغه صحابه کرام هم مصروف دي ... زه خو وايم چې ورښکته شه او ويې وژنه !!! .. حسان وويل : د عبدالمطلب لورې الله خو دې تاته بخښنه وکړي!!! ته خو پوهيږې چې دا کار له ما نه کيږي ...

کله چې راته حسان رضی الله عنه دا خبره وکړه ، او ما هم له ځان سره څه نه لرل ... پټه شوم او يوه ستنه مې راواخيسته ..... له کلا ورښکته شوم، په ستنه مې وواهه او ومې واژه !! ... کله مې چې ترې ځان اوزګار کړ ، بيرته کلا ته راستنه شوم او ومې ويل : .. ای حسان .. راشه اوس ترې کالي اوباسه ... که سړی نه وای نو ما به خپله ترې کالي ويستلی وای .. .. حسان وويل : دعبدالمطلب لورې ، کاليو ويستلو ته يې زه اړتيا نه لرم ... .. په دې سره ، صفيه رضی الله عنها لومړۍ مېرمن وه چې داسلام په دفاع کې يې يهودي وواژه .. ...هغې د ژبې او شعري غښتلتيا ترڅنګ ، دالله په لاره کې جسمي غښتلتيا هم درلوده .....

د خندق له غزا څخه ، د خيبر د غزا پر لور ... دهجرت په شپږم کال چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو د يهودو استوګنځايونه او د خيبر کلاګانې محاصره کړې ، صفيې بنت عبدالمطلب رضی الله عنها په دې غزا کې مشهوره کيسه لري ... دا غښتلې ميرمن او تکړه شاعره د نورو صحابياتو سره يوځای د خيبر په غزا کې وتلې وه او دمسلمانانو ملاتړ يې کاوه .. او د غزا په ډګر کې يې ځانګړی ځای جوړ کړی وو تر څو د ټپيانو درملنه وکړي ، هغوی ته اوبه او خواړه تيار او د مجاهدينو خدمت وکړي ... دخيبر په غزا کې ، صفيې رضی الله عنها خپل ځوی زبير رضی الله عنها هڅاوه ترڅو د خطر او سختو ځايونو ته وړاندې شي ... .. کله چې د يهودو لخوا د ( ياسر ) په نوم يو کس د مسلمانانو مبارزې ته راووت ، د صفيې رضی الله عنها ګران او اتل ځوی زبير بن العوام رضی الله عنه ورمخې ته شو ترڅو ورسره مبارزه وکړي ... هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او په ډېر صبر او ايمان يې ترې پوښتنه وکړه :... د الله رسوله آيا زما ځوی به وژل کيږي ؟ !!!

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل :

(( بلکې ستا ځوی به يې ان شاء الله چې وژني .. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر بن العوام رضی الله عنه له یهودي سره مخامخ شو ..... له هغه سره یې سخته مبارزه وکړه او یهودي یې وواژه .. . په دې سره د مجاهدې او صابرې مور صفیې پر مخ د خوشالۍ او زیري لیکې راښکاره شوې ..

د هجرت په یوولسم کال ، صفیه رضی الله عنها له نورو غمونو او مصیبتونو سره مخامخ کیږي ... رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات کیږي ، ټول صحابه کرام او مسلمانان له سترو ټکانو ښکار کیږي ... . صفیې رضی الله عنها په خپل وراره محمد صلی الله علیه وسلم پسې سخت وژړل ... له هغه وروسته ګڼودیو نوموړې بیا ډېره وژړوله .. په ستاینو او شعرونو کې به یې د خپل وراره احسانات یادول ، له خپلو خپلوانو او نورو مسلمانانو سره به یې دهغه مینه او نرمي بیانوله .. هغې به ویل :

| | |
|---|---|
| الا یا رسول الله کنت رخاءنا | وکنت بنا برا ولم تک جافیا |
| لعمری ما ابکی النبی بموته | ولکن لهرج کان بعدک آتیا |
| کأن علی قلبی لفقد محمد | ومن حبه من بعد ذاک المکاویا |
| افاطم صلی الله رب محمد | علی جدث امسی بیثرب ثاویا |
| اری حسنا ایتمته وترکته | یبکی ویدعو جده الیوم نائیا |
| فدا لرسول الله امی وخالتی | وعمی و نفسی قصره وعیالیا |
| علیک من الله السلام تحیة | وادخلت جنات من العدن راضیا |

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترور صفیة بنت عبدالمطلب رضی الله عنها دعمر بن الخطاب رضی الله عنه تر خلافته ژوندۍ وه .. نوموړې د اسلامي دعوت او اسلامي دولت د پراخېدو شاهده وه .. ویې لیده چې دهغې پر لاس روزل شوی ځوی ، زبیر بن العوام د مجاهدینو په لیکو کې جنګیږي ..

صفیه رضی الله عنه نږدې په اویا کلنۍ کې د هجرت په شلم کال وفات شوه . امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه پرې د جنازې لمونځ اداء کړ ، او دمدینې منورې په بقیع هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه .... نوموړې د اسلام په تاریخ کې د لومړنیو مسلمانانو په کتار کې خپل نوم ثبت کړ ، او دادب په تاریخ کې یې د اسلام د صدر په شاعراتو کې خپل نوم پرېښود.... نوموړې د نبوت په وخت کې د ښځو د فعال رول د ثابتولو په برخه کې ، د یوې ځانګړې نمونې په حیث ، په مختلفو وختونو کې د ټولو مسلمانانو په وجدان کې ځای پیدا کړ او په تلپاتې اسلامي تاریخ کې یې خپل نوم ژوندی او ځلانده پرېښود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام عماره رضی الله عنها

دا هغه مېرمن وه چې خپل ځان ، خاوند او دواړه زامن يې د اسلام د بيرغ د پورته کېدو لپاره نذر کړي وو. دا هغه مېرمن وه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې د عقبې په ستر بيعت کې بيعت کړی وو ... په ځينو جګړو کې يې برخه واخيسته ، ترڅو ټپيان درمان کړي او تږو ته اوبه ورکړي .... خو کله چې جګړه سختيږي ، او نارينه خپريږي ... د جګړې ډګر ته وردانګي ، سخته مبارزه کوي ، خپل ځان قربانۍ ته وړاندې کوي او په ډېره مېړانه خپله توره چلوي.... د احد په غزا کې يې ګډون هغه ښکاره بېلګه ګڼل کيږي چې د ښځو په تاريخ کې يې بېلګه نه ترسترګو کيږي ..... دا مېرمن په اسلام کې لومړۍ ( فدائي ) ګڼل کيږي .... رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په اړه فرمايې :

(( ما به چې ښي او کيڼ لور ته کتل ، نو دا به مې ليده چې له مابه يې دفاع کوله ))

دا مېرمن ( ام عماره ) نوميږي ، د انصارو يوه غښتلې ، د قوي ارادې ، ايمان او مېړانې سمبول ...

نوموړې ( نسيبة بنت کعب بن عمرو بن عوف بن مبذول بن غنم ) نوميږي .. د بنومازن بن النجار له کورنۍ ، او په مدينه منوره کې له مشهورې کورنۍ د خزرج له قبيلې څخه وه . نوموړې تر خپل نوم زياته په خپله کنيه ( ام عماره ) باندې مشهوره ده .. ام عماره رضی الله عنها په جاهليت کې له خپل تره ځوی سره په بنو النجار کورنۍ کې د ( زيد بن عاصم بن عمرو ) سره واده کړی وو .. له هغه يې ( عبدالله او حبيب ) په نومونو زامن پيدا شول .. او کله يې چې خاوند وفات شو ، له ( غزية بن عمرو ) سره يې واده وکړ ... او له هغه يې د ( تميم او خولة ) په نومونو بچيان پيدا شول .

ام عماره رضی الله عنها په مدينه منوره کې له لومړنيو مسلمانانو څخه وه ... نوموړې مدينې منورې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سفير ( مصعب بن عمير رضی الله عنه ) په لاس مسلمانه شوې وه .. له کومې ورځې يې چې اسلام زړه ته لاره موندلې ، له هماغې ورځې راهيسې يې خپل ځان ، خاوند او دواړه زامن د اسلام د بيرغ د پورته کېدو او خدمت لپاره نذر کړل ... ام عماره رضی الله عنها يوازې داسلام په دين کې په داخليدو بسنه ونکړه ... بلکې له خپل خاوند او دواړو زامنو سره يوځای ، د حج په موسم کې له مصعب بن عمير رضی الله عنه سره په ملګرتيا رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د ملاقات لپاره لاړل ... په دې سفر کې ورسره نور درې اويا نارينه او دوه مېرمنې له انصارو څخه هم ملګرې وې . ( نسيبة بنت کعب رضی الله عنها ) چې په ام عماره يې شهرت پيدا کړ ، په دې کاروان کې ملګرې وه او د عقبې په دويم بيعت يا ( عقبة الکبری ) بيعت کې يې ګډون وکړ ... په دې بيعت کې له رسول الله صلی الله عليه په ايمان ، ملاتړ ، قربانۍ او مرسته تړون وشو ...

رسول الله صلی الله عليه وسلم يثرب ته هجرت وکړ ، د يثرب خلکو يې په خوشاليو او خوښيو تود هرکلی وکړ ....

له دار الهجرت ( مدينې منورې ) څخه د مسلمانانو او د قريشو د مشرکينو ترمنځ د نښتو او غزاګانو لړۍ پيل شوه ... الله جل جلاله د بدر په ورځ مسلمانانو او صحابه کرامو ته ستره بريا ورپه برخه کړه ... بيا د هجرت په دريم کال د احد په غزا کې الله جل جلاله مسلمانانو ته د بريا او ماتې د عواملو په اړه درس ورکړ ... د احد په ورځ ، ام عماره رضی الله عنها د جګړې په سهار راووتله ، د اوبو ډک لوښی په لاس د جګړې په ډګر ګرځېده ، تږو ته يې اوبه ورکولې او ټپيان يې پټی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول .... کله یې چې مشر کین ولیده چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم راتاو شوي او ځینې مسلمانان له جګړې ووتل ، خپله راپاڅېده او دفاع یې پیل کړه ،له ځانه یې پټۍ تاو کړې وه ، سخته مبارزه یې وکړه چې په پایله کې دیارلس ځایه ټپي شوه .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ام عماره رضی الله عنها په وینو ککړه ولیده .. . او ځوی یې هم ورسره په څنګ کې جنګېده .... د ام عماره رضی الله عنها ځوی ته یې غږ کړ !!

(( مور دې !! مور دې !! ټپ یې وتړه !! الله دې تاسو بر کتي کړي .. الله دې پر تاسو ورحمیږي .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ورمخ کړ ، او د ام عماره رضی الله عنها میړانه یې هم لیده ، ویې ویل :

(( نن د نسیبة بنت کعب مقام د پلانکي او پلانکي له مقام څخه ډېر غوره دی ، څوک به ستا هومره وس ولري .... ما به چې کله ښي یا کېڼ لور ته کتل ، نو دا به مې مخې ته وه او له ما به یې دفاع کوله ... ))

کله چې ام عماره رضی الله عنها د رسول الله صلی الله دعاء واورېده ... ډېره زیاته خوشاله شوه او احساسات یې لا راڅوندي شول .. بیا یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! دعاء راته وکړه چې په جنت کې هم درسره یوځای شو .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم اسمان ته لاسونه پورته کړه او ویې ویل :

(( ای الله !! دوی ماسره په جنت کې ملګري کړې !!! ))

ام عماره له دې دعاء وروسته وویل :

(( په دنیا کې چې راته هر څه رارسیږي ، له دې دعاء وروسته یې هیڅ پروانه راځي .. ))

یوه ورځ ( بنت سعد بن ربیع ) له ام عماره رضی الله عنها پوښتنه وکړه ، ورته یې وویل :

(( ای تروري ! د احد په ورځ دې راته خپله کیسه وکړه !! ))

ام عماره خپله کیسه داسې بیان کړه :

(( کله چې مسلمانان مات شول ، زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم ، جګړه مې پیل کړه او له رسول الله صلی الله علیه وسلم مې دفاع کوله ... خلک چې کله له هغه خپاره شول ، ما ولیدل چې ټولټال ایله لس کسان نه وو پاتې ...ما ، دواړه زامن او خاوند مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دفاع کوله .. خلک مات شول او وتښتېدل ..رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدم چې ماسره هیڅ سپر نه وو ، بل سړی چې سپر سره سره په تېښته وو ، ورته یې وویل : سپر دې هغه چاته ورکړه چې جنګ کوي ..... خپل سپر یې وغورځاوه ، ما راواخیسته .... او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې پرې دفاع کوله .... خو په آسانو سپاره کسان راباندې راټول شول ... که دوی هم زموږ په څېر پیاده وای ، نو له سختې ماتې سره به مو ان شاء الله چې مخ کړي وای ... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام سعد فرمايي : ما د ام عماره رضى الله عنها په اوږه باندې ډېر ژور ټپ وليده ... ومې ويل :

(( اى ام عماره ! دا چا ټپي كړې ؟ !!! ))

ويې ويل :

(( ابن قمئه دې الله ړوند كړي ، هغه رامخې ته شو ... خلک هم له رسول الله صلى الله عليه وسلم خپاره شوي وو .... چيغې يې وهلې !! محمد راته وښاياست !! يابه زه ژوندى يم يا هغه !!! )) .. مصعب بن عمير رضى الله عنه او ځينې نور صحابه كرام ورته رامخې ته شول ... ... زه هم په دې ډله كې وم ... بيا راته دا ځاى ټپي كړ !! خو ددې په مقابل كې ما هم څو ځايه ټپي كړ ... خو دالله په دښمن دوه زغرې تاو وې ... ... ))

د احد له غزا وروسته ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم وياند مسلمانانو ته غږ وكړ ترڅو ( حمراء الاسد ) ته روان شي ... ام عماره رضى الله عنها هڅه وكړه چې ورسره لاړه شي ... خو د ډېرو وينو د توييدو لامله ونه توانېده ... ټوله شپه يې د ټپونو په درمان تېره كړه .... كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه منوره كې خپل كور ته راورسيده ... او په احد غزا كې يې د ام عماره رضى الله عنها هغه اتلولي وليده چې ډېر نارينه وركې پاتې راغلي وو ، ځواب يې پسې ځواب راوليږه او دهغې د حالت او روغتيا پوښتنه يې وكړه ...

د احد د غزا ټپونه د ام عماره رضى الله عنها په بدن كې ژور پاتې شول ... خو دې ټپونه هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په نورو غزاګانو كې له ونډې اخيستنې منعه نه كړه .... ام عماره رضى الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديبيې په سوله او په ( بيعة الرضوان ) كې هم ملګرې وه ... او خيبر په غزا كې نوموړې د هغو شپږ مېرمنو په كتار كې وه چې په ياده غزا كې يې برخه اخيستې وه . همدا راز د مكې د سترې فتحې په ورځ هم له مسلمانانو سره يوځاى وه . او د هجرت په اتم كال يې دحنين په هغه ستره غزا كې هم برخه واخيسته چې د هوازن قبيلې وركې د مسلمانانو په خلاف زرګونه لښكرې راټولې كړې وې ... ام عماره رضى الله عنها د حنين په غزا كې سخته قرباني او ستره اتلولي ثابته كړه .. او له ښځو سره يې په اوبو ويشلو او د ټپيانو په درمان كې برخه اخيسته .. .. نوموړې د جګړې له ډګره ليرې ځاى ته د شهيدانو په لېږد او د جنګياليو ته د ډګر په تيارولو كې فعاله ونډه درلوده . كله چې د حنين په غزا كې د مسلمانانو ليكې ګډې وډې شوې ، ام عماره رضى الله عنها د هغو سلو كسانو په ډله كې وه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره نږدې پاتې وو او دفاع يې ترې كوله ... او هغه انصار چې د جګړې له ډګره تښتېدل چيغې يې ورته وهلې ..

(( اى انصارو !! دا كوم عادت دى !! تاسو او تېښته ؟ !!! ))

د ام عماره رضى الله عنها له غيرت او ايمانه دې ډكې چيغې ډېره اغيزه وكړه او ډېرى مسلمانان بېرته د مجاهدينو ليكو ته راننوتل.. .. هماغه وو چې د مسلمانانو د ليكو په پياوړتيا سره ، مسلمانان بريالي شول او هوازن او ثقيف له سختې ماتې سره مخامخ شول .... ام عماره رضى الله عنها دهغوى ماتې په دې ټكو كې بيانوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( قسم په الله ماداسې ماتې لا نه وه ليدلې ... هر لور ته وتښتېدل ... ماته زما ټول زامن راغلل ... د زيد زامنو حبيب او عبدالله بنديان نيولي او ماته يې راوستل .... زما غوسه راوپارېده ، ديوه څټ مې مې وواهه .... خلکو به بنديان راوستل .... ما په د ( بنو مازن بن النجار ) په کورنۍ کې دېرش بنديان وليدل .. ))

د حنين غزا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې د مسلمانانو او مشرکينو ترمنځ وروستۍ جګړه وه ، په دې غزا لا يو کال تېر نه وو چې ، ام عماره رضی الله عنها په يو بل ځای کې خپله اتلولي ، جهاد او صبر ثابت کړ ... د هجرت په نهم کال ( مسيلمة بن ثمامة ) د يمامة په سيمه کې د پيغمبرۍ دعوا وکړه .. په پيل کې يې اسلام ښکاره کړی وو بيا ترې مرتد شو ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې ليک راوليږه .. ورته يې وويل :

(( د الله له رسول ، مسيلمة څخه ، د الله رسول محمد ته !! پر تا دې سلام وي .. خبره داده چې ! زه تاسره په پيغمبرۍ کې شريک يم .... نيم پيغمبرۍ زموږ او نيمه پيغمبري د قريشو ده .. .. ))

که څه هم د مسيلمة دروغجن دواړو استازو پر مسيلمة باندې ايمان راوړی وو ، خو بيا هم رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی دواړه ونه وژل ... بلکې هغه ته يې دوه نور استازي ورولېږل چې يو يې د ام عماره رضی الله عنها ځوی ( حبيب بن زيد ) وو ... ددوی دواړو په لاس يې ورته دا ليک وليږه :

(( بسم الله الرحمن الرحيم ... د الله له رسول محمد لخوا ، دروغجن مسيلمة ته !!! يوازې د هدايت پر پلويانو دې سلام وي !! خبره داده چې ، ځمکه دالله ده ، او په بنده ګانو کې يې چې چاته خوښه شي په ميراث يې ورکوي .. او نېکه پايله د پرهيزګارو ده .. ))

خو دروغجن مسيلمه راپاڅېده او د ام عماره رضی الله عنها ځوی حبيب بن زيد ته يې سخت عذاب ورکړ .... دهغه په وړاندې يې ورته خپله عقيده ورښکاره کړه او ورته يې وويل چې ، محمد دالله رسول دی !! او مسيلمة يې دروغجن وباله .... مسيلمة د حبيب بن زيد د بندي کولو امر صادر کړ ، او په ژوندي يې دهغه د بدن د غړو د پرې کولو امر وکړ ، چې په پايله کې يې سپېڅلی ژوند له لاسه ورکړ ... کله چې د حبيب بن زيد رضی الله عنه د شهادت دا خبره دهغه مور ام عماره رضی الله عنها ته ورسيده ، رسول الله صلی الله عليه وسلم، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ورته راغلل ، او هغې ته يې د ځوی د شهادت تسليت ورکړ ... ام عماره رضی الله عنها په ډېر صبر دا ښېښه په زړه تېره کړه او خپل غم يې پټ وساته .. او نذر يې وکړ که الله ژوندۍ پاتې کړه ، نو د مسيلمة قتل به ګوري ، او دهغه په وژلو کې به برخه اخلي ...

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هجرت په يوولسم کال وفات شو ، او ابوبکر رضی الله عنه د خلافت واګې په لاس کې واخيستې ، پيل يې وکړ او اسلامي لښکرې يې تيارې کړې ، ترڅو له مرتدينو سره جګړه وکړي ، ويې ځپي او اسلام ته خپل قوت او غښتلتيا وروبخښي ... د الله د تورې خالد بن الوليد رضی الله عنه تر قوماندې لاندې يې لښکرې د يمامه سيمې ته وليږلې ، ترڅو دروغجن مسيلمة له مينځه يوسي ... ا م عماره رضی الله عنها سره احساس پيدا شو چې ، ګواکې ، ارمان به يې پوره شي ... قسم يې وکړ چې ترهغې به غسل پر ځان وانه ړوي چې ، دروغجن مسيلمه نه وي وژل شوی .... نوموړې ابوبکر الصديق رضی الله عنه ته ورغله ، ترڅو ترې اجازه واخلي او په اسلامي لښکرو کې د دروغجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیلمة وژلو په موخه ووځي او خپل نذر پوره کړي ... ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ورته اجازه ورکړه او ورته یې وویل :

(( په جګړه کې مو ستا جزا الیدلې ، دالله په نامه ته تللی شې..))

ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د لښکر قوماندان دالله توري ، خالد بن الولید رضی الله عنه ته وصیت وکړ چې په ام عماره پام کوي ... نوموړې له مسلمانانو سره ووتله او خپل خوی عبدالله هم ورسره ملګری وو .. خپله یې د جګړې ډګر ته ورودانګل او مرتدین یې له هرې خوا په تورو باندې وهل... په پایله کې د ام عماره رضی الله عنها لاس پرې او دولس ځایه یې بدن ټپي شو . .. هغې خپلو ټپونو ته پروا ونکړه او مبارزې ته یې ادامه ورکړه . وحشي چې دروغجن مسیلمة یې تر ځار لاندې نیولی وو ، د ام عماره ځوی عبدالله هم ورسره ملګری شو ... کله یې چې هغه وواژه ، د ام عماره رضی الله عنها زړه آرام او نفس یې دمه شو ... دالله جل جلاله غښتلې توره ، خالد بن الولید رضی الله عنه هم په دې بریا ډېر خوشاله چې مرتدین یې مات کړل او دهغوی نوی دولت یې له خاورو سره خاورې کړ ..

خالد بن الولید رضی الله عنه د ام عماره رضی الله عنها ټپونو ته ډېر خپه شو ، هغه یې له پامه ونه غورځوله ، پوښتنې ته یې راغی او په جوش شویو تېلو باندې یې دهغې ددرملنې امر وکړ ، ددرملنې دې طریقې ام عماره رضی الله عنها ډېره وددردوله ... د اسلامي لښکر وتلی او اتل قوماندان خالد بن الولید رضی الله عنه به یې وخت په وخت پوښتنه کوله ، او په ټوله لاره کې یې ورسره ډېره غوره رویه کوله .. خپل حق به یې ورته اداء کاوه او د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه له وصیت سره سم به یې هغه له پامه نه غورځوله ..

ام عماره رضی الله عنه د مرتدینو له جګړې او ماتې وروسته مدینې منورې ته راستنه شوه ، د الله په لاره کې د جهاد ، غښتلي ایمان ، قوي ارادې او د قربانیو په ستر کتاب کې یې خپل نوم د تل لپاره ثبت کړ ... نوموړې دالله په لاره کې د جهاد او له رسول الله صلی الله علیه وسلم او د اسلام له سپیڅلي دین څخه په دفاع کې د نبوت په وخت کې یوه بې سارې او بې بېلګې مېرمن وه .

ام عماره رضی الله عنها چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ګڼو جګړو او غزاګانو کې ونډه اخیستې ، له هغه یې ځینې حدیثونه هم روایت کړي دي ...

له ام عماره رضی الله عنها څخه روایت دی ، فرمایې :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ زما پوښتنې ( عیادت ) ته راغی ، ما ورته ښوروا ، او د وربشو ډوډۍ وړاندې کړه ، له هغې یې یوڅه وخواړه بیا یې راته وویل : ( راشه ته یې هم وخوره ! ) ما وویل : ( ای دالله رسوله ! زه روژه یم ) بیا یې وویل : کله چې د روژه نیونکي سره ډوډۍ خوړل کیږي ، د ډوډۍ تر پای ته رسیدو دهغه سره ملایکې مل وي .. )) او په بل روایت کې راځي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(( هر روژه نیونکي سره چې څوک په څنګ کې ډوډۍ خوري ، د ډوډۍ تر پای ته رسیدو وربانديې ملایکې درود وایې او دعاء ګانې ورته کوي .. ))**

**له ام عماره رضی الله عنها څخه روایت دی ،فرمایې : زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم ، ورته مې وویل :**

**(( ای دالله رسوله ! دا خو هرڅه د نارینه وو لپاره دي !! او ښځې خو په هیڅ شي کې نه یادیږي .. !! الله جل جلاله بیا دا آیت رانازل کړ :**

إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ

وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ

وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا

وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾

**نسیبة بنت کعب چې په ام عماره رضی الله عنها باندې مشهوره وه ، د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د خلافت ترپایه ژوندۍ وه .. نوموړې د هجرت په دیارلسم کال له دې دنیا سترګې پټې کړې ... په داسې حال کې له دې نړۍ وکوچیده چې داسلام رڼا په ټوله عربي جزیره کې وځلیده .. هم یې د شرک تیارې او هم یې د ردت پردې له جزیرې ورټولې کړې .... ام عماره رضی الله عنها په مدینه منوره کې د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه .. نوموړې په داسې حال کې له دې دنیا سترګې پټې کړې چې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددعاء دا ویاړ یې له ځان سره یوړ چې ، هغه او د کورنۍ غړي به یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په جنت کې ملګري وي ...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها

دا هغه ستره صحابۍ وه چې د نبوت په زمانه کې د مدینې منورې ځلیدلي چاپیریال د یوې غوره مېرمنې ، مور او د حکمت ، ایمان او احترام د غوره سمبول په توګه پیژندلې وه ... دا د انصارو له هغو مېرمنو څخه وه چې ، تاریخ یې یاد تلپاتې ساتلی دی او نوم یې ځلانده پاتې دی ... اسلام یې تر ډېرو وړاندې راوړی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې بیعت کړی وو ... په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ او هغه یې په رسالت کې رښتونی وګاڼه .. همدې رښتونولۍ نوموړې د ځلانده مېرمنو په کتار کې حساب کړه ... خپل ځان او کورنۍ یې دالله ددین لپاره وقف کړه ، او ځوی یې د الله رسول ته د خادم په توګه ډالۍ کړی وو... دا هغه مېرمن وه چې دا شرط یې ایښی وو چې هر څوک چې پرې مرکه کوي او غواړي واده ورسره کوي ، نو مهر به یې یوازې یوازې د هغه اسلام وي اوبس !! ... امېرمن تر ټولو ښځو د غوره مهر خاونده وه .... دا مېرمن ( **ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها** ) نومیده ، نوموړې مېرمن د ( **انس بن مالک رضی الله عنه** ) مور وه .

نوموړې ( ام سلیم بنت ملحان بن خالد بن غنم ) نومېده ، او د ( بنوعدي بن النجار ) له کورنۍ او د خزرج له قبیلې څخه وه .. او مور یې ( ملیکة بنت مالک ) نومېده ، هغه هم د بنوالنجار له کورنۍ څخه وه .. . د ام سلیم رضی الله عنها د نوم په اړه اختلاف موجود دی .. ځینې یې ( سهلة ) یادوي ، او ځینې یې ( وصیلة ) او ځینې یې ( رمیثة ) او ځینې نور یې بیا ( انیفة ) یادوي .. خو نوموړې په خپله کنیه باندې دومره مشهوره شوې چې ټول نومونه یې پټ پاتې دي .... .

ام سلیم رضی الله عنها په جاهلیت کې له ( مالک بن النضر بن ضمضم ) سره واده کړی وو . خاوند یې له ( بنوعدي ) له کورنۍ څخه وو . او له هغه یې د هجرت لس کاله وړاندې د ( انس بن مالک رضی الله عنه ) په نوم یو ځوی وزیږېد .

کله چې په مکه مکرمه کې د اسلام له راښکاره کېدو خبره شوه ، ایمان یې پرې راوړ . او خپل ځوی ( انس بن مالک ) ته یې د اسلام لومړنۍ لارښوونې ورزده کولې او د شهادت د کلمې تلقین به یې تل ورکاوه . ..ډېر وختونه به یې خاوند د شام په سوداګریزو سفرونو کې بوخت وو ... کله چې بیرته له شام څخه راستون شو ، دخپلې مېرمنې له اسلامه خبر شو .. مخ یې ترې وګرځاوه او دا حالت یې ورسره ونه مانه .... دا چې کله ام سلیم رضی الله عنها ایمان راوړ او بیا یې ترې خاوند خبر شو ، ددوی ترمنځ څه کیسه پېښه شوه ، ام سلی دا حالت داسې بیانوي :

(( ابو انس په کور کې نه ، کله چې راغی ویې ویل :.. ته بې دینه شوې یې ؟ !! ما ورته وویل چې ، نه یم بې دینه شوې .. خو په دې سړي مې ایمان راوړی .. ورته یې وویل : هسې زما ځوی مه خرابوه !!! .. ځواب یې ورکړ : نه یې خرابوم .. بلکې زده کړه ورکوم او د هدایت لاره ورته ښایم ... ))

ام سلیم چې اسلام دین باندې ټینګه پاتې شوه ، په پایله کې دهغې او د خاوند ترمنځ یې اختلاف اوج ته ورسیدل..خاوند یې پریکړه وکړه چې خپله مېرمن پریږدي او شام ته لاړ شي ..... کله چې شام ته روان شو ، په لاره کې ورته ځینې دښمنان راووتل او هغه یې وواژه ... کله چې ام سلیم رضی الله عنها د خپل خاوند له وژنې خبره شوه ، ډېره خپه شوه او هوډ یې وکړ چې بل واده به نه کوي ، او ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ترهغې واده نه کوم چې انس بلوغ ته ورسیږي ، په مجلسونو کې کښېني او داسې ووايې : الله دې زما مور ته خیر ور کړي ، زما يې غوره استازيتوب کړی وو ... )) او په بل روايت کې راځي :

(( ترهغې واده نه کوم ترڅو چې راته انس امر نه وي کړی . ))

ام سلیم رضی الله عنها دخپل ځوی انس روزنې ته مخه کړه او هغه ته يې غوره لاره وښوده .. .. څو کلونه وروسته ، ابوطلحة ، زید بن سهل بن عمرو بن مالک بن النجار ، په ام سلیم رضی الله عنها مرکه وکړه... دا سړی په مدینه منوره کې ډېر شتمن او د ډېر احترام خاوند وو ... خو نوموړی دامهال کافر وو او د لرګي څخه د جوړ شوي خدای عبادت به يې کاوه .. ويې ويل :

(( ای ام سلیم ! انس کښېناست او په مجلسونو کې يې خبرې وکړې ... ))

ام سلیم رضی الله عنها ورته وویل :

(( زه تاسره لیوالتیا لرم ، او ستا په څېر له سړي انکار نه کوم .. . خو دا نه ده مناسبه چې زه له یو مشرک سړي سره واده وکړم ، او زه دې مسلمانه یم .... ابوطلحه، آیا نه پوهیږې چې تاسو د کوم خدای عبادت کوئ ، د پلانکي غلامان يې راتوږي ؟؟.. او که تاسو په دې خدای کې اور بل کړئ ، نو ټول به وسوځي ... .. آیا حیاء نه درځي چې دداسې یو لرګي عبادت کوې چې له ځمکې رازرغونیږي ..؟ ))

ابوطلحه ددې خبرو په اوریدو سره لاړ ، او هیڅ يې ونه ویل ، خو دې خبرو يې زړه ته لاره پیدا کړه .. .. بیر ته راستون شو ، خو غوښتل يې يوڅه ووايې .. ام سلیم رضی الله عنها ورته وویل :

(( داسې ویلی شې چې ( اشهد ان لا اله الا الله ، وان محمدا رسول الله ) ترڅو درسره واده وکړم ؟ ... زما نه سره او نه مې سپین زر په کار دي ، زما يوازې ستا اسلام په کار دی ...

ابوطلحه ورته وویل : ما ته وخت راکړه .. ..يوڅه وخت يې تېر کړ ، بیا راغی او ورته يې وویل :

(( اشهد ان لا اله الا الله .. وا ن محمدا رسول الله ))

ام سلیم رضی الله عنها په دې ډېره خوشاله شوه ، خپل ځوی انس رضی الله عنه ته يې غږ وکړ ، او ورته يې وویل :

(( ای انس ! پاڅه او ما ابوطلحه ته واده کړه .. ! ))

په دې توګه له ابوطلحه رضی الله عنه سره د ام سلیم رضی الله عنها واده ترسره شو .. داسې مهر يې وټاکل شو چې ، نه ور کې سره او نه ور کې سپین زر وو .. يوازې د ابوطلحه اسلام يې د مهر په توګه وټاکه .... ددې مبارک مېوه هم داوه چې له ام سلیم رضی الله عنها ترې دوه زامن وزیږېدل، دوی ( ابوعمیر او عبدالله ) نومېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ ، له هجرت سره سم یې تاریخ بیا راژوندی کړ ... د رسول الله صلی الله علیه وسلم له راتګ سره سم چې ټولو خلکو ورته خوشالي وکړه ... ام سلیم رضی الله عنها له لومړیو کسانو څخه وه چې بیعت یې ورسره وکړ . رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې بیعت واخیست چې ، په نېکو کارونو کې به یې نافرماني نه کوي . . .

ام عطیة الانصاریة فرمایې چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم راسره په بیعت کې شرط کېښود چې ، په مړي به چېغې نه وهو ، یوازې پنځه کسانو دا شرط پوره کړ ... له دې پنځه کسانو چې دا شرط یې پوره کړ ، یوه یې ترې ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها یاده کړه .... .. ام سلیم رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وعده باندې بسنه ونکړه ، بلکې خپل ځوی انس بن مالک یې راواخیست او دهغه د خدمت لپاره یې ډالۍ کړ او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! دا انس به دې خدمت کوي .. ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم قبول کړ ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خادم باندې مشهور شو .

بیا ام سلیم رضی الله عنها وویل :

ای دالله رسوله ! دعاء ورته وکړه ...

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دعاء وکړه او ویې ویل :

(( ای الله مال او بچیان یې زیات کړې .. او برکت ورته ورکې واچوې او جنت ته یې داخل کړې ... !

انس رضی الله عنه په مدینه منوره کې یو بڼ درلود ، دې بڼ به په کال کې دوه ځله حاصل ورکاوه ... په دې بڼ کې ګڼ کشمالیو خوږه خوشبویي خپره کړې وه .. عمر یې هم زیات شو ، نوموړی په یوسل او درې کلنۍ کې وفات شو ... نوموړی تر ټولو وروستی صحابي وو چې په بصره کې وفات شو ...

د انس بن مالک رضی الله عنه تر څنګ ، ام سلیم رضی الله عنها د ابوطلحه څخه د ابوعمیر په نوم یو بل ځوی زیږولی وو ... ابوعمیر یو کوچنی مرغه درلود او تل به یې ورسره لوبې کولې .... یوه ورځ یې مرغه مړ شو ، ابوعمیر یې په مړینه ډېر زیات خپه شو .... رسول الله صلی الله علیه وسلم په ام سلیم داخل شو ، ماشوم یې ولیده ، بیا یې وویل :

(( ای ام سلیم ! دا ولې ابوعمیر داسې خپه ښکاري ... ؟

ام سلیم وویل :

(( ای دالله رسوله ! مرغه مړ شوی ، ده به ورسره لوبې کولې ... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په سر ورته لاس راښکود او ورته یې وویل :

(( ای ابوعمیر ! مرغه باندې دې څه وشول ؟ !!! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوعمير د څه مودې لپاره ناروغ شو ، او د ام سليم رضی الله عنها خاوند ابوطلحه هم له کوره ليرې وو .... دالله تقدير وو او ماشوم وفات شو ... ام سليم رضی الله عنها د خپل ماشوم ځوی په مړينه ډېر صبر وکړ ....

ابن سعد په خپل طبقات کې ليکي :

(( ام سليم رضی الله عنها خپل ځوی ته غسل ورکړ او کفن يې ورته واغوست .. کالي يې پرې ورواچول او ويې ويل : ( له ما پرته به بل هيڅوک ابوطلحه نه خبروي .. )

کله چې ابوطلحه راغی ، ښه سينګار يې ورته کړی وو ، ځان يې ورته جوړ کړی وو ، ډوډۍ يې ورته تياره کړې وه ، خاوند يې ترې پوښتنه وکړه :

ابوعمير څنګه دی ؟

ام سليم ورته وويل :

(( هغه خپله ډوډۍ خوړلې ده ))

ابوطلحه هم له خپلې مېرمنې سره ډوډۍ وخوړه ، او ښه وخت يې ورسره تېر کړ ، بيا يې د خپل ځوی له کيسې خبر کړ او ورته يې وويل :

ای ابوطلحه ! که چېرته د يو کور خاوند بل کور ته يو څه امانت ورکړي ، او بيرته يې خپل خاوند ترې وغواړي ... څه وايې چې امانت به ورکوي او که ځان سره به يې ترې ساتي ؟ !!

ويې ويل :

(( بلکې خپل امانت به ورته سپاري ))

ورته يې وويل :

(( نو د ابوعمير په مړينه صبر وکړه !! ))

ابوطلحه پوه شو چې امانت خپل خاوند ته تللی دی ، سمدلاسه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغی ، هغه ته يې د ام سليم رضی الله عنها ټوله کيسه بيان کړه ... هغه ورته وفرمايل :

(( الله ستاسو په تېره شپه کې ، برکت اچولی دی !! ))

هماغه وو چې ام سليم رضی الله عنها په بل ځوی ( عبدالله بن ابی طلحه ) باندې حامله شوه ... دا هغه ښځه وه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې بيعت کړی وو چې په مړي به سورې او چيغې نه وهي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ام سلیم رضی الله عنها د حمل میاشتې پوره کړې او ځوی یې وزیږید ، خپل ځوی انس بن مالک رضی الله عنه ته یې وویل :

(( دا ماشوم ، او د خرماوو دا پیمانه درسره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوسه .... ورته ووایه چې غاښونو باندې ورته خرما وسولوي او نوم پرې کیږدي .. ))

انس وایې :

(( رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم ، پښې یې ورته وغزولې او تکیه یې کړ ..خرما یې واخیسته او یې ژوله .. بیا یې د ماشوم په خوله کې ووهله ... ماشوم هم پرې خوله وخوځوله ..... رسول الله صلی الله علیه وسلم وخندل او ویې ویل : انصار له خرماوو سره څومره ډېره مینه لري ! ! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ماشوم باندې عبدالله نوم کېښود ... دا هغه ماشوم وو چې کله ستر شو او واده یې وکړ ، الله جل جلاله وربانديې د ډېر اولاد نعمت وکړ .... دولس زامن او پنځه لوڼې ورته الله تعالی ورکړې .. له دوی څخه یې لس کسانو قرآن کریم حفظ کړی وو ..

ام سلیم بنت ملحان له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ګڼو جګړو کې برخه اخیستې وه ، ټپیان به یې پټی کول ، تږو ته به یې اوبه ورکولې او شهیدان به یې لیږدول .. .. د هجرت په دریم کال د احد په غزا کې یې متې راونغاړلې او له اړو کسانو سره یې مرسته کوله .. د ام سلیم رضی الله عنها ځوی انس وایې :

(( عائشه او ام سلیم مې دواړه ولیدې چې متې یې رانغاړلې وې ... دواړو په خپلو متو باندې د اوبو لوښي رانیولي وو .. او د خلکو په خولو کې به یې اوبه وراچولې ... ))

د هجرت په اووم کال د خیبر په غزا کې ام سلیم رضی الله عنها د هغو کمو ښځو په کتار کې وه چې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په غنیمت کې برخه ورکړې وه .. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه چې دخیبر د مشر لور ( صفیة بنت حیی رضی الله عنها ) سره واده وکړي ... ام سلیم رضی الله عنها ته یې وفرمایل :

(( تاسو خپله ملګرې تیاره ، او ګومنځ یې کړئ ))

ام سلیم رضی الله عنها وایې : موږ سره کیږدۍ ، خیمې یا نورې پردې نه وې .. بیا مې دوه جامې یا دوه چپنې راواخیستې ... دواړه مې په دوه ونو پورې وتړلې او پرده مې جوړه کړه .. او ښځه مې ورته تیاره کړه ......

کله چې د مصر مشر مقوقس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ډالۍ په توګه ( ماریة القبطیة ) او د هغې خور ( سیرین ) راولیږلې .... دوی دواړه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام سلیم رضی الله عنها په کور کې مېشتې کړې ... ام سلیم رضی الله عنها ورته ( ماریة القبطیة ) تیاره کړه ،او د ناوې په څېر یې ورته ښکلې کړه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هجرت په اتم کال د حنین په غزا کې ، ام سلیم رضی الله عنها ټینګار وکړ چې په جګړه کې برخه واخلي ، له ځآن سره یې یو خنجر واخیست او پټ یې وساته ... خاوند یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل :

(( دادی ام سلیم له ځان سره خنجر اخیستی دی ... ))

ام سلیم رضی الله عنها وویل :

(( ای دالله رسوله ! دا مې ځکه اخیستی ، که چیرته راته کوم مشرک رانږدې شي ، خېټه به یې ورڅیرې کړم .. ))

کله چې د حنین په غزا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم چاپیره ځینې جنګیالي مات شول ... ام سلیم رضی الله عنها دهغو سلو کسانو په ډله کې وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نږدې پاتې شوي وو او دفاع یې کوله . رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله ډلې ډلې په تېښته ولیدې ، ام سلیم ورته وویل :

(( زما پلار او مور دې درنه قربان شي ... دا کسان چې له تا تښتي ،داسې یې ووژنه لکه ددښمن په څېر .. دوی سره همدا کار ښایي .. ))

د الله رسول ورته وویل :

(( الله جل جلاله زموږ کافي دی ))

په دې ترتیب ، ام سلیم رضی الله عنها په جنګ او سوله کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نږدې وه ....هغه به کور ته ورتللو او هلته به یې د غرمې خوب کاوه ..... د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شتون به دهغې خواږه او کور برکتي کېده .

کله چې ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د هجرت په نهم کال مسلمانان حج ته روان کړل ... ام سلیم رضی الله عنها هیله وښوده چې هغه هم ورسره وای ... کله چې بیرته حاجیان راستانه شول ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې شکایت وکړ او ورته یې وویل :

(( ای دالله رسوله ! زما خاونده دوه سپرلۍ لرلې ... پر یوه سپرلي ، هغه حج وکړ ..... او بله یې دلته پرېښې وه او موږ پرې خرماوو ته اوبه راوړلې .... ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( کله چې د روژې میاشت راغله ، عمره وکړه .. په روژه کې عمره د حج هومره ثواب لري .. ))

ام سلیم رضی الله عنها د هجرت په لسم کال له رسول الله صلی الله علیه وسلم په ( حجة الوداع ) برخه واخیسته او حج یې وکړ .. .... په لاره کې به رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته سپارښتنه کوله چې په ام سلیم ته پاملرنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

انس بن مالک رضی الله عنه له ام سلیم څخه روایت کوي ، وايي ، چې هغه د پیغمبر علیه السلام له مېرمنو سره وه ، د ( انجشه ) په نوم یو کس هغوی په سپرلیو سپرې کړې وې .... رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

(( ای انجشه ! مېرمنو باندې پام کوه !! ))

دا وینا په دې دلالت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښځو باندې تل د مهربانۍ او نرمۍ لارښوونه او ټینګار کړی دی .

ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته تر ډېره ژوندۍ وه .. نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم ګڼ حدیثونه روایت کړي ، ډېری حدیثونه یې دښځو د احکامو ، طهارت ، لمونځ او غسل په اړه دي ..

له ام سلیم رضی الله عنها څخه روایت دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

(( ای ام سلیم .. چې فرض لمونځ دې اداء کړ ، لس ځله ( سبحان الله ) ووایه .. لس ځله ( الحمدلله ) ووایه ... بیا د ځان لپاره دعاء وغواړه ... تاته ویل کیږي چې ، ( هو ، هو ، هو )

له ام سلیم رضی الله عنها څخه بل روایت دی ، وايي :

(( ای دالله رسوله ! وصیت راته وکړه ! ))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

(( ګناهونه پرېږده ، ګناهونه پرېښودل غوره هجرت دی .. او د فرض لمونځونو پاملرنه وکړه .. همدا غوره جهاد دی ... او دالله ذکر ډېر کوه ... کله چې سبا له الله سره مخامخ کیږې ، له ذکر ورته بل څه ډېر خوښ نشته ... ))

ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها د عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت په دوران کې د هجرت په دېرشم کال کې وفات شوه ... دا هغه مېرمن وه چې خپل ځوی انس بن مالک رضی الله عنه ته یې دا ویاړ ورپه برخه کړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته یې وقف کړ ... نوموړې خپله دا ویاړ ترلاسه کړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نږدې او له هغه یې ددین زده کړه او احکام زده کړل .. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د جنت زیری ورکړی وو ، ورته یې وویل :

(( جنت ته داخل شوم ، ما مخامخ د ګرځېدا غږ تر غوږو شو ... چې پام مې وکړ ، ام سلیم بنت ملحان روانه وه ..!! ))

..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

تقریظ

تقریظ

تقریظ

سریزه

ام معـــبد رضی الله عنها

ام رومــــان رضی الله عنها

اسماء بنت عمیس رضی الله عنها

خنساء بنت عمرو رضی الله عنها

ام ذر ( لیلی الغفاریة ) رضی الله عنها

خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها

ام ورقة رضی الله عنها

فاطمه الزهراء رضی الله عنها

سمیة بنت خیاط رضی الله عنها

ام الفضل رضی الله عنها

عائشه رضی الله عنها

حفصة بنت عمر رضی الله عنها

خدیجة بنت خویلد رضی الله عنها

سودة بنت زمعة رضی الله عنها

ام سلمه رضی الله عنها

زینب بنت خزیمه رضی الله عنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

جویریة بنت الحارث رضی الله عنها

اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها

ام هانئ رضی الله عنها

فاطمة بنت الخطاب رضی الله عنها

زینب بنت جحش رضی الله عنها

صفیة بنت حیي رضی الله عنها

ام حبیبة رملة بنت ابی سفیان رضی الله عنها

میمونة بنت الحارث رضی الله عنها

ماریة القبطیة رضی الله عنها

زینب بنت محمد صلی الله علیه وسلم

رقیة او ام کلثوم رضی الله عنهما

درة بنت ابی لهب رضی الله عنها

فاطمة بنت قیس الفهریة رضی الله عنها

هند بنت عتبة رضی الله عنها

ام کلثوم بنت عقبة رضی الله عنها

اسماء بنت یزید الاوسیة رضی الله عنها

امامة بنت حمزه رضی الله عنها

فاطمة بنت الحارث رضی الله عنها

خولة بنت حکیم رضی الله عنها

ام ایمن رضی الله عنها

صفیة بنت عبدالمطلب رضی الله عنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

ام عماره رضی الله عنها

ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**